د اسلامپوهنې لړۍ (۳)

# اسلامي ښوونځی

خیړنه:

اجرالدین اقبال

بسم الله الرحمن الرحيم

مخځوړ:

د کتاب نوم: اسلامي ښوونځی
څېړنه: اجرالدين اقبال
مخونه:
د چاپ کال او وار:
د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
تخنيکي چارې: انديال؛ ديني، علمي، فرهنګي او خپرندويه ټولنه www.andyal.com

**سریزه ........................................................................................................ ۱۲**

**بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ........................................................................ ۱۳**

**د "بسم الله" انځور ........................................................................ ۱۵**

**توحید ...................................................................................................... ۱۷**

**څښتن پلټنه ............................................................................................ ۱۸**

**په ژوند کې د څښتن پېژندنې آثار .................................................... ۲۰**

۱-الله تعالی پېژندنه او د علم پرمختګ: ............................................................ ۲۰
۲-څښتن پېژندنه، هڅه او هیله ............................................................................ ۲۰
۳-څښتن پېژندنه او پازوالي:............................................................................ ۲۱
٤-څښتن پېژندنه او هوساینه: ............................................................................ ۲۱

**په دوو ډاډمنو لارو د الله تعالی پېژندل ............................................ ۲۲**

الف: دننۍ لار: ................................................................................................ ۲۲

**د رښتینو کیسه................................................................................................ ۲٦**

**د څښتن پېژندنې دویمه لار ........................................................................ ۲۷**

**د "نظم" او "عقل" اړیکه ............................................................................ ۲۸**

**د پنځون غونډال څو بېلګې ............................................................................ ۲۹**

۱-د انسان د بدن هېوادمشر ............................................................................ ۲۹
حافظه: ............................................................................................................ ۳۰

**په کوشنۍ مرغۍ کې ستره هېښنه ........................................................ ۳۰**

**د حشراتو او ګلانو ملګرتیا ........................................................................ ۳۲**

**دوه پخواني او خواږه انډیوالان ................................................................ ۳۳**

**د خورا ووړو ژویو نړۍ ................................................................................ ۳٤**

**اتوم؛ توحید رازده کوي ................................................................................ ۳۵**

**د الله تعالی صفات څومره ښه دي ........................................................ ۳٦**

**د جمال او جلال صفتونه ................................................................................ ۳۷**

**د الله تعالی مشهور صفتونه ........................................................................ ۳۷**

مشهور سلبي صفتونه ........................................................ ۳۸
اسماء الحسنی ............................................................ ۳۸
د حق لار کومه ده؟ ....................................................... ۴۰
دین ته اړتیا ............................................................ ۴۱
دیني لار که غوره لار .................................................... ۴۲
دیني لار فطري ده ........................................................ ۴۳
فطري دین څه ته وایي؟ .................................................... ۴۳
د دین ځانګړنې ............................................................ ۴۴
د دین ګټه: .............................................................. ۴۴
د غوره دین او ښوونځي ځانګړنې ............................................ ۵۱
پوهې ته اړتیا ........................................................... ۵۳
د ادیانو ثابتې ښوونې ..................................................... ۵۳
نړۍ لید ................................................................. ۵۴
د پېژندګلو او معرفت اوزار ................................................ ۵۵
د پېژند یا پوهاوي سرچینې .................................................. ۵۵
د معرفت او پېژندګلو د لار خنډونه .......................................... ۵۶
د څو پوښتنو ځوابونه ...................................................... ۵۶
د علم فریضه ............................................................. ۶۱
د اسلام د علم د حکم هېرېدنې لاملونه ........................................ ۶۷
کوم علم؟ ................................................................ ۶۷
تهیوي فریضه ............................................................. ۶۸
د اسلامي ټولنې د عزت او خپلواکۍ آر ....................................... ۶۹
علم د عزتونو او خپلواکیو سته ده ........................................... ۷۰
د علم فریضه، د نورو فریضو کونجي ده ........................................ ۷۰
پایله .................................................................... ۷۰

**ديني او غير ديني پوهې** ........................................ ۷۰
**د ښځې زده کړه** ........................................ ۷۲
**سپېڅلی جهاد** ........................................ ۷۴
**له ناپوهۍ سره د انسان مبارزه** ........................................ ۷۵
**د اسلام ځانګړنې** ........................................ ۷۷
**د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم د لارښوونې لوري** ........................................ ۸۰
**قرآن عظيم الشأن** ........................................ ۸۳
قرآن عظیم الشأن ته د مسلمانانو ستره پاملرنه ........................................ ۸۳
د قرآن عظیم الشأن اعجاز ........................................ ۸۳
**د قرآن عظیم الشأن د اعجاز اړخونه** ........................................ ۸٤
د قرآن عظیم الشأن الفاظ ........................................ ۸٤
د قرآن عظیم الشأن مانا ........................................ ۸٦
**قرآني موضوعات** ........................................ ۸۸
د ماناوو پراخي ........................................ ۹۰
**الله سبحانه و تعالی په قرآن عظیم الشأن کې** ........................................ ۹۰
**له الله تعالی سره د انسان تړاو** ........................................ ۹۱
**قرآن عظیم الشأن، تورات او انجیل** ........................................ ۹۲
تاریخونه او کیسې ........................................ ۹۲
قرآن عظیم الشأن او له ګاندې خبر ورکول ........................................ ۹۳
**قرآن عظیم الشأن خپل ځان رامعرفي کړی دی** ........................................ ۹۳
**د قرآن عظیم الشأن زده کړې ارزښت** ........................................ ۹۵
**وحې څه وخت پیل شوه؟** ........................................ ۹۵
**آیا وحې پر حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم لا ینقطع وه؟** ........................................ ۹۷
**نزول، تنزیل او نجوم څه ته وایي؟** ........................................ ۹۷
**د قرآن کریم شأن نزول** ........................................ ۹۷
**آیا د قرآن عظیم الشأن ظاهر او باطن، په تکر کې دي؟** ........................................ ۹۹

**د قرآن عظیم الشأن محکم او متشابه آیتونه ........................ ۱۰۰**

**ناسخ او منسوخ ........................ ۱۰۰**

د ناسخ او منسوخ مانا ........................ ۱۰۰

**په قرآن عظیم الشأن کې فقهي احکام ........................ ۱۰۳**

**احکام څه ته وايي؟ ........................ ۱۰۳**

**توحید د قرآن عظیم الشأن آریزه ویینه ده ........................ ۱۰۳**

**د حضرت محمد(ص) لومړی شعار ........................ ۱۰۴**

**د قرآن عظیم الشأن د تفسیر کړنلار ........................ ۱۰٦**

**د تفسیر اوزار ........................ ۱۰۷**

**د تفسیر ډولونه ........................ ۱۰۷**

**الهي ازمېينې ........................ ۱۰۷**

**ستر ګناهونه ........................ ۱۰۸**

**مفسد ........................ ۱۱۰**

**لمونځ او له بدیو ژغورنه ........................ ۱۱۱**

**الهي عدل ........................ ۱۱۲**

**د مساوات او عدالت توپیر ........................ ۱۱٤**

**د شرونو او آفتونو فلسفه ........................ ۱۱۵**

**په ژوند کې د ناوړه پېښو فلسفه ........................ ۱۱۷**

**د ناخوالو او ترخو پېښو فسلفه ........................ ۱۱۹**

**مرګ ........................ ۱۲۱**

۱-مرګ پر فنا تعبیرېدل: ........................ ۱۲۱

۲-تورې دوسیې: ........................ ۱۲۲

دوه بېلابېلې کتنې ........................ ۱۲۲

**معاد ........................ ۱۲۳**

**د قیامت د محکمې- نیاوتون ګیله ........................ ۱۲٦**

**په قیامت کې د انسان تمځایونه ........................ ۱۲۸**

**معاد او فطرت ........................................ ۱۲۹**

**جنت او دوزخ د کړنو انځور دی........................ ۱۳۱**

**د کړنو انځورېدل ........................................ ۱۳٤**

**تقوا ........................................ ۱۳٦**

**د "تقوا" ویی ........................................ ۱۳٦**

**د تقوا مانا او حقیقت........................................ ۱۳۸**

**د تقوا ارزښت او اغېز........................................ ۱٤۰**

**د عقل د دښمنانو دښمن ........................................ ۱٤۲**

**حج ........................................ ۱٤۲**

**حج په روایتونو کې........................................ ۱٤۳**

توحيدي تيارسئ ........................................۱٤۳
د الله تعالی بندگي ........................................۱٤٤
حج سرښندنه او بلهارېدل دي ........................................۱٤٤
حج ازمېښتوزله ده........................................۱٤۵
حج د پېغام رسونې او پېغام اخستنې ځای دی ........................................۱٤٦
د برائت اعلان ........................................۱٤٦
حج تبليغاتو ته يو مناسب ځای دی........................................۱٤۷
حج دې په حلال مال وکړو ........................................۱٤۷
حج ته تر تگ مخکې ښښنه غوښتل........................................۱٤۸

**د حج شننه ........................................ ۱٤۸**

**کعبه نړيواله مرکزي هډه ........................................ ۱۵۲**

**شرک څه ته وايي؟ ........................................۱۵٤**

**گناه ........................................ ۱۵۷**

په قرآن عظيم الشأن کې د گناه ويی - کلمې: ........................................۱۵۷
په قرآن عظيم الشأن کې د گناه په هکله راغلې کلمې: ........................................۱۵۷
په روايتونو کې د گناه ويی:........................................۱۵۹
د گناه ډولونه:........................................۱٦۰

**توبه او پاکېدل ........................................ ۱٦۱**

توبه په اسلام کې شرطونه لري: ........................................ ١٦١
په قرآن عظیم الشأن کې توبه او استغفار ........................................ ١٦٢
**توبه په روایتونو کې ........................................ ١٦٤**
١- ریښتینې توبه: ........................................ ١٦٤
**نصوح توبه ........................................ ١٦٤**
**د سمې توبې شرطونه ........................................ ١٦٥**
**د توبې ډولونه او پړاوونه ........................................ ١٦٦**
**شکر ........................................ ١٦٦**
**مور و پلار ........................................ ١٦٧**
**زنا ........................................ ١٦٩**
د زنا پر څو ناوړه اغېزو او مفاسدو رڼا ........................................ ١٦٩
اسلام د زنا د مخنیوي لپاره ځینې کړلارې لري؛ لکه: ........................................ ١٦٩
**استکبار او مستکبر ........................................ ١٧٠**
**سیده لار ........................................ ١٧١**
**زېری او ګواښ ........................................ ١٧٣**
**د آثارو ثبت ........................................ ١٧٥**
**بدفال ........................................ ١٧٥**
**اذان ........................................ ١٧٦**
**لمونځ ........................................ ١٧٧**
**سجده ........................................ ١٨٠**
**الله تعالی ته د هستۍ سجدې ........................................ ١٨٢**
**د الله تعالی د اولیاوو سجدې ........................................ ١٨٣**
**د سجدې اغېزې ........................................ ١٨٤**
**د لمانځه سلامونه ........................................ ١٨٥**
**د روژې ټولنیزې، روغتیایي او تشکیلاتي ګټې ........................................** ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.
**نړۍ او آخرت ........................................ ١٨٩**

د لمانځه موخه .......................................................... ۱۹۳
عدالت .......................................................................... ۱۹٤
عدالت؛ د انبیاوو په ښوونځي کې ................................................ ۱۹۵
د عدالت گروهیزې او فطري لارې چارې ......................................... ۱۹٦
د عدل پراختیا ................................................................... ۱۹٦
قسط او عدل .................................................................... ۱۹۸
د عدالت پېژندو لار............................................................... ۲۰٤
د«وجدان محکمه» یا «وړوکی قیامت» ........................................... ۲۰۵
د قیامت د «سترې محکمې» او د «اخلاقي وجدان» او کوشني محکمې ترمنځ ورته والی .......... ۲۰۷
غیبت څه ته وایي؟................................................................ ۲۰۹
غیبت د روایتونو په رڼا کې ........................................................ ۲۰۹
د غیبت جبرانول .................................................................. ۲۱۰
غیبت په کومو ځایونو کې جایز دی ............................................... ۲۱۱
د غیبت خطرونه .................................................................. ۲۱۱
د غیبت ډولونه .................................................................... ۲۱۱
د غیبت اغېزې ................................................................... ۲۱۲
د غیبت جرړې ..................................................................... ۲۱۳
د غیبت اورېدل ................................................................... ۲۱۳
د غیبت نه کولو لارې چارې........................................................ ۲۱٤
دروغ ........................................................................... ۲۱٦
څېړنه ........................................................................... ۲۱۷
یوه ترخه پېښه .................................................................. ۲۱۷
ځیرتیا .......................................................................... ۲۱۸
په اسلام کې خبر ................................................................ ۲۱۸
څېړندود......................................................................... ۲۲۰
رورولي ......................................................................... ۲۲۱

د روزلی حقوق ........................................................................ ۲۲۳
غوره او ښه روز ........................................................................ ۲۲٤
په قرآن عظیم الشأن کې سوله ............................................................ ۲۲٤
د پخلاینې ارزښت ........................................................................ ۲۲۵
د سولې او روغې راوستو د لارې خنډونه ................................................ ۲۲٦
د الهي لورنو د لاملونو یوه څنډه ........................................................ ۲۲٦
په روایتونو کې د الهي لورنو سرچینې .................................................. ۲۲۷
پر نورو ملنډې وهل ........................................................................ ۲۲۹
د ملنډو جرړې ........................................................................ ۲۲۹
بېواکه سپکاوی ........................................................................ ۲۳۰
د ملنډو درجې ........................................................................ ۲۳۰
د ملنډو وهلو پایلې ........................................................................ ۲۳۱
د رسول الله ځانګړنې........................................................................ ۲۳۲
د شپې لمونځ ........................................................................ ۲۳٤
د الله تعالی شکر په څه کې دی؟ .......................................................... ۲۳۵
د حکمت پوهنتون ........................................................................ ۲۳٦
د اخلاص جرړه ........................................................................ ۲۳۷
د اخلاص نښې ........................................................................ ۲۳۷
د اخلاص پایله ........................................................................ ۲٤۱
په ټولنه کې اخلاص ........................................................................ ۲٤۱
سلام ........................................................................ ۲٤۲
له کړلاریو د ژغورل کېدو لار اندنه ده .................................................... ۲٤٤
د زړه له کومې عبادت له اندنې را ولاړېږي ............................................ ۲٤۵
د الله تعالی ځواک او حکمت ته لنډه کتنه .............................................. ۲٤۵
د ځینو پوښتنو ځوابونه ........................................................................ ۲٤۷

# سریزه

له آره افغان ټولنه؛ یوه دیني ټولنه ده، چې پر همدې بنسټ یې په یوه پېړۍ کې د نړۍ درې زبرځواکونه په ګونډو کړل؛ یعنې د دیني سپارښتنو له مخې، په ((اصغر جهاد)) کې بریالي ول او دي؛ خو چې کله د دین پر بنسټ ((اکبرجهاد))؛ یعنې ځان د جوړونې، ټولنې جوړونې او نظام جوړونې پړاو را و رسي؛ نو ګوډ شي او تګ یې له ستونزو سره مخ شي.

ډېری ددې چار لامل، بهرني لاملونه ګڼي؛ خو زما په اند، لامل یې د ((اصغر جهاد)) هومره په ((اکبر جهاد)) کې د بسیا پوهې نه درلودل او کرپوهنه ده؛ یعنې ډېری چارې، چې په دین کې نشته یا د دین خلاف چارې دي، په خورا ویاړ او تعصب یې د دین په نامه ترسره کوو او بیا هم د دین د ژورې پوهې د نه درلودو له لامله، له هغو چارو سره په مخالفت لاس پورې کوو، چې د دین بنسټونه دي؛ نو چې کله دغه دوې چارې، یو له بل سره وزن کړو؛ نو ټولنه مو بې تولې شي، ګډه وډه شي او ددې پرځای چې ټولنه په دین سمباله شي، د ځینو وګړیو د ناپوهۍ، کرپوهۍ او یا د ناسمو تفسیرونو له لامله، له ستر ګواښ سره مخ شي؛ نو دغه مهال، د دین ضد کورني عناصر او یا بهرني دښمنان، پر تبلیغاتو لاس پورې کوي، چې دین د بدمرغۍ لامل دی او تاسې وګورئ، په کومو ټولنو کې چې دین له سیاسته جلا دی، هغوی د پرمختګ په لومړیو درجو کې دي او موږ د روسته والي په لومړیو درجو کې.

حال دا، دین په بشري ژوند کې د انسانانو ترمنځ د هر ډول سیاسي، وټیز، ټولنیز او.... چارو د تنظیم لپاره راغلی دی؛ نوځکه د قرآن د تر ټولو ستر سورت (البقره) تر ټولو ستر آیت (۲۸۲) د ژوند د وټیزو چارو د اوډون لپاره راغلی؛ نوځکه وایو، چې قرآن؛ اساسي قانون دی، چې دغه اساسي قانون، د رسول الله د سنتو په نامه مفسر هم لري.

موږ د خپلې ټولنې پر دغه درد دردېږو؛ د نوموړیو ستونزو حل لار، قرآن او سنتو ته په رجوع کې ګڼو؛ نوځکه مو له اسلامي سرچینو هغه مطالب را ایستي او جلا کتاب مو ترې جوړ کړی، چې په ((اکبر او اصغر)) داوړو جهادونو او په پایله کې د دین پر بنسټ، د وګړي، ټولنې او نظام په جوړونه کې مرسته کوي.

د همدغې ورځې د روڼ سباوون په هیله

رورو مو؛

اجرالدین اقبال

## بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

د لوراند او لورين څښتن په نامه

*د نړۍ په بېلابېلو قومونو او ملتونو کې دود دی، چې خپلې مهمې چارې د خپل هغه مشر په نامه پیلوي، چې مینه ورسره لري او درناوی یې کوي، چې چارې یې سپېڅلې او مبارکې شي؛ البته هغوی دا کړنې د خپلو گروهو له مخې کوي؛ کله د بوتانو او طاغوتونو په نامه او کله د الهي اولیاوو په لاس خپلې چارې پیلوي؛ لکه څنگه چې د الله تعالی رسول د "خندق" په غزا کې لومړی مېتی، د الله په نامه پر ځمکه وواهه. [1]

*(بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ) د الهي کتاب پیل دی.

*(بسم الله) نه یوازې د قرآن عظیم الشأن په پیل کې؛ بلکې د ټولو اسماني کتابونو په پیل کې راغلې او د ټولو انبیاوو د کړنو سردړه وه.

چې کله په توپان کې د حضرت نوح علیه السلام بېړۍ روانه شوه؛ نو حضرت نوح خپلو یارانو ته وویل: سواره شئ، چې (بِسْمِ اللَّهِ مَجْرَاهَا وَمُرْسَاهَا) [2]؛ یعنې ددې بېړۍ روانېدل او درېدل، د الله په نامه دي. حضرت سلیمان علیه السلام هم، چې د "سبا" ملکه ایمان ته راوبلله؛ نو خپله بلنه یې په (بسم الله الرحمن الرحیم) پیل کړه.

((إِنَّهُ مِن سُلَيْمَانَ وَإِنَّهُ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ [3] = په حقیقت کې هغه (لیک) د سلیمان له لوري دی او (مضمون یې دا) دی: د لوراند (او) لورین الله په نامه.))

حضرت علي کرم الله وجهه وویل: (بسم الله) برکت دی او پرېښوول یې نسکورېدل دي.

همداراز حضرت علي کرم الله وجهه، هغه انسان ته چې "بسم الله" یې لیکله، وویل: "جودها"؛ یعنې ښکلې یې ولیکه. [4]

د هر کار په پیل کې، د "بسم الله" پر ویلو ټینگار شوی دی. په خوراک، لیکلو، سورېدو، سفر او نورو ډېرو چارو کې، ان که یو څاروی بې د الله تعالی له نامې اخستو حلال شي؛ نو غوښه یې حرامه ده او ددې خبرې موخه داده، چې ان د "یوځښتني"- موحد او موخنو انسانانو خواړه هم باید الهي اړخ ولري.

---

[1]. (بحار ۲۰/ ۲۱۸)

[2]. (هود/۴۱)

[3]. (نمل/۳۰)

[4]. (کنزالعمال ۲۹۵۵۸ حدیث)

په حدیث کې راغلي: په "بسم الله" پیل مه هېروئ، ان که د یوې غونډلې - جملې لیکلو ته هم وي.
د هغه انسان د ثواب په هکله ډېر روایتونه شته چې په لومړي ځل ماشوم ته "بسم الله" ورزده کوي.[1]

***پوښتنه: ولې د هر چار په پیل کې پر "بسم الله" ویلو ټینګار شوی دی؟**

ځواب: "بسم الله" د مسلمانۍ نښه ده او د مسلمانانو ټولې چارې باید الهي رنګ ولري؛ لکه څنګه چې د یوې کارخانې یېبره- محصول، د هماغې کارخانې ټاپه لري، دا محصولات لږ وي؛ که ډېر، کوشني وي که غټ، د بېلګې په توګه، د لوښو جوړولو کارخانه، پر خپل جوړ شوي لوښي خپله ټاپه وهي، ان که دا لوښی وړوکی وي که غټ.
د ساري په ډول: د هر هېواد بېرغ د هغه هېواد پر ادارو، ښوونځیو او پوځي مرکزونو ځړېدلی وي او د کارمندانو پر اداري مېزونو هم وي.
د حاکم په مستدرک کې راغلي: یوه ورځ حضرت معاویه بن ابي سفیان په لمانځه کې "بسم الله" ونه ویله، چې خلکو پرې نیوکه وکړه، چې آیت دې غلا کړ، که هېر دې کړ؟![2]
امامانو ټینګار درلود، چې په لمانځه کې دې "بسم الله" په لوړ غږ وویل شي.
هغوی چې "بسم الله" یې په لمانځه کې نه ویله او یا داچې "بسم الله" یې د سورت برخه نه ګڼله؛ نو امام باقر یې په اړه وویل: د قرآن عظیم الشأن غوره آیت یې غلا کړ.[3]
په قرطبي تفسیر کې د امام صادق وینا راغلې ده: "بسم الله" د سورتونو تاج دی. یوازې د برائت سورت (توبه) په پیل کې "بسم الله" نه ده راغلې او د حضرت علي د وینا له مخې، دا ځکه چې "بسم الله" د خوندیېنې او لورنې ویی-ټکی دی او له مشرکینو او کفارو نه د برائت اعلانول، له مینې او لورنې سره اړخ نه لګوي.[4]
بسم الله الرحمن الرحیم؛ یعنې د هغه الله په نامه، چې تل ټولو ته ښنه کوي. بې له الله نور څوک ورکړه او ښنه نه لري او که لري یې هم؛ نو د مینې پر بنسټ نه وي؛ بلکې که څه ورکوي؛ نو یا د ګټې لپاره وي او یا د راکړې په تمه وي. د بېلګې په توګه: که غوا ته واښه ورکوي؛ نو د غوښې او شیدو تمه ترې لري او که چرګې ته دانه ورکوي؛ نو د غوښې او هګۍ تمه ترې لري

[1]. (تفسیر برهان ۱/ ۴۳)
[2]. (مستدرک ۳/ ۲۳۳)
[3]. (بحار ۸۵/ ۲۰)
[4]. (د مجمع البیان او فخررازي تفسیرونه)

او که څوک څه تولیدوي؛ نو د خپلې ګټې لپاره وي؛ خو الله تعالی داسې نه دی او تل تړولو ته ورکړه او ښښنه لري؛ خو د راکړې تمه نه لري.

د ((بسم الله)) ویل او تر چارو مخکې د الله نوم یادول، تر اسلامه مخکې هم ول؛ لکه څنګه چې په قرآن عظیم الشأن کې راغلي: حضرت نوح علیه السلام او حضرت سلیمان علیه السلام هم ((بسم الله)) وویله.

په ((بسم الله)) کې د ((ب)) توری، د هغه د نوم په اخستو، مرسته ترې غوښتل دي او هغوی چې الله یادوي؛ نو:

۱_ الله تعالی یې پېژندلای، پرې ایمان لري او لوراند او لورین یې ګڼي.

۲_ په ځان کې اړتیا، پناه غوښتنه او مرسته غوښتنه ننګېري.

۳_ څوک یې چې نوم اخلي؛ نو ورسره مینه کوي او له هغه مرسته غوښتل، د خپلې ژغورنې لامل ګڼي.

٤_ څوک چې د الله تعالی نامه اخلي؛ نو د الله تعالی له مخالفینو، طاغوتونو او بوتانو کرکه کوي او توکل یې یوازې پر الله دی او ورته هیلمن دی.

۵_ انسان د ((بسم الله)) په ویلو، ځان او خپلې چارې بیمه کوي او ځان په ناپایه ځواک پورې تړي.

د ((رحمان)) کلمه، الله تعالی ته ځانګړې ده؛ خو د ((رحیم)) کلمه بې له الله هم کارېږي؛ لکه چې امام صادق وایي: ((رحمان د الله تعالی عام صفت، چې مؤمن او کافر دواړه رانغاړي؛ خو رحیم یوازې د الله لپاره ځانګړی دی، چې یوازې مؤمنان رانغاړي.[1]))

## د "بسم الله" انځور

۱ – "بسم الله" د الهي رنګ او د توحیدي لوري نښه ده.

۲ –"بسم الله" د توحید نښه او پر ځای یې بله نامه اخستل، د کفر نښه ده او د هغه د نامې ترڅنګ، بله نامه اخستل، د شرک نښه ده. (مه یې د نامې ترڅنګ او مه یې د نامې پر ځای، د بل چا نامه واخلئ) نه یوازې د الله تعالی ذات؛ بلکې نامه یې هم، له هر ډول شریکباڼې پاکه دی.

((سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى[2] =د خپل لوړ پالونکي نوم وستایه.))

---

[1]. (تفسیر مجمع البیان)

[2]. (الاعلی/۱)

ان د حضرت محمد (صلی الله علیه و اله وسلم) په نامه هم د کار پیلول بدعت/منع دي. [1]
۳ – "بسم الله" د پاینښت او پایښت خواله ده؛ ځکه څه چې الهي رنګ و نه لري، له منځه تلونی دی. (كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ) [2]
٤ – "بسم الله" له الله سره د مینې او پرې د توکل نښه ده، هغه چې رحمن او رحیم دی، چارې مو د هغه پر توکل پیلوو، چې د نامې یادول یې د لورنې نازلونکی دی.
۵ – "بسم الله" له لویې وتنه او الله تعالی ته عاجزي ده.
٦ – "بسم الله" د بندګۍ او عبودیت لوړ ګام دی.
۷ – "بسم الله" شیطان ځغلونکې او لرېکوونکې ده، له چا سره چې الله تعالی مل و؛ نو شیطان اغېز پرې نه لري.
۸ – "بسم الله" د چارو د پیاوړتیا او سپېڅلتیا لامل ده.
۹ – "بسم الله" د الله تعالی یادول دي؛ یعنې ای الله! هېر مې نه یې!
۱۰ –"بسم الله" مو د موخې او نیت بیانونکې ده؛ یعنې خدایه! موخه مې ته یې؛ نه خلک؛ نه طاغوتان، ریا او ځاني غوښتنې.
۱۱ – امام رضا وایي: بسم الله؛ یعنې د الله تعالی د بندګۍ نښه پر ځان لګوم. [3]
۱۲ - د هر سورت په پیل کې، د "بسم الله الرحمن الرحیم" راتلل، په دې مانا دي، چې د دې سورت د منځپانګې سرچینه، حق او لورنه ده.
۱۳ – د کتاب په پیل کې د "بسم الله الرحمن الرحیم" د راتګ مانا داده، چې لارښوونه یوازې د هغه په مرسته پلي کېږي[کېدای شي ددې خبرې مانا دا وي، چې وایي: ټول قرآن عظیم الشأن د حمد په سورت کې او د حمد ټول سورت په "بسم الله" کې او ټوله "بسم الله" په "ب" کې راټوله شوې، چې د هستۍ پنځون او ښیون، ټول د هغه په لاس کې دي؛ لکه څنګه چې د آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم رسالت هم د هغه په نامه پیل شو. (اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ).
١٤ – په "بسم الله" د الله تعالی خبرې، له خلکو سره او د خلکو خبرې له الله سره پیلېږي.
۱۵ - د ذات په څېر یې لورنه هم تلپاتې او همېشنۍ ده. (الله الرحمن الرحیم)
۱٦ – په بېلابېلو بڼو د الهي رحمت بیانول، د هغه پر لورنې ټینګار دی (د رحمن او رحیم بڼه) (الرحمن الرحیم)

---

[1]. (اثبات الهداة ۷/ ۴۸۲)

[2]. (قصص / ۸۸)

[3]. (تفسیر نور الثقلین)

۱۷ – د کتاب په پیل کې "رحمن" او "رحیم" راوړل، شوني ده، په دې مانا وي، چې قرآن عظیم الشأن، د الهي رحمت جوله– جلوه ده؛ لکه څنګه چې پنځون او بعثت یې هم د رحمت جوله ده. (الرحمن الرحیم)

## توحید

توحید د الله تعالی پر ایکي یووالي ګروهنېدل دي، چې د ټولو انبیاوو ړومبۍ خبره ده.

توحید؛ یعنې د پیسې مقام او زور نمانځل، نفې کول.

توحید؛ یعنې د هغه پر ځای د بل نه منل؛ یعنې هغه چې پنځولی یم؛ نو ولې د بل عبادت وکړم؟!

توحید؛ یعنې چارو ته الهي رنګ ورکول، د هغه لپاره مینه او غوسه کول، هر څه د هغه ګڼل او قانون ته یې غاړه ایښوول. هغه پنځولی یم او تر هر چا راسره ډېره مینه کوي.

توحید؛ یعنې مرګ، ژوند، حیا، عزت، خواري، نړۍ او آخرت مې یوازې د هغه دی. هغه ژر راضي کېږي او نور نه راضي کېږي، هغه ورکړه او ښښنه کوي او نور غچ اخلي.

هغه ما د ما لپاره غواړي او خلک مې د ځان لپاره. هغه خالق او نور مخلوقات دي، هغه عزیز او نور ذلیلان دي، هغه تلپاتې او نور ورکېدوني دي او هغه پیاوړی او نور کمزوري دي.

یوازې د هغه اراده ده، چې خپل پېغمبر د غنې په جال ساتي. یوازې د هغه اراده ده، چې د هستۍ غونډال ته نظم/ پېیون ورکوي.

یوازې د هغه اراده ده، چې زه یم او که وغواړي؛ نو ځان به هم هېر کړم. د هغه په اراده یې وینم، لولم، خورم، پوهېږم او باور لرم.

د توحید دلیل هغه نظم دی، چې پر هستۍ واکمن دی.

د توحید دلیل هغه دی، چې د توکیزو څیزونو تر شړېدلو روسته، ټول زړونه هغه ته وراوړي.

## ځښتن پلټنه

### ولې د هستۍ د ځښتن پېژندنې ته اندنه کوو؟

### ۱-د هستۍ پېژندنې مینه مو په زړه کې ده

په رښتیا، دا ستر اسمان له ښکلي ستورو سره، ځمکه په زړه پورې منظرو سره، رنګارنګ موجودات، ښکلي مرغان، ډول ډول کبان، سمندرونه، سیندونه، غرونه، غوټۍ، ګلان، ډول ډول ونې او.... پخپله پیدا شوي که دا ښکلي انځورونه یو تکړه انځورګر رسم کړي دي؟ له دې چې راتېر شو، دا پوښتنې مو د ټولو په ژوند کې ماغزو ته راځي: له کومه راغلي یو؟ چېرې یو؟ چېرې به ځو؟

نو څومره به نېکمرغه یو، چې ددې درېیو پوښتنو ځواب ومومو؛ یعنې پوه شو، چې ژوند مو له کومه پیل شوی او چېرې به ځو او اوس څه دنده لرو؟

پلټونکی روح مو راته وایي: هڅه وکړه، لاس پښې ووهه او کوښښ وکړه، چې ددې پوښتنو ځواب پیدا کړئ. چې کله یو څوک په یوه ترافیکي پېښه کې ټپي او بېسده شي او د درمل لپاره روغتون ته بوتلل شي، چې کله روغ او په سد کې شي؛ نو لومړۍ پوښتنه، چې کوي داده: چېرې یم؟ ولې مو دلته راوړی یم؟ کله به له دې ځایه ځم؟ دا هرڅه ښيئ، چې انسان نشي کړای ددې ډول ډول پوښتنو په اړه چوپ پاتې شي؛ نو لومړی څیز، چې ددې هستۍ پېژندنې ته مو رابلي، زموږ پلټونکی روح دی.

### ۲- د مننې حس:

فکر وکړئ یوې مېلمستیا ته رابلل شوي یاست او ښه درناوي او مېلمستیا ته مو هر څه چمتو شوي او تاسې خپل رور دې مېلمستیا ته راوړي یئ او خپل کوربه نه پېژنئ؛ نو څه مو چې ماغزو ته راځي دا دي، چې کوربه وپېژنئ او منته ترې وکړئ.

موږ هم، چې ددې طبیعت پراخه غوړېدلي دسترخوان ته چې ډول ډول نعمتونه پرې راته ایښوول شوي؛ لکه سترګې، غوږونه، عقل، هوش، جسماني او رواني ځواک، د ژوند ډول ډول وزلې او پاکه او سوتره روزي؛ نو بېواکه مو اند ته راځي، چې ددې ټولو نعمتونو رابښونکی وپېژنو؛ که څه، هغه زموږ مننې ته اړتیا نه لري؛ خو موږ منته ترې کوو او چې دا کار مو نه وي کړی؛ نو په خپل ځان کې به د نیمګړنې او خپګان احساس وکړو او هم دا خبره یو بل دلیل دی، چې ځښتن پېژندنې ته مو رابولي.

**۳-گټه او تاوان مو په همدې پورې تړاو لري:**

سوچ وکړئ، پر يوه لار روان يئ او يوې څلورلارې ته ورسېدئ او هلته شورځوړ دی، ټول وايي: په دې څلور لارې کې مه درېږئ، چې خورا خطر لري او هره ډله مو يوې خوا ته رابلي؛ يو يې وايي: غوره خو داده، چې د ختيځ پر لوري ولاړ شئ، بل د لويديځ لار ښه بولي، بل مو ددې دوو لارو ترمنځ لارې ته رابولي، وايي: د خلاصون، بې خطره او په امن کې لار، چې د نېکمرغۍ ټولې وزلې پکې شته؛ همدا لار ده؛ نو ايا موږ خپل ځان ته اجازه ورکوو، چې بې مطالعې لار وټاکو؟ او يا عقل به اجازه راکړي، چې هلته ودرېږو او هېڅ لار و نه ټاکو؟

سپينه خو داده، چې ژر تر ژره څېړنه وکړو او د هرې ډلې خبرې ته ځير شو او د هرې ډلې په خبره کې مو چې سموالی، رښتينولي او قانع کوونکي دليلونه وموندل؛ نو ورسره يې ومنو او ډاډمنه لار وټاکو او مخکې ولاړ شو.

موږ په خپل ژوند کې هم داسې حالتونه لرو؛ ډول ډول مذهبونه او ښوونځي مو هر يو، ځان ته رابولي؛ نو داچې زموږ نېکمرغي، بدمرغي، پرمختګ او پرشاتګ، د لارې په څېړنې او ټاکنې پورې تړلې ده؛ نو ځان ناچاره ګڼو، چې ددې لارې په اړه فکر وکړو او هغه لار وټاکو، چې زموږ د بشپړتيا او پرمختګ لامل ګرځي او له هغې لارې ځان لرې کړو، چې د بدمرغۍ، فسادونو او تورتمونو کندې ته مو ورګوزاروي او پخپله دا خبره هم يو بل دليل دی، چې د هستۍ څښتن پېژندنې ته مو رابولي.

قرآن عظيم الشأن وايي:

((وَالَّذِينَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوتَ أَن يَعْبُدُوهَا وَأَنَابُوا إِلَى اللَّهِ لَهُمُ الْبُشْرَى فَبَشِّرْ عِبَادِ. الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ وَأُولَئِكَ هُمْ أُولُوا الْأَلْبَابِ[۱] - او هغو کسانو ته زېری دی، چې د طاغوت له نمانځنې يې ډډه او الله تعالی ته يې مخه کړې وي؛ نو زما بندګانو ته زېری ورکړه؛ هغو ته چې خبره اوري او (بيا) ښه اړخ يې مني؛ دا هغه خلك دي، چې الله تعالی سمه لار ورښوولې ده او يوازې همدوی عقلمن دي.))

---

[۱] (زمر/۱۷-۱۸)

# په ژوند کې د څښتن پېژندنې آثار

## ۱-الله تعالی پېژندنه او د علم پرمختګ:

فکر وکړئ، چې یو ملګری مو له سفره راستون شوی او یو کتاب یې ډالۍ راوړی دی، وایي: ډېر لوړ کتاب دی؛ څکه لیکوال یې ډېر پوه، ځیرن، کارپوه، په خپل مسلک کې نوموتی او ښه پوره استاد دی؛ نو هرومرو به داسې وي، چې دا کتاب به برسېرن نه مطالعه کوئ؛ بلکې هر یو ټکی او غونډله-جمله به په ځیر لولئ او که پر کوم ځای یې پوه نه شوئ؛ نو هر وخت مو چې وخت درلود؛ نو ساعتونه؛ بلکې شپې ورځې به پرې واړوئ، چې پوه شئ؛ څکه لیکوال یې عادي لیکوال نه دی؛ بلکې یو پوه لیکوال دی، چې یو ټکی یې هم بې حسابه نه دی کښلی؛ خو که درته وویل شي، چې دا کتاب په ظاهره ښکلی ښکاري؛ خو لیکوال یې ډېره پوهه نه لري، عملي کتاب نه دی او هېڅ حساب کتاب نه لري؛ نو معلومه خبره ده، چې دا کتاب به برسېرن ولولئ او هر ځای چې مو نامفهومه پکې وموند؛ نو له ځان سره به وایئ: غلطي د لیکوال د ناپوهۍ یا لږپوهۍ پایله ده؛ نو پکار نه ده، خپله ګرانبیه وخت پرې خراب کړم.

د هستۍ عالم هم د یوه ستر کتاب په څېر دی، چې هر موجود پکې یو ټکی او یا یوه غونډله ده. د الله لمانځې انسان له نظره،ددې هستۍ بېل بېل مخلوق، د مطالعې او ځیرنې وړ دی. انسان د الله لمانځنې د رڼا په مرسته، په خورا ځیر، په ځانګړي ډول، ددې هستۍ خوالې مطالعه کوي (او همدا خبره د انسانانو د علم د پرمختګ لامل ګرځي)؛ څکه هغه پوهېږي، چې ددې هستۍ پنځګر ناپایه پوهه او ځواک لري او ټولې چارې یې د حکمت او فلسفې له مخې دي؛ نو نور هم ځیرېږئ، چې ددې هستۍ پر خوالو ښه پوه شئ؛ خو یو توکیز انسان د پنځون پر خوالو د پوهېدنې لپاره، ځانګړې انګېزه نه لري؛ څکه ددې هستۍ خالق، یو بې شعوره طبیعت ګڼي او که وګورو، چې ځینې مادي پوهانو یو څه برسېرنې کړي، ددې لپاره دي، چې هغوی الله تعالی مني؛ خو یوازې نوم یې پرې طبیعت ایښی؛ څکه د طبیعت چارو ته پر "نظم"، "حساب" او " کړلار" قایل دي.

لنډه داچې الله تعالی لمانځنه د علم د پرمختګ لامل دی.

## ۲-څښتن پېژندنه، هڅه او هیله

چې کله د انسان په ژوند کې ترخې او ناوړه پېښې راشي؛ نو په ظاهره پرې له هر لوري ورونه وتړل شي؛ نو په دې ټولو ستونزو کې یوازېتوب او کمزوري ننګېري، چې دلته (یوازې) پر الله

تعالی ایمان دی، چې مرستې ته یې رادانګې او ملاتړ یې کوي. هغوی چې پر الله تعالی ایمان لري، ځان هېڅکله یوازې او بېوسه نه ګڼي، نه نهیلېږي؛ ځکه د الله تعالی ځواک پر ټولو ستونزو برلاس او ټولې چارې ورته خورا اسانې دي.
هغوی چې پر الله تعالی ایمان لري، د الله تعالی د پېرزوینې، مرستې او ملاتړ په هیله، له ستونزو سره مبارزې ته ملا تړي او له خپل ټول واکه کار اخلي او له هڅې سره د مینې په پار، خپل کار پر مخ بوځي او پر ټولو ستونزو برلاسېږي؛ نو ځان پوه کړئ، چې پر الله تعالی ایمان د ټولو انسانانو لپاره یو پیاوړی ډاډ، د صبر لامل او په زړه کې د هیلې ډیوه بله ساتي؛ نو ځکه ایمانوال کله هم ځان نه وژني؛ ځکه د ځان وژنې سرچینه، په نهیلی، ماتې او یوازېتوب کې ده؛ خو د ایمانوال نهیلي او ماتې نه ننګېري.

### ۳-ښنتن پېژندنه او پازوالي:

ډېری ډاکتران پېژنم، چې بېوزله رنځور ورشي؛ نو نه یوازې خپل فیس نه ترې اخلي؛ بلکې د درملو پیسې هم ورکوي او که وننګېري، چې د رنځور حال یې ښه نه دی؛ نو خپل ټول وخت پرې تېروي، چې داسې وګړي، الله تعالی لمانځي او ایمانوال دي؛ خو داسې ډاکتران هم پېژنم، چې بې پیسو ان سلام هم پر رنځور نه اچوي؛ ځکه پیاوړی ایمان نه لري. ایمانوال انسان په هر ځای او هره دنده کې چې وي، پازوال، دنده پېژاندی، نېکچاری او پراخ ټټری دی او تل پخپل زړه کې د یوه مانیز څارنوال شتون ننګېري، چې کړنې یې څاري؛ خو بې ایمانه انسانان؛ ځانمني او خطرناک وي، چې هېڅ ډول پازوالي او احساس نه لري، د نورو پر حق ګېډه اچول، ظلم او تېرې ورته ډېر اسان وي او ډېر لږ وي، چې انسانانو ته ګټور شي.

### ٤-ښنتن پېژندنه او هوساینه:

اروا پوهان وایي: زموږ په پېر کې روحي خپګانونه او رنځونه زیانمني دي او همداراز وایي: ددې خپګانونو او رنځونو یو لامل، د راتلونکې مړینې، جګړې، بېوزلی او ماتې په اړه تشویش دی او ډېر وي: هغه څېز، چې کړای شي، دا تشویش لرې کړي، پر الله تعالی ایمان دی؛ ځکه خپګان چې وغواړي، د انسان روح ته ورننوځي؛ نو پر الله تعالی ایمان یې ملاتړ شي؛ ځکه هغه ښنتن، لوراند، روزي ورکونکی او د خپلو بندګانو له حالاتو خبر دی او بنده چې څه ترې غوښتي، ورکړي یې دي او له خپګانونو یې راایستی دی؛ نو ځکه رښتیني مؤمنان، تل هوسا وي، روح یې خپه نه وي؛ ټولې چارې یې د الله تعالی لپاره دي؛ نو که ماتې تاوان هم وکړي؛

نو سکینده-جبران یې له خپل الله تعالی غواړي. ایمانوال ان د جګړې په ډګرونو کې هم موسکي وي.
قرآن عظیم الشأن وایي:
((الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُم بِظُلْمٍ أُوْلَئِكَ لَهُمُ الأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ[1] = (هو) هغوی چې ایمان یې راوړی او خپل ایمان یې د(شرك) له ظلم سره نه وي ګډلی؛ نو امن یوازې همدوی ته دی او همدوی پر سمه لار ورسیخ دي!))

## په دوو ډاډمنو لارو د الله تعالی پېژندل

د الله پېژندنې په اړه له پخوا خورا وېینې- بحثونه او کتابونه کښل شوي او هر چا دې حقیقت ته د ځان رسولو لپاره، یوه لار نیولې؛ خو هغه چې کړای شي، ژر مو د هستۍ سرچینې ته ورسوي؛ دوې لارې دي:
۱- دننۍ (نږدې لار)
۲- بهرنۍ (روښانه لار)
په لومړۍ لار کې، پخپل وجود کې ګرځو، چې له دننه به د توحید غږ واورو.
په دویمه لار کې، په پراخه هستۍ کې ګرځو او د الله تعالی نښې به د هر موجود پر تندي او د هرې ذرې په زړه کې ووینو، چې دا دواړه لارې اوږدې وېینې لري؛ خو هڅه مو کړې، چې دا دواړه لارې په لنډوو ووایو:

**الف: دننۍ لار:**

سوچ وکړئ:
۱-پوهان وایي: که هر انسان په پام کې ونیسئ، چې د هر توکم او پور وي او پر خپل حال پرېښوول شي او نه ورته د الله تعالی خبرې وشي او نه د ماده پالنې؛ نو پخپله به یې یوه داسې ځواک ته ورپام شي، چې ددې نړۍ له ځواک سره، یو بل ځواک دی، چې پر ټوله نړۍ واکمن دی. هغه به په خپل زړه کې داسې یوه ننګېرنه ولري، چې یو ښکلی په زړه پورې او نرم غږ، چې په عین حال کې پیاوړی دی، ورته غږ کوي او ځان ته یې رابولي، چې موږ ورته «الله تعالی» وایو، چې دا د بشر د پاک فطرت غږ دی، چې غږ ورته کوي.
۲-کېدای شي د توکیزې نړۍ ځلبل او چارې یې بوخت کړي او د یوې مودې لپاره ددې غږ له اورېدو غافل شي؛ خو چې کله ځان، په ستونزو کې ویني او لاس یې له ټولو مادي وزلو

[1] (انعام/۸۲)

لنډ شي او هېڅ پناه و نه لري؛ نو دا غږ به يې په زړه کې پياوړی شي؛ نو ننګېري، چې له خپل دننه پرې يو ځواک غږ کوي او ځان ته يې رابولي؛ هغه ځواک چې پر ټولو ځواکونو برلاس دی؛ هغه ځواک چې ټولې ستونزې ورته پر ګونډو دي.
لږ به داسې وګړئ ومومئ، چې په ستونزو کې يې الله تعالی راياد نشي او همدا خبرې راښيي، چې موږ څومره هغه ته ور نږدې يو او هغه څومره موږ ته او زموږ په روح او زړه کې دی.
البته بايد وويل شي، چې د فطرت غږ تل په انسان کې وي او دغه غږ پرې کېږي؛ خو د فطرت دا غږ، په ستونزمنو شېبو کې نور هم پياوړی شي.
۳-تاريخ ددې خبرې لووی-ګواه دی، چې داسې واکمنان ول، چې د هوساينې او عادي حالاتو پر مهال يې ان د الله تعالی نامه نه اورېده؛ خو چې کله يې د خپل واک پښې سستې او ماتې رنګې وليدې؛ نو الله تعالی به يې راياد شو او د فطرت غږ به يې ډېر پياوړی اورېده.
تاريخ وايي: چې کله فرعون، ځان د سيند په غوسه څپو کې وليد او د تېښتې لار يې نه درلوده او هغه اوبه چې د هېواد د ښېرازۍ او د توکيز واک او ځواک سرچينه وه؛ اوس يې د مرګ حکم پلي کوي؛ نو چغې يې کړې: ((اوس منښته کوم، چې بې د موسی له الله، بل څښتن نشته)) چې په حقيقت کې دا غږ يې له فطرت او زړه راپورته شوی و.
خبره خو داده، چې نه يوازې فرعون؛ بلکې ټول انسانان، چې داسې شرايط پرې راشي؛ نو هغه مهال دا غږ ډېر ښه اوري.
٤- تاسې پخپله هم، چې خپل زړه ته ورشئ او ورډوب شئ؛ نو و به ګورئ، چې هلته يوه رڼا ځلېږي، چې د الله تعالی لوري ته مو رابلي، کېدای شي په ژوند کې مو سختې ستونزې درلودې چې هېڅا نه شوې هوارولای او دا مو زړه ته راغلي وي، چې په دې هستۍ کې داسې يو واک شته چې کړای شي، دا ستونز خورا په اسانۍ هواره کړي او پر همدې مهال ول، چې د زړه له اسمانه مو د زغم او خپګان وريځې تللې وي او د هيلو لمر به پرې ځليدلی وي.
هو! دا نږدې لار ده، چې هر څوک له خپل زړه، الله تعالی ته ځان رسولای شي.

**پوښتنه:**
کېدای شي دا پوښتنه مو ذهن ته هم راغلې وي، چې ایا شونې ده، په ستونزمنو شېبو کې څکه الله تعالی رایادېږي، چې دا خبره موروپلار راښوولې، چې په داسې شېبو کې له الله تعالی مرسته وغواړو؟
حق لرئ داسې پوښتنې مو ذهن ته راشي، موږ به یې ځواب درکړو.
قرآن عظیم الشأن وایي:
((فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ[1]-نو چې کله هغوی په بېړۍ کې سواره شي؛ نو الله تعالی په اخلاص بلي(او بې له هغه هېروي)؛ خو چې الله تعالی یې وچې ته راوباسي (او و یې ژغوري). بیا په شرك لاس پورې کوي.))

**ځواب:**
دودونه بدلېدوني او نه پاتېدوني دي؛ یعنې داسې دود را پیدا کولای نشو، چې په بشري تاریخ کې په ټولو خلکو او قومونه کې یو شانت پاتې او راغلی وي، څه چې نن دود دی، کېدای شي سبا بدل شي؛ نو څکه د یوه ملت دود، له نورو ملتونو سره توپیر لري. که وینو، چې یو مسله په ټولو قومونو او ملتونو کې، په هر وخت کې بې له استثنا شته؛ نو باید پوه شو، چې دا خبره د انسان په فطرت، روح او زړه کې جرړه لري؛ د بېلګې په توګه: ناشونې ده، چې له اولاد سره د مور مینه، د دود، روږد او یا تبلیغاتو پایله وي؛ څکه په هېڅ وخت او په هېڅ قوم کې به مو دا نه وي لیدلي یا اورېدلي، چې مور به له اولاد سره مینه نه کوي؛ البته شونې ده، چې یوه مور د رواني رنځ له لامله، خپل اولاد له منځه یوسي او یا څوک د جاهلیت پر مهال خپله لور د غلطو افکارو له لامله ژوندۍ ښخه کړي؛ نو دا خورا نادرې او ژرتېرېدونې استثناوې دي، چې ډېر ژر به له منځه ولاړې شي او پر خپل آریز حالت به واوړي، چې له خپل اولاد سره مینه ده؛ نو د پورته سریزې په رڼا کې، د نننی انسانانو په منځ کې، د الله تعالی د عبادت پر چار نوره رڼا هم اچوو:
۱-پوهان، ټولنپوهان او تاریخپوهان یوه خوله دي، چې داسې انسان به نه و چې ایمان یا دین یې نه درلود؛ بلکې په هر وخت او د نړۍ په هر ګوټ کې تل په یوه بڼه ایمان او دین و، چې دا خبره پخپله جوتوي، چې پر الله تعالی ایمان او عبادت، د انسان په روح او فطرت کې جرړه

[1] (عنکبوت/ ٦٥)

لري؛ نه داچې د تلقين او هڅونې، تبليغ او دود پايله وي؛ ځکه که د دود پايله وي؛ نو داسې عمومي او تلپاتې بڼه به يې نه درلوده.
په تاريخ کې راغلي: هغو قومونو، چې تر تاريخ مخکې يې ژوند کاوه، دوی هم په يوه نه يوه بڼه دين درلود، تر تاريخ مخکې وخت، هغه مهال ته ويل کېږي، چې لا خط نه و برسېره شوی او انسانو نه شول کړای خپلې ليکنې نورو ته يادګار پرېږدي؛ البته په دې کې هم اړنګ نشته چې لومړني قومونو ددې لپاره، چې نه يې شول کړای، الله تعالی له طبيعته يو بر ځواک وپېژني؛ نو الله تعالی يې په طبيعت کې لټاوه او د طبيعت له موجوداتو يې د ځان لپاره بوتان جوړول؛ خو د فکر په پرمختګ انسان سوکه سوکه وکړای شول، ځان پر حق پوه او له بوتانو، چې توکيز څيزونه دي، سترګې پټې او بې له دې توکيزې نړۍ، د الله تعالی له ستر ځواک سره اشنا شي.
۲- ځينې ستر ارواپوهان وايي: د انسان روح څلور بڼې يا څلور آريز حسونه لري:
الف: **"د پوهې حس"**، چې انسان په علم پسې کوي او د هغه روح، د پوهې د زده کړې تږی کوي، که مادي ګټه لري که نه.
ب: **"د نېکۍ کولو حس"**، چې د بشريت په نړۍ کې په اخلاقي او انساني چارو کې جرړه لري.
ج: **"د ښکلا حس"**، چې په واقعي مانا، د شعر او ادبياتو د پنځون سرچينه ده.
د: **" ديني حس"** چې انسان د ښتن پېژندنې او د هغه د حکمونو پلې کولو ته رابلي؛ نوګورو چې ديني احساس، د انسان د روح له جرړه لرونکيو او آريزو احساساتو څنې دی؛ يعنې چې هېڅکله ترې بېل نه و او نه به ترې بېل شي.
۳- توکيزيان او له خدايه منکر هم د الله تعالی پر وجود مښته کوي، که څه د الله تعالی له نامې راوړو ډډه کوي او د طبيعت يا نورو څيزونو نامه پرې ږدي؛ خو د طبيعت لپاره داسې ځانګړنې قايل دي، چې د الله تعالی ځانګړنو ته ورته دي؛ د بېلګې په توګه: که طبيعت، انسان ته دوه پښتورګي ورکړي، ددې لپاره دي، چې کېدای شي يو پښتورګی يې له کاره وغورځېږي، چې بل يې وکړای شي، خپله حياتي دنده ترسره کړي او دې ورته نور تعبيرونه؛ نو پخپله ووايئ: ايا دا خبره له بې شعوره طبيعت سره سمون خوري؟ يا داچې هغه الله تعالی ته اشاره ده، چې علم يې ناپايه دی، که څه د طبيعت نامه يې پرې ايښې ده.
په دې وينه کې چې څه وويل شول، پايله ترې اخلو، چې: له الله تعالی سره مينه زموږ په زړه کې وه او وي به. پر الله تعالی ايمان هغه تلپاتې رڼا ده، چې روح او زړه مو رڼا کوي.
الله پېژندنې ته پکار نه ده، لرې ولاړ شو، لنډه هغه د پښتنو خبره: "په خپل ګرېوان کې سره ښکته کړئ"؛ نو د زړه په سترګو به ايمان پرې پخپل زړه کې ووينئ.

قرآن عظيم الشأن وايي:
((وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ نَفْسُهُ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ[1]-او په يقين، موږ انسان پنځولي او پوهېږو، چې نفس يې څه وسوسې ورته کوي او موږ د ورمېږ له رګه هم خورا ورنژدې يو.))

## د ربتينو کيسه

و مو ويل: هغوی چې په خوله، له الله تعالی منکر دي، په زړه کې د الله تعالی پر وجود ايمان لري.
د کانې کرخه ده، چې برياوې، په تېره، د کم ظرفيته انسانانو د پېسمنی- غرور لامل دي او همدا غرور، د هېرولو لامل ګرځي، تردې چې کله انسان خپل فطرت هم هېروي؛ خو چې د ژوند د ستونزو توپانونه ورشي او له سترګو يې د پېسمنی پردې لرې کړي؛ نو فطرت او الله تعالی پېژندنه يې راڅرګنده او رايادهه شي. د بشر تاريخ، داسې ډېرې بېلګې لري، چې يوه يې دا کيسه ده:
يو وزير پخپل وخت کې ډېر ځواک او واک درلود او چا ورسره د مخالفت مړانه نه درلوده؛ يوه ورځ، يوې غونډې ته راننوت، چې ډېر ديني پوهان پکې ناست ول، پر وينا شو، و يې ويل: تر څو به وايئ، چې نړۍ، څښتن لري؛ خو زه د الله تعالی د نفې کولو لپاره زر ډوله دليلونه لرم. دا غونډله يې په ډېر غرور وويله. په غونډه کې حاضر پوهان پوهېدل، چې هغه د سول- منطق او استدلال خاوند نه دی او واکمنی او ځواک دومره کبرجن کړی، چې د هېچا خبره اغېز پرې نه کوي؛ نو ټولو يې پر وړاندې، له مانا او سپکاوۍ ډکه چوپتيا غوره کړه. دا خبره تېره شوه؛ څه موده روسته، وزير تورن شو، حکومت ونيو او بندي يې کړ.
يو پوه، چې پر هغه ورځ په غونډه کې و، فکر وکړ، چې د راويښولو وخت يې رارسېدلی دی، اوس چې يې غرور مات شوی او د ځانمنی پردې يې له سترګو شلېدلي؛ نو که خبرې او نصيحت ورته وشي؛ نو پايله به يې ښه وي، کتنې ته يې بند ته ورغی. چې ورننږدې شو؛ نو و يې ليدل، چې په بند کې ځان ته ګرځي او يو شعر وايي، چې يښتو مفهوم يې دا دی: "موږ د هغو زمريو په څېر يو، چې پر بېرغونو انځورېږي، چې باد وي؛ نو خوځي؛ ته وا ځواکمن دی؛ خو په حقيقت کې، له ځانه هېڅ نه لري او باد دی، چې ځواک ورکوي، موږ هم که هر څومره

[1]. (ق/١٦)

خاوندان شو؛ نو له خپل ځانه هېڅ نه لرو. هغه الله تعالی چې واک يې راکړی، هره شېبه يې راځخه اخستای شي. "

نوموړي پوه، چې وليدل، دا وزير نه يوازې په دې شرايطو کې له خدايه منکر نه دی؛ بلکې پوخ الله پېژاندی شوی؛ خو بيا يې هم روغبړ ورسره وکړ او ورته يې وويل: يادېږي دې چې يوه ورځ مو ويلی ول، چې د الله تعالی د نفې لپاره زر ډوله دليلونه لرئ. راغلی يم، هغه دليلونه مو واورم او ځواب يې پر يوه خبره درکړم، چې الله تعالی؛ هغه ستر ځواک، ځومره په اسانۍ له تا واخست، هغه خېجله شو، سر يې لاندې واچاوه او ځواب يې ورکړ؛ ځکه پر خپله غلطۍ پوه شوی و او پخپل زړه کې يې د الله تعالی رڼا ليده.

قرآن عظيم الشأن د فرعون په اړه وايي:

((وَجَاوَزْنَا بِبَنِي إِسْرَائِيلَ الْبَحْرَ فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُ بَغْياً وَعَدْواً ان إِذَا أَدْرَكَهُ الْغَرَقُ قَالَ آمَنْتُ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُوا إِسْرَائِيلَ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ [1]- او (په پايله کې) موږ بني اسراييل (د نيل) له سينده پورې اېستل؛ نو فرعون او لښکر يې د ظلم او دښمنۍ له لامله ورپسې روان شول، ان تردې چې کله هغه پر ډوبېدو شو؛ نو و يې ويل: ((ما ايمان راووړ، چې بې له هغه بل معبود نشته چې بني اسراييلو (-د يعقوب اولادې) پرې ايمان راوړی او زه له تسليم شويو يم.))

## د ښتن پېژندنې دويمه لار

که هغه هستۍ ته يوه ساده کتنه وکړو، چې پکې وسو؛ نو دې حقيقت ته رسو، چې دا هستي ګډه وډه او بې حسابه نه ده؛ بلکې ټول موجودات يې پر يوه ټاکلې ليکه پر مخ ځي؛ نو د نړۍ مخلوقات او غونډالونه د يوه ستر لښکر په څېر دي، چې پر منظمو ټولګليو اېشل شوي او د يوې ټاکلې موخې پر لوري په حرکت کې دي.

په دې هکله لاندې خبرې، د ذهن هره تياره رڼا کوي:

۱- بايد د هر ژوندي موجود د پنځون لپاره ځينې قانونونه او شرايط لاسونه ورکړي؛ د بېلګې په توګه: د يوې ونې د پنځون لپاره ځمکه، اوبه، مناسبه هوا او تودوخه پکار ده، چې تُخم يې وکرل شي، چې ښه خواړه او ساه واخلي، راشنه شي او وده وکړي، چې بې له دې شرايطو يې وده ناشونې ده، چې ددې شرايطو ټاکنه او برابرول يې عقل او پوهې ته اړتيا لري.

۲-هر موجود خپل ځانګړی اغېز لري؛ اوبه خپل او اور خپل، چې هېڅکله به هم ترې وانخستل شي او تل له يوه ثابت قانونه لاروي کوي.

[1] (يونس/۹۰)

۳-ټول ژوندي موجودات، یو له بل سره مرسته کوي؛ د بېلګې په توګه: د انسان بدن، چې پخپله یوه نړۍ ده، د کار پر مهال یې ټول غړي ارادي او غیر ارادي، یو له بل سره ځانګړې همغږي لري؛ د بېلګې په توګه: که خطر شي؛ نو ټول د دفاع لپاره چمتو شي، چې دا نږدې اړیکه او ګډ کار، په هستۍ کې د نظم یوه بله نښه ده.

٤-که هستۍ ته ننداره شو؛ نو را و به ښيي، چې نه یوازې ژوندي ژوي؛ بلکې نور مخلوقات هم یو له بل سره ځانګړې همغږي لري؛ د بېلګې په توګه: د ژوندي موجوداتو د ودې لپاره لمر لګې، باران ورېږي، باد لګي او ځمکه او د ځمکني سرچینې هم مرسته کوي، چې دا ټول د هستۍ په عالم کې د یوه ټاکلي نظام ښکاروندی ده.

## د "نظم" او "عقل" اړیکه

دا حقیقت د ټولو وجدان ته څرګند دی، چې په هر ځای کې چې نظم وي؛ نو د عقل، اند، نخچې او موخې ښکارندوی دی؛ ځکه انسان چې په هر ځای کې ثابت قوانین، حساب او نظم ولید؛ نو پوهېږي، چې ترڅنګ یې باید د علم او ځواک سرچینې ولټول شي، چې د وجدان دا درک، پخپله هېڅ استدلال ته اړتیا نه لري. پوهېږي، چې هېڅکله یو ړوند او نالوستی انسان نشي کړای، پر کمپیوټر یوه علمي، ټولنیزه او وټیزه مقاله ولیکي او همداراز هېڅکله یو دوه کلن ماشوم نشي کړای، د قلم په کارولو، منظم او ارزښتمن انځور جوړ کړي؛ بلکې که موږ یوه ښه ارزښتمنه علمي مقاله ولوسته؛ نو ذهن ته به مو یو لوستی او هوښیار انسان راشي او که په کوم مېوزیم کې مو یو ښکلی او مانا لرونکی انځور ولید؛ نو ذهن ته به مو راشي، چې د یو تکړه او پخپل کار کې د ماهر انسان کار دی، که څه هغه لیکوال یا انځورګر مو پخپلو سترګو نه وی لیدلای؛ نو ځان پوه کړئ، هر چېرې، چې یو منظم نظام وي؛ نو ترڅنګ یې عقل او هوښیارتیا هم شته او څومره، چې هغه نظام ستر، دقیق او په زړه پورې وي؛ نو د پنځګر علم او عقل به یې هم هومره ستر وي.

ددې موضوع د جوتولو لپاره، چې د هر منظم نظام د جوړولو لپاره عقل او علم ته اړتیا ده، د عالي ریاضیاتو له "احتمالاتو" هم ګټه اخستل کېږي. د ساري په ډول: که یو نالوستی انسان وغواړي، د ټایپ په ماشین، په تصادفي توګه د ټنیو په وهلو، یوه مقاله او شعر ولیکي؛ نو د احتمالاتو د حساب له مخې میلیاردونه کلونه عمر غواړي، چې د ځمکې تر عمره ډېر ده.

قرآن عظیم الشأن وایي:

((سَنُرِيهِمْ اياتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ ان يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ[1]= موږ به ژر خپلې نښې (د نړۍ) په شاوخوا او د هغوی پخپلو ځانو کې وروښیو، چې ورڅرګنده شي، چې هغه حق دی؛ ایا بس نه دی، چې پالونکی دې پر ټولو څیزونو شاهد دی؟!))

## د پنځون غونډال څو بېلګې

پر ټوله هستۍ "نظم"، "موخه"او "نخچه"واکمنه ده، چې موږ يې يو څو بېلګې راوړي:
دلته موږ څو سترې او کوشنۍ بېلګې راټولې کړي دي. ډېره خوشحالونکې ده، چې د طبيعي پوهو په پرمختګ او د طبيعت د خوالو او د انسان وجود، د ځارويو، بوټو او د حجرې او يو اتوم د هېښنده غونډال او د ستورو علم په کشف سره، د الله پېژندنې ورونه راپرانستل شول، چې دا خبره ډاډه کړای شم، چې د طبيعي علومو ټول کتابونه، د توحيد او څښتن پېژندنې کتابونه دي، چې موږ ته د پالونکي د عظمت سبق راکوي؛ ځکه دا کتابونه، ددې نړۍ په زړه پورې نظام له موجوداتو پرده اوچتوي او راښيي، چې ددې نړۍ پنځګر څومره وسمن او پوه دی.

### ۱-د انسان د بدن هېوادمشر

زموږ د سر په کوپړۍ کې ماغزه دي، چې دا ماغزه د بدن تر ټولو دقيق او منظم غړی دی؛ ځکه کار يې د بدن د ټولو غونډالونو بولندويي او سمبالنه ده. ددې ستر مرکز پر ارزښت د لا ښه پوهاوي لپاره ووايم، چې په اخبارونو کې يې ليکلي ول، چې يو محصل د ترافيکي پېښې ښکار شو، ماغزو يې وټکېدل؛ خو ظاهراً، په وجود کې يې هېڅ ډول نيمګړتيا رانغله، د بدن ټول غړي يې روغ ول؛ خو خپل ټول ياددښت يې له لاسه ورکړی و، فکر يې ښه کار کاوه، پر خبره ښه پوهېده؛ خو چې خپل موروپلار يې مخې ته راتلل؛ نه يې پېژندل او چې ورته ويل کېدل، دا دې مور ده؛ نو حيرانېده او چې کله د هغه پخپل لاس، جوړ شوي څيزونه او انځورونه وروښول شول؛ نو حيران يې ورکتل او ويل يې: دا هر څه، د لومړي ځل لپاره وينم. معلومه شوه، چې په دې مغزي ضربه کې يې د مغزو هغه برخو ضربه خوړلې وه، چې د فکر او حافظې ترمنځ نښلوونکې وه؛ لکه چې (د برښنا فيوز والوځي او برښنا ولاړه شي)؛ کېدای شي ددې ځوان په ماغزو کې ډېره کوشنۍ برخه خرابه شوې وي؛ خو وګورئ، چې څومره يې پر ژوند اغېز وکړ او دا راښيي، چې زموږ ماغزه څومره ارزښت لري.

---

[1]. (فصلت/ ۵۳)

ماغزه او د اعصابو لړۍ، له دوو غټو برخو جوړه شوې ده:
۱-ارادي اعصاب، چې زموږ په واک، ټولې چارې؛ لکه پر لار تګ، ليدل، خبرې کول او.....
ترسره کوي.
۲- غيرارادي اعصاب، چې زموږ غير ارادي چارې؛ لکه د زړه، معدې او تنفس حرکتونه په واک کې لري.
"ماغزه" (دماغ اکبر) د هوش، ارادې، شعور او حافظې مرکز دی، لنډه داچې يو حساس او مهم غړی دی، چې ډېر روحي غبرګونونه؛ لکه غوسه او وېره ورپورې تړلې ده.

**حافظه:**

ايا تر اوسه مو فکر کړی، چې حافظه څومره هېښنده ده؟که د يوه ساعت لپاره واخستل شي؛ نوڅومره غمجن برخليک به ولرو؟!
د حافظې مرکز په ماغزو کې، يو وړوکی مرکز دی، چې زموږ د عمر ټول ياددښت په ځان کې ساتي او هر انسان، چې راسره اړيکه نيسي، له ټولو ځانګړنو سره يې پخپله دوسيه کې ساتي او همداچې پر هر ځای او وخت رامخامخ شي؛ نو زموږ فکر د هغه انسان يا څيز دوسيه له نورو دوسيه ګانو راباسي، مطالعه کوي يې او بيا راته دستور راکوي، چې په اړه يې څرنګه غبرګون وښيو، که ملګری وي؛ نو درناوی يې کوو او که دښمن وي؛ نو کرکه ترې کوو؛ خو دا ټولې چارې دومره چټکې کيږي، چې موږ يې بيخي نه احساسوو.
بې شعوره طبيعت، څنګه شعور پنځولای شي؟ د ماغزو په اړه ډېر کتابونه کښل شوي؛ نو ايا څوک باور کړای شي، دا ظريفه او له خوالو ډک نظام به يوه بې شعوره طبيعت جوړ کړی وي؟ او تردې هېښنده خبره خو داده، چې بې عقله طبيعت، د عقل پنځګر وګڼو!

## په کوشنۍ مرغۍ کې ستره هېښنه

اسمان ته مې کتل، چې تپه تياره ده او په دې تپه تياره کې يوه مرغۍ وينم، چې په پوره ډاډ خپل ځان ته د خوړو پيدا کولو لپاره يو خوا او بلې خوا ته الوځي. دا مرغۍ "خفاش" ده، چې په تورتم کې يې الوتنه هېښنده ده.
په تورتم کې ددې مرغۍ الوتنه، بې له دې چې له کوم څيز يا ځای سره ټکر وکړي؛ دومره هېښنده ده، چې که څومره يې په اړه مطالعه وشي؛ نو خوالې به يې نورې هم رابرسېره شي. دا مرغۍ په تياره کې هومره په چټکۍ الوځي؛ لکه کوتره، چې په رڼا کې الوځي. که دا مرغۍ په

یو ځادر کې راتاوه او په تیاره تونل کې خوشې کړای شي؛ نو بې له دې چې له کوم ځای یا څیز سره ټکر وکړي، خپله لار پیدا کوي، چې د خفاش دا ځانګړنه رادار ته ورته ده. دلته باید د رادار پر غونډال-سیستم څه رڼا واچول شي، چې د خفاش پر کوشني بدن ښه وپوهېږو.

په فیزیک کې د غږ په برخه کې، د ماوراو څپو په اړه یوه وینه ده او دا هغه څپې دي، چې تاوب او طول یې دومره ډېر دی، چې د انسان غوږ یې نشي درک کولای؛ نو ځکه ماوراو امواج/ څپې ورته وایي.

چې کله داسې څپې د یوې پیاوړې مبداء یا لېږدونکي پواسطه رامنځ ته شي؛ نو دا امواج همداسې پرمخ ځي؛ خو داچې په فضا کې له یو مانع/خنډ سره ټکر وکړي (لکه الوتکه او یا بله مانع)؛ نو لکه توپ، چې پر دېوال لګېږي؛ نو بېرته راګرځي او بل مثال یې دادی؛ لکه چې د یوه غر مخې ته غږ وکړو او تر یوې شېبې روسته راستنېږي او ددې راستنېدو له وخته کړای شو، چې د هغه خنډ واټن اټکل کړو. ډېری الوتکیو او بېړیو ته د رادار له لارې لارښونه کېږي او هرې موخې ته چې وغواړي، ځي او همداراز د دښمن د الوتکې او بېړۍ د پیداکولو لپاره هم له رادارە ګټنه کېږي.

پوهان وايي: ددې وړوکې مرغې په بدن کې هم د رادار په څېر یو غونډال دی، که همدا مرغۍ په یوه کوټه کې خوشې کړو او پر هماغه وخت هم یو میکروفون ولګو، چې ماوراء غږونه پر اوړېدونکیو غږونو بدل کړي؛ نو په کوټه کې به په هره ثانیه کې له خفاش څخه (۶۰-۳۰) ځلې ماوراء غږونه واورېدل شي.

خو پوښتنه دا ده، چې دا څپې د خفاش کوم غړي رامنځ ته کړي؛ یعنې لېږدونکی غونډال یې کوم او نیوونکي یې کوم دی؟

پوهان وايي: دا څپې د خفاش د حنجرې عضلات جوړوي او د پوزې په سوربو بهر لېږدول کېږي او غټ غوږونه یې دوه څپې دي؛ نو دا مرغۍ په خپلو غوږونو، د شپې په تورتم کې الوتنه کوي او اوسنی سانیسپوه "ژورین" جوته کړې، چې که له خفاشه غوږونه غوڅ شي؛ نو په تورتم کې الوتنه نشي کړای، حال دا، که سترګی یې وتړل شي؛ نو خپله الوتنه کولای شي؛ یعنې خفاش پر خپلو غوږونو لیدل کوي؛ نه پر خپلو سترګو، چې دا ډېره هېښنده ده؛ نو اوس فکر وکړئ، چې چا ددې وړې مرغې په پوه بدن کې دا غونډال لګولی او بیا یې د ګټنې کړنلار هم ورښوولې، چې په شپه کې الوتنه وکړي او له هر ډول خطرونو ځان وساتي؟.... رښتیا چا؟

تاسې پخپله ووایئ، چې ایا بې عقله او بې شعوره طبیعت کړای شي، داسې یو کار وکړي؟ او هغه غونډال، چې پوهانو پرې کلونه کلونه تېر کړي او ځومره پیسې یې ولګولې، په دومره سادګۍ، به په ددمره وړه مرغۍ کې ځای پر ځای کړي؟

حضرت علي کرم الله وجهه په نهج البلاغه کې وايي: او هېڅکله د تیارې له لامله نه درېږي... پاک او سپېڅلی دی هغه ذات، چې بې له مخکېنی بېلګې يې هر څه پنځولي دي.[1]

## د حشراتو او ګلانو ملګرتیا

د پسرلي په ورځو کې چې هوا رو رو تودېږي، یو ځل کوم پټي ته ولاړ شئ، ډېر حشرات، د شاتو مچی، مچان، پتنګان او واړه واړه میاشي به ووینئ، چې بې له کوم غږ او شوره، کله پر یو ګل کېني او کله پر بل، دومره په خپل کار کې جدي دي، چې ته وا یو مشر یا د کار خاوند يې پر سر ولاړ دی او هره شېبه د کار حکم ورکوي. په رښتیا، یوه ستره دنده ده اودا دنده دومره ستره ده، چې "پروفي رلئون" په دې هکله وايي: ((ډېر لږ کسان پردې پوهېږي، چې بې له حشراتو هېڅکله زموږ کځوړې له مېوو نشي ډکېدای))

((او زه ورسره دا خبره وراضافه کوم، چې که حشرات نه وای؛ نو د بل کال لپاره به زموږ ټول بڼونه او پټي شاړ وای))

نو په حقیقت کې حشرات د مېوو روزونکي او د تخمونو جوړونکي دي.

ماغزو ته به مو دا پوښتنه راغلې وي، چې ولې؟ځکه چې د بوټو تر ټولو حساس عمل؛ یعنې لقاح، د هغوی پواسطه ترسره کېږي او دا خبره خو به مو هرومرو اورېدلې وي، چې بوټي هم د نورو موجوداتو په څېر، نر و ښځه لري او ترڅو چې يې ترمنځ تلقیح او پیوند نه وي شوی؛ نو تخم او ورپسې مېوه لاس ته نه راځي؛ خو ایا تر اوسه مو له ځان سره فکر کړی، چې د بوټي بېلابېل ځایونه، چې نه حس او نه حرکت لري او څنګه د نر بوټي تخم، چې د نر د نطفې حکم لري، د ښځې له تخمکونو سره، چې د ښځې د نطفې حکم لري، سره یو ځای کېږي او تر منځ يې د واده سریزې چمتو کېږي.

دا دنده، په ډېرو ځایونو کې، د حشراتو او په ډېرو ځایو کې د باد پر غاړه ده؛ خو دا موضوع دومره هم ساده نه ده، چې موږ خیال کوو؛ بلکې دا واده، چې مارکه چې يې حشرات دي، خپله تاریخچه، رسم، دود او تشریفات لري، چې موږ يې یو څه راخستي دي.

[1] (نهج البلاغه/۵۵خطبه)

## دوه پخواني او خواږه انډيوالان

د طبيعي علومو پوهان تر ډېرو مطالعو روسته دې پايلې ته رسېدلي، چې بوټي او ګلان د ځمکپوهنې د دويم پړاو په دويمه نيمه کې منځ ته راغلي او هېښنده خبره خو داده، چې په همدې پېر کې حشرات هم منځ ته راغلل او دا دواړه، د پنځون د تاريخ په ترڅ کې سره ډېر پتمن انډيوالان او يو د بل بشپړونکي دي.

ګلان د خپلو انډيوالانو د مينې لاس ته راوړو او خولې خوږولو ته، خواږه توکي په خپل ځان کې زېرموي او چې کله د مخالف جنس تخم وروړل شي؛ نو دا خواږه وړيا ورکوي، چې دا دومره خوندور توکي دي، چې حشرات بېواکه په خپل ځان پسې راکاږي.

ځينې بوټي پېژندونکي ګروهن دي، چې د ګلانو ښکلی رنګ او ښه بوی، د حشراتو په راماتولو کې ونډه لري. د شاتو پر مچيو، چې ډول ډول ازمېينې وشوې؛ نو جوته شوه، چې د ګل رنګ او بوی يې درک کولای شي. په واقع کې دا ګلان دي، چې ځان خوشبويه او سينګاروي، چې ښکلي پتنګان او د شاتو مچۍ په ځان پسې ر اکاږي، چې د حشراتو لپاره تر ټولو عالي خواږه شمېرل کېږي او چې کله زېرمه شي؛ نو شات ترې جوړېږي؛ ځکه حشرات له دې خوږو خواږو يو څه خوري او نور پخپله ځاله کې زېرموي، دا د مينې او محبت تړون، چې د دوه اړخيزه ګټو پر بنسټ تړل شوی، تل به د حشراتو او ګلانو ترمنځ تړلی پاتې وي.

چې کله انسان د حشراتو او ګلانو د ژوند دا هېښنده پېښې ځېړي؛ نو بېواکه ځان پوښتي: د مينې او محبت دا تړون يې چا په منځ کې تړلی ؟ دا ځانګړي او خواږه توکي چا ګلانو ته ورکړي؟ دا ښکلی رنګ او خوشبويه عطر چا ګلانو ته ورکړي، چې حشرات په ځان پسې راکاږي؟

چا دا نرمې پښې او وزرونه پتنګانو او د شاتو مچيو ته ورکړي، چې د ګلانو د تخمونو لېږد ته چمتو وي؟ ولې د شاتو مچۍ يوازې په يو ځانګړي ګل پسې ورځي او ولې د دواړو د ژوند تاريخ يو ځای پيل شوی دی؟

ايا دا ټولې چارې به بې له کومې کړلارې کېږي؟ او بې شعوره طبيعت به دا هر څه منځ ته راوړي وي؟ نه هېڅکله.....

((وَمِن ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالأَعْنَابِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَراً وَرِزْقاً حَسَناً إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَةً لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ. وَأَوْحَى رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِي مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتاً وَمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ[1] = او د کجورو او انګورو له مېوو نشه يي (ناپاکه) توکي او پاکه روزي جوړوئ، په رښتيا، په دې کې عقلمنو

[1]. (نحل/-٦٨٦٧)

خلکو ته څرګنده نښه ده او ستا پالونکي د شاتو مچۍ ته وحې [او غريزي الهام] وکړ چې: ((په غرونو او ونو او پر څپرو خېژول شويو بوټو کې ځالې جوړې کړه.))

## د خورا وړو ژويو نړۍ

داچې موږ ددې نړۍ په هېښنده مخلوقاتو کې روزل کېږو او روږد ورسره کوو؛ نو ډېرى داسې کېږي، چې د هېښنده موجوداتو له ارزښته بې خبره پاتېږو؛ لکه:

۱-په شاوخوا کې مو داسې واړه حيوانات او حشرات وسي، چې شونې ده اندازه يې څو ميلي متره وي؛ خو د ستر ځارويو په څېر، لاسونه، پښې، غوږونه، ماغزه، هوش، د هاضمې غونډال او د اعصابو لړۍ لري.

که د يوه مېږي ماغزه تر ميکروسکوپ لاندې کېږدو او ورځير شو؛ نو و به ونيو، چې څومره هېښنده دي؛ هره برخه يې د بدن د يوې برخې کابو کول په لاس کې لري او که وړوکى بدلون پکې راشي؛ نو د بدن يوه برخه به يې فلج شي.

بله خبره داچې دا ماغزه، چې د خس هرمره دي، يوه نړۍ هوش، زکاوت او هنر پکې پټ دى، چې ډېرو پوهانو ددې مخلوق پر خوالو د پوهېدنې لپاره کلونه کلونه څېړنې کړي او په خپلو کتابونو کې يې کښلي؛ نو پوښتنه دا ده: هغه چې دا دومره هوش او ذکاوت ورکړی؛ نو پخپله به يې څومره وي؟

۲-تر اوسه تر ټولو وړوکى پېژندل شوى موجود اتوم دى. اتوم دومره وړوکى دى، چې تر ټولو پياوړی مېکروسکوپ يې هم له ليدو عاجز دى او که غواړۍ ښه مو سر خلاص شي؛ نو پوه شئ، چې يو ځاځکى اوبه پر ځمکه تر ټولو انسانانو ډېر اتومونه لري او که وغواړو، د يو سانتيمتري نري سيم "پروټونونه" وشمېرو او ددې کار لپاره له زرو کسانو مرسته وغواړو او په هره ثانيه کې يو پروتون راجلا کړو؛ نو ۳۰ دانې ۳۰۰ کاله ددې کار لپاره پکار دي؛ نو اوس، چې پوه شوئ، چې يو سانتيمتر نرى سيم څومره اتمونه لري؛ نو فکر وکړئ، چې په اسمان، ځمکه، هوا، اوبو، کهکشانونو /ستورليځونو او لمريز غونډال که به څومره اتومونه وي؟ ايا بشر به يې په اړه پر سوچ ستړی نشي؟ سپينه خبره ده، چې د نړۍ له پنځګر پرته، نور ټول يې له شمېرولو بېوسه دي.

## اتوم؛ توحيد رازده کوي

اتوم پېژندنه، د علمي وينو يوه مهمه برخه ده او دا وړوکی موجود، موږ ته د توحيد زده کړه راکوي؛ ځکه د اتوم په جوړښت کې څلور برخې ډېرې پاموړ دي.

**۱-سرباندې/ فوق العاده نظام**

تر اوسه تر سلو ډېر عنصرونه برسېره شوي، چې د الکترونونو شمېر يې په پرلپسې، له يوه پيل شوي او له سلو په پورته برخه کې پای ته رسي. دا نظام، د بې شعوره عواملو پنځون کېدای نشي.

**۲-د ځواکونو انډول**

پردې خو پوهېږو، چې مخالف چارجونه يو بل جذبوي؛ نو الکترون، چې منفي چارج لري او هسته چې مثبت چارج لري، بايد يو بل جذب کړي او بلخوا پوهېږو، چې د هستی په شاوخوا کې د الکترونونو چورليدل، هغه ځواک (له مرکزه تېښته) منځ ته راوړي؛ نو له مرکزه د تېښتې ځواک غواړي، چې الکترونونه د اتوم له چاپېرياله لرې وساتي او اتوم تجزيه شي او د جاذبې ځواک غواړي، الکترونونه راجذب کړي او اتوم تجزيه کړي؛ نو دلته بايد ځير شو، چې څومره په حساب کتاب د جاذبې او دافعې ځواک اوډون شوی، چې نه الکترونونه تښتي او نه جذبېږي؛ بلکې تل په انډول کې خپل حرکت ته دوام ورکوي؛ نو پخپله ووايئ، چې ايا دا انډول به کوم ړوند طبيعت پيدا کړی وي؟

**۳-هر يو پخپله ليکه کې**

و مو ويل: ځينې اتومونه ګڼ الکترونونه لري؛ خو دا مو و نه ويل، چې ټول الکترونونه په يوه مدار کې حرکت کوي؛ بلکې په ګڼو مدارونو کې، له ميليونونو کلونو راهيسې، په ټاکليو واټنو کې، هر يو پخپله ليکه کې چټک حرکت کوي، بې له دې چې په منځ کې يې کوم ټکر وشي؛ نو ايا په داسې ټاکليو مدارونو کې يې ايښوول کوم ساده چار دې؟

**٤-د اتوم ستر ځواک**

داچې د اتوم د ځواک پر لامل يوه شئ؛ نو پر ۱۹٤۵ کال د مکزيک په وچه بېديا کې يوه اتومي ازمېينه وشوه، چې پر يو ستر فولادي برج، يو وړوکی اتوم بم ورغورځول شو؛ نو فولادي برج يې ويلي کړ او بيا يې بخار کړ او يو وېرونکی غبر ترې راپورته شو؛ نو چې کله پوهان راغلل؛ نو هلته د برج هېڅ څيز نه و پاتې. پر همدې کال، د جاپان د ناکازاکي او هيروشيما په ښارونو کې چې پکې ۷۵ زره او پر بل کال ٤۰- ۳۰ زره تنه ووژل شول، چې جاپان يې بې له کوم شرطه امريکا ته تسليم کړ؛ نو زما خبره داده، چې ايا د يو اتوم د خوالو مطالعه يې د پنځګر

د پېژندنې لپاره بسيا نه ده؛ نو ويلی شو، چې په نړۍ کې د اتومونو د شمېر هومره، د الله تعالی د شتون لپاره دليلونه دي.
قرآن عظيم الشأن وايي:
((وَلَوْ أَنَّمَا فِي الْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَامٌ وَالْبَحْرُ يَمُدُّهُ مِن بَعْدِهِ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمَاتُ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ[1] = او که په واقع کې، د ځمکې ټولې ونې قلمونه او سمندر يې رنګ شي او بيا ددې سمندر له پاسه اووه نور سمندرونه هم ورسره يو ځای شي (دا ټول به پای ته ورسي؛ خو) د الله تعالی خبرې به (په ليکلو) پای ته و نه رسي، په رښتيا، الله تعالی بريمن (او) حکيم دی.

## د الله تعالی صفات څومره ښه دي

څومره، چې د پنځون د خوالو په مطالعې، د الله تعالی شتون ته رسېدل اسان دي، هومره د الله تعالی د صفتونو پېژندل هم ډېر پام او ځيرتيا ته اړتيا لري. کېدای شي وپوښتئ: ولې؟
خبره روښانه ده؛ ځکه د الله تعاليځ څيز، له هغه څه سره، چې موږ يې وينو او يا يې اورو، ورته والی نه لري؛ نو د الله تعالی د صفاتو د پېژندنې لومړی شرط، له سپېڅلي ذاته يې د ټولو مخلوقاتو د صفتونو نفې کول دي؛ يعنې د "عالم طبيعت" له محدودو مخلوقاتو سره يې "نه تشبيه کول"؛ نو همدا خبره ده، چې خبره يې ستونزمنوي؛ ځکه موږ په طبيعت کې روزل او غټ شوي يو، له طبيعت سره مو تماس درلود او له طبيعت سره مينه او انس لرو او خوښېږو، ټول څيزونه، له طبيعت سره ورته يا په بله وينا:
موږ، چې هر څه ليدلي، جسم او د جسم ځانګړنې يې درلودې؛ يعنې هغه موجودات، چې ټاکلی وخت او ځای يې درلود؛ ټاکلي اړخونه او بڼې يې درلودې؛ نو د هغه الله تعالی تصور ډېر سخت دی، چې نه جسم لري، نه ځای، نه وخت او په عين حال کې، پر ټولو وختونو او ځايونو واکمن دی او له هر اړخ ناپايه؛ نو په کار ده، په دې لار کې، په احتياط ګام واخلئ او ددې خبرې رايادول اړين ګڼم، چې موږ به هېڅکله، د الله تعالی د ذات پر حقيقت پوه نه شو او هېڅکله بايد ددې خبرې تمه هم و نه لرو؛ ځکه ددې خبرې تمه درلودل به پردې مانا وي، چې موږ تمه ولرو، چې د يو ستر سمندر اوبه، په يوه وړوکي ځای کې راټولې کړو او يا داچې د مور په ګېډه کې ماشوم، د بهرنۍ نړۍ له ټولو خبرو خبر وي؛ نو پخپله ووايئ، چې ايا دا خبره شونې ده؟

---

[1]. (لقمان / ۲۷)

او همدلته دي، چې یوه کوشنۍ ښويېدنه یا کړلاري کړای شي، انسان د الله پېژندنې له آریزې لارې خورا لرې او د بوت نمانځنې او مخلوق نمانځنې کندې ته یې ورگوزار کړي.
نو آریزه خبره داده، دې ته مو پام وي، چې د الله تعالی یو صفت هم د مخلوق له صفت سره پرتلنوړ نه دی او نه باید یې پرتله کړو.

## د جمال او جلال صفتونه

د الله تعالی صفتونه دوه ډوله دي:
**ثبوتیه صفات:** یعنې هغه څه چې الله تعالی یې لري.
**سلبیه صفات:** یعنې له هر څه الله تعالی سپېڅلی او پاک دی.
اوس پوښتنه دا ده، چې د الله تعالی ذات څو صفتونه لري؟
ځواب: له یوه اړخ د الله تعالی صفتونه ناپایه او نامحدود دي او بلخوا په یوه صفت کې راټولېږي؛ ځکه د الله تعالی ټول ثبوتي صفتونه کړای شو په دې غونډله کې یې راټول کړو: «د الله تعالی ذات، له هر اړخ نامتناهي او د ټولو کمالونو درلودنکی دی.»

## د الله تعالی مشهور صفتونه

۱- **عالم؛** پر هر څه پوه.
۲- **قادر؛** هر څه کړای شي.
۳- **حيّ؛** ژوندی؛ ځکه ژوندی هغه دی، چې هم علم لري او هم واک او داچې الله تعالی هم پوه وسمن دی؛ نو ژوندی دی.
٤- **مرید؛** د ارادې خاوند دی، په چارو کې مجبور نه دی او هر کار کوي او کړای یې شي، موخه او حکمت لري او په ځمکه او اسمانو کې یې هېڅ څیز، بې موخې او بې فلسفې نه دی پیدا کړی.
۵- **مدرک؛** هر څه درک کولای شي، هر څهویني او ټول غږونه اوري او له هر څه خبر او پرې پوه دی.
٦- **قدیم او ازلي؛** تل و او وجود یې پیل نه لري؛ ځکه هستي یې له خپل ذاته ده؛ نو ځکه ابدي او تلپاتې دی؛ ځکه هستي یې له خپل ذاته وي؛ نو فنا او نېستي ورته مانا نه لري.
۷- **متکلم؛** کړای شي په هوا کې د غږ څپې رامنځ ته کړي او له خپلو پیغمبرانو سره خبرې وکړي؛ نه داچې الله تعالی ژبه او شونډې ولري.

۸- **صادق؛** رښتیا وایي او واقعیت دي؛ ځکه د دروغو سرچینه، یا جهل او ناپوهي او یا کمزوري ده؛ نو هغه الله تعالی، چې پوه او وسمن دی؛ څنګه به دروغ ووایي.

## مشهور سلبي صفتونه

۱- **مرکب نه دی؛** ترکیبي اجزا نه لري؛ ځکه که داسې وي؛ نو خپلو اجزاو ته به یې اړتیا درلوده، حال دا، هغه هیڅ څیز ته اړتیا نه لري.

۲-**جسم نه دی؛** ځکه هر جسم محدود، بدلېدونی او له منځه تلونی دی.

۳-**په سترګو نه لیدل کېږي؛** ځکه که ولیدل شي، جسم، محدود او له منځه تلونی دی.

٤- **ځای نه لري؛** ځکه جسم نه دی، چې ځای ته اړتیا ولري.

۵- **شریک نه لري؛** ځکه که شریک یې درلود؛ نو باید محدود وي او داچې دوه نامحدود موجودونه له هر اړخ شوني نه دي، پردې سربېره، ددې نړۍ د قوانینو یوالی یې پر یووالي لېینه- ګواهي لي.

٦- **الله تعالی معاني نه لري؛** یعنې صفات یې د ذات په څېر دي.

۷- **چاته اړتیا نه لري؛** بلکې غني او مړه خوا دی؛ ځکه د علم، واک او د هر څه له نظره نامحدود دی او هیڅ نیمګړتیا نه لري.

قرآن عظیم الشأن وایي:

((فَاطِرُ السَّماوَاتِ وَالْأَرْضِ جَعَلَ لَكُم مِنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجاً وَمِنَ الْأَنْعَامِ أَزْوَاجاً يَذْرَؤُكُمْ فِيهِ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ[1]= (هغه) د اسمانو او ځمکې ځیروونکی (او پنځګر) دی (چې) له تاسې یې ستاسې جوړې پیدا کړې او (همداراز) یې له څارویو د هغوی جوړې پیدا کړې او په دې توګه (-د مېرمنو له لارې) ستاسې ځوځات ډېروي، هیڅ څیز د هغه په څېر نه دی او هغه اورېدونکی (او) لیدونکی دی.

## اسماء الحسنی

په روایتونو کې راغلي: الله نهه نوي نامې لري، چې که څوک یې پر هرې نامې وبولي، دعا یې منل کېږي او دا خبره د صدوق په توحید، صحیح بخاري، صحیح مسلم او صحیح ترمذي که هم راغلې ده.

---

[1]. (شوری/ ۱۱)

له ځينو روايتونو ګټنه کيږي، چې دا نامې په قرآن عظيم الشأن کې دي؛ نوځکه پوهانو هلې ځلې کړي، چې دا نامې او صفتونه له قرآن عظيم الشأنه راوباسي؛ خو په قرآن عظيم الشأن کې الله ته تر نهه نويو ډېرې نامې راغلي؛ نو شونې ده، اسماءالحسنى يې په منځ کې وي؛ نه داچې په قرآن عظيم الشأن کې پر دې نهه نوي (۹۹) نامو سربېره، الله ته نورې نامې هم وي.

د صدوق په توحيد کتاب کې له امام صادق څخه، الله تعالى ته دا نامې روايت شوې دي.

**((الله، الا له، الاحد، الصمد، الاول، الآخر، السميع، البصير، القدير، القادر، العلى، الاعلى، الباقي، البديع، الباري، الاكرام، الباطن، الحى، الحكيم، الحفيظ، الحق، الحسيب، الحميد، الحفى، الرب، الرحمن، الرحيم، الذارىء، الرازق، الرقيب، الروف، الرائى، السلام، المؤمن، المهيمن، العزيز، الجبار، المتكبر، السيد، السبوح، الشهيد، الصادق، الصانع، الظاهر، العدل، العفو، الغفور، الغنى، الغياث، الفاطر، الفرد، الفتاح، الفالق، القديم، الملک، القدوس، القوى، القريب، القيوم، القابض، الباسط، قاضي الحاجات، المجيد، المولى، المنان، المحيط، المبين، المغيث، المصور، الكريم، الكبير، الكافى، كاشف الضر، الوتر، النور، الوهاب، الناصر، الواسع، الودود، الهادى، الوفى، الوكيل، الوارث، البر، اللامل، التواب، الجليل، الجواد، الخبير، الخالق، خيرالناصرين، الديان، الشكور، العظيم، الطيف، الشافى.))**

# د حق لار کومه ده؟

که مو پام وي هر څه؛ لکه تلويزون، يخچال او داسې نور څيزونه، چې پېرو؛ نو لارښود کتابچه ورسره هم وي. انسان الله تعالی پنځولی او لارښود کتاب ته اړتيا لري، چې الله تعالی د کتاب په بڼه رالېږلی او لکه څنګه چې پوهېږو، لارښودکتابچه يې جوړونکی ليکي؛ نو زموږ د ژوند کړلار هم بايد هغه څښتن وليکي، چې موږ يې پنځولي يو؛ هغه مو له اړتياوو خبر دی او زموږ د اړتيا د پوره کولو وس هم لري.

حق دين هغه دی، چې د انسان ټولو اروايي، توکيزو، مانيزو او جسمي اړتياوو ته کړلار ولري.

حق دين هغه دی، چې د لاوري د پرمختګ او تکامل لامل وګرځي او د وخت په تېرېدو يې له کاره و نه غورځوي او بې لارې يې نه کړي او احکام يې تل ټولو ته تر و تازه وي.

امام حسين په کربلا کې وايي: ((هيهات منا الذله))؛ يعنې کله به هم ذلت و نه منم. دا شعار په ټولو ځايونو او ختونو کې ټولو انسانو ته ښکلی او په زړه پورې دی.

په لمانځه د الله مننه، په روژې د وږيو يادول، په جهاد له مال، دين او ځانه دفاع، په خمس او زکات له بېوزليو سره مرسته، پر نېکيو امر او له بديو منع له لارې خلک له بديو ژغورل، په لمانځه او غسل د پاکوالي ساتل، سلام اچول، د نورو او موروپلار درناوی او پر ژمنه وفا کول، کله هم راځخه نه هېرېږي او د ځلانده لمر په څېر، د بشريت او انسانيت په اسمان کې ځلېږي او خلکو ته رڼا او انرژي ورکوي او هغوی چې پخپلو خوښو او د بشر په لاس، له جوړو شويو ښوونځيو لاروي کوي؛ نو ډېر ژر به پښېمانه شي.

هو ګرانو! لکه څنګه چې د روغتيا لاس ته راوړو او ساتلو ته، د طبيب لارښوونې ته غاړه ايښوول پکار وي؛ نو د تلپاتې نېکمرغۍ لاس ته راوړو په موخه، د الله تعالی خبرې ته غاړه ايښوول پکار دي. الله تر طبيبانو هم خورا پوه او خورا لوراند دی او يوازې الله تعالی پوهېږي، چې انسان څه ته اړتيا لري او کوم چار فرض او کوم چار مستحب دی او کوم حرام او کوم مکروه دی.

## دين ته اړتيا

**آيا انسان دين ته اړتيا لري؟**

انسان درې ډوله اړتياوې لري:

۱_وګړيزې. ۲_ټولنيزې او ۳_ لوړې.

وګړيزې اړتياوې؛ لکه کور، کالی، ډوډۍ او په شرعي نکاح د شهوت لرې کولو ته واده کول.

ټولنيزې اړتياوې؛ لکه قانون او مشر.

لوړې اړتياوې؛ لکه پېژندنې او پوهېدنې.

د انسان په ډول ډول اړتياوو کې، دين لوړو اړتياوو ته ځواب ورکوي.

دين وايي: د هستۍ سرچينه چېرې ده، پنځګر يې څوک دی، موخه يې څه ده، د حقيقت پېژندنې موخه څه ده او په دې ټولګه کې مو پازوالي څه ده؟

موږ نېکمرغۍ او ودې ته کړلار ته اړتيا لرو، چې مخې ته مو درې لارې دي:

۱_ خپله خوښه او سليقه وکړو.

۲_د خلکو د غوښتنو له مخې، کړنې او کړلارې چمتو کړو.

۳_ځان الله ته وسپارو او يوازې د هغه له قوانينو لاروي وکړو.

**خپله لار:**

له ځانه جوړه شوې لار کله هم ډاډمنه نه ده؛ ځکه د انسان پوهه ډېره محدوده ده او په ژوند کې مو ډېرې پښېمانۍ شته چې پر غلطې لارې د تلو له پايلو راولاړې شوې او پردې سربېره، د غريزو سرغړاندې، انسان کله يو خوا او کله بلخوا راکاږي او پر لار نوې اړتياوې ورمخې ته کوي؛ نو له دې ټولو خبرو سره، بيا به هم پر هغه لار ځوو، چې د انسان تلپاتې نېکمرغي او بدمرغي ورپورې اړه لري او پر خپل نيمګړې اند او پوهه به عمل کوو؟!

**د خلکو لار:**

دا لار هم د لومړۍ لار په څېر ډاډمنه نه ده؛ ځکه کومې نيمګړتياوې، چې مو په اند او پوهه کې دي، د خلکو په پوهه او اند کې هم دي؛ لکه څنګه چې زه د خپلو ځاني غوښتنو په لومه کې ښکېل يم، نور هم دي؛ لکه څنګه چې زه ډېر پښېمانه شوی او لا پښېمانېږم، نور هم همداسې دي او که له دې ټولو خبرو تېر شو؛ نو هېڅ دليل نشته چې له خپلې سليقې لاس

واخلم او د نورو پر پله پل کېږدم، خپله ازادي پرېږدم او د هغو بنديوان شم، چې له حقيقته مې خبر نه دي او نه څرگنده او نه جوته ده، چې خواخوږي به مې وي که نه؟!

## ديني لار که غوره لار

د هستۍ پنځگر د دين لار راوړاندې کړې او څرگنده ده، چې د هر څه پنځگر د خپل جوړ شوي څيز پر ځانگړونو تر ټولو ښه پوهېږي. آيا د انسان وجود، د انسان د لاس تر جوړ شوي څيزه هم ناڅيزه او ساده دی؟!
د دين لاروي د عقل سپارښتنه ده:
پر پورتنيو خبرو سربېره، د دين لاروي، بشپړ عقلي او سوليز - منطقي چار دی؛ ځکه عقلمن تل د گواښ شتون په پام کې نيسي، په تېره په مهمو چارو کې.
عقلمن، چې پر سفر وځي؛ نو د سفر د احتمالي خطرونو په پامنيوي، ځينې څيزونه له ځان سره وړي؛ خو بې عقلان، چې پر سفر وځي او له ځان سره د اړتيا وزلې نه وړي؛ نو که د سفر په ترڅ کې کومه ستونزه ورپېښه نشي؛ نو هغوی چې له ځان سره اوزار راخستي ول، تاوان يې نه دی کړی؛ بلکې په ډاډ يې سفر کړی؛ خو که کومه ستونزه ورپېښه شي؛ نو بې عقلو، چې اوزار يې نه وي راوړي، تاوان به يې کړی وي او سفر به پرې زهروگنده‌ېر شي؛ نو هغه به په داسې ځای کې څه کوي، چې نه مخکې تلای شي او نه روسته او څوک هم نه وي، چې مرسته ورسره وکړي؟
د همدې کيسې په څېر به هغوی ته هم دا راپېښېږي، چې په نړۍ کې يې دين غوره کړی وي او هغوی چې نه وي غوره کړی. د انبياوو، صالحو انسانانو او مشرانو د وينا له مخې، انسان ته په مخ کې له گواښونو او خطرونو ډکه لار پرته ده. که دا ژمنې رښتيا نه وي او قيامت رانغی او حساب و کتاب او پوښتنه نه وي؛ نو هغه چې په نړۍ کې دينوال و او پر ديني احکامو يې عمل کړی و؛ نو هېڅ تاوان به يې نه وي کړی؛ بلکې يوازې دومره به شوي وي، چې بې دينه انسان کوم وخت، پر بې ارزښته چارو تېر کړی وي، دينوال به پر لمانځه او د ديني احکامو پر پلي کولو تېر کړی وي؛ خو که قيامت شو، چې د راتلو يې غوښ دليلونه شته؛ نو پوه شئ، چې دينوالو به تاوان نه وي کړی؛ بلکې بې دينو به تاوان کړی وي.

###ديني لار فطري ده

فطرت د خلقت پر وزن او يوه مانا لري. هغه ننګېرنه- احساس، چې په منځ ته راتلو کې يې ښووند او تمرين ونډه نه لري او په ټولو خلکو، وختونو او ځايونو کې تلپاتې او همېشنی چار دی؛ نو کله په فطرت او کله په غريزه تفسيرېږي.

البته غريزه هغه احساساتو ته ويل کېږي، چې په انسان او څارويو دواړو کې وي؛ لکه لوږه او تنده.

هو! د يوه څيز عموميت يې پر ((فطري توب)) دليل دی. د ساري په ډول: له اولاد سره د مور مينه فطري ده؛ يعنې هغه ننګېرنه، چې بې له ښووند، تلقين او تمرينه، د انسان په خټه کې اغږل شوی او عموميت لري او په هر ځای، وخت او حکومت کې په مېندو کې دا مينه وي؛ البته داسې لاملونه هم شته چې ددې ننګېرنې د پياوړتوب او کمزورۍ لامل ګرځي؛ ځکه کله دننني احساسات، پر ځينو نورو احساساتو برلاسېږي. د انسان په خټه کې له مال، خوشحالۍ او روغتيا سره مينه شته؛ خو په ټولو کې دا مينه يو هومره او يو شانته نه ده؛ ځينې مال له ځانه او ځينې ځان له ماله بلهاروي؛ لکه څرنګه چې په جاهلي عربو کې له غېرت او پت سره بې کچې مينې، د لور درلودل بې غېرتي ګڼله او لامله‌ده، چې پلار له لور سره له مينې لاس واخلي او په خپلو لاسونو يې تر تورو خاورو لاندې ژوندۍ ښخه کړي؛ نو د فطري توب مانا دا نه ده، چې انسان په عمل کې هم پرلپسې ورپسې ولاړ شي؛ ځکه ډېر ځل يوه فطري چار پر بل برلاسېدای هم شي.

د فطرت د چار يوه پايله د وياړ ننګېرنه ده او هغه چې د فطرت پر پله پل ږدي؛ نو زړه يې ارام او ډاډمن وي.

## فطري دين څه ته وايي؟

داچې وايو دين فطري دی؛ يعنې د دين تومنه او جرړه د بشر په خټه کې ده. د دين آرونه، ګروهې، څانګې، خويونه او بنسټونه، د انسان له پنځون او فطرت سره اړخ لګوي. انسان، چې په هر عمر، ځای او وخت کې وي، پوهېدل غواړي، چې د هستۍ سرچينه چېرې ده؟ چې دا هماغه د ((توحيد)) جرړه ده. انسان غواړي ښيون شي، حق او باطل ورتوپير شي، ننګېري، چې لارښود ته اړين دی، چې دا د نبوت او امامت جرړه ده. سزا او اجر ورکول او همداراز په ښو چارو پسې د انعام تمه او تر بديو روسته، د سزا تمه، په هر انسان کې شته. که کوم ماشوم ته ګل ورکړئ؛ نو خوشحال به شي او که و يې وځوروئ؛ نو په ژړا به شي؛ هغه خوشحالي او ژړا ستاسې د عمل سزا او اجر دی او دا فطري غبرګون، پر معاد په ګروهه کې جرړه لري. د

نعمت له خاونده مننه او د هغه چا درناوی، چې چوپړ يې درته کړی وي، په عبادتونو او لمونځ کې جرړه لري. د بېوزليو د ستونزو هواري ته پام، په خمس، زکات او انفاق کې جرړه لري. په ستونزه کې د راګېر انسان خلاصون ته پام او يا د نورو د نېکمرغېدو هيله او ورسره مينه ((پر نېکيو امر او له بديو منع)) په کولو کې جرړه لري. البته د عبادتونو کول او يا داچې لمونځ څرنګه او په کومه ژبه وکړو، تعبدي اړخ لري او بايد ووينو، چې په دې اړه ديني مشرانو څه ويلي دي.

پوښتنه: که پر الله تعالی ګروهه، فطري ده؛ نو ولې ځينې پر دين او الله ايمان نه لري؟

ځواب: دين فطري دی؛ خو کېدای شي، ځينې د هستۍ د سرچينې په پېژندو کې تېروځي؛ لکه يو ماشوم، چې د شيدو لپاره، د مور د تي په لټه کې دی؛ خو پر ځای يې د شيدو بوتل روي او پردې سربېره، کله خو داسې هم کېدای شي، چې ځينې فطري چارې، د نورو فطري چارو تر سيوري لاندې راشي.

## د دين ځانګړنې

١ـدين سپېڅلی دی؛ ځکه د الله (ج) قانون دی او د الله قانون سپېڅلی دی.

٢ـدين فطري دی.

٣ـدين عقلي دی.

٤ـدين هراړخيز دی. دين د انسان د ژوند ټولو اړخونو ته پام کړی او اوډون شوې کړلار ورته لري.

دين هر هغه څه ويلي، چې انسان ته له زوکړې تر مړينې اړين دی. د قرآن عظيم الشأن په سلګونو آيتونو او د ديني مشرانو په زرګونو روايتونو کې، د الله تعالی، ټولنې، کورنۍ، ملګرو، ګاونډيانو، ځارويو او ان چاپېريال په هکله لارښوونې کړې دي.

٥ـد دين سرچينه وحې ده. دين ته ځاني غوښتنې، غريزې، محدويتونه او ګوندۍ لار نه لري او د ټولو ديني احکامو سرچينه، الهي وحې ده.

**د دين ګټه:**

موټر جوړولو ته څو پړاوونه دي:

١ـد اوسپنې کان پيدا کوو. ٢ـله پيدا شوي کانه اوسپنه راباسو. ٣ـد موټر پرزې جوړو. ٤ـجوړې شوې پرزې يو له بل سره يو ځای کوو او په پای کې جوړ شوی موټر، په يوه ټکړه چلوونکي چلوو.

دين هم پر انسان دا پينځه عملونه پلي کوي:

**لومړی کار:**

د دين لومړی کار د انسان رابرسېرنه ده. که دين نه وي؛ نو موږ سم ځان پېژندلای نشو؛ نو هغوی چې له الهي اديانو سره اړيکه نه لري؛ نو انسان يې په سمه توګه نه دی پېژندلای. په هغوی کې ځينې وايي: انسان په اصل کې ((بيزو)) وه او ځينې نور يې وايي: ((د انسان زړنی او جوهر، شهوت او د ټولو حرکتونو لامل يې شهوت دی.)) او هغوی له بېځه، د انسان ژوند او نېکمرغي، بل شان پېژندلې او مانا کړې ده.

دين وايي: ((بشره! يوازې خېټه او خوټه نه يې او غوراوی او لوړاوی دې په دې کې نه دی.)) که قرآن عظيم الشأن ته يوه لنډه کتنه وشي؛ نو و به مومو چې څنګه يې انسان را پېژندلای دی.

په ځينو آيتونو کې وايي:

((ته د الله تعالی خليفه يې))

((څه چې په ځمکه او آسمان کې دي ستا دي))

((الهي امانت درسره دی))

((په تا کې الهي روح در پو کړای شوی دی))

((په پنځون کې تر ټولو غوره مخلوق يې))

((ته پر موږ ګران يې.))

((موږ غوراوی درکړ.))

او بيا خبر ورکوي، چې پام دې وي؛ هسې نه ځان ورک او هېر کړې، چې تاوان به وکړې او په سوداګرۍ کې به ګټه و نه کړې او پام دې وي، ځان ارزانه و نه پلورې او بې له "الله"، پر بل ځان و نه پلورې.

**دويم کار:**

د دين بل کار، له دې پېژندل شوي کانه رااېستل دي.

انسان بايد له تېريو، ناپوهيو، کږنو انګېرنو او شرکونو را و اېستل شي؛ لکه څنګه چې قرآن عظيم الشأن وايي: ((يُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ)) الله تعالی مؤمنان له تيارو رڼا ته راباسي))

**درېيم کار:**

دين د پېښو په بټيو کې انسان ويلي کوي؛ لکه څنګه چې اوسپنه په بټۍ کې ويلې کېږي. دين د انسان په زړه کې، له لايتناهي سره مينه اچوي او ورسره په اړيکه کې کوي يې او بيا دا خورا کوشنی په خورا ستر کې ويلې کوي.

هو! انسان د دین په مرسته او د دعاوو، عبادتونو، توبو او ژړاوو له لامله ویلې کېږي او ناخالصي ترې لرې کېږي.

**څلورم کار:**

د دین څلورم کار د انسان وګړنی روزنه ده؛ یعنې د انسان د ځان جوړونې کړلارې، عبادت، تقوا او د انسان د نېکو ځانګړنو را زرغونول او انساني کمال دی. هماغه کار، چې رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم په مکه کې، په هغه سخت وخت کې وکړ. په دیني ټولګه کې ټول هغه احکام دي، چې ټولنیز اړخ نه لري، څو انسان یو په یو جوړ شي.

وګړني عبادتونه د ځان جوړونې سریزه ده او ځان جوړونه، د ټولنې د جوړونې سریزه ده. باید د ټولنې جوړونې کار، له وګړي پیل شي. الله تعالی له خپل استازي صلی الله علیه و آله وسلم غواړي: لومړی ځان پاک کړه: ((وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ)) په دویم پړاو کې ورته وایي: ((مېرمنو او لوڼو ته دې ووایه، چې پاک وسي)) په درېیم پړاو کې ورته وایي: ((خپل نږدې خپلوان وګواښه)) او په څلورم پړاو کې ورته، د مکې د شاوخوا خلکو د ګواښلو دنده ورکوي: ((لِّتُنذِرَ أُمَّ الْقُرَى وَمَنْ حَوْلَهَا)) او تردې روسته، د نړیوالو د لارښوونې وار را رسي: ((كَافَّةً لِّلنَّاسِ))

**پینځم کار:**

د دین پینځم کار، د جوړوشویو انسانانو ترمنځ اړیکې او یووالی او د الهي پراخ بنسټ حکومت جوړول دي (هماغه کار، چې د آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم، په مدینه کې وکړ)، چې اسلامي ټولنه جوړه شي، چې کڅې او موخې یې د توحید پر بنسټ وي.

**شپږم کار:**

د دین روستی کار دادی، چې یو موټی ټولنه، سپین لمنی - معصوم او تکړه مشر ته وسپاري، چې دیني مشر، امت له مفسدو، مسرفو، ناپوهو او ظالمو وګړیو له واکمنۍ وژغوري او امت له نړۍ پالۍ او پرې له زړه بایللو وژغوري او په رښتیا، فاسد مشر ته د ټولنې مشري ورسپارل، د انسانیت د مقام سپکاوی دی.

په لنډو ویلای شو: دین یو ټولیزه کړلار ده، چې پر ځانګړیو الهي کڅو، د وګړي او ټولنې د ((لید))، ((هڅو)) او ((دود)) څرنګوالی ټاکي.

ولې ځینې پر دین ړانده دي؟

له دینه د تېښتې او ورته د نه پام کولو لاملونه دا کېدای شي:

**۱_د دین نه پېژندل**

دين ته د ځينو خلکو د پام نه کولو لامل د دين نه پېژندل دي.
په يوه روايت کې راغلي: که څوک مو د خبرو پر ښکلا پوه شي؛ نو ملگرى به مو شي.
په دعا کې وايو: خدايه! د ناپوهۍ له لامله مې ستا له حکمه سرغړونه وکړه.
که انسان د نېکو کړنو له اغېزو او د ناوړه چارو له سزا خبر وي؛ نو پخه خبره ده، چې نېکۍ به کوي او له بديو به ځان ساتي.
دين ته د خلکو د راجذبولو لپاره پکار دي، چې په ټولنه کې پر دين او احکامو يې پوهاوى دود شي او د اسلامپوهانو او نوي کهول ترمنځ اړيکې لاپسې غښتلې شي.

**٢_دين ته د کړنو انگېرنو ورننوتل**

له دينه د تېښتې يو لامل هغه کړنې انگېرنې دي، چې د بې عقله دوست او هوښيار دښمن لخوا په دين کې ور گډ شوي دي. که يو تربي ته د اوبو گيلاس ورکړ شي، چې پکې مچ وي؛ نو اوبه به تويې کړي او و به يې نه څښي. د دين ډېر داسې تربي شته چې له دينه د هغو کړنو انگېرنو له لامله تښتي، چې پکې ور گډ شوي دي. کله ځينې حرام څيزونه پر ځان حلالوو او کله ځينې حلال څيزونه پر ځان حراموو او کله خو ځانونه په ځينو ملاماتوونکيو دودونو کې د دين په نامه راگېروو؛ نو بايد د هغو وگړيو کړنو ته مو ر پام وي، چې له دينه د انسانانو د تېښتې لامل گرځي.

**٣_ له دينه ناسم تعبيرونه او پوهېدنې**

کله له دين او ښوونو يې ناوړې پوهېدنې کېږي او بيا همدا ناسمه پوهه، د دين په نامه تبليغېږي او د داسې پوهې خاوند پردې گروهه دى، چې هر دينوال بايد زما په څېر اند او کړنې وکړي، دا جوته ده، چې له دين او ښوونو يې ناسمې پوهېدنې او د دين په نامه، ددې پوهېدنو تبليغول، دين ته د نورو د راتگ مخه نيسي. د دين د تبليغ څرنگوالى، خورا مهم دى. د دين تبليغ هم ټولنپوهنه غواړي، هم ارواپوهنه او هم سليقه.

**٤_ د ځينو دينوالو کړنې**

کله د ځينو دينوالو کړنې له دينه د تېښتې لامل دي؛ لکه وړي انسان ته په چټل لوښي کې د پاکو خوړو ورکول، له خوړو د وړي زړه توروي.

**٥-د دين ناسمه شننه**

هغوى چې پر دين گروهه نه لري (؛ لکه توکيزيان)؛ نو اړ دي، چې د دين پنځون ته شننې او لاملونه راوړي، چې ځينې شننې يې اروايي اړخ لري او ځينې وټيز- اقتصادي، چې دا ټول له واقعيته لرې خبرې دي. البته ددې شننو بطلان جوت شوى او ډېرو ته خوله ماتى ځواب هم ورکول شوى دى.

توکيزيان وايي: په بشري ټولنو کې د دين د پنځون بنسټ، عقل او فطرت نه؛ بلکې لامل يې له ځښتنه وېره، بېوزلي او ناپوهي ده.

**بېوزلي:**

داچې بډايانو او شتمنو غوښتل، د بېوزليو او کارګرې طبقې پر حقونو ګېډه واچوي؛ نو د دين په نامه يې يوه وزله جوړه کړه، چې بېوزلي پرې وزبېښي. هغوی د ارتجاع په عواملو، د ټولنې د بېوزليو غوږونه ډک کړل، چې دا نړۍ ارزښت نه لري، صبر او پراخه سينه ولرئ؛ ځکه د الله تعالی صبر او صابران خوښ دي، په بېوزلی کې ژوند وکړئ، ګوزاره کوئ او پر لاريونو او پاڅونونو لاس مه پورې کوئ او يوازې اخرت ارزښت لري؛ ځکه شتمنو، له دې ټکيو ناوړګټه وکړه، چې بېوزلي بې هڅې کوي او له دې لارې به يې چوپتيا ته اړ ايستل.

له عقله د دې لرې شننې بطلان او بې بنسټي په څو دليلونو ده:

لومړی داچې صبر د تسليمېدو په مفهوم نه دی. په کوم ځای کې چې دين وايي: ((فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُواْ عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ))؛ يعنې چاچې پر تاسې تېری وکړ؛ نو هماغسې تېری پرې وکړئ؛ نو ددې آيت په رڼا کې څرنګه کړای شو، د دين لپاره داسې ناسمه شننه وکړو؟!

اخرت ته پام کله هم پر دې مانا نه دی، چې د يوه وګړي حق په بل ضايع شي او له نړۍ لاس واخلو او ورشا کړو.

په قرآن عظيم الشأن کې د اخرت د کلمې هومره نړۍ هم راغلې ده. اسلام ټولو هغو ټکيو ته چې ناوړګټنه ترې شوې، سمه او خوځنده مانا لري. د صبر مانا زغمل نه دي؛ بلکې صبر؛ يعنې د تېري پر وړاندې او د خپل حق اخستو ته استقامت او پايداري ده.

اسلام وايي: که څوک له دښمنه د خپل مال د اخستو او ساتنې لپاره ووژل شي؛ نو شهيد دی؛ يعنې د خپل حق اخستو ته بايد د شهادت تر پولې استقامت وشي.

د ((نړۍ ارزښت نه لري)) د تعبير مانا دا نه ده، چې نړۍ له لاسه ورکړو؛ بلکې مطلب يې دا دی، چې د هغه انسان ارزښت تردې نړۍ خورا ډېر دی، چې پر ځمکه د الله تعالی ځايناستی دی او نه ښايي انسان ته نړۍ موخه شي.

اسلام پردې سربېره، چې له شتمنو نامشروع اموال اخلي او آريز خاوندانو ته يې ورکوي، بېوزليو ته هم وايي: د شتمنو پر وړاندې تواضع او عاجزي منع ده او څوک چې د چا شتمنۍ له لامله شتمن ته تواضع وکړي؛ نو د دين درېيمه برخه يې له منځه تللې ده.

دويم داچې که شتمنو دين منځ ته راوړی وي؛ نو انبياوو به خلک په شتمنو پسې نه راپاڅول.

دریېم داچې دین، پانګوالي محدودوي او د درآمد ډېرې سرچینې یې منع کړې دي؛ لکه بډې اخستنه، ډنډۍ وهل، ربا، دوکه، غلا او..... چې دا چارې دین په سخته غندلي دي؛ نو ښکاره خبره ده، چې هېڅ شتمن به دداسې یوه دین د جوړولو پلوی نه وي، چې د مال له زېرمولو یې ژغوري او په ډول ډول احکامو یې جېب د بېوزلیو په پلوۍ تشوي او کله خو یې مصادره کوي هم.

توکیزیان خو کله دا هم وایي: دین بېوزلیو منځ ته راوړی دی. بېوزلیو دین خپل زړه خوشحالولو ته جوړ کړی دی. هغوی وویل: که نړۍ نه لري؛ نو څه پروا کوي، اخرت خو لرو او اخرت خورا غوره دی. ددې پر ځای، چې په بازار او کار پسې ولاړ شو، جومات ته به ولاړ شو.

دا شننه هم له قصده ډکه او ناسمه ده. دین کله د ناغېړۍ او بې کارۍ پلوي کوي.

حضرت علي کرم الله وجهه وپوښتل شو: ((دا پر اوښ څه بار دي؟ و یې ویل: د کجورو سل زره ونې)). پوښتونکی حیران شو او بیا یې پام شو، چې د کجورو سل زره زړي پر اوښ بار دي. اندنه- تفکر داسې وه، چې له هر زړي باید د یوې ونې د راټوکېدو په فکر کې شو. هغه مبارک څومره د کجورو بڼونه جوړ کړل او څومره څاه ګانې او کارېزونه یې وکنل.

الهي پېغمبران یا بزګران ول یا ترکاڼان یا ګنډونکي او یا شپانه؛ نو لنډه داچې یو الهي پېغمبر به هم و نه ګورې، چې ورهڼه-کسب او کار یې نه درلود.

**وېره:**

لکه څنګه چې انسان په وړوکتوب کې د مور و پلار په نامه پناه ځای لري؛ نو په غټوالي کې یې هم ځان ته د څښتن په نامه یوه پناه ځای جوړ کړی دی؛ ځکه انسان هم د زور او ځواک له پلوه محدود دی او هم پېښې او ګواښونه ډېر دي. ړومبني انسانان به، چې له ناوړه پېښو (؛ لکه زلزلې، تندر او...) سره مخ شول؛ نو ځان ته به یې مبهم پناه ځایونه فرضول او د وېرې پر مهال یې پناه وروړه او له دې لارې یې خپله وارخطا اروا ډاډمنوله؛ ځکه پر څښتن د ایمان جرړه په وېره کې ده!

په ځواب کې دې وویل شي: که پر الله تعالی د ایمان جرړه په وېره کې ده؛ نو تر ټولو ډارن به تر ټولو مؤمنان وي.

کېدای شي دلته د ګران لوستونکي ماغزو ته دا پوښتنه راشي، چې که الله تعالی ته پام او د دین منلو جرړه وېره نه ده؛ نو ولې انسان د وېرې او خطر پر مهال الله تعالی ته مخه کوي او الله تعالی وریادېږي؟

په ځواب کې دې وویل شي: سمه ده، چې د ویرې پر مهال الله تعالی انسان ته ډېر وریادېږي او الله تعالی ته پناه وړي؛ خو ددې مانا دا نه ده، چې پر الله تعالی د ایمان جرړه په ویره کې ده. که انسان د تندې پر مهال د اوبو پر لور ځي؛ نو دا پر دې مانا نه ده، چې اوبه د انسان د ذهن جوړ شوی څيز دی؛ بلکې مانا یې دا ده، چې اوبه یو شته حقیقت دی، چې تنده مو د اوبو پر لوري کاږي.

**ناپوهي:**

د دین یوه ډله مخالفین، چې د عقل او فطرت پر بنسټ د الله پېژندنې له حقانیت سره مخالف دي، وايي: پر الله تعالی د ایمان جرړه په ناپوهۍ کې ده او ګروهن دي: انسان ته ځینې پېښې راپېښېدې چې پر دلیل یې نه پوهېده؛ نو چې د کومې مسلې په علمي شننه کې به چې پاتې راغلل؛ نو له ځان سره به یو الله تعالی فرضاوه او ویل یې: دا د الله تعالی کار دی. د ساري په ډول: د سپوږمۍ او لمر نیونې، زلزلې او نورو پېښو پر لامل به چې نه پوهېدل؛ نو له ځان سره به یې یو څښتن فرضاوه، چې وواییې: دا د څښتن کار دی او له همدې ځایه ول، چې د څښتن په نامه خبره رامنځ ته شوه؛ خو په حقیقت کې دا خبرې بې بنسټه دي او له هماغه پیله یې پېرېدونکي او مینوال نه درلودل؛ ځکه:

١_که پر الله تعالی د ایمان جرړه په طبیعي لامل نه پوهېدل وي؛ نو هغه چې تر ټولو ناپوه وي؛ نو ایمان به یې هم ډېر وي.

٢_ که پر الله تعالی د ایمان جرړه په ناپوهۍ کې وي؛ نو الهي کتابونو به خلک ناپوهۍ ته هڅول؛ خو حال دا، قرآن عظیم الشأن په ډېرو آیتونو کې د علم پر ارزښت رڼا اچولې او خلک یې د پوهې زده کړې ته راهڅولي دي.

((يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ)) او همداراز: ((هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ)).

٣_ که پر الله د ایمان جرړه په ناپوهۍ کې وي؛ نو الهي مشران باید جاهلان وای حال دا، تر ټولو پوه انسانان ول.

٤_که پر الله تعالی د ایمان جرړه په ناپوهۍ کې وي؛ نو د چاچې پوهه ډېرېږي او ناپوهي یې لږېږي؛ نو ورسره به یې ایمان هم لږېږي! او همداچې د طبیعي پېښو پر لاملونو پوه شو؛ نو پر الله له ایمانه دې لاس واخلي؟! حال دا، د"ګالیله"، "انیشتاین" او "ابوعلي سینا بلخي" په څېر کسان ول، چې پخپله کاشفان ول؛ خو پر الله یې ایمان درلود.

رښتیا پخپله وواییئ، د یو یا څو قوانینو رابرسېرنه مو د قانون ایښوونډ له وجوده بې اړې کولای شي؟!

ټول ښه پوهېږي، چې د طبيعي قوانينو رابرسېرنه او د هستۍ پر خوالو د انسان پوهېدل يې په ايمان راوړو او الله ته په نږدېدو کې خوار ګټور دي.

## د غوره دين او ښوونځي ځانګړنې

### ۱_د عقل پر بنسټ او د دليل له مخې وي

د دين د ګروهو آرونه دې له عقل سره په ټکر کې نه وي؛ خو پکار نه ده، چې ټول خلک په هر ځای او وختونو کې د دين پر احکامو، آرونو او کړلارو، د خپل عقل له مخې پوه شي؛ ځکه کوم مهال، چې ډېر ديني احکام راځي، کېدای شي ځينې يې پر خواله پوه نشي او عقل ته يې فلسفه روښانه نشي؛ ځکه ديني احکام، د عقل ضدېدای نشي او کېدای شي تر عقله په لوړه کچه کې وي.

### ۲_د انسان له فطرت او طبيعت سره سمون ولري

د يوه دين لارويان بايد د خپل دين احکام له خپل فطرت او طبيعت سره په سمون کې ووينې.
د ساري په ډول: انسان په طبيعي توګه واده ته اړتيا لري؛ نو ښکاره ده، چې غوره دين هغه دی، چې پخپلو کړلارو کې واده ته هم پام وکړي.

### ۳_ تحريف او اړول شوی نه وي

په خواشينۍ وايم: تحريف او اړونه هغه بلا وه، چې پخواني اديان يې راوپرځول. قرآن عظيم الشأن له دې ناوړچاره پرده اوچته کړې، وايي: ((يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِ))؛ نو د دين په احکامو کې ګوتې وهل يې بې اغېزې کوي او له دين سره د کينه کښو وګړيو لوبځی کوي يې؛ خو له نېکه مرغه، هوښيار دښمن او بې عقله دوست ونشول کړای، په اسلام کې ګوتې ووهي او وا يې ړوي؛ ځکه په خپله الله تعالی د قرآن عظيم الشأن ساتنه پر غاړه اخستې ده. ((إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ))

### ٤_هيله او روحيه ښباندی وي

د يوه ښوونځي غوره والی په دې کې دی، چې انسان ته مينه او هيله ورکړي. که په ښوونځي کې يو زدکړيال پوه شي، چې خواري يې اوبه نه وړي او نه ضايع کېږي؛ نو په مينه به زده کړه کوي.
په "الهي نړۍ ليد"کې انسان ګروهه لري، چې هر مهال د الله تعالی تر څارنې لاندې دی او د پوټي ښېګڼې اجر او پوټي ناوړه کار که د مثقال هومره هم وي، سزا يې ورکول کېږي او باور لري، چې غيبي مرستې کړای شي، په ستونزمنو شرايطو کې يې مل شي.

**۵_ راتلونکي ته پام**

باید د دین راتلونکي ته پام وي او خپلو لارویانو ته پر راتلونکي رڼا واچوي او ورته يې روښانه کړي او د نېکمرغۍ او پرمختګ لار ور وښيي او هواره يې کړي. البته ډېر داسې ښوونځي دي، چې د "اخرت" پر ځای يې "اخور" ته پام وي.

**٦_ پراخ بنسټ او هراړخيز وي**

د دین هم باید نظري چارو ته پام وي او هم عملي چارو ته، هم ددې نړۍ په فکر کې وي او هم هغه نړۍ هېره نه کړي او هغه څه پکې وموندل شي، چې د انسان او ټولنې ورته اړتیا وي، چې دا ښکلا او پراخ بنسټي، په قرآن عظیم الشأن کې موندل کېږي؛ ځکه مانیز- معنوي، توکيز -مادي، دنیوي او اخروي چارې يې يو د بل ترڅنګ راوړې دي. قرآن عظیم الشأن د کوروالي په هکله خبرې کوي: ((نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُواْ حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ))؛ نو تر څنګ هم ورسره وايي:

((وَقَدِّمُواْ لأَنفُسِكُمْ)) خپل اخرت ته له مخکې توښه ولېږئ؛ یعنې سره له دې چې ددې نړۍ په ګټه کې یاست، د صالح اولاد په فکر کې شئ، چې اخرت ته مو سپما شي.

**۷_ په ټپه دریدنه و نه لري**

په اسلام کې د بېرته راستنېدو لار پر هېڅ چا نه ده تړل شوې او د قرآن عظیم الشأن ډېرو آیتونو د ګناهکارانو د حالت تر ویلو روسته، د توبې خبره کړې؛ ځکه یوه ستره ګناه، د الله تعالی له رحمته نهیلي ده.

څوک دې په هېڅ شرایطو کې هم د الله تعالی له رحمته نه نهیلېږي او ځان دې په ټپه ولاړ حالت کې نه ویني. غوره او ښه دین هغه دی، چې له ګناه د ګناهکار د راستنېدو لار هواره کړي.

**۸_د احکامو پلي کول يې اسان وي**

پشپړ دین اسان وي؛ یعنې د احکامو په پلي کولو کې يې لارویان نه ستونزمنېږي. په غوره دین کې وسواس او سودا ته ځای نه وي. په دین کې هغه آرونه او قواعد دي، چې موږ ته ژوند اسانوي. اصل دا دی، چې هر څه پاک دي؛ خو داچې پر خلاف يې جوت شي. اصل دادی: کوم مالونه، چې د مسلمانانو په لاس کې دي، حلال او خپل يې دي؛ خو دا چې خلاف يې جوت شي؛ نو غوره دین اسان او پلي کول يې هم اسان وي.

## پوهې ته اړتیا

دین پوهنه فرض ده. قرآن عظیم الشأن وایي: ولې ځینې د دین پوهنې او تفقه لپاره له هېواده بهر نه وځي؟ تفقه؛ یعنې د دین ژوره پوهه، چې پر ځینو فرض ده، چې په دې لار کې هڅه وکړي، چې فقیه شي او نورو ته هم پکار ده، په فقهي مسلو کې په فقیه پسې ولاړ شي، چې البته ددې خبرې مانا دا نه ده، چې عادي خلک دې پر دین پوهېدو ته خواري و نه کړي؛ بلکې موږ ټولو ته پکار ده، چې تر خپلې وسې، پر دین ځان پوه کړو. باید ووایم: په دین کې تفقه یوازې په احکامو؛ (لکه لمونځ، روژې، زکات، خمس او.....) کې نه ده؛ بلکې د دین پر آرونو، گروهو او تاریخ هم په بشپړ توگه ځان پوهول پکار دي؛ ځکه دین یوازې فقه نه ده. قرآن عظیم الشأن څه د پاسه شپږ زره آیتونه لري، چې تقریباً پینځه سوه یې د احکامو په هکله دي او نور یې د نورو مسلو په اړه دي.

## د ادیانو ثابتې ښوونې

الهي ادیان ډېر گډ ټکي لري، چې ځینو ته یې لنډه کتنه لرو:

**۱_توحید:**

ټولو الهي ادیانو، خلک توحید ته رابلل: ((اعْبُدُواْ اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ)) او ټولو الهي ادیانو له شرک، بوت نمانځنې او طاغوت سره مبارزه کړې وه. ((أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ)).

**۲_نبوت:**

ټولو الهي ادیانو انسانان له الهي پېغمبرانو لاروی ته رابلل، چې د کړنو سرچینه یې الهي وحې وه.

**۳_معاد:**

ټولو اسماني ادیانو، انسانان د قیامت له ورځې او له کړلارو یې خبر کړي ول.

**٤_عبادت:**

په ټولو ادیانو کې د لمانځه فریضه د لمر په څېر ځیلدلې ده.

حضرت ابراهیم خلیل الله علیه السلام وایي: ((رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلاَةِ))؛ یعنې خدایه! ما له لمونځ کوونکیو څنې وگرځوې.

د قوم بې لارو یې حضرت شعیب علیه السلام ته وویل: ((أَصَلاَتُكَ تَأْمُرُكَ أَن نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا))؛ یعنې ایا ستا لمونځ تا ته امر کوي، څه چې زموږ پلرونو لمانځل (نو) موږ یې پرېږدو.

حضرت عیسی روح الله علیه السلام په زانگو کې وویل: ((وَأَوْصَانِي بِالصَّلاَةِ)).

**٤_روژه:**

روژه په ټولو الهي اديانو کې وه: ((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ =مؤمنانو! روژه پر تاسې فرض شوې؛ لکه چې تر تاسې پر ړومبنيو فرض شوې وه، چې متقيان شئ.))

**۵_جهاد:**

قرآن عظيم الشأن د انبياوو د جهاد په هکله وايي: ((وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ)).

**٦_حج:**

الله تعالی حضرت ابراهيم ته وايي: ((وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالاً وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ = او خلك حج ته راوبوله، چې هغوی تا ته له هرې لرې لارې پلي او پر ډنگرو اوښانو سواره راشي.))

**۷_زکات:**

زکات يوازې په اسلام پورې ځانگړی نه دی. حضرت عيسی وايي: ((وَأَوْصَانِي بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ مَا دُمْتُ حَيًّا))

لقمان حکيم خپل زوی ته وايي: ((يَا بُنَيَّ أَقِمِ الصَّلَاةَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنكَرِ))؛ يعنې يه زما زويکه! لمونځ ادا کړه او پر نېکيو امر او له بديو منع کوه.

دا ول د الهي اديانو ځينې گډ ټکي او لکه څنگه چې په الهي اديانو کې گډ ټکي او توپيرونه شته؛ نو په هر دين کې هم ثابت او متغيير احکام شته.

ثابت احکام بدلون نه مومي؛ خو متغير احکام د مصالحو له مخې د بدلون وړ دي؛ لکه جگړه او سوله.

دلته به د متغييرو احکامو دوو بېلگو ته اشاره وکړو: حضرت علي د خپل حکومت پر مهال پر اسونو هم زکات ټاکلی و او د ځينو نيوکو په ځواب کې يې ويل: سږ کال نشتمن ډېر دي او د بيت المال درامد هم لږ دی؛ نو د اسونو خاوندان هم بايد زکات ورکړي.

هغه مهال، چې امام کاظم بندي و؛ نو داچې لارويان يې و نه پېژندل شي او له کړېدو خوندي وي؛ نو خمس يې ورووبانه. د امام تر شهادت روسته، ځينو له امام رضا وغوښتل، چې خمس دې د پخوا په څېر وبښل شي؛ خو امام وويل: خمس د ښښنې وړ نه دی او که زما پلار ښښلی و؛ نو هغه ستاسې د ځان ژغورلو لپاره ول.

## نړۍ ليد

**نړۍ ليد**؛ يعنې له نړۍ ټوليز تفسير. ځينې، چې هستی ته گوري؛ نو د موخې، شعور، نظم او حساب و کتاب خاونده يې گڼي، چې دې نړۍ ليد ته ((الهي نړۍ ليد)) وايي.

خو ځيني ګومان کوي، چې هستي له پخوا کړلار، شعور او موخه نه لري، چې دې ډول نړۍ ليد ته ((توکيز نړۍ ليد)) وايي. ددې دواړو نړۍ ليدونو توپير روښانه دی. که هستي بې له کومې کړلار او موخې وي؛ نو ما ته هم د نظم د منلو او د محدوديتونو د زغملو دليل نشته. يوازې په الهي نړۍ ليد کې کړای شو پازوال او ژمن انسان وسو. ګروهه او نړۍ ليد مو پر کړنلارو او ټاکنو اغېز لري.

**د پوهې مقام:**

لکه څنګه چې زموږ د کړنو جرړه، په نړۍ ليد کې ده؛ نو زموږ نړۍ ليد هم زموږ له پوهې او پېژندنې جرړه اخستې ده؛ يعنې د نړۍ ليد ټاکنه، په پوهې او پېژندګلو پورې تړاو لري.

د نورو موجوداتو په پرتله، د انسان غوراوی، د پوهې له نعمته برخمنېدل دي. همدومره بس، چې لوی الله تعالی په قرآن عظيم الشأن کې، په ډېرو آيتونو کې "پېژندګلو" او "معرفت" ته رابللي يو او قرآن عظيم الشأن هغوی په سخته غندلي او رټلي، چې اندنه، تعقل او تدبر نه کوي.

## د پېژندګلو او معرفت اوزار

**۱_حواس**

په دې هکله قرآن عظيم الشأن وايي: ((وَاللّهُ أَخْرَجَكُم مِّن بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ لاَ تَعْلَمُونَ شَيْئًا وَجَعَلَ لَكُمُ الْسَّمْعَ وَالأَبْصَارَ وَالأَفْئِدَةَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ =الله تعالی تاسې د خپلو ميندو له ګېډو په داسې حالت کې راوايستئ، چې په هېڅ نه پوهېدئ او تاسې ته يې غوږونه او سترګې او عقلونه درکړل؛ دا ځکه چې(د الله تعالی د نعمت) شکر وکاږئ))

**۲_عقل**

عقل ستر الهي نعمت او د انسان باطني حجت دی، چې د عقل په مرسته هم محسوسات په سمه توګه وپېژنو او هم د چارو د شننې ځواک پيدا کړو.

**۳_وحې**

وحې د الهي معارفو سرچينه ده او داچې د وحې سرچينه د الله تعالی ناپايه پوهه ده؛ نو تر ټولو ډاډمنه او پياوړی اوزار دی، چې د بشر په برخه شوې ده.

## د پېژند يا پوهاوي سرچينې

**۱_طبيعت**

د قرآن عظیم الشأن ډېرو آیتونو په بېلابېلو طبیعي موضوعاتوکې "تدبر" ته رابللي یو؛ لکه د ځمکې او اسمانو پنځون، د شپې او ورځې راتګ، په اوبو کې د بېړۍ حرکت، غرونه، ځناور او...

**۲_تاریخ**

د تاریخ لوستل ګټور او له پېښو، بریاوو او ناکامیو سره اشنایي، د انسان د تاریخ په لوستو د هستۍ پر قوانینو پوهېدای شو: ((لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لأُّوْلِي الأَلْبَابِ))

**۳_انسان**

د انسان د بېلابېلو اړخونو څېړنه ددې لاملېږي، چې د وسې، وړتیا او اړتیاوو په اړه یې ژوره پوهه تر لاسه شي. الله تعالی په قرآن عظیم الشأن کې وایي: ((سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ ان يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ))

## د معرفت او پېژندګلو د لار خنډونه

**۱_ ځاني غوښتنې**

((وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوَاهُ)) څوک به تر هغه بې لارې وي، چې په خپلو ځاني غوښتنو پسې ځي؟

**۲_ د پلار نیکه غلط دودونه**

((وَقَالُوا رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَاءنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلا[1]= او وایي (به): ((پالونکیه! په واقع کې موږ د خپلو مشرانو او لویانو ومنل؛ نو له موږه یې (سمه) لار ورکه کړه.

۳_لنډګروهي- تعصب او اندیز استبداد: ((وَقَالُوا قُلُوبُنَا فِي أَكِنَّةٍ))

## د څو پوښتنو ځوابونه

**پر یوې پوښتنې رڼا**

پوښتنه: په نړۍ کې داسې وګړي شته چې څومره یې له لاسه کېږي، پر خلکو ظلمونه کوي؛ خو هوسا ژوند لري؛ نو که د ناوړه پېښو راپېښېدل، زموږ د خپلو کړنو پایله وي؛ نو ولې هغوی چې زموږ په پرتله یې ظلمونه او ناړوچاري ډېره ده؛ په بلاوو او خپګانونو نه اخته کېږي او سوکاله ژوند لري؟

ځواب: د آیتونو او روایتونو په رڼا کې، له ټولو خلکو او ډلو سره د الله تعالی حساب یو شان نه دی او هغوی هر یو بېل حساب لري.

---

[1] (احزاب/٦٧)

الله تعالی د ځینو ځای پر ځای غوړونه تاووي. ځینو ته څه وخت ورکوي. ځینو ته د عمر تر پایه مهلت ورکوي او په سوکالی کې یې پرېږدي او حساب و کتاب یې قیامت ته ځنډوي؛ ځکه موږ په خپل نړی لید کې نړی له اخرته جلا نه ګڼو.
البته دا خبره له ماغزو مه باسئ، دا توپیرونه د حکمت له مخې دي؛ ځکه د ګناهکارانو د کړنو ډول او روحیه یو شان نه ده، چې حساب و کتاب یې سره مساوي او یو برابر وي.
کله یو ښوونډ د یو تکړه زدکړیالان پر غلطی پرېکنده او سخت غبرګون ښیي؛ ځکه ددې کار تمه یې ترې نه درلوده، حال دا، له یوه ناغېړي زدکړیال سره یې حساب و کتاب داسې نه وي.
په قرآن عظیم الشأن کې راغلي: الله تعالی د اولیاوو او پېغمبرانو په وړه تېروتنه، چې ان ګناه هم نه شمېرل کېږي او "ترک اولی" ورته ویل کېږي، ډېره سخته نیوکه کوي؛ ځکه ددې کار تمه یې ترې نه درلوده؛ خو ځینې سره له دې چې ګناهکارن دي؛ خو بیا هم مهلت ورکوي.
((لِمَهْلِكِهِم مَّوْعِدًا)) ځکه کله الله تعالی د ظالمانو د کړنو پر وړاندې ژر غبرګون نه ښیي.
((فَأَمْلَيْتُ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ)) =زه کافرانو ته مهلت ورکوم او بیا یې ترې اخلم او د مهلت لامل یې هم داسې ښوولی: ((وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ أَنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ خَيْرٌ لِّأَنفُسِهِمْ إِنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ لِيَزْدَادُواْ إِثْمًا وَلَهْمُ عَذَابٌ مُّهِينٌ[1]= هغوی چې کافران شوي (او د سرغړونې لار یې نیولې) ګومان و نه کړي، چې زموږ ورکړی مهلت یې په ګټه دی. موږ ځکه مهلت ورکوو، چې یوازې د خپلو ګناهونو پېټی دروند کړي او هغوی ته سپکوونکی عذاب (چمتو شوی) دی.))
سپینه خو دا ده، چې همدا لنډ مهاله سوکالي، د عذاب تر ټولو ستره وزله ده؛ ځکه قرآن عظیم الشأن وایي:
فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ ان إِذَا فَرِحُواْ بِمَا أُوتُواْ أَخَذْنَاهُم بَغْتَةً فَإِذَا هُم مُّبْلِسُونَ[2]= (هو) چې کله ورته شوی نصیحت یې هېر کړ؛ نو موږ د هر ډول نعمتونو وروونه ورپرانستل، چې (پوره) خوشحاله شي (او زړونه یې ورپورې وتړل)، ناڅاپه مو ونیول (او سخته سزا مو ورکړه)؛ نو په دې وخت کې ټول نهیلي شول (او د هیلو وروونه پرې وتړل شول)
البته، الله تعالی چې له ځینو سره داسې معامله کوي؛ خو ځینې نور، چې د اصلاح کېدو وړتیا لري؛ نو په هکله یې وایي: ((لِيُذِيقَهُم بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ))؛ موږ ورته د هغوی د ځینو کارونو ترخه سزا ورکوو؛ نو کېدای شي اصلاح شي.

[1] (آل عمران/۱۷۸)
[2] (انعام/۴۴)

ډېرو روايتونو خبر ورکړی، چې که تاسې پرلپسې گناهونه کوئ؛ خو په ژوند کې درباندې الهي عذاب نه راځي؛ نو ووېرېږئ، چې کېدای شي، د اصلاح کېدو د وړتيا له ولکې بهر شوي ياست او يوازې د کار چاره مو دوزخ شي.
لکه څنگه چې د يوه رنځور حال دومره خراب شي، چې نور يې ډاکټر پرېږدي او وايي: پرېږدئ! څه چې کوي، و دې يې کړي او څه چې خوري و دې خوري؛ ځکه د رنځور له درملنې نهيلی شوی وي او داسې کسان شته چې دومره يې ځان پر گناه لړلی وي، چې الله تعالی ورته په قهر وايي: ((اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ))؛ څه مو چې خوښه وي، و يې کړئ، چې د الله تعالی استازي به د خپل قوم له ښيونه نهيلي شول؛ نو ورته به يې ويل: زما قومه! څه مو چې له لاسه کېږي و يې کړئ ((يَا قَوْمِ اعْمَلُوا عَلَى مَكَانَتِكُمْ))

## سختي د ودې لامل دی

پخه خبره ده، چې زموږ د تکامل او پخېدو لار په ستونزو کې تېره شوې ده. قرآن عظيم الشأن وايي: له ترخو پېښو سره مخامخېدل، انسان ته د راوېښېدو زنگ دی. يو شان او بې بدلونه ژوند انسان لټوي.
په روايتونو کې راغلي: الله تعالی پر خپلو وړ او غوره بندگانو ډېرې سختۍ راوړي. په يو روايت کې راغلي: په انسانانو کې تر ټولو کړمنې ستونزې، د الله تعالی پر استازي وې او بيا د هغه پر لارويانو او هغوی چې دوی ته نږدې وي.
حديث دی: الله تعالی خپل ايمانوال بندگان، په ستونزو او بلاوو کې روزي؛ لکه څنگه چې مور خپل ماشوم، په شيدو روزي.
پردې سربېره، چې سختۍ د انسان په ژوند کې گټورې روزنيزې اغېزې لري؛ بلکې را يادول يې هم گټور دي.
سوکالي انسان ناغېړوي؛ خو سختۍ يې غښتلی کوي. حضرت علي وايي: د هغه ونو لرگي خورا کلک وي، چې په وچو سوځنده ښديااوو کې شوې وي.
په يوه روايت کې راغلي: ((په ستونزو کې خير دی)) ، چې سختۍ له يو اړخ زموږ او د الله تعالی په منځ کې اړيکه غښتلی کوي او له بل اړخ له ناغېړۍ مو راباسي او هڅو ته مو اړ باسي؛ نو کوم دباو، چې په ستونزو کې زموږ پر بدن راځي؛ نو د اروا د غښتلتيا لامل مو گرځي، چې البته سختۍ پر ډول ډول خلکو، ډول ډول اغېزې لري.
حديث دی: ((سختۍ د ظالمانو لپاره خبر، مؤمنانو ته د ازمېښت او ودې او الهي انسانانو ته د کرامت او مقام گټلو وزله ده.))

ځکه هغه سوکالي، چې الله تعالی ځینو ته ورکړې؛ ښه والی او نېکمرغي یې نه راښیي؛ لکه څنګه چې پر ځینو خلکو د ستونزو راتګ یې د بدوالي نښه نه ده. کله خو داسې هم کېږي، چې تر ټولو ښه انسانان، په ډېرو ستونزو کې راګېر شوي وي، چې غښتلي او پاخه شي او کمال ته ورسي.

زموږ انسانیت په خوړو او ویدېدو کې نه دی؛ ځکه څاروی هم په دې چارو کې راسره شریک دی. زموږ انسانیت، زموږ په کمالاتو او فضایلو؛ لکه الله تعالی ته پام، له انسانانو سره په مینه، سرښندنه او ښېنه کې دی او د کاڼي کرښه ده، چې ددې فضایلو وده یوازې له ستونزو سره په مبارزه کې ده.

## ګټه او تاوان د ښېګڼو یا بدیو د سنجولو کچه نه ده

شونې ده د پرلپسې بارانونه له لامله نېزونه شي او پخپله لار کې د ډېرو مېږیانو ځالې ورانې کړي؛ خو ترې ځمکه خړوبوي او تازه کوي یې؛ نو تاسې پخپله ووایئ، چې د مېږیانو د ځالې د خرابېدو مخنیوي ته کړای شو، چې د باران له ګټو سترګې پټې کړو؟ آیا مېږی حق لري، چې لمر، سمندرونو او وربځو ته پر کنځل شي، چې د باران په راتګ کې ونډه لري، چې زموږ کورونه یې خراب کړل؟ دا نیوکې یوازې زموږ د ځانمنی له لامله دي؟ او آیا زموږ دا نیوکې ددې لپاره نه دي، چې موږ چارو ته یوازې له یوه ګوټه وګورو او هغه هم زموږ د خپلو ګټو لپاره دی.

ته وا ټوله هستي باید زما په خوښه او زما د ګټو د لاس ته راوړو له مخې وڅرخېږي؛ ځکه کله ستونزې زموږ د سبا لپاره ښه او ګټورې وي؛ خو موږ پر هغو چارو نیوکه کوو، چې همدا اوس او نن زموږ ته ګټه و نه لري، که څه سبا ته مو ښه وي.

## انسان تل ازمېیل کېږي

یو هرومرو الهي سنت دادی، چې انسان تل د الله تعالی له لوري ازمېیل کېږي او دا خبره شل ځل په قرآن عظیم الشأن کې راغلې ده.

سختۍ او کړاوونه د الهي ازمېښت اوزار دي؛ نوکله داسې هم کېږي، سره له دې چې انسان هېڅ ګناه هم نه وي کړې؛ خو سختۍ پرې راځي؛ لکه څنګه چې سوکالي او خوشحالي هم د انسان د ازمېیلو لپاره اوزار ده.

قرآن عظیم الشأن وايي: ((وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوفْ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الأَمَوَالِ وَالأنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ [1] = او موږ به هرومرو تاسې په وېره او لوږه او د سر و مال او حاصلاتو په زيانولو ازمېيو او زېرى ورکړه د زغم خاوندانو ته))

**ناسمې پوهېدنې**

ډېرى هغه خبرې، چې د الهي عدل په هکله نوموتې دي، زموږ د ناسمو پوهېدو له لامله دي، چې انګېرو نړی د خوب، خوړو او مزو چړچو ځای دی او بيا وايو، چې ولې دا دومره ناکامی؟ حال دا، نړۍ د ودې ډګر او کرځی دی.

**که بديو ته ګورئ؛ نو ښېګڼو ته هم ګورئ**

انسان ته پکار دي، په خپل ورمندون کې هر اړخيزه کتنه ولري او يوازې منفي ټکيو ته يې پام نه وي؛ بلکې مثبتو ته يې هم پام پکار دی.

حضرت يوسف عليه السلام چې خپلو رونو په څاه کې ګوزار کړ، نورو خلکو راوايست، د مريي په نامه وپلورل شو، ناروا تور پر ولګېد او بندي شو؛ خو تردې ټول ستونزو روسته، د مصر واکمن شو او تر ډېرې مودې روسته يې چې خپل پلار وکوت؛ نو پلار يې وويل: رونو دې در سره څه وکړل؟ حضرت يوسف وويل: زما د رونو د کانو په هکله مه پوښته؛ بلکې د الله تعالى د پېرزوينې په هکله مې وپوښته چې څنګه يې له دې ټولو ستونزو راوايستم او بيا يې دلته واکمن کړم. دا پخپله يو سول- منطق دی، چې انسان يوازې منفي ټکيو ته پام و نه کړي؛ بلکې مثبتو ټکيو ته هم پام وکړي.

په يوه روايت کې راغلي: داسې بلا به نه وي، چې الله تعالى پکې انسان ته خېر نه وي ايښی، چې دا خير پر بلا برلاسی دی.

**له طبيعي قوانينو سترګې پټول نه دي پکار**

ډېرې ستونزې پر هستۍ د عامل او معلول د نظام د واکمنۍ لازمه ده. په بله وينا: موږ بايد په هستۍ کې له دې دوو نظرونو يو يې ومنو: يا بايد د هستۍ لپاره په حساب و کتاب قايل شو او داچې وايو ګډوډي ده؛ نو که هستي حساب و کتاب لري؛ نو سختۍ او کړاوونه هم بې حکمته او بې حساب و کتابه نه دي.

که د هرې ناوړه پېښې لامل وڅېړو؛ نو و به ګورو، چې دا پېښه څينو دقيقو او حساب شويو عامل او معلولونو را پېښه کړې ده. لنډه داچې که هستي حساب شوې ده؛ نو بلاوې او کړاوونه هم لري او که حساب نه وي؛ نو ګډوډي تر ټولو ستره بلا ده.

---

[1]. (بقره/۱۵۵)

**د وړتیاوو رابرسېرنې ته هڅه په کار ده**

ځینې خلک، چې په کوم کار پسې وځي او پکې نه بریالي کېږي؛ نو ځان ناکام ګڼي او په هستۍ پسې سپکې سپورې وايي او دا کار پر ځان ظلم ګڼي او په زړه کې یې کینه پیدا کېږي، چې بیا همدا کسان دي، چې په نورو چارو کې تر ټولو پر مخ ځي.

وایي: د "ډاروین" پلار ډاکټر و او غوښتل یې زوی یې هم ډاکټر شي؛ خو داروین په طب کې بریالی نشو؛ نو پلار یې هغه د دیني علومو زدکړو ته ور وړاندې کړ، چې مسیحي عالم شي؛ خو په دې مسلک کې هم ناکام شو. داروین تردې دوو ماتو روسته طبیعي علومو ته مخه کړه، چې پکې خورا مخکې ولاړ او پکې د خپلو ځرګندونو خاوند هم شو.

حدیث دی: که په کوم مسلک کې ناکام شوئ؛ نو بدل یې کړئ او پوه شئ، چې کامیابي به مو په بل مسلک کې وي.

**الله تعالی ته د نږدېدو لار او مانیزه وده د ټولو لپاره ده**

پردې خبره باید ټول پوه شي، چې کمالاتو ته د رسېدو لار ټولو ته خلاصه ده او هر څوک کړای شي، پر دې لار ګام کېږدي او له خپلې وړتیا سره سم، ځان کمال ته ورسوي.

په دعاوو کې راغلي: خدایه! چې ځان ته دې د رسېدو لار د غښتلي او کمزوري لپاره یو شان ایښې ده.

څکه هر څوک د خپلې وړتیا له مخې انعام اخلي او کمال ته رسي.

## د علم فریضه

((قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُوا الأَلْبَابِ [1] = وواېه: "ایا هغوی چې پوهېږي او هغوی چې نه پوهېږي، یو شان دي؟!(هېڅکله نه) بېشکه یوازې عقلمن دي، چې پند اخلي.))

د علم پر فریضه وینه ده. رسول الله وایي: ((طلب العلم فريضة على كل مسلمٍ[2]))؛ یعنې د علم زده کړه پر هر مسلمان فرض او واجب ده. شیعه او سني دواړو دا حدیث له آنحضرته په خپلو سندونو رانقل کړی دی.

فریضه؛ یعنې واجب؛ د "فرض" له مادې دی، چې د "لازم"، "هرومرو" او "وجوب" په مانا دی. څه چې اوس د واجب او مستحب په نامه تعبیروو، په لومړي صدر کې پر "مفروض" او

---

[1]. (زمر/۹)

[2] (کافي ۱ /۳۰)

"مسنون" تعبیرېدل. البته د وجوب او واجب ویی- کلمه هم په لومړي صدر کې کارونه درلوده؛ خو زیاتره د فریضې، مفروض او فرض پر ویی تعبیرېده؛ خو د مستحب کلمه، چې پر کومه مانا نن استعمالېږي، ظاهراً مستحدثه ویی ده، چې فقهاوو اصطلاح- څرګندنه کړې ده. د مستحب ویی په دې ځانګړې مانا، سره له دې چې خپله په قرآن عظیم الشأن کې نه ده کارول شوې، تر کومه یې، چې زما یاد دي، په یوه حدیث کې هم نه ده کارول شوې او پخوانیو فقهاوو هم دا څرګندنه نه درلوده او بیا روسته خوره شوه. څه ته چې نن مستحب وایو، پخوا به یې ورته مسنون او مندوب وایه.

د حدیث مانا دا ده، د نورو واجباتو او فرایضو په لړ کې، د علم زده کړه، یوه اسلامي فریضه او اسلامي واجب دی. پر هر مسلمان د علم زده کړه واجب ده او په ځانګړي پوړ- طبقې پورې تړلې نه ده.

په تاریخ کې راغلي، تر اسلام مخکې د هغه ورځ متمدنو ټولنو د علم زده کړه، د ځینو پوړیو حقوق او امتیازات ګڼل او نورو ته پر داسې حق قایل نه ول. په اسلام کې نه یوازې علم د یوه "حق" په توګه د چا امتیاز نه دی؛ بلکې د "مکلفیت" او "دندې" په توګه، پر ټولو وګړیو یې زده کړه فرض او واجب ده. روژه له فرایضو ده، زکات، حج، جهاد، پر نېکیو امر او له بدیو منع او همداراز عالمېدل او پوهېدل (ددې حدیث د نص له مخې) له فرایضو دي.

په ټولیزه بڼه، په دې کې څه اړپېچ نشته. له صدر اسلامه تر ننه ټول مذاهب او اسلامي علماوو دا منلې ده. د حدیثونو په کتابونو کې د "بابُ وجوب طلب العلم" په نامه یا ددې په څېر یو باب شته. که اړپېچ هم وي؛ نو ددې حدیث په تفسیر، توضیح، مانا او مقصود کې به وي.

نه غواړم د "علم د فریضې" په نامه ددې مطلب په شاوخوا کې وینه وکړم، چې اسلام څومره خلک علم ته هڅولي او په دې هکله له قرآن عظیم الشأنه آیتونه راوړم او احادیث هم رانقل کړم او د تاریخ ځینې برخې هم راواخلم. نه غواړم په دې هکله د اسلام په ګټه خبرې وکړم او ډنډورې خورې کړم، چې وګورئ اسلام څرنګه خلک علم ته هڅولي دي او څومره د علم پلوی دی.

ځکه دا خبرې ډېرې شوي او کېږي او ګروهن یم څه ګټه نه لري که څومره هم خبرې وکړم او بیا سترګې پرانېزم او په اوسني پېر کې مسلمانان وګورم، چې د نړۍ تر ټولو ناپوهه او نالوستي دي او وینم، چې په بل یوه ځای کې هم د اسلامي هېوادونو هومره نالوستي نشته؛ نو ددې په پامنیوې، د ټولو خبرو اغېز مو له منځه ځي. لږ تر لږه یو کس ته دا پوښتنه رامنځ ته کېږي، که دا خبره رښتیا وي او اسلام دومره له علمه ملاتړ کړی او هغه یې فرض او واجب کړی؛ نو مسلمانان ولې له علمه خورا لرې دي؟!

زه گروهن یم ددې ډنډورو پر ځای، چې لنډمهال ته مو زړه خوشحالوي، باید د اسلامي ټولنو نیمګړتیاوو ته پام وکړو او ددې ټولنې د علمي څنډ پر لاملونو فکر وکړو او ورته د هوارۍ لار پیدا کړو.
دلته درته یو حکایت راوړم او تر حکایت مخکې د علم په هکله له رسول الله څلور احادیث رانقلوم؛ ځکه په همدې حکایت پورې اړوند دي، بیا به درته حکایت ووایم.
لومړی همدا حدیث دی، چې درته مې ووایه ((طلبُ العلم فریضة علی کل مسلمٍ))؛ یعنې د علم زده کړه پر هر مسلمان واجب ده.
هېڅ استثناء پکې نشته، ان د ښځې او سړي له اړخه هم پکې استثنا نشته؛ ځکه مسلم؛ یعنې مسلمان که سړی وي که ښځه؛ پردې سربېره، ځینې کتابونه؛ لکه بحارالانوار یې رانقلوي، چې د "مسلمةٍ" ویی هم پکې وراضافه شوې ده. دا مطلب به بیا راوخېړم.
دا حدیث وایي: د علم فریضه یوه عمومي فریضه ده، په ځانګړې پوړ او جنس پورې تړلې نه ده. شونې ده یو څېز پر ځوانانو فرض وي او پر بوډاګانو نه وي، پر واکمن فرض وي او پر ولس نه وي، یا پر ولس فرض وي او پر واکمن نه وي، د سړي دنده وي او د ښځې نه وي؛ لکه د جُمعې لمونځ او جهاد، چې یوازې پر سړیو فرض دی او پر ښځو نه دی؛ خو دا فریضه، چې نوم یې علم دی او پر هر مسلمان فرض ده، هېڅ ډول ځانګړلی- اختصاص نه لري.
بل حدیث دا دی: ((اطلبو العلم من المهد الی اللحد))؛ یعنې په ټول عمر کې له زانګو تر قبره علم زده کړه.
یعنې علم وخت او فصل نه لري او په هر وخت کې باید له دې فرصته ګټنه وشي؛ لکه څرنګه چې لومړی حدیث د وګړیو، جنس او پوړ له مخې محدودیت هاخوا کړ او دې فریضې ته یې پراختیا ورکړه؛ نو دې حدیث ورته د وخت له اړخه پراختیا ورکړه. ممکن یوه دنده د وخت له اړخه محدودیت ولري او په هر وخت کې نشي کېدای، د ساري په ډول: فرضي روژې، چې وخت یې معلوم دی، چې د رمضان میاشت ده او ان لمونځ د شواروز د ساعت له اړخه معلوم وخت لري او یوازې په معلومو وختونو کې کېږي. حج فرض دی؛ خو هر وخت نه کېږي، ځانګړی وخت لري، چې د "ذي الحجې" میاشت ده؛ خو د علم فریضه په هېڅ وخت او عمر پورې ځانګړې نه ده، که د روژې وخت د رمضان میاشت او د حج وخت د ذي الحجې میاشت وي او لمونځ هم هر یو په خپل وخت کې کېږي؛ نو د زده کړې وخت له زانګو تر قبره دی.

دریيم حدیث: ((اطلبو العلم و لو بالصین[1]))؛ یعنې علم زده کړئ که څه، په چین کې وي، که څه دې ته اړ شئ، چې د نړۍ لرې سیمو ته ورپسې ولاړ شئ. ظاهراً داچې د "چین" نوم وړل شوی؛ نو لامل یې دا دی، چې هغه ورځ چین تر ټولو لرې سیمه وه، چې خلک ورتلل یا یې لامل دا دی، چې هغه مهال "چین" د علم او صنعت زانګو وه.

دا حدیث وایي: د علم زده کړه ځای او ټاکلی مکان نه لري؛ لکه څرنګه چې ټاکلی وخت هم نه لري. ممکن یو مکلفیت او فریضه د ځای او مکان له نظره محدودیت ولري او په ټولو ځایونو کې ونشي؛ لکه حج، چې ځای یې محدود دی. مسلمانان باید هرومرو د حج کړنې په مکه کې وکړي، چې د اسلام او توحید لمر ترې راختلی و او د نړۍ نورو ځایونو ته خپور شو. مسلمانان نشي کړای یو له بل سره هوکړه وکړي، چې حج ته بل ځای وټاکي؛ نو دا مکلفیت له دې اړخه محدودیت لري؛ خو د علم د فریضې ترسره کولو ته هېڅ معلوم ټکی په پام کې نه دی نیول شوی، په کوم ځای کې چې علم وي؛ نو هلته یې لاس ته راوړنه هم ده، که مکه وي، که مصر، عراق یا د نړۍ لرې سیمه، ختیځ وي که لویدیځ.

زده کړې ته لرې سیمو ته د تګ په هکله آیتونه او احادیث لرو.

((وَمَن يَخْرُجْ مِن بَيْتِهِ مُهَاجِرًا إِلَى اللّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُ عَلى اللّهِ وَكَانَ اللّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا [2] = او څوك چې له خپل کوره د الله تعالی او پیغمبر لوري ته د هجرت لپاره ووځي او بیا(په لار کې) ورته مرګ راشي؛ نو اجر یې پر الله تعالی دی او الله تعالی بښونکی او مهربانه دی.))

دا آیت زده کړې ته د مسافرت او مهاجرت په هکله تفسیر شوی دی. په یو حدیث کې راغلي: ((لو علمتم ما فی طلب العلم لطبتموهُ و لو بسفک المهج و خوض اللحج))؛ یعنې که پوهېدای، چې د علم د زده کړې په پایله کې به کومو نېکمرغیو ته ورسئ؛ نو ورپسې به تللي وای، که څه په دې لار کې مو وینه تویې شوې وای یا داچې سیندونو ته ورګډ شوي وای او سمندرونه مو پسې وهلي وای.

څلورم حدیث: ((الحکمة ضالة المؤمن و جدها فهو احق بها)) یا په دې تعبیر، چې ((کلمه الحکمة ضالة المؤمن فحیث وجدها فهو احق بها[3]))؛ یعنې حکمت له مؤمن ورک شوی دی او څوک چې څه ورک کړي او په هر ځای کې یې ومومي؛ نو بې ځنډه یې را اخلي. ((حکمت؛ یعنې مضبوطه، سولیزه او سمه خبره او مطلب؛ یعنې د حقیقت لاس ته راوړنه. هر

[1] (بحارالانوار ۱ / ۱۸۰)

[2]. (نساء/۱۰۰)

[3]. (بحارالانوار ۲/ ۹۹)

قانون او قاعده، چې له حقیقت سر اړخ ولګوي او له وهم او تخیلاتو جوړه شوې نه وي؛ نو "حکمت" دی. حضرت علي کرم الله وجهه وايي: "حکمت د مؤمن ورک شوی څیز دی، زده يې کړه، که څه له منافقانو سره وي. [1]"))
داسې تعبیرونه نور هم لرو، د ټولو غورچاڼ دا دی، چې د علم په زده کړه کې یوازېنی شرط دا دی، چې علم سم وي او له حقیقت او واقعیت سره اړخ ولګوي او چې له چا علم زده کوئ؛ کار ورسره مه لرئ، زده يې کړئ.
یو وخت داسې وي، چې سړی د یوه مطلب په سموالي کې اړنګ لري؛ نو په داسې ځایونو کې، هغوی چې د تشخیص والا نه دي؛ نو د هر چا خبرې ته دې غوږ نه ږدي او باید ځیر شي، چې د نورو تر تلقین او اغېز لاندې رانشي، که په دې هکله ځیرنه و نه کړي؛ نو ښايي بې لارې شي؛ خو یو وخت داسې هم وي، چې جوته ده، چې خبره سمه ده، د ساري په ډول: په طب کې یوه علمي موندنه؛ نو په دې صورت کې ورشئ او ترې یاده يې کړئ.
له حضرت عیسی علیه السلام یو حدیث راغلی، چې وايي: ((حق واخلئ او و يې ومنئ، که څه له باطلوالو وي؛ خو باطل کله هم مه اخلئ او مه يې منئ که څه له حقوالو وي، خپله د خبرې صراف او د خبرې پوه وسئ. [2]))
په هر حال، دې لړ احادیثو، په علم کې د اړیکې له اړخه محدودیت هاخوا کړی، چې یو مسلمان يې د علم په زده کړه کې لري، د ساري په ډول: که یو مسلمان په چا پسې لمونځ کوي؛ نو شرط يې دا دی، چې باید مسلمان وي، مؤمن وي، عادل وي؛ خو په تعلیم او تعلم کې دا شرطونه نشته (یعنې مسلمان کړای شي، ان له نامسلمانه هم زده کړه وکړي).
اوس راځم هغه حکایت ته.
واقعاً دا پخپله یو معما ده، چې دا عمومي فریضه ولې دومره هېره شوې او فریضه نه ده پېژندل شوې، دا حکمونه ولې پلي نه شول؟البته دا ویل نه غواړم، چې دا حکمونه کله هم پلي نه شول؛ ځکه اسلام په نړۍ کې بې سارې علمي او فرهنګي خوځښت رامنځ ته کړ او په پېړیو پېړیو د بشریت د فرهنګ او تمدن بېرغچي و او دا خوځښت د هغه حکم منندوی و، چې اسلام د علم په هکله ورکړی و، دا څرنګه شونې ده، هغه دین، چې پر پېغمبر يې لومړی آیت د لیک، لوست، قلم، علم او تعلم دی.

[1]. (نهج البلاغه/ ۸۰ حکمت)
[2]. وګ: (بحارلانوار ۹۲/۲)

((اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ. خَلَقَ الإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ. اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ. الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ. عَلَّمَ الإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ[1]= ولوله، د خپل پالونکې په نامه، چې (هرڅه يې) شته کړي، انسان يې له ځوړندې (پړندې وينې) وپنځاوه. ولوله چې ستا پالونکی (تر ټولو) ډېر عزتمن دی؛ هغه [پالونکی]، چې په قلم يې ښوونه وکړه، انسان ته يې هغه څه وښوول چې پرې نه پوهېده.))

هغه دين، چې لومړی آر يې توحيد دی، چې په دې آر کې تقليد او تعبد کله هم جايز نه گڼي او څېړنه او پلټنه پکې اړينه بولي، ايا داسې دين تمدن او فرهنگ او علمي خوځښت رامنځ ته نه کړ؟! خو په عين حال کې چې انسان دې حکمونو ته گوري؛ نو ويني، چې په تېره، په دې روستيو پېړيو کې ډېر هېر شوی، چې پايله يې دا ده، چې وينو يې؛ نو بايد وگورو، چې ددې چار لامل څه و؟

[1]. (علق ۱-۵)

## د اسلام د علم د حکم هېرېدنې لاملونه

په واقع کې ددې چار له لاملونؤ یو یې هغه پېښې وې، چې د مسلمانانو په حالاتو کې په پیل کې د خلافت په غونډالونو کې رامنځ ته شوې او بیا ورپسې وغځېدې، د مسلمانانو په ژوند کې ناخوالې رامنځ ته شوې، طبقاتي ټولنه رامنځ ته شوه، چې د اسلام له موخې سره کله هم اړخ نه لګوي، ټولنه وویشل شوه، یو اړخ ته یې نشمتن او بدمرغه طبقه وه، چې په خورا زیار یې ځان ته ډوډۍ پیدا کوله او بل اړخ ته یې مړه او مغروره طبقه وه، چې حیران ول، له شته شتمنۍ سره څه وکړي. په عمومي ژوند کې چې درز راپیدا شي؛ نو د دا شان حکمونو پلي کېدو ته پکې څه نه پاتېږي؛ بلکې داسې لاملونه پکې پیدا کېږي، چې دا شان احکام پلي نشي. ځینې نور لاملونه ورته یادوي او مدعي دي، داچې د علم په هکله دا حکمونه پلي نشول؛ نو لامل یې دا و، چې یو حساب له یوه ځایه واخستل شو او په بل ځای کې کېښول شو او وایي داچې اسلام څومره خلک علم ته هڅولي ول او لوستې ته یې څومره فضیلتونه ویلي ول؛ نو دا ټول هر څه پر دې بدل شول، چې د عالم درناوی وشي او لاسونه یې ښکل شي او خلک ددې پر ځای، چې پخپله لیک لوستي شي او تر کومه، چې شونې وي، ځان او اولاد لیک لوستي کړي؛ نو د علماوو درناوی او خضوع یې پیل کړ، چې دا کار خورا فضیلت او اجر لري او پایله یې دا شوه، چې ده.

دا مطلب تر څه بریده سم دی؛ ځکه که څه اسلامي علماوو او څېړونکیو داسې اړونه او تحریف نه دی رامنځ ته کړی؛ خو په رغیو او ساده لیکنو، چې د خلکو لاس ته ورغلي او په ممبرونو او معمولي موعظو کې خو سول او منطق هماغه و. اتفاقا د خلکو سروکار له همدې لیکنو او همدې ممبرونو او موعظو سره و، نه د پلاني څېړونکي له وینا سره، چې په پلاني علمي کتاب کې یې پر دې موضوع وینه کړې ده. د ځینو اسلامي علماوو په څرګندونو کې، که څه نوموړې کوږوالی نشته؛ خو یو بل ډول جمود او انحراف پکې تر سترګو کېږي، چې د علم په هکله، د اسلام د حکمونو د تورې په پسولو کې اغېز درلوده او هغه کوږوالی دا دی، چې د علماوو هره ډله په دې پورې ونښته، داچې رسول الله ویلي علم فریضه ده؛ نو موخه یې هماغه علم دی، چې موږ یې لرو.

## کوم علم؟

په دې روستیو کې مې په دې هکله د فیض کاشاني "محجة البیضاء" کتاب ولید، چې ظاهراً ده هم دا خبره له غزالي (ره) رانقل کړې ده. غزالي وایي: د اسلام علماء، ددې حدیث په تفسیر کې شل ډلې شوي او هر ډله، چې د هر علم او فن درلودونکې وه، و یې ویل، چې د حدیث

موخه هماغه زموږ علم او فن دی. متکلمینو وویل: د آنحضرت ددې وینا "طلب العلم فریضة علی کل مسلم" موخه د کلام علم دی؛ ځکه د کلام علم د دین د آرونو علم دی. د اخلاق علماوو وویل: موخه یې د اخلاقو علم دی، چې سړی پوه شي، مُنجیات څه دي او مُهلکات څه دي. فقهاوو وویل: موخه یې احکام دي، چې اړین دي، هر څوک دې یا مجتهد وي یا دې له مجتهده تقلید وکړي. مفسرینو وویل: موخه یې د تفسیر علم دی؛ ځکه د تفسیر علم د کتاب الله په هکله علم دی. محدثینو وویل: موخه یې د حدیثو علم دی او روایت دی، چې هر څه باید له قرآن عظیم الشأن او حدیثه زده کړو. متصوفینو وویل: موخه یې د سیر و سلوک او د نفس د مقاماتو علم دی او همداراز نورو هم....

وروسته څرګندوي، چې که څه پراخ نه دی؛ خو نسبتاً پراخ دی. لنډه داچې د آنحضرت موخه په انحصاري ډول دا یو هم نه دی. که د رسول الله موخه په دې کې کومه ځانګړې څانګه وه؛ نو څرګنده کړې به یې وه، چې د کلام علم یا د اخلاقو علم یا د تفسیر یا د فقهې یا هم د حدیث علم. **باید ولیدل شي، چې د اسلام له نظره کوم څیز فرض عین یا کفایي فرض دی**، چې ددې مکلفیت د پوره کولو لپاره د علم زده کړه اړینه وي؛ نو باید وویل شي، چې د هغه علم زده کړه فرض او پکار ده.

## تهیوي فریضه

فقهاء یوه څرګندنه- اصطلاح لري، وایي: د علم وجوب، تهیوي نفسي وجوب دی؛ یعنې لکه د نورو واجبونو د سریزې په شان، چې خپلواک وجوب نه لري، د علم وجوب یوازې مقدمي وجوب نه دی؛ بلکې خپلواک – استقلالي وجوب دی. په عین حال کې، علم له دې اړخه واجب دی، چې انسان چمتو کوي، چې وکړای شي، نورې دندې ترسره کړي.

فقهاء دا تهیوي وجوب یوازې د احکامو په یادولو پورې ځانګړی ګڼي او داسې فرضیږي، چې د اسلامي دندو ترسره کول، په دې پورې اړوند دي، چې مسلمانان دې پر خپله دنده پوه شي او و یې پېژني او همداچې دنده یې وپېژنده؛ نو پخپله به یې په ترسره کولو وسمن وي؛ نو علم، چې یوه فریضه ده؛ نو دا ده، چې مسلمان په دنده پېژندنه کې یا مجتهد وي یا مقلد.

حال دا، څرګند دي، هماغسې، چې دنده پېژندنه او د دیني حکمونو یادول اړین دي، ډېری کارونه، چې د دین په حکم، فرض او واجب دي، هغه کارونه دي، چې خپله دا کارونه علم، زده کړې او مهارت ته اړتیا لري. د ساري په ډول: طبابت کفایي فرض دی؛ خو ددې فریضې ترسره کول، بې له درس او د طب له علمه ناشونې ده؛ نو ددې علم زده کړه فریضه ده او همداراز نور ډېر څیزونه هم.

باید ولیدل شي، چې څه ډول چارې دي، چې د اسلامي ټولنې له نظره لازم او واجب دي او هغه کار، بې له یادولو او تعلیم او تعلمه په ښه توگه نشو ترسره کولای؛ نو ددې کار علم واجب دی.
د علم فریضه، له هر اړخه د ټولنې د اړتیا په کچې پورې تړلې ده. یو ورخ داسې وه، چې کرهڼه، د اړتیا وړ صنایع او سوداگري او سیاست یو هم د علم زده کړې ته اړتیا نه درلوده. خلکو به لنډې مودې ته له پښې، ترکاڼ، سوداگر یا هم د یو سیاستوال یا صنعتگر یا سوداگر تر لاس لاندې کار کاوه او سیاستوال، صنعتگر یا سوداگرېده به؛ خو نن نړۍ بدله شوې او د ټولنې اړتیاوې بدلې شوي، دا ټول کارونه، چې له نننۍ نړۍ سره اړخ ولگوي او د ژوند له قافلې سره همغږې شي؛ نو بې له علم او زده کړې شونې نه دي. ان کرهڼه هم باید پر علمي او فني آرونو وي. یو سوداگر، چې د اقتصاد زده کړه نه وي کړې؛ نو په تول پوره سوداگر نشي کېدای. یو سیاستوال، چې د سیاست زده کړه نه وي کړې؛ نو په نننۍ نړۍ کې په تول پوره سیاستمدار نشي کېدای. نن داسې ورهڼگري –کار و کسب پیدا شوي، چې بې له سبق او تخصصه شونې نه دي. هغه ډول کارونه، چې پخوا به د ساده تمرین یا هم د یو کس تر لاس لاندې د لنډې زدکړیالۍ په تېرولو کېدل، نن یې دومر توپیر کړی، چې بې له مسلکي لیسو یا فني ښوونځیو نشي یادېدلای. زیاتره کارونه ټکنیشن او فني کارپوه ته اړتیا لري.

## د اسلامي ټولنې د عزت او خپلواکۍ آر

باید څو آرونو ته پام وکړو، یو داچې اسلام څرنگه ټولنه غواړي؟ که څه څرگنده ده، چې اسلام داسې خپلواکه ټولنه غواړي، چې پر خپلو پښو ولاړه وي. اسلام نه خوښوي، چې مسلمان ملت د بل تر لاس لاندې وي، ((وَلَن يَجْعَلَ اللّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلاً[1] = او الله تعالیېڅکله د مؤمنانو پر (زیان) کافرانو ته (د برلاسۍ) لار نه ده جوړه کړې.)) اسلام نه خوښوي، مسلمان ملت تل بل ته د پور یا بلاعوضه مرستې لاس وراوږد کړي، اسلام نه خوښوي، اسلامي ټولنه ټولنوټیزه خپلواکي و نه لري او دا هم نه خوښوي؛ همداچې په مسلمانانو کې کوم رنځور پیدا شي او خپله ډاکتر او بسیا اوزار و نه لري او رنځور غیر مسلمان ملتونو ته بوځي؛ دا یو آر.

---

[1]. (نساء/۱۴۱

## علم د عزتونو او خپلواکيو سته ده

بل آر دا دی، چې په نړۍ کې بدلون رامنځ ته شوی، چې هر څه پر علم څرخي او د ژوند څرخ هم، د علم پر چورليد ايښول شوی دی. د بشر د ژوند ټولې چارې په علم پورې تړل شوي؛ داسې چې د بشري ژوند يوه چاره ترسره کول هم بې د علم له کونجې شونې نه ده.

## د علم فريضه، د نورو فريضو کونجي ده

بل آر داچې د نورو وګړيزو او ټولنيزو مکلفيتونو او دندو ترسره کول، د علم په فريضې پورې تړاو لري. د علم فريضه، نورو فريضو او اسلامي موخو ته يو ډول کونجي پېژندل شوې او د فقهاوو په څرګندنه، تهيوي واجب دی او په پايله کې، که د مسلمانانو د ژوند چارې داسې بڼه غوره کړي، چې علم ته يې لا ډېره اړتيا پيدا کړي؛ نو د علم فريضه به لاپسې عمومي اهميت او پراختيا ومومي.

### پايله

ددې آرونو له ټولګې پايله اخستل کېږي، چې د مسلمانانو عمومي او شرعي دنده دا ده، چې علم ته مخه کړي او عمومي ښوونې، پر هر وګړي واجب کړي.
فقهاء د علم پر فريضې پر دوو ځايونو کې نيوکه کوي: يو د فقهې په آرونو کې د "برائت آر" په وينه کې، له دليله د "وجوب فحص" په مسله کې او بل د "استحباب" په مسله کې يا په سوداګرۍ کې د تفقهه پر اړتيا او ممکن پر واجباتو د مزدورۍ -اجرت پر اخستنې کې هم دې مطلب ته اشاره وشي او لکه چې مې وويل: په دې فريضه کې د فقهاوو نظر زياتره دې ته دی، چې مسايل او احکام بايد زده شي.

## ديني او غير ديني پوهې

دا څرګندنه شوې، چې موږ ځينې پوهو ته ديني او ځينو نورو ته غير ديني وايو. ديني پوهې؛ يعنې هغه پوهې، چې نېغ په نېغه د دين په ګروهيزو، اخلاقي يا عملي مسايلو پورې تړاو ولري يا هغه پوهې، چې د دين د احکامو د يادونې سريزه وي؛ لکه د عربو ادبيات يا منطق. ممکن ځينې داسې وانګېري، چې نورې پوهې په ټوليز ډول له دين سره پردۍ دي او څه چې په اسلام کې د علم د فضيلت، اجر و ثواب په هکله ويل شوي؛ نو يوازې منحصراً په هغو پورې اړه

لري، چې ورته ديني پوهې ويل کېږي يا که رسول الله علم ته فريضه ويلې؛ نو منحصراً موخه يې همدا، په اصطلاح ديني پوهې دي.
حقيقت دا دی، چې دا هسې تشه څرګندنه ده. له يوه اړخه، ديني پوهې په لومړيو ديني متونو پورې ځانګړلي دي؛ يعنې پخپله قرآن عظيم الشأن کريم او د رسول الله او يا د ځايناستو سنت يې. په صدر اسلام کې چې خلک له اسلام سره اشنا نه ول، پر ټولو اړين ول، چې تر هر څه مخکې دا متون زده کړي. هغه مهال د کلام، فقهې، آرونه، منطق او د اسلام د تاريخ په نامه کوم علم نه و. داچې په يو حديث کې رسول الله وايي: ((انما العلم ثلاثه: اية محكمةُ و فريضه عادله و سنة قايمه[1])). غورچاڼ يې دا دی: علم د قرآن عظيم الشأن د آيتونو او د پېغمبر د حديثونو په زده کړې پورې منحصر دی، چې دا د مسلمانانو د هغې ورځې حالت ښيي؛ خو بيا مسلمانان، د اسلام د اساسي قانون په توګه له دې متونو سره اشنا شول او د قرآن عظيم الشأن او د آنحضرت د حديث له مخې يې علم، د يوې مسلمې فريضې په توګه وپېژانده او سوکه سوکه تلپاتې شو؛ نو له بل اړخه، هر علم، چې مسلمانانو ته ګټور وي او د مسلمانانو ستونزه هواره کړي؛ نو دا علم ديني فريضه او ديني علم دی. موږ ولې يوازې نحو، صرف او عربي ژبې ته ديني علوم وايو؟ ايا يوازې همدا لار ده، چې ګټه لري او د اسلام له موخې سره اړخ لګوي؟ موږ په کوم مناسبت د امروالقيس عشقي شعرونه او د ابونواس خمري شعرونه د ديني پوهې د زده کړې په نامه يادوو؟
څکه د قرآن عظيم الشأن د ژبې په زده کړه کې راسره مرسته وکړي؛ نو هره پوهه، چې اسلام او مسلمانانو ته ګټوره وي او ورته اړينه وي؛ نو ديني پوهې دې وشمېرل شي او که څوک پاک نيت ولري او اسلام او مسلمانانو ته د چوپړ په موخه يې زده کړي؛ نو په هغو اجرونو کې به راشي، چې د علم زده کړې ته په دې حديث کې ويل شوي دي: ((و ان الملايکة لتضع اجنحتها لطالب العلم[2]))؛ يعنې پرښتې د علم د زدکړيالو تر پښو لاندې وزرې وهي؛ خو که نيت يې پاک نه وي، د هېڅ علم زده کړه، ان که د قرآن عظيم الشأن د آيتونو زده کول هم وي؛ نو اجر او ثواب نه لري.
له بېخه دا وېش سم نه دی، چې پوهې پر دوو برخو ديني او غير ديني وويشو، چې ځينو ته دا توهم راپيدا شي، چې اصطلاحاً غير ديني پوهې له دين سره پردی دي. د اسلام د خاتميت او

[1] (اصول کافي ۱/ ۳۲)
[2] (اصول کافی ۱/ ۳۴)

پراخوالي غوښتنه دا ده: هر گټوره پوهه، چې اسلامي ټولنې اړتیا ورته ولري؛ نو باید دیني پوهه ورته ووایو.

## د ښځې زده کړه

مخکې مې ویل: دا موضوع به راڅېړم او هغه داچې د علم فریضه په سړیو پورې ځانگړې نه ده او ښځې هم پکې راځي؛ ځکه رسول الله وویل: ((طلب العلم فریضة علی کل مسلمٍ)) د "مسلم" ویی، مذکره صیغه ده او دا توهم رامنځ ته کېږي، چې د علم زده کړه یوازې په سړیو پورې اړه لري.

لومړی خو دا باید ووایم، چې په کتابونو کې ځینې نقلونه شته چې د "مسلمة" ویی هم پکې راغلی دی.

دویم: دا ډول تعبیرونه په اختصاص نه پوهېدل کېږي. "مسلم"؛ یعنې مسلمان؛ که سړی وي که ښځه. په ټولو ځایونو کې چې دې ته ورته تعبیر وي؛ نو همداسې عمومیت لري. د ساري په ډول: په حدیث کې راغلي: ((المسلم من سلم المسلمون من لسانه و یده[1]))؛ یعنې مسلمان هغه دی، چې نور مسلمانان یې له ژبې او لاسه خوندي وي. څرگنده ده، موخه دا نه ده، چې مسلمان سړی دې یوازې داسې وي او ښځه دې نه وي، یا داچې رسول لله وایي: ((المسلم اخ المسلم[2]))، مسلمان د مسلمان رور دی او باید ورسره معامله او رورولي وکړي. دلته نشو ویلای، چې دا حکم یوازې د سړیو دی؛ ځکه نه یې دي ویلي: ((المسلمة اخت المسلمة))

د "مسلم" ویی دوه مفهومه لري: یو د مسلمان والي او بل د سړي والي. هر څوک پوهېږي، چې په داسې ځایونو کې جنسیت ښکېل نه دی؛ بلکې اسلامیت ښکېل دی. ان که د "مسلم" پر ځای، د "رجل" ویی هم راغلی وای؛ نو د فقهاوو په څرگندنه، د خصوصیت الغاء به شوې وای. په ځینو احادیثو کې د ځینو فقهي موضوعاتو په هکله د حدیث موخه سړی وي؛ یعنې امام وپوښتل شو، چې سړي داسې معامله کړې او داسې شوي او څه وکړي او امام دا مسله ځوابولې وي. فقهاء وایي: که څه، په حدیث کې د سړي ویی راغلی؛ خو په داسې ځایونو کې جنسي ځانگړنه الغاء کېږي؛ ځکه جوته ده، چې جنسیت ښکېل نه دی.

دریيم: که له دې ټولو راتېر شو؛ نو فقهاء یوه خبره لري: ځینې عمومات او کلیات دي، چې له تخصیصه ډډه لري، وینا او بیان داسې دی، چې د تخصیص وړ نه دی، داسې مطلب دی، چې

---

[1]. (کافي ۲ / ۲۳۴)

[2]. (کافي ۲ / ۱٦٦)

د عقل له مخې، د تبعيض وړ نه دی. د ساري په ډول: څه چې د علم په هکله راغلي؛ نو د تقوا په هکله هم راغلي دي. د علم په هکله يې ويلي:
((هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُوا الْأَلْبَابِ[1]= ووايه: "ايا هغوی چې پوهېږي او هغوی چې نه پوهېږي، يو شان دي؟!(هېڅکله نه) بېشکه يوازې عقلمن دي، چې پند اخلي.))
د تقوا په هکله وايي:
((أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِينَ فِي الْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ[2]= ايا هغوی چې ايمان راوړی او ښه کړه وړه يې کړي وي، د هغه چا غوندې يې کړو، چې په ځمکه کې فساد کوي؟ يا پرهېزګاران د بدکارانو غوندې کړو؟!))
((إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ[3]=په حقيقت کې، د الله تعالی په نزد ډېر عزتمن مو، ستاسې ډېر پرهېزګار دی.))
په دې ټولو ځايونو کې صيغې مذکرې دي، نه دي ويل شوي ((أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ و المتقيات)) او داسې هم نه دي ويل شوي، چې ((إِنَّ أَكْرَمَكُمن عِندَ اللَّهِ اتقيکن)). په داسې ځايونو کې چې صيغه او لفظ مذکر دی؛ نو ادعا کړای شو، څه يې چې د تقوا په هکله وويل، ځانګړي په سړيو پورې اړه لري او ښځې پکې نه راځي؟!
اسلام علم او پوهنه رڼا ګڼي او ناپوهي تياره، علم سترګليد - بينايي او ناپوهي، ړوندوالی ګڼي. ((قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الأَعْمَى وَالْبَصِيرُ أَمْ هَلْ تَسْتَوِي الظُّلُمَاتُ وَالنُّورُ[4] بيا وايي: ((طلب العلم فريضة على کل مسلم)) همدا علم رڼا او د سترګو ليد دی او پر هر مسلمان فرض ده. ايا قايلېدای شو، چې يوازې د اسلام له نظره يوازې پر سړيو فرض ده، چې له تيارو راووځي او رڼا ته شي او ښځې دې هماغسې په تورتم کې وي؟ يوازې پر سړيو فرض دي، چې له دې ړوندوالي راووځي او ښځې دې هماغسې په ړوندوالي کې وي؟((نَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُوا الْأَلْبَابِ)) د عقلمنو پام خپله دې مسايلو ته ګرځي، په حقيقت کې وايي: دا څرګند مطلب دی او ټول پرې پوهېږي.
بل آيت د رسول الله په هکله وايي: ((يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ[5] يعنې پېغمبر راغلی، چې خلکو ته د قرآن عظيم الشأن آيتونه ووايي او روح يې تزکيه کړي او

[1]. (زمر/۹)
[2]. (ص/۲۸)
[3]. (حجرات/۱۳)
[4]. (رعد/۱٦)
[5]. (جمعه/۲)

ورته د کتاب او حکمت ښوونه وکړي. په دې آیت کې تقوا او تعلیم یوځای ویل او ټول هم په مذکرې صیغې راغلي دي. داسې کېدای شي، چې"یُزَکِّیهِمْ" ځانګړی د سړیو وي او "یُعَلِّمُهُمُ" دې هم د سړیو وي.
که څه یو مطلب دی، چې حتماً باید وویل شي او هغه داچې ځانګې دې علمي او تخصصي وویشل شي، ښځې دې هغه ځانګې ووایي، چې له ذوق او وړتیا سره یې چمتو وي او د ټولنې له اړتیاوو سره یې اړخ لګوي. ایا ویلای شو، چې ټولنه ښځینه ډاکتر ته اړتیا نه لري. دا هېښنده ده، چې د ښځو د ښوونې خبره کېږي؛ نو ځینې پرې کلکه نیوکه کوي او ورسره په کلکه مخالفت ښیي او همداچې اړتیا یې ورته پیدا شي، درملنې ته خپلې ښځې او لوڼې پردیو ان کافرو ته بیایي.

## سپېڅلی جهاد

ددې ټولو خبرو پایله دا شوه، چې په اوسني پېر کې په عمومي ښوونو کې ګډون "اوجب واجبات" دي. دا واجب یوازې د فرهنګ او فرهنګیانو دنده نه ده؛ بلکې د هر مسلمان دنده ده، که د دولت له خوا وي که د ملت له خوا، دا باید د سپېڅلي جهاد په بڼه رامنځ ته شي او د دین په حکم وي او باید دیني رنګ ولري؛ نو علماء باید په دې لار کې مخکښان وي او دا ویاړ تر لاسه کړي. مؤمنین او مقدسین دې له ښوونځي نه وېرېږي او داسې و نه انګېري، که علم راغی؛ نو دین ولاړ، دا له اسلامه یو ډول ناوړه پوهېدنه ده. اسلام داسې دین دی، چې د ناپوهۍ تر چاپېریاله، د علم په چاپېریال کې ډېره وده کوي. که پوهېدای، چې ناپوهي به پر موږ او اسلام څه راپېښ کړي؛ نو له پوهې او ښوونځي نه؛ بلکې له ناپوهۍ به مو وېره او ډار درلود. کله لیدل کېږي، داچې ځینې له پوهې خپله وېره پټوي؛ نو د "سنایي" پردې شعر منګولې لګوي:
چو علم اموختی از حرص انگه ترس کاندار شب
چـــو دزدی بـــا چـــراغ ایـــد گـــزیده تر برد کالا
چې ځینې وایي، دا لیک لوستي وګوره، چې هېواد ته یې زیان تر نالوستیو خورا ډېر دی. نالوستي کوزې پټوي؛ خو دوی په میلونونو پیسې په بډو وهي.
اړنګ نشته چې پوهه په یوازې ځان، د ټولنې د نېکمرغۍ ضامن نه ده. ټولنه، دین او ایمان ته اړتیا لري او که ایمان هم پوهې ته نژدې نه وي؛ نو ګټور نه دی؛ بلکې وبال دی.
نبوي حدیث دی، چې: " دوو تنو مې ملا ماته کړه: بې پروا عالم او ناپوه پرهېزګار"؛ نو ځکه اسلام نه بې دینه عالم غواړي او نه ناپوه دینوال.

داچې وایو: که غل له څراغ سره راشي؛ نو د خپل خوښې مال به له ځان سره یوسي؛ نو دا د بې ایمانه لیک لوستیو په هکله دی او پایله اخلو، چې د علم ګواښ، د ناپوهۍ تر ګواښه ډېر دی. دا یو ډول مغالطه ده؛ ځکه غل، چې له څراغ سره راځي او د خوښې مال له ځان سره وړي؛ نو د شپې راځي؛ نه د ورځې او د شپې هم هله راځي، چې د کور خاوند ویده وي؛ خو په رڼا ورځ کله هم غلا نشي کړای. که کوروالا ویښ وي؛ نو بیا هم غلا نشي کړای.

بې ایمانه لیک لوستي هم د نورو له خوبه او ناپوهۍ ګټنه کوي؛ نو عمومي ناپوهي او بې خبري په دې غلاوو کې ښکېل ده. تاسې خپل هېواد، د پوهې په رڼا روښانه کړئ او ټول کورونه؛ لکه د ورځې په شان کړئ او ټول خلک خبر او هوښیار کړئ او ټول ځایونه؛ لکه د ورځې په څېر کړئ او پردې سربېره، د ایمان ستنې هم ټینګې کړئ؛ نو غل به نوره غلا ونشي کړای. په دې غلاوو کې څو څېزونه ښکېل دي: د غل پوهه، بې ایماني یې او د عامو خلکو ناپوهي؛ نو دلته ناپوهي هم په جرم کې شریکه ده.

په هر حال، که وغواړو دین مو سم شي، له نشتمنۍ خلاص شو، له رنځ وژغورل شو او عدالت را کې پلي وي، آزادي او ولسواکي ولرو او د اوسني حال پر ضد، ټولنه مو له ټولنیزو مسایلو سره مینه ولري؛ نو یوازېنۍ لار یې هغه پوهه ده، چې عمومیت ولري او د دین له لارې د یوه سپېڅلي جهاد په بڼه رامنځ ته شي.

که موږ دا سپېڅلی جهاد پیل نه کړو؛ نو نړۍ به یې پیل کړي او ګټه به یې هماغوی یوسي؛ یعنې نور به راشي او ملت به مو د ناپوهۍ له ګړنګه وژغوري او الله تعالی خبر، چې هغه مهال به دا ناغېړي، اسلام ته څومره ستره ګوزار ورکړي.

## له ناپوهۍ سره د انسان مبارزه

په دې ورځو کې مې "له ناپوهۍ سره د انسان مبارزه" کتاب لوسته چې "یونسکو" یې خوروي، چې د روسته پاتې هېوادونو د لیک لوست او ښوونې په هکله یې د نوموړې ادارې فعالیتونه کښلي ول. که څه دا د خوشحالۍ ځای دی، چې داسې اوزارونه پیدا شوي، چې په مسلمانانو کې ښوونې عمومیت موندلی او سوکه سوکه د نالوستۍ تغر ټول شي؛ خو بلخوا د خواشینۍ ځای دی، چې موږ مسلمانان دومره پخپلو دندو کې ناغېړي کوو، چې نور خلک، د نړۍ له بله ګوټه راځي، لګښتونه کوي او زیار ګالي، چې دا دنده تر سره کړي، نه یوازې عمومي تعلیمات کوي؛ بلکې نور روغتیایي او بسپنیز سازمانونه هم رامنځ ته کوي او له خلکو سره مرسته کوي، له رنځوریو سره مبارزه کوي، ملاریا له منځه وړي، ښارونه او ابادۍ سموي.

د اسلامي هېوادونو؛ لکه افغانستان او پاکستان لرې پرتو سیمو ته تللي، هلته یې د بیارغاونې کارونه کړي او د خلکو له روغتیایی چارو سره یې مرستې کړي، چې لا تر اوسه موږ هلته نه یو تللي او که تللي هم یو؛ نو د پیسو په بدل کې.

زه نه پوهېږم، چې له دې کارونو یې موخه څه ده، ښایي ښکېلاکي موخې ولري، زموږ د خلکو به څومره بده برخه وي، که ښکېلاک په داسې ټګیو راننوتی وي. داچې وایم، نه پوهېږم، چې نیت یې څه دی؛ نو واقعاً هم نه پوهېږم او البته د بدوینې پر ویلو پر خپلو نیمګړتیاوو پرده نه اچوم. دا مو روږد شوی، چې د نورو کارونه فساد وښیو او له دې لارې پر خپلو نیمګړتیاوو پرده واچوو. په دې کتاب کې یې کښلي ول، چې په یو افریقایي هېواد کې یو متعصب ورته ویلي ول: تاسې اروپاییانو، چې اوس وننګېرله، چې د ښکېلاک ځواک کمزوری شوی او سیاسي ځواک مو د منځه تللو په حال کې دی؛ نو غواړئ مخ مو د نېکچارۍ او د الله تعالی د مخلوق د چوپړ په پرده وپوښئ.

په کار کې یې، چې نیت هر څه وي، پر موږ اغېز نه لري، څه چې اغېز لري، دا دي، پر کومه لار، چې دوی روان دي او تر شلو کلونو پورې اسلامي هېوادونو ته ښوونه وکړي او له ناپوهۍ، بېوزلۍ او رنځورۍ یې خلاص کړي؛ نو د اسلام او مسلمانۍ پر وړاندې به د راتلونکي کهول پر روحیه څه اغېز وکړي؟ راتلونکی کهول به و نه وایي، چې موږ څوارلس پېړۍ مسلمانان او د حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم د دین لارویان وو او په ناپوهۍ او بدمرغۍ کې ډوب وو، چې په پای کې د حضرت مسیح علیه السلام لارویان، د نړۍ له هغه ګوټه راغلل او و یې وژغورلو؟! نو هله به اسلام ته څه حیثیت پاتې شي؟! د رسول الله به څه ځواب ورکوو، چې ویل یې: ((طلب العلم فریضة علی کل مسلم))؛ نو زما له دې حکم سره مو څه وکړل؟

دا یوه طبیعي، اروایزه او تکویني قاعده ده، چې((الانسان رهین الاحسان))؛ یعنې انسان د نېکۍ په ګرو کې دی.

رسول الله وایي: ((من احیا ارضا مواتا فهو له))؛ یعنې چاچې مړه ځمکه راژوندۍ کړه د هماغه ده.

که څه دا قاعده یو تشریعي قانون دی او په ځمکې پورې اړه لري؛ خو په تکوینیاتو پورې هم اړه لري.

هره ډله، چې راشي او یو ملت راژوندی کړي، له نشتمنۍ او ناپوهۍ یې وژغوري؛ نو د هماغو خلکو د زړونو او ارواوو مالکان به وي. دا حالت، چې رامنځ ته شوی؛ نو په څرګنده باید د ددې ګواښ وړاندوینه وکړو، چې موږ به د راتلونکي پښت مالکان نه یو. ممکن څوک ووایي،

چې مسلمان به کله هم مسيحې نشي، په تېره که عالم هم شي؛ نو له توحيده به تثليث ته وا نه وړي.
زه وايم، ښايي همداسې وي؛ خو څرګند دي، چې که مسيحيت ته وا نه وړي؛ خو له اسلام سره به يې هم علاقه نه وي، ښايي ددې چارو ګټه د کمونستانو جېب ته ورشي. که په اسلامي هېوادونو کې په هر لامل د ځوانانو ديني علاقه – تړاو راټيټ شي؛ نو ګټه به يې کمونيزم ته ورشي.
نو له دې ګواښ سره بايد مبارزه وکړو، له دې ګواښ سره د مبارزې لار څه ده؟
لار يې دا ده؛ لکه د معمول په شان منفي رول ولوبو، چې نه! يونسکو حق نه لري، چې مسلمانانو ته ښوونه وکړي او په دې لار کې زيار وګالي او لګښتونه وکړي او نورې نړيوالې خيريه موسسې حق نه لري، په اسلامي هېوادونو کې د ملاريا يا نورې رنځورۍ له منځه يوسي. دا کارونه ورپورې اړه نه لري.
فکر وکړئ، چې دا خبره سمه ده؟ايا نړۍ به يې راسره ومني؟ ايا خپله مسلمانان به يې راسره ومني؟
ايا لار يې دا ده، چې خپله متې راونغاړو او پر سپېڅلي جهاد لاس پورې کړو او دا فريضه پخپله عملي کړو، چې البته دا لار سمه ده.
په همدې کتاب کې يې کښلي ول: "اندونيزيا"، چې ستر اسلامي هېواد دی، عمومي ښوونې پکې د يوه سپېڅلي جهاد په بڼه ګرځېدلي او لکه د مذهبي فريضې په شان عمل پرې کوي. هلته څوک چې پر څه پوهېږي، چې هره دنده ولري؛ نو دا خپله فريضه ګڼي، چې ښوونځيو ته ولاړ شي او ښوونه وکړي؛ ځکه رسمي ښوونډ ټولو ښوونځيو ته بسيا نه دي.
دا هماغه د اسلام حکم دی، چې تعليم يې پر هر چا واجب کړی، چې بېلګه يې "اندونيزيا" ده.

## د اسلام ځانګړنې

"اسلام" د الله تعالی د دين نامه ده، چې ټول پېغمبران ورته مبعوث شوي او بلنه يې ورته کړې ده. د الله تعالی د دين هر اړخيز او بشپړه څېره، د پېغمبرانو خاتم حضرت "محمد بن عبدالله" صلی الله عليه و آله وسلم خلکو ته ابلاغ کړه او نبوت پرې پای ته ورسېد او نن په همدې نامه په نړۍ کې پېژندل کېږي.
اسلامي ښوونې، چې د پېغمبرانو خاتم، خلکو ته وښوولې او داچې د الله تعالی د دين بشپړه او جامع څېره ده او داچې د تل لپاره د بشر لارښود وي؛ خپلې ځانګړې ځانګړنې لري، چې د

ختميه له پېر سره متناسبې دي. په ټول کې دې ځانگړنو نه شول کړای، په مخکېنيو پېرونو کې ـچې د بشر د ماشومتوب پېر و- وي.
دا هره ځانگړنه، د اسلام پېژندو ته يوه کچه ده. په دې کچو او مقياسونو ـچې هر يو، د اسلامي ښوونو له آرونو څخه يو آر دی- کړای شو، د اسلام څېره لاس ته راوړو، که څه مبهمه وي او هم کړای شو، تشخيص کړو، چې پلانۍ ښوونه د اسلام ده که نه.
موږ ادعا نه کړو، چې کړای شو، چې ټولې کچې دلته راټولې کړو؛ خو هڅه مو ده، چې لږ تر لږه هراړخيزه څېره يې وښيو.
هر ښوونځی او ايديولوژي، چې د بشر د ژغورنې، کمال او نېکمرغۍ کړلار لري؛ نو ځينې ارزښتونه راوړاندې کوي او د وگړي او ټولنې په کچه ((بايدونه))، ((نبايدونه))، ((شايدونه)) او ((نشايدونه)) راوړي، چې بايد داسې ووسو او هغسې و نه وسو، بايد داسې او هغسې جوړ کړو، بايد پلانی اړخ وټاکو، بايد پلاني لوري ته ولاړ شو او پلانۍ موخه وټاکو؛ د بېلگې په توگه: بايد ازاد ژوند وکړو، بايد مېړنی ووسو، بايد تل مخکې ولاړ شو، بايد پر ځان بسيا او پوره شو، بايد د قسط او عدالت پر بنسټ ټولنه جوړه کړو او بايد الله تعالی ته د نږدېدو پر لوري ولاړ شو.
خو دا "بايدونه" او "نبايدونه" د ځانگړې فلسفې پر بنسټ دي، چې مخونه ورکوي؛ يعنې که يو ښوونځی ځينې احکام راوړاندې کوي؛ نو د هستۍ، نړۍ، ټولنې او انسان په هکله پر يو ډول فلسفې او نړۍ ليد ولاړ دي او داچې هستي داسې ده، ټولنه هغسې او انسان داسې؛ نو بايد داسې او هغسې ووسو.
**نړي ليد؛** يعنې د نړۍ، انسان او ټولنې په اړه د ليدونو، تفسيرونو او شننو ټولگه، چې نړۍ داسې او يا هغسې قانون لري، هغسې مخکې ځي، پلانۍ موخه پر مخ بيايي يا يې نه بيايي، مبداء لري که نه، پای لري که نه او دې ته ورته.... او يا انسان داسې ختّه او طبيعت لري؛ د بېلگې په توگه: په ځانگړې فطرت پنځول شوی که نه، مختار او ازاد دی که مجبور، په طبيعت کې يو ټاکل شوی واقعيت دی که يو تصادفي واقعيت او يا ټولنه، پر وگړيو پر واکمن قانون سربېره، بل قانون لري که نه، پر ټولنه او تاريخ واکمن قوانين، کوم قوانين دي او دې ته ورته...
ايديولوژي د نړۍ ليد پر بنسټ اېښوول کېږي. داچې ولې بايد داسې يا هغسې ووسو، ژوند وکړو، ولاړ شو، جوړ کړو او يا شو، ددې لپاره دي، چې نړۍ يا ټولنه يا انسان داسې او هغسې دی.
د هرې ايديولوژۍ ((ولې)) په هغه نړۍ ليد کې پټه ده، چې ايديولوژي يې پر بنسټ ده او په ځرگندنه ايديولوژي د ((عملي حکمت)) له ډوله او نړۍ ليد د ((نظري حکمت)) له ډوله دی.

د عملي حکمت هر ځانګړی ډول، د ځانګړي نظري حکمت د ډول پر بنسټ دی؛ د بېلګې په توګه: د "سقراط" عملي حکمت، د هغه د ځانګړي لید پر بنسټ دی، چې له نړۍ یې لري، چې همامغه یې نظري حکمت دی.
ولې ایدیولوژۍ بېلابېلې دي او توپیر لري؟ دا (ځکه) چې نړۍ لیدونه بېلابېل او توپیر لري. ایدیولوژي د نړۍ لید تابع ده.
بلخوا نړۍلید، چې کړای شو پر نړۍ پوهنه یې هم تعبیر کړو، ولې بېلابېلې دي؟ ولې یو ښوونځی نړۍ داسې ویني او بل یې بل شان؟ یو یې داسې پېژني او بل یې هاغسې؟
ددې پوښتنې ځوابول څه اسان چار نه دی. ځینې چې دلته رارسي، بې ځنډه د ټولنیزې هډې او طبقاتي ټاکل خبره رامنځ ته کوي؛ مدعي دي، چې طبقاتي دریځ او یا ټولنیزه هډه، هر چا ته ځانګړی لید ورکوي او نړۍ لید ته یې ځانګړې سترګې ور پر سترګو کوي. له ټولنې سره د انسان اړیکه یا هغه څه چې په ټولنه کې تولید او توزیعېږي یا د تولید او توزیع د څرنګوالي او په پایله کې پخپله د انسان برخمني او بې برختوب، د انسان په اعصابو کې ځانګړی غبرګون رامنځ ته کوي او دنني حالت ته یې ځانګړې بڼه ورکوي، چې دا حالت د څیزونو په هکله فکر، ارزونه او ورمند اغېزمنوي.

## د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم د لارښوونې لوري

داچې ختمیه معجزه کتاب او د وینا، پوهې او فرهنګ له مقولو څنې ده؛ نو تلپاتې معجزه ده. د کتاب د معجزې اعجاز سوکه سوکه روښانېږي. نن زموږ د وخت خلکو ته د قرآن عظیم الشأن د اعجاز هغه هېښنده ټکي روښانه شوي، چې تېرو ته نه ول. د کتاب معجزه، اندیالان تر عوامو غوره درک کولای شي. ختمیه معجزه څکه د کتاب له ډوله شوه، چې له ختمیه پېر سره متناسبې مزایاوې ولري.

آیا دا معجزه له هغه اړخ کتاب شوه، چې ترڅنګ یې بشر له غیب شهادت ته، له نامعقوله معقول او منطق ته او له طبیعت هاخوا طبیعت ته متوجه کړي؟ آیا حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم هڅه کوي، د خلکو کنجکاوي له غیر عادي چارو، کراماتو او له سرباندې چارو نه عقلي، سولیز، علمي، طبیعي، ټولنیز او اخلاقي چارو ته متوجه کړي او د حساسیت اړخ یې له ((عجائبو او غرایبو)) څخه ((واقعیاتو او حقایقو)) ته متوجه کړي؟

نه ښایي، دا نظر سم وي. که داسې وي؛ باید ووایو: ټولو پېغمبرانو "غیبو" او حضرت محمدصلی الله علیه و آله وسلم "شهادت" ته بلنه کوله؛ نو ولې د قرآن عظیم الشأن په سل ګونو آیتونه همدې "عجایبو او غرایبو" ته څانګړي شوي دي؟

اړنګ نشته، د قرآن عظیم الشأن یو بنسټیز امتیاز دادی، چې د طبیعت او شهادت څېړنې او مطالعې ته یې رابللي یو، چې الهي آیتونه دي؛ خو د طبیعت مطالعې ته بلنه، له هر غیرطبیعي چاره، د بشر د ذهن د اړولو پر مانا نه دي. پر عکس؛ د الهي آیتونو او نښو په نامه د طبیعت مطالعې ته رابلنه، په دې مانا ده، چې له طبیعته د طبیعت هاخوا ته تېر شو. د قرآن عظیم الشأن له پلوه د "غیبو" لار، له "شهادته"، "د طبیعت د هاخوا" لار له "طبیعته" او د "معقول" لار، له "محسوسه" تېرېږي.

د حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم د کار ارزښت په دې کې دی؛ لکه څنګه چې د طبیعت، تاریخ او ټولنې مطالعې ته مو رابلي او هغه خلک چې بې له غیرطبیعي چارو، نورو چارو ته نه تسلیمېږي، عقل، منطق او پوهې ته یې تسلیموي؛ هڅه کوي، د هغو خلکو اند، چې یوازې سول او عقل مني او بې له محسوس او طبیعي چار، بل څه ته نه تسلیمېږي، له غوره او عالي منطق سره اشنا کړي.

په ټولیزه توګه، د هغې نړۍ بنسټیز امتیاز، چې دین په تېره، اسلام یې راوړاندې کوي، د هغې نړۍ په پرتله، چې محض بشري علوم او فلسفې یې راوړاندې کوي، دادی، چې د "ویلیام جیمز" د وینا له مخې، په دین کې پر توکیزو عناصرو سربېره، نور عناصر هم شته او همداراز داسې قوانین هم شته چې بشر لا نه دي پېژندلي.

قرآن عظیم الشأن نه غواړي، محسوساتو او طبیعت ته توجه، د نامحسوسو او له طبیعت هاخوا ته د توجه ځایناستی کړي. د قرآن عظیم الشأن ارزښت په دې کې دی: سره له دې چې طبیعت ته یې توجه کړې-او د قرآن عظیم الشأن د خپل تعبیر له مخې، ((شهادت))- پر غیبو ایمان یې د خپلې بلنې سرلوحه کړې، وايي:
((الم. ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لاَ رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ. الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ [1]= الم (ستر دی هغه الله تعالی، چې دا ستر کتاب یې د الفباء له ساده توررویو منځ ته راوړی) دا هغه (ستر) کتاب دی، چې شك پکې نشته او متقیانو ته سمه لار ښیي. (متقیان) هغه دي، چې پر غیبو (څه چې له حسه پټ دي) ایمان راوړي او لمونځ کوي او زموږ له ورکړې روزۍ نفقه کوي.))
نو څنګه شونې ده، قرآن عظیم الشأن په دې هڅه کې وي، چې خلک هغه څه ته له توجه وژغوري، چې پخپله د ((عجایبو او غرایبو)) له مقولو؛ یعنې معجزو څنې وي او پردې سربېره، تر سلو ډېر آیتونه یې د هماغې مقولې په هکله راوړي وي.
زه ددې جملې په مانا نه پوهېږم، چې: ((کتاب یوازېنۍ معجزه ده، چې ګروهه پرې، یوازې پر غیبي چارو ګروهنو ته ځانګړې نه ده.))
کومه ګروهه؟پردې ګروهه، چې یو کتاب دی او عالي مطالب لري او پردې ګروهه، چې معجزه ده؟ د یوه څیز پر معجزه توب، د الهي آیت او بینه په نامه ګروهه پر غیبو له ګروهې سره مساوي دی. څرنګه شونې ده، یو انسان، په یوه وخت کې هم پر غیبو ګروهن وي او هم نه وي؟
وویل شول: ((د حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم معجزه له غیربشري مقولو څنې نه ده؛ که څه یو غیر بشري چار دی.))
ددې جملې مانا هم راته مبهمه ده او دوه ډوله تفسیرېدای شي: داچې د حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم معجزه (قرآن عظیم الشأن) وحې ده او خپله خبره یې نه ده؛ نو یو غیربشري عمل دی؛ خو سره له دې چې د بشر خبره نه ده، د الله تعالی خبره ده، د بشري چارو له مقولو څنې ده او یو عادي او د بشر په لیکه کې چار دی.
لرې ده، چې مراد یې دا وي؛ ځکه په دې بڼه کې به قرآن عظیم الشأن، پر نورو اسماني کتابونو امتیاز نه لري. داچې هغه ټول کتابونه د وحې له مبداء رالېږل شوي، غیربشري چار نه دی؛ خو داچې خارق العاده اړخ نه لري، له غیربشري مقولو څنې نه دي؛ لکه څنګه چې څنې خبرې،

[1]. (بقره/۱-۳)

د ((قدسي احاديثو)) په نامه يادېږي او کټ مټ، د الله تعالی خبرې دي، چې وحې او الهام شوي؛ خو معجزه او د غيربشري چارو له مقولو څخه نه دي.
د نورو اسماني کتابو او قدسي احاديثو په پرتله د قرآن عظيم الشأن امتياز دادی، چې هم غيربشري عمل؛ يعنې وحي ده او هم له غيربشري مقولو؛ يعنې د اعجاز تر بريده او د بشر له څواکه اوچت چار دی؛ قرآن عظيم الشأن وايي:
((قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَى أَن يَأْتُواْ بِمِثْلِ هَـذَا الْقرآن عظيم الشأن لاَ يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيراً [1]= ووايه: ((که (ټول) انسانان او پېريان راټول شي، چې د قرآن په شان بل قرآن راوړي؛ نو راوړای نشي، که (په دې کار کې) څومره يو د بل لا سنيوی وکړي.))
ددې غونډلې-جملې بل تفسير دادی، چې د نورو پېغمبرانو په پرتله، چې معجزې يې بشري چار نه و، د حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم معجزه، له بشري مقولو څخه ده؛ څکه ډول يې وينا، پوهه او فرهنگ دی؛ خو غير بشري چار دی؛ يعنې د مافوق بشري چار تر بريده دی، له غيبو او د طبيعت له هاخوا څواکه سرچينه اخلي. که مراد يې دا وي او بايد هم همدا وي؛ نو دا پخپله د غيبو، له طبيعت هاخوا، خارق العاده او عجايبو او غرايبو چارو يو ډول منښته ده؛ نو ولې له پيله، له معجزې او خارق العاده چارو اخستنه مو د هغو اخستنو په څېر وي، چې له کږنو انگېرنو او نامعقولو چارو يې اخلو؟ آيا موږ بايد له پيله، د معجزې او خارق العاده چارو حساب، له کږنو انگېرنو او اوهامو جلا کړو؟ چې کم خبره وگړي، له دې اخستنې هغه اخستنه و نه کړي، چې موږ يې هم نه غواړو؟

[1]. (اسراء/۸۸)

# قرآن عظیم الشأن

قرآن عظیم الشأن زموږ اسماني کتاب او زموږ د پیغمبر تلپاتې معجزه ده. دا کتاب د درویشت کلونو په ترخ کې، سوکه سوکه د الله تعالی رسول ته راغلی دی. قرآن عظیم الشأن، چې هم د رسول الله کتاب او هم یې د اعجاز ښکاروندوی دی، د حضرت موسی علیه السلام تر کونتۍ او د حضرت عیسی علیه السلام تر ساه اچولو، سل گرایه ستر اغېز درلود. رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم، د قرآن عظیم الشأن آیتونه، خلکو ته لوستل او د قرآن عظیم الشأن د آیتونو ښکلا او جذابیت به وگړي، اسلام ته راکښل، چې په دې هکله، تاریخ له کیسو ډک دی.
قرآن عظیم الشأن ۱۱۴ سورتونه لري. مسلمانانو له صدر اسلام نه تر اوسه قرآن عظیم الشأن ته ځانگړې توجه درلوده، چې قرآن عظیم الشأن ته یې د لېوالتیا نښه ده. قرآن عظیم الشأن د رسول الله پر ژوند "د وحې کاتبانو" لیکه او پردې سربېره، ډېری مسلمانانو؛ که ښځه وه که نر؛ که ماشوم و که بوډا، د ټول قرآن عظیم الشأن او یا د قرآن عظیم الشأن د یوې برخې له حفظ سره هېښنده مینه درلوده؛ قرآن عظیم الشأن یې په لمانځه کې وایه او بې له لمانځه، د قرآن عظیم الشأن لوستل یې ثواب گاڼه او له لوستو یې خوند اخسته او اروایي هوساینې ته رسېدل.

## قرآن عظیم الشأن ته د مسلمانانو ستره پاملرنه

مسلمانانو له خپل اسماني کتاب سره د مینې له لامل،ه په هر وخت او ځای کې، د خپلو امکاناتو په پامنیوي قرآن عظیم الشأن ته کارونه کړي؛ لکه حفظول، له استادانو یې د قرآئت او تجوید زده کړه، د ماناوو تفسیر، د لغتونو په کتابو کې یې د لغتونو شرح او توضیح، ان د قرآن عظیم الشأن ټکي یې هم شمېرلي دي؛ په اخلاقي، حقوقي، ټولنیزو، فلسفي، عرفاني او علمي چارو کې، د قرآن عظیم الشأن له آیتونو گټنه، د قرآن عظیم الشأن آیتونه په خورا ښکلي لیکونو لیکل شوي او...

## د قرآن عظیم الشأن اعجاز

قرآن عظیم الشأن د انبیاوو د خاتم تلپاتې معجزه ده. د قرآن عظیم الشأن راتگ، په مکه کې په وړوکیو سورتونو پیل شو او له هماغه پیله به رسول الله ((تحدي)) پرې کوله؛ یعنې ادعا یې وکړه، چې قرآن عظیم الشأن زما چار نه دی او د الله تعالی چار دی او داسې چار نه زه کړای شم او نه بل بشر او که باور نه کوئ؛ نو له چا چې مرسته غواړئ، مرسته ترې وغواړئ او که کړای شئ؛ په څېر یې راوړئ؛ خو دومره پوه شئ، چې که له انسانانو او پېریانو هم مرسته وغواړئ؛ نو ددې کار وسه به و نه لرئ. د رسول الله مخالفانو نه پخوا او نه اوس-چې اوس ترې

څه د پاسه څوارلس پېړۍ تېرېږي - و نه شول کړای ځواب يې ورکړي او د هغه مهال د مخالفانو روستۍ خبره او ځواب داو، چې قرآن عظيم الشأن ((کوډې)) دي.
پر قرآن عظيم الشأن د ((کوډو)) تور لګول، پخپله د قرآن عظيم الشأن د سرباندې توب او د قرآن عظيم الشأن پر وړاندې د عجز ښوونه ده.
د رسول الله مخالفانو هرې خوا او څيز ته لاس واچاوه، چې کمزوری يې کړي او يوازېنی کار، چې لاس يې ور وا نه چاوه-ځکه سل په سلو کې نهيلي ول-هماغه ول، چې رسول الله يې پخپله وړانديز کړی و او قرآن عظيم الشأن هم په ډاګه ويلي؛ يعنې لږ تر لږه د قرآن عظيم الشأن د آيت په څېر يو آيت راوړل.

## د قرآن عظيم الشأن د اعجاز اړخونه

قرآن عظيم الشأن له بېلابېلو اړخونو معجزه ده؛ يعنې فوق بشري دی. په ټوليزه توګه، د قرآن عظيم الشأن اعجاز له دوو اړخونو دی: لفظي او مانيز.
د قرآن عظيم الشأن لفظي اعجاز، د ښکلا په مقولې پورې اړوند دی او مانيز اعجاز يې په علمي مقولې پورې اړوند دی؛ نو د قرآن عظيم الشأن اعجاز، يو د ښکلا او هنري پلوه دی او بل له انديز او علمي اړخه. دا دواړه اړخونه په تېره، علمي اړخ يې څو اړخونه لري.

### د قرآن عظيم الشأن الفاظ

د قرآن عظيم الشأن سبک، نه شعر دی نه نثر؛ شعر نه دی؛ ځکه وزن او قافيه نه لري او پردې سربېره، شعر له يو ډول تخيل، چې شاعرانه تخيل نومېږي، سره يو ځای دی. د شعر خته له مبالغې او اغراق سره يو ځای ده، چې يو ډول دروغ دي. په قرآن عظيم الشأن کې شعري تخيلات او خيالي تشبيه ګانې نشته او په عين حال کې، معمولي نثر هم نه دی؛ ځکه له يو ډول انسجام، شرنګ او موسيقۍ برخمن دی، چې تر اوسه په يوه نثر کې هم نه دی ليدل شوی.
مسلمانانو قرآن عظيم الشأن، په ځانګړي غږ لوسته او لولي يې. په ديني لارښوونو کې راغلي، چې قرآن عظيم الشأن په خوږ غږ ولولئ. امامانو قرآن عظيم الشأن دومره په خوږ غږ لوسته چې په کوڅه کې خلک ورته تمېدل.
د قرآن عظيم الشأن هومره يو نثر هم آهنګ منونکی نه دی؛ هغه هم هغه ځانګړي ترنمونه، چې له روحاني عوالمو سره همغږي وي؛ نه د لهو و لعب له غونډو سره. د راډيو تر برسېرنې روسته، يوې روحاني وينا هم و نه شول کړای، د ښکلا او روحاني ترنمونو له پلوه له قرآن

عظیم الشأن سره برابري وکړي. پر اسلامي هېوادو سربېره، غیراسلامي هېوادنو هم د ښکلا او ترنم له پلوه، قرآن عظیم الشأن پخپلو رادویویي خپرونو کې نغاړلی دی.
ډېری ښکلې خبرې، په یو وخت پورې ځانګړې وي او د بل وخت له خوند سره سمون نه خوري او یا لږ تر لږه داسې وي، چې د یوه ځانګړي ملت له ذایقو سره اړخ لګوي؛ خو د قرآن عظیم الشأن ښکلا؛ وخت، توکم او ځانګړي فرهنګ ته ځانګړې نه ده.
څوک چې د قرآن عظیم الشأن له ژبې سره اشنا کېږي؛ نو د خپل خوند مطابق به یې موندلی وي، څومره چې وخت تېرېږي او بېلابېل ملتونه، له قرآن عظیم الشأن سره اشنا کېږي؛ نو تر پخوا ډېر، د قرآن عظیم الشأن ښکلا ته راکښل کېږي.
په دې څه له پاسه څوارلسو پېړیو کې یهودو، مسیحیانو او د ځینو نورو ادیانو لارویان، د قرآن عظیم الشأن د مقام راټیټولو ته خورا غورځې پورځې کړې؛ کله وایي: په قرآن عظیم الشأن کې اړونه شوې، کله د قرآن عظیم الشأن د کیسو په هکله شکونه اچوي او څومره چې یې له لاسه شوي او کېږي، په بېلابېلو بڼو، له قرآن عظیم الشأن سره دښمني کوي؛ خو کله یې هم د قرآن عظیم الشأن سیالۍ ته را و نشول دانګلای، چې لږ تر لږه، د قرآن عظیم الشأن د سورت یا آیت په څېر راوړي او نړیوالو ته یې راوړاندې کړي.
همدا راز د اسلام په تاریخ کې خورا ډلې راښکاره شوې، چې په څرګندنه ((زنادقه)) او ((ملاحده)) نومېدل. دې ډلو؛ په بېلابېلو ډولونو، په ټولیزه توګه د دین پرخلاف او په تېره، د قرآن عظیم الشأن پرخلاف خبرې کړې او په دوی کې ځینې په عربي ژبه کې د وینا څښتنان هم ګڼل کېږي او احیاناً، له قرآن عظیم الشأن سره منازعې ته هم راپاڅېدلي؛ خو څه یې وکړل؟ځان یې سپک او د قرآن عظیم الشأن ستروالی یې څرګند کړ.
په دې هکله، تاریخ د "ابن راوندي"، "ابوالعلاء معري" او " ابو الطیب متنبي" خورا کیسې راوړي؛ دوی هغه کسان ول، چې غوښتل یې جوته کړي، قرآن عظیم الشأن بشري چار دی.
ډېری کسان پیدا شول او د پیغمبرۍ ادعا یې وکړه، ویناوې یې وکړې او په خپل آند یې له قرآن عظیم الشأن سره ورته وګڼلې او ادعا یې وکړه، چې دا خبرې هم د قرآن عظیم الشأن په څېر د الله تعالی له لوري دي.
"طلیحه"، "مسلیمه" او "سجاح" له دې ډلې دي، چې هم په بله بڼه یې د قرآن عظیم الشأن ستروالی او خپل سپکوالی جوت کړ.
هېښنده خو داده، چې پخپله د رسول الله وینا، چې قرآن عظیم الشأن یې په ژبه جاري شوی، له قرآن عظیم الشأن سره توپیر لري. د خطبو، دعا او لنډو ویناوو په بڼه، له رسول الله خورا ویناوې راپاتې دي، چې د فصاحت په هسک پوړ کې دي؛ خو هېڅکله د قرآن عظیم الشأن

رنگ و بوی نه لري. دا پخپله ښيي، چې قرآن عظيم الشأن او د رسول الله فکري ويناوې، له دوو بېلابېلو سرچينو دي.
حضرت علي کرم الله وجهه، له لس کلنۍ، له قرآن عظيم الشأن سره اشنا دی؛ يعنې د علي کرم الله وجهه عمر، د لسو کلونو په شاوخوا کې و، چې د قرآن عظيم الشأن لومړی آيت رسول الله ته راغی او علي کرم الله وجهه به هم د هغه ترې په څېر و، چې رڼو اوبو ته رسېدلی وي او د عمر تر پايه، د رسول الله د وحې د کاتبانو په سر کې و. علي کرم الله وجهه د قرآن عظيم الشأن حافظ و او تل يې قرآن عظيم الشأن لوسته؛ د شپې يې چې عبادت کاوه؛ نو د قرآن عظيم الشأن پر آيتونو خوښ و؛ نو که چېرې، د قرآن عظيم الشأن سبک، د تقليد وړ و؛ نو علي کرم الله وجهه به خپل هغه بې ساری وړتيا، چې په فصاحت او بلاغت کې يې درلود؛ خپلې ويناوې به يې د قرآن عظيم الشأن د آيتونو په بڼه کولې؛ خو وينو، چې د علي کرم الله وجهه او قرآن عظيم الشأن سبک بېخي توپير لري.
د قرآن عظيم الشأن ټول نوموتي موضوعات مانيز دي؛ د توحيد، نبوت، معاد، اخلاق، احکام، نصيحتونه او کيسې يې بيان کړي؛ خو سره له دې، د ښکلا په لوړه کچه کې دي.
په قرآن عظيم الشأن کې د توريو هندسه بې سارې ده؛ څوک يې د يوه توري په مخکې کېدو او شاته کېدو وسمن نه ول، چې ښکلا يې ټکنۍ کړي او نه څوک وسمن ول، چې په څېر يې راوړي. له دې اړخه، قرآن عظيم الشأن، د يوې ودانۍ په څېر دی، چې نه يې څوک بدلولای شي، چې ښکلی يې کړي او نه کړای شي ترې غوره او يا يې په څېر جوړ کړي.
د قرآن عظيم الشأن سبک او اسلوب، نه مخينه لري او نه لاحقه؛ يعنې نه پخوا چا په دې سبک وينا کړې او نه به يې روسته وکړي، سره له دې چې قرآن عظيم الشأن سيالۍ ته راغوښتي دي. د قرآن عظيم الشأن تحدي او سيال غوښتنه اوس هم؛ لکه د غره، پر خپل ځای ده او د تل لپاره به وي؛ نن هم مؤمن مسلمانان، نړيوال، له قرآن عظيم الشأن سره سيالۍ ته رابلي؛ ځکه ډاډمن دي، څوک يې سيالي نشي کړای.

### د قرآن عظيم الشأن مانا

د مانا له پلوه د قرآن عظيم الشأن اعجاز پراخې وينې او يا لږ تر لږه د يو ستر کتاب ليکنې ته اړتيا لري؛ خو په لنډه ورته اشاره کوو.
په سريزه کې بايد پوه شو، چې قرآن عظيم الشأن څرنګه کتاب دی؟ آيا فلسفي، علمي، ادبي، تاريخي او که يوازې هنري اثر دی؟

ځواب دادی، چې قرآن عظیم الشأن یو له دوی ځینې هم نه دی؛ لکه څنګه چې رسول الله او عمومو پېغمبرانو، بېل ټیپ درلود؛ نه فیلسوفان دي، نه عالمان دي، نه ادیبان دي، نه تاریخپوهان دي او نه صنعتګر دي؛ خو سره له دې، ددې ټولو مزایاوو او پرې اضافه یو څه لري؛ قرآن عظیم الشأن هم اسماني کتاب دی؛ نه فلسفه ده، نه علم، نه تاریخ، نه ادبیات او نه هنري اثر دی؛ خو سره له دې، دا ټولې مزایاوې لري او د دوی تر څنګ اضافه مزایاوې هم لري.
قرآن عظیم الشأن د بشر د لارښوونې کتاب دی؛ په واقع کې د ((انسان کتاب)) دی؛ خو انسان هغسې، چې الله تعالی پنځولی او پېغمبران راغلي، چې انسان ته خپل ځان وروپېژني او د نېکمرغۍ لار وروښيي او داچې د انسان کتاب دی؛ نو د الله تعالی کتاب هم دی؛ ځکه انسان هماغه موجود دی، چې ددې نړۍ تر جوړېدو د مخه يې پنځول پیل شوی او ددې نړۍ ما بعد او راروسته ته به منتهي کيږي؛ يعنې د قرآن عظیم الشأن له پلوه، په انسان کې الهي روح ور پو شوی او که وغواړي، که نه، ستنېدل يې د خپل الله تعالی پر لوري دي؛ نو دادي، چې د الله تعالی پېژندل او د انسان پېژندل، يو له بله بېل نه دي؛ انسان څو ځان نه وي پېژندلای، خپل الله تعالیم سم نشي پېژندلای، بلخوا يوازې له الله پېژندنې سره يو ځای، پر حقيقي واقعيت د انسان سر خلاصېږي.
انسان د پېغمبرانو په ښوونځي کې-چې قرآن عظیم الشأن يې تر ټولو بشپړ بيان دی_ له هغه انسان سره خورا توپير لري، چې بشر يې په علومو پېژني؛ يعنې ددې انسان وجود خورا پراخه دی. کوم انسان، چې بشر په علومو پېژني د (زوکړې- مړينې) په قوس کې دی او تر قوس مخکې او شاته تیارې دي او د بشري علومو له پلوه مجهول دی؛ خو د قرآن عظیم الشأن انسان، دا قوس نه لري، له بلې نړۍ راغلی، بايد ځان د نړۍ په ښوونځي کې پوره کړي او د بلې نړۍ راتلونکې /ګانده يې په دې ښوونځي کې په ناغېړۍ، هڅې او کوښښ پورې اړوند دی.
د قرآن عظیم الشأن انسان بايد پوه شي، چې:
له کومه راغلی؟
چېرې به ځي؟
چېرې دی؟
څرنګه بايد وي؟
څه بايد وکړي؟
د قرآن عظیم الشأن انسان، چې دې پينځو پوښتنو ته عملاً سم ځواب ورکړ؛ نو ددې نړۍ او د راتلونکې نړۍ نېکمرغي يې تضمين ده.

داچې دا نسان پوه شي، چې له کومه راغلی او له کومې سرچينې پيل شوی؛ بايد خپل خدای وپېژني او ددې لپاره، چې خپل ځښتن وپېژني، بايد انسان او نړۍ د "آفاقي" او "انفسي" آيتونو په نامه مطالعه کړي او د هستۍ او وجود په تل کې غوپه ووهي.
داچې پوه شي، چېرې به ځي؛ نو بايد پر هغه څه گروهن شي، پوهه پيدا کړي او توجه ورته وکړي، چې قرآن عظيم الشأن ورته ((الله تعالی ته ستنېدل))؛ يعنې "معاد" او "د قيامت پر ورځ د مړيو راپاڅېدل" وايي. د قيامت وېره، همېشني نعمتونه او بالاخره د هغو منازلو او پړاوونو په هکله، په گرېوان کې سر ښکته کړي، چې ورته سترگې پر لار دي او لکه څنگه چې الله تعالی د موجوداتو پيل گڼي، د موجوداتو پای يې هم وگڼي.
داچې پوه شي چېرې دی؛ بايد د نړۍ نظامونه او دودونه وپېژني او په نورو موجوداتو کې د انسان مقام او موقعيت درک کړي او ځان په نورو موجوداتو کې بيا ومومي.
داچې پوه شي، څرنگه بايد انساني خويونه وپېژني او له مخې يې ځان جوړ کړي.
داچې پوه شي څه بايد وکړي؛ بايد وگړيزو او ټولنيزو احکامو او قوانينو ته غاړه کېږدي.
پردې ټولو سربېره، د قرآن عظيم الشأن انسان بايد پر ځينې نامحسوسو او پخپله د قرآن عظيم الشأن په تعبير پر ((غيبو)) او د هستۍ په نظام کې، د الهي ارادې او مظاهرو په نامه ايمان ولري او هم بايد پوه شي، چې پاک الله تعالی په يوه وخت کې هم بشر، چې اسماني لارښوونې ته اړين دی، سرايله يې نه دی پرېښی او ځينې ټاکل شوي وگړي، چې د الله تعالی استازي او د بشر لارښودان ول، د الله تعالی له لوري، د الهي پېغام اورولو ته مبعوث شوي ول.
د قرآن عظيم الشأن انسان، طبيعت ته د "آيت" او تاريخ ته د يوه واقعي ازمېښتځي په نامه گوري، چې د پېغمبرانو د ښوونو سموالی ښيي.
هو! د انسان قرآن عظيم الشأن داسې دی او کوم مسايل، چې په قرآن عظيم الشأن کې انسان ته نوموتي دي، پر هغو نورو چارو سربېره دي.

## قرآني موضوعات

په قرآن عظيم الشأن کې خورا موضوعات نوموتي دي؛ خو په لنډو يې را اخلو:
۱- د الله تعالی، ذات، صفات او ايکي يو والی يې او هغه څه چې بايد الله تعالی ترې پاک وگڼو او هغه څه چې الله تعالی پرې ستايل کېږي (سلبيه او ثبوتيه صفات).
۲-معاد، قيامت او د مړيو راژوندي کېدل، د مړينې او قيامت ترمنځ پړاوونه (برزخ).
۳-پرښتې.

٤-پیغمبران یا هغه انسانان، چې پخپل ضمیر کې الهي وحې تر لاسه کوي او نورو انسانانو ته یې اوروي.
٥_ الله تعالی، معاد، پرښتو، پیغمبرانو او اسماني کتابو ته لېوالتیا.
٦-د اسمانو، ځمکې، غرونو، سیندونو، بوټو، څارویو، وریځ، باد، باران، رڼا او تالندې پنځول.
٧-د ایکي یو الله تعالی لمانځنې ته بلنه او په لمانځنه کې یې اخلاص او په عبادت کې کوم څوک یا کوم څیز ورسره نه شریکول. د"غیرالله" له نمانځنې په کلکه ژغورنه.
٨- په نړۍ کې د الله تعالی د نعمتونه یادونه.
٩-د هغه تلپاتې نړۍ نعمتونه نېکانو ته دي او سخت او احیاناً همېشني عذابونه یې بدچارو ته دي.
١٠- د الله تعالی، قیامت، پیغمبرانو او غیبو په هکله استدلالونه او ددې استدلالونو ترڅنګ غیبي خبرې.
١١- د انساني ازمېښتځي او لابراتوار په نامه تاریخ او کیسې، چې د پیغمبرانو د بلنې رښتینولي روښانوي او د هغو وګړیو ښه عاقبت، چې د انبیاوو پر لار تللي او د هغو وګړیو ناوړه عاقبت، چې پیغمبران یې دروغجن ګڼل.
١٢-تقوا او د نفس تزکیه.
١٣- د اماره نفس خطرونو او وسوسو ته پام کول.
١٤-وګړیز ښه خویونه؛ لکه: مړانه، استقامت، صبر، عدالت، احسان، مینه، د الله تعالی یاد، له الله تعالی سره مینه، له الله تعالی مننه، له الله تعالی وېره، پر الله تعالی توکل، د الله تعالی په خوښه خوښي او احکامو ته یې غاړه ایښوول، تعقل او تفکر، پوهه، په تقوا د زړه رڼا، رښتینولي او امانت.
١٥-ټولنیز خویونه؛ لکه: یووالی، پر حق تواصي (متقابله سپارښتنه)، پر زغم سپارښتنه، په تقوا او ښه چارو کې د نورو وګړیو لاسنیوی، پر نېکیو امر او له بدیو منع او د الله تعالی په لار کې په مال او ځان جهاد.
١٦-احکام؛ لکه لمونځ، روژه، زکات، خمس، حج، جهاد، نذر، یمین، بیع، ګرو، اجاره، هبه، نکاح، د ښځې او مېړه حقوق، د مورو‌پلار او اولاد حقوق، طلاق، لِعان، ظهار، ارث، قصاص، حدود، دَین، قضا، شهادت، قسم، شتمني، مالکیت، حکومت، شورا، د بېوزلیو حق او د ټولنې حق.
١٧_د رسول الله د درویشت کلن بعثت پېښې.
١٨-د رسول الله خویونه او ورسره دښمني.

۱۹_په ټولو وختونو کې د مؤمنانو، کافرانو او منافقانو ټوليز توصيف.
۲۰_د بعثت پېر د منافقانو، مؤمنانو او کافرانو ځانګړنې.
۲۱_بې له پرښتو، پېريانو او شيطانانو، نور په سترګو نه ليدل کېدوني موجودات.
۲۲- د نړۍ د موجوداتو تسبيح ويل او داچې پخپله له پنځګر يو ډول اګاهي لري او ترې خبر دي.
۲۳-پخپله د قرآن عظيم الشأن توصيف. (د پنځوسو په شاوخوا کې)
۲٤-نړۍ او د نړۍ دودونه، د دنيوي ژوند لنډمهالي او داچې انسان ته نبايد کمال مطلوب او روستۍ موخه شي او داچې الله تعالی، آخرت او د همېشنۍ نړۍ ژوند، ددې وړتيا لري، چې انسان ته مطلوب کمال شي.
۲۵-د انبياوو معجزې او خارق العاده چارې.
۲٦_د تېرو اسماني کتابونو تاييد.

## د ماناوو پراخي

څه چې وويل شول، هغه څه ته ځغلنده کتنه وه، چې په قرآن عظيم الشأن کې راغلي ول، ان ادعا هم نه شو کړای، چې پورته ويل شوي مطالب به ځلغندې کتنې ته هم بسيا وي.
که د انسان، الله تعالی، نړۍ او د انسان د دندې په هکله همدا ډولاډوله موضوعات هم په پام کې ونيسو او له هر بشري کتاب سره يې پرتله کړو؛ نو و به ګورو، چې يو کتاب هم له قرآن عظيم الشأن سره پرتلنوړ نه دی، په تېره، ددې خبرې په پامنيوي، چې قرآن عظيم الشأن پر داسې کس نازل شوی و، چې ((اُمي)) او نالوستی و او د يوه انديال او عالم له افکارو سره اشنا هم نه و او بيا هم ددې خبرې په پامنيوي، چې داسې کس په خورا جاهلي چاپېريال کې راښکاره شو، چې وګړي يې له تمدن او فرهنګ سره پردي ول.
قرآن عظيم الشأن پراخه ماناوې او مطالب راوړل، چې بيا ټولو ته د الهام سرچينه شوه.
ناشونې ده، چې يو وګړی که څومره هم نابغه وي، وکړای شي له ځانه داسې ماناوې او مطالب راوړي او د نړۍ د انديالانو او پوهانو پام ځان ته راواړوي.

## الله سبحانه و تعالی په قرآن عظيم الشأن کې

له پورتنيو موضوعاتو يوازې ((الله تعالی او له نړۍ او انسان سره يې اړيکه)) روښانوو.

که مور یې ورته یوازې ددې مسلې د مطرحولو ځرنګوالی په پام کې ونیسو او له بشري اندونو سره یې پرتله کړو؛ نو د قرآن عظیم الشأن سرباندي او معجزه توب به راروښانه شي.
قرآن عظیم الشأن، الله تعالی توصیف کړی او پخپل توصیف کې یې له یوه اړخه تنزیه کړی؛ یعنې هغه صفات یې ترې لرې کړي، چې ور یې نه دي او له هغو یې سوتره او پاک ګڼلی دی. بلخوا د کمال صفتونه او "اسماء حسنی" یې الله تعالی ته جوت کړي دي. د پینځلسو په شاوخوا کې آیتونه، د الله تعالی د تنزیه په هکله راغلي او د پنځوسو په شاوخوا کې آیتونه د علیا، اسماء حسنی او د الله تعالی په توصیف کې راغلي دي.
قرآن عظیم الشأن پخپلو دې توصیفاتو کې دومره دقیق دی، چې خورا ستر الهي علماء یې حیران کړي، چې دا پخپله د یوه ((اُمي)) نالوستي روښانه معجزه ده.
قرآن عظیم الشأن د الله پېژندنې د لارې د راوړاندې کولو لپاره، له ټولو شته لارو ګټه کړې ده: د "آفاقي" او "انفسي" آیتونو د مطالعې لار، د نفس د تزکیې او تصفیې لار او په ټولیزه توګه، په وجود او هستۍ کې تفکر او تعقل.
د سترو اسلامي فیلسوفانو د منبنتې له مخې، خپل خورا ټینګ برهانونه یې له قرآن عظیم الشأنه په الهام اخستي دي.
قرآن عظیم الشأن له نړۍ او مخلوقاتو سره د الله تعالی اړیکه پر توحید ایښې ده؛ یعنې الله تعالی پخپل فاعلیت او اراده کې سیال نه لري؛ ټولې ارادې او اختیارونه د الله تعالی په حکم او "الهي قضاو قدر" دي.

## له الله تعالی سره د انسان تړاو

قرآن عظیم الشأن له الله تعالی سره د انسان د تړاو په هکله تر ټولو ښکلې وینا کړې ده. د فیلسوفانو د خدای پر خلاف، د قرآن عظیم الشأن الله یو وچ، بې ساه او له بشره پردی موجود نه دی. د قرآن عظیم الشأن الله تعالی انسان ته د ورمېږ له رګه نږدې دی، له انسان سره راکړه ورکړه لري، ورسره متقابلې خوشحالي لري او ځان ته یې راکاږي او یادول یې د زړه ټکور دی: ((الَّذِينَ آمَنُواْ وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللّهِ أَلاَ بِذِكْرِ اللّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ [1]= همدغسې خلک هغوی دي، چې ایمان یې راوړی او زړونه یې د الله په یاد ډاډه (او هوسا) دي؛ خبر وسئ! یوازې د الله په یادولو (د مؤمنانو) زړونه ډاډ مومي.))

[1] (رعد/۲۸)

بشر ورسره انس او الفت لري؛ بلکې ټول څیزونه یې غواړي او یادوي یې. د هستۍ ټول موجودات یې تسبیح وایي: ((تُسَبِّحُ لَهُ السَّمَاوَاتُ السَّبْعُ وَالأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلاَّ يُسَبِّحُ بِحَمْدَهِ وَلَـكِن لاَّ تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ إِنَّهُ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا [1]= اوه گوني اسمانونه او ځمکه او څه چې د دوی په منځ کې دي، ټول د الله تعالی پاکي وايي او هېڅ څیز نشته چې پاکي او ستاینه یې و نه وایي؛ خو تاسې د هغو په تسبیح نه پوهېږئ، په رښتیا، هغه زغمونکی (او) ښه بښونکی دی.))

د فیلسوفانو خدای، چې یوازې یې ((لومړی محرک)) یا ((واجب الوجود)) گڼي او بس، له بشره پردی موجود، چې یوازې یې پنځولی او دې نړۍ ته یې راوړی؛ خو د قرآن عظیم الشأن الله تعالی ((مطلوب)) دی، بشر پرې زړه تړي، بشر سربښندنې ته اړ باسي او کېدای شي، بشر د شپې خوب او د ورځې هوساینه واخلي؛ ځکه د سرباندې سپېڅلي اند په بنه اوړي.

اسلامي فیلسوفانو، له قرآن عظیم الشأن سره په اشنایۍ او الهیاتو ته د قرآني مفاهیمو په رادننه کولو یې تر ټولو هسکې څوکې ته ورسول.

آیا شونې ده، یو ((اُمي)) نالوستی له ځانه دومره په الهیاتو کې مخکې ولاړ شي، چې د "ارسطو" او "افلاطون" په څېر له فیلسوفان لږ تر لږه زر کاله مخکې وي؟!

## قرآن عظیم الشأن، تورات او انجیل

قرآن عظیم الشأن راغی او تورات او انجیل یې تایید کړل؛ خو و یې ویل، چې په دې کتابو کې اړونه شوې او د بشر خاین لاس پکې وهل شوی دی. قرآن عظیم الشأن په الهیاتو او د پېغمبرانو په کیسو کې ددې دوو کتابونو غلطۍ سمې کړې.

قرآن عظیم الشأن، الله تعالی له غیر نیوو او پیغمبران له ناروا تورونو پاک وگڼل، چې دا پخپله د قرآن عظیم الشأن پر حقانیت ستر دلیل دی.

### تاریخونه او کیسې

قرآن عظیم الشأن داسې کیسې او تاریخونه راوړي، چې د هغه مهال خلک ان پخپله رسول الله هم ترې خبر نه و:

[1]. (اسراء/٤٤)

((تِلْكَ مِنْ أَنبَاء الْغَيْبِ نُوحِيهَا إِلَيْكَ مَا كُنتَ تَعْلَمُهَا أَنتَ وَلاَ قَوْمُكَ مِن قَبْلِ هَـذَا فَاصْبِرْ إِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ [1]=دا هغه پټې غتمې خبرې دي، چې موږ يې تا ته وحې كوو، تردې د مخه نه ته او نه ستا قوم پرې پوهېده؛ نو څكه صبركوه؛ بېشكه ښه پايله د متقيانو ده.))
او په ټولو عربو كې يو هم ادعا و نه كړه، چې له دې كيسو خبر و. قرآن عظيم الشأن په دې كيسو كې له تورات او انجيله لاروي و نه كړه؛ بلكې اصلاح يې كړل. د "ثمود" او "سبا" قوم په هكله، د ننيو تاريخپوهانو څېړنو، د قرآن عظيم الشأن نظر تاييد كړى دى.

## قرآن عظيم الشأن او له ګاندې خبر وركول

قرآن عظيم الشأن "روم" ته د ايران د ماتې وركولو وړاندوينه كړې وه او همداراز؛ په كلكه يې ويلي ول، چې هغه به ((ابتر)) او بې كهوله وي، چې رسول الله ته ((ابتر)) وايي او په پايله كې يې څوځات سوكه سوكه له منځه ولاړ؛ خو د رسول الله كهول ورځ پر ورځ په ډېرېدو دى.
دا ټول ددې كتاب اعجاز ښيي. قرآن عظيم الشأن نورې علمي او مانيزې معجزې هم لري، چې په فلسفي، تاريخي او طبيعي علومو پورې اړوند دي.

# قرآن عظيم الشأن خپل ځان رامعرفي كړى دى

* ((ذَلِكَ الْكِتَابُ لاَ رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ [2]= دا هغه (ستر) كتاب دى، چې شك پكې نشته او متقيانو ته سمه لار ښيي.))
* ((الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنزَلَ عَلَى عَبْدِهِ الْكِتَابَ وَلَمْ يَجْعَل لَّهُ عِوَجَا [3]= ځانګړې ستاينه د هغه الله ده، چې دا(اسماني)كتاب يې پر خپل (غوره) بنده نازل كړ او هېڅ ډول كږلېچ يې پكې پرېنښود؛))
* ((أَفَلاَ يَتَدَبَّرُونَ الْقرآن عظيم الشأن وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ اخْتِلاَفًا كَثِيراً [4]= ايا دوى د قرآن د ماناوو په اړه نه ځير كېږي؟! كه دا بې له ((الله)) د بل چا له لوري واى؛ نو هرومرو به يې ډېر اختلافات پكې موندلاى.))

---

[1]. (هود/٤٩)
[2]. (بقره/٢)
[3]. (كهف/١)
[4]. (نساء/٨٢)

* ((لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ تَنزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ [1]= چې باطل پرې نه مخامخ راتلای شي او نه له شا(ځکه دا) د حکیم ستایل شوي (الله تعالی) له لوري رالېږل شوی دی.))
*((وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِي كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيدًا عَلَى هَـؤُلاء وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ [2] =او (دریادکړه) پر هغه ورځ، چې موږ په هر امت کې پخپله د هغوی له منځه پر دوی یو شاهد راپاځو او تا پرې گواه کړو او موږ دا کتاب پر تا نازل کړی، چې د ټولو څیزونو څرگندوونکی او مسلمانانو ته لارښود او رحمت او زېری دی.))
* ((وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي الأَرْضِ وَلاَ طَائِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلا أُمَمٌ أَمْثَالُكُم مَّا فَرَّطْنَا فِي الكِتَابِ مِن شَيْءٍ ثُمَّ إِلَى رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ [3] =او په ځمکه کې هر خځنده او په هوا کې په وزرونو الوتونکي، ستاسې په څېر خپلونه دي. موږ په کتاب (لوح محفوظ) کې هېڅ شی نه دی پرېښی، بیا به (ټول) یوازې د خپل پالونکي لوري ته ورټول کړای شي.))
* شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيَ أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِّنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَن كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ يُرِيدُ اللّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلاَ يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ وَلِتُكْمِلُواْ الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُواْ اللّهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ [4]= رمضان هغه میاشت ده، چې هغه قرآن پکې نازل شوی، چې خلکو ته لارښود او د سمې لارې نښې او د حق او باطل توپیرونکی دی؛ نو که له تاسې چا دا میاشت ولیده؛ نو و دې یې نیسي او که څوك ناجوړه یا مسا فر وي؛ نو په نورو ورځو کې دې یې ونیسي. الله پرتاسې اساني غواړي، نه گراني (موخه داده) چې دا ورځې پوره کړئ او داچې الله سمه لار درښوولې (نو هغه) پر لويی وستایئ او ښایي شکر یې وکړئ.))
* ((وَلَقَدْ جِئْنَاهُم بِكِتَابٍ فَصَّلْنَاهُ عَلَى عِلْمٍ هُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ [5]= او په واقع کې موږ هغوی ته کتاب راوړی، چې (خوالې) یې مو د علم له مخې تشریح کړي، چې ایمان راوړونکیو ته لارښود او رحمت دی.))

---

[1]. (فصلت/٤٢)

[2]؟ (نحل/٨٩)

[3]. (انعام/٣٨)

[4]. (بقره/١٨٥)

[5]. (ابراهیم/١)

* الَر كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ= الف، لام، را (دا) يو كتاب دى، چې موږ پر تا نازل كړى، چې خلك د هغوى د پالونكي په اجازه (د شر، ظلم او ناپوهى) له تيارو راوباسې او(د ايمان، عدل او پوهې) رڼا ته يې راولې، د ناماتي (او) ستايل شوي (الله تعالى) لارې ته.))
* ((وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقرآن عظيم الشأن لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ [1] =نو په يقين موږ قرآن د پند اخستو لپاره اسان كړى؛ نو ايا پند اخستونكى شته؟!))
*((كِتَابٌ فُصِّلَتْ آيَاتُهُ قرآن عظيم الشأنا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَعْلَمُونَ [2]= يو كتاب دى، چې آيتونو يې هر مطلب پر خپل ځاى، په عربي لوستوني (=واضح) پوهانو ته څرګند كړي دي))
* وَإِنَّهُ فِي أُمِّ الْكِتَابِ لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ حَكِيمٌ[3]=او په رښتيا، اصل كتاب له موږ سره دى، چې عزتمن او له حكمته ډک دى.))

## د قرآن عظيم الشأن زده كړې ارزښت

*رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم : څوك چې قرآن عظيم الشأن خپل شعار او ميزان كړي؛ نو څښتن تعالى به يې نېكمرغه كړي او څوك چې قرآن عظيم الشأن خپل لارښود كړي او ورپسې اقتدا وكړي؛ نو روستى تمځى به يې له نعمتونو ډك جنت وي.
*حضرت علي كرم الله وجهه: قرآن عظيم الشأن زده كړئ، چې تر ټولو غوره وينا ده. اندنه پكې وكړئ؛ ځكه قرآن عظيم الشأن د زړونو پسرلى دى.
حضرت امام سجاد: د قرآن عظيم الشأن آيتونه زېرمه ده او دا زېرمه دې چې راوسپړله؛ نو پكار ده، ورځېر شئ، چې څه پكې دي؟
حضرت امام باقر: په رښتيا، په قرآن عظيم الشأن كې څښتن تعالى هر څه راوړي چې د قيامت تر ورځې پورې پكارېږي.

## وحې څه وخت پيل شوه؟

مخكې له دې چې دې پوښتنې ته ځواب وركړو، بايد ځان د وحې پر مانا پوه كړو.

[1]. (قمر/٣)
[2]. (فصلت/٣)
[3]؟ (الزخرف/٤)

وحې د څښتن تعالى او پرښتو له لوري څرګندې اشارې او پوهولو ته وايي، چې پیغمبرانو ته راځي.
په قرآن عظیم الشأن کې له وحې نه مطلب د الهي آیتونو نزول دی، چې حضرت جبرائیل علیه السلام به رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ته راوړل او رسول الله خلکو ته رسول.
ځینې عالمان او څیړونکي وايي: پر رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وحې له وړوکتوبه پیل شوه، چې د خپلې دايي؛ "حلیمه سعدیه" تر روزنې لاندې و، چې حضرت جبرائیل به د حضرت محمدصلی الله علیه و آله وسلم مخې ته راښکاره کېده او رسول الله هم جبرائیل په حقیقي بڼه لیده.
حضرت جبرائیل د پیغمبر اکرم سینه، د زمزم په اوبو ووینځله او د یوې وینا له مخې: پرښتو رسول الله له ځان سره اسمان ته بوتله او ټیر یې ورته له خوالو، ښوونو، حقیقتونو او علمونو ډك کړ اوسینه یې ورته پراخه او نورانیت یې ورپر برخه کړ.
وحې تر ٤٠ کلونو پورې؛ یعنې د بعثت تر پیلېدو پورې جاري وه او د څرګندو دلایلو په رڼا کې، څښتن تعالی د حضرت جبرائیل په واسطه، قرآن عظیم الشأن د " حرا" په غار کې رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ته راووړ او حضرت جبرائیل وویل: محمده! ووایه!
او د مفسرانو د سمو سیخو ویناوو له مخې، د علق سورت پینځه لومړي آیتونه، د وحې پیل ګڼل کیږي، چې دادي:
((اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ. خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ. اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ. الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ. عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ= ولوله! دخپل پالونکي په نامه، چې (هر څه یې) شته کړي، انسان یې له ځوړندې (پرنډې وینې) وپنځاوه. ولوله چې ستا پالونکی (تر ټولو) ډېر عزتمن دی؛ هغه [پالونکی] چې په قلم یې ښوونه وکړه، انسان ته یې هغه څه وښوول، چې پرې نه پوهېده.))
د څښتن تعالی استازي ور وکتل، چې آنحضرت "ص" په دې باب داسې وايي: د آیتونه د ویلو پر مهال داسې وم؛ لکه ټول قرآن یې چې زما پر زړه لیکلی وي او د حرا په غار کې د وحې تر رانازلېدو ۲۳ کاله روسته، د څښتن تعالی له اړخه آیتونه، پر رسول الله نازل شول او د رمضان په میاشت کې د "قدر" په یوه شپه کې، یو ځل بیا، بشپړ قرآن عظیم الشأن پر رسول الله نازل شو.

## آیا وحې پر حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم لا ینقطع وه؟

مرحوم ډ اکتر رجبعلي مظلومي " پژوهشي پیرامون آخرین کتاب الهي " په لو مړي ټوك، شپږویشتم مخ کې لیکلي:
د علق سورت د ۵ آیتونو تر نازلېدو روسته وحې پرې شوه؛ تر هغه چې د (یا ایها المدثر) آیت نازل شو او یو ځل بیا چې کله یهودانو، له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم نه پوښتنې وکړې او رسول الله "ص" ژمنه ورکړه، چې د وحې له ژبې به ورته ځواب ورکړي او (ان شا الله) یې و نه وایه؛ نو څښتن تعالی هم د یوې مودې لپاره وحې را و نه لېږله، چې دې مودې ته "فترت" ویل کېږي.

## نزول، تنزیل او نجوم څه ته وایي؟

د نزول تعریف: هغه کلام، چې د څښتن تعالی له اړخ د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم پر زړه نازلېده.
د تنزیل تعریف: د څښتن تعالی هغه کلام، چې حضرت جبرائیل به راووړ.
نجوم: هغه آیتونه او کلام، چې په پټه او غیبو کې د رسول الله "ص" زړه ته رالېږل کېدل.
د حضرت محمد"ص" په تګ سره وحې هم پرې شوه او د قیامت تر ورځې به وحې نه راځي او قرآن عظیم الشأن هغه ګرانبیه زېرمه ده، چې د مسلمانانو د نېکمرغی لپاره نازل شوې ده.

## د قرآن کریم شأن نزول

د نزول له نظره، د قرآن عظیم الشأن آیتونه دوې برخې دي:
* هغه آیتونه، چې بې له کومې پېښې یا د خلکو او اصحابو کرامو له پوښتنې پرته نازل شوي دي.
* هغه آیتونه، چې له ځینو پېښو او رسول الله "ص"نه تر پوښتنو روسته نازل شوي دي.
د قرآن عظیم الشأن ډېری آیتونه هم د لومړۍ برخې په څېر دي، چې د توحید، نبوت، معاد، عدل او ورته چارو په اړه نازل شوي، چې د نزول د شان په اړه یې پلټنه پکار ده.
د شان نزول تعریف: شان نزول هماغه زمینه ده، چې روسته ترې پر رسول الله "ص" آیتونه نازلیدل، چې د قرآن عظیم الشأن د مفسرینو له نظره، د آیت د مفهوم د پوهېدو لپاره خورا اړین دي.

د بېلګې په توګه: هغه آيتونه، چې شان نزول لري:
((وَلِلّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ فَأَيْنَمَا تُوَلُّواْ فَثَمَّ وَجْهُ اللّهِ إِنَّ اللّهَ وَاسِعٌ عَلِيمٌ [1]= او ختيځ او لويديځ ټول د الله تعالى دي او هرې خوا ته چې مخ کړئ، هماغه يې د اطاعت لورى دى. بېشکه الله تعالى د پراخ (نعمت) څښتن (او) پوه دى.))
ددې آيت شأن نزول:
په يوه تياره شپه کې، له رسول الله "ص" سره ځينې ياران ول، چې د لمانځه پر مهال هر يو، يوه اړخ ته لمونځ وکړ او تر لمانځه روسته، ټول په دې فکر کې ول، کوم لمونځ يې چې د قبلې پر لوري نه دى کړى؛ قبول شوى که نه.
ددې آيت په رالېږلو، څښتن تعالى د هغوى له زړه وېره لرې کړه او ورته يې وويل: لمونځونه مو قبول دي؛ ځکه هغوى په هغه توره شپه کې، د قبلې د پيدا کولو لپاره کومه لار نه درلوده.
يادونه: که څه ددې آيت په راتلو د مسلمانانو د شپې د لمانځه ستونزه هواره شوه؛ خو دا په دې مانا نه ده، چې مسلمانان هغه مهال چې قبله ورته معلومه وي، د خپلې خوښې بل اړخ ته لمونځ وکړي او که له آيته داسې اخستنه وشي؛ نو بايد ووايم، چې ددې آيت د نزول د شأن په اړه تېروتى دى.
((لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُواْ إِذَا مَا اتَّقَواْ وَّآمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ ثُمَّ اتَّقَواْ وَّآمَنُواْ ثُمَّ اتَّقَواْ وَّأَحْسَنُواْ وَاللّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ (مائده/۹۳)= **۹۳** هغوى چې ايمان يې راوړى (آمنوا) او غوره چارې يې کړې وي (عملوا الصالحات) نو چې مخکې يې څه خوړلي وو، پر هغو به و نه نيول شي (د تحريم د حکم تر نزول مخکې يې چې شراب څښلي وي؛ نو سزا به ور نه کړه شي) په دې شرط، چې د بيا لپاره ځان وژغوري (تقوا) او پر ايمان ټينګ ودرېږي (آمنوا) او ښه کارونه وکړي (عملوا الصالحات) بيا چې له کومو شيانو منع وشي او لاس ترې واخلي (تقوا) او څه چې د الله تعالى امر وي، و يې مني (آمنوا) بيا(هم) پرهېزګاري وکړي او(هم) نېکي (احسنوا) او الله تعالى نېکان خوښوي.))
ويل کېږي، چې (عثمان بن مظعون او عمرو ابن معدى کرب) به ويل: د شرابو څښل حرام نه دي! او د المائده سورت همدا آيت به يې د استدلال لپاره راووړ او ددې آيت د نزول شان ته يې پام نه کاوه او که کړې يې وي؛ نو پوه شوي به وو، چې له دې آيته د امطلب نه دى، چې هغوى يې وايي. حال دا، له شرابو د ځان ژغورولو لپاره لاندې آيت هم راغلى دى:

[1] (بقره/۱۱۵)

* ((يا ايها الذ ين آمنو انما الخمر ولميسر والا نصاب والا زلام رجس من عمل الشيطا ن فا جتنبو لعلكم تفلحون=ايمانوالو! له شرابو، جوارۍ او بوت لمانځنې ډډه وکړئ، چې دا ټول پليد دي او شيطاني کړنې دي))
په دې آيت کې څښتن تعالی د شرابو څښل يو شيطاني چار وباله؛ نو الله تعالی د داسې خلکو د ځواب لپاره پورتنی آيت نازل کړ او هغوی چې توبه يې ايستې ده او نېکچاري يې کړې، ښلي دي او مؤمنان شوي دي.

## آيا د قرآن عظيم الشأن ظاهر او باطن، په ټکر کې دي؟

ددې پوښتنې ځواب "نه" دی.
د قرآن عظيم الشأن ظاهر او باطن هېڅکله په ټکر کې نه دي؛ ځکه په لومړۍ کتنه کې يوه مانا لري؛ خو که څوك وغواړي په ستر سمندر کې ورغوپه شي؛ نو کولای شو ډېر حقايق ترې را وباسي، چې ډېرو ته معلوم نه دي.
په دې باب مو يو مثال ته پام را اړوم:
((وَاعْبُدُواْ اللّهَ وَلاَ تُشْرِكُواْ [1]= او الله ولمانځئ او هېڅوك ورسره شريك مه نيسئ))
د آيت د باطن د مفهوم لومړی پړاو.
څه چې ددې آيت له ظاهره معلومېږي دادی، چې بايد د بوتانو له عبادته ډډه وشي؛ ځکه د بوتانوعبادت له څښتن تعالی پرته، بل ته خشوع او خضوع ده او انسان د څښتن تعالی له اطاعته لرې کوي؛ لکه څنګه چې له شيطانه لاروي، د شيطان عبادت دی.
اړوند آيت داسې وايي:
((أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَن لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ [2] = د آدم اولادې! ايا ما له تاسې سره تړون نه وکړی، چې شيطان مه نمانځئ؛ (ځکه) چې هغه مو ښکاره دښمن دی؟!))
ځکه د شيطان په عبادت، د څښتن تعالی عبادت له منځه ځي.
دآيت د مفهوم د باطن دويم پړاو:
که آيت ته ځير شو؛ نو و به وينو، که انسان بې له خدايه او يا د خپلو ځاني غوښتنو لاروي وکړي؛ نو هېڅ توپير نه لري او دواړه ناروا او غلطې چارې دي.
څښتن تعالی وايي:
((افرايت من اتخذ الهه هواه= آيا هغه دې و نه ليد، چې ځاني غوښتنې يې خپل څښتن کړ؟))

---

[1] (نساء/۳۳٦)
[2] (يس/٦۰)

دآیت د مفهوم د باطن درېیم پړاو:
که آیت ته سم ځیر شو؛ نو پوه به شو: هغوی چې بې له خدایه، د بل هر چا اطاعت وکړ؛ نو څښتن تعالی به یې پر عذاب ککړ کړي او په دوزخ کې به یې ور واچوي.
((ولقدذ رانالجهنم کثیراً من الجن..... اولئك هم الغافلون = دوزخ به له پېریانو او انسانانو ډك کړو؛ ځکه دوی له غفلت کوونکیو څخه وو.))
د آیت د باطن څېړنه او پایله:
* لومړی باید پوه شو، چې د بوتانو عبادت ونشي.
* انسان باید بې له خدایه بل چا ته خاضع او خاشع نشي.
* انسان باید له ځاني غوښتنو لاروي و نه کړي.
* باید له خدایه غفلت ونشي او بې له هغه، بل ته توجه ونشي.

## د قرآن عظیم الشأن محکم او متشابه آیتونه

هغوی چې له قرآن عظیم الشأن سره آشنایي نه لري؛ نو په لومړی‌کتنه کې داسې انګېري، چې د قرآن عظیم الشأن آیتونه د ټکیو، حرکاتو او د هغه د درك له اړخه سره یو شانته دي؛ خو کله چې آیت ته سم ځیر شو؛ نو پر آیت د پوهېدنې لپاره به ډېرې هڅې او اندنې ته اړ شو.
د قرآن عظیم الشأن ځینې آیتونه، د مانا او مفهوم له نظره داسې دي، چې د پوهېدنې وړ دي او دلیل ته اړتیا نه لري؛ خو ځینې د مفهوم له اړخه روښانه نه دي، چې د پوهېدنې لپاره یې نورو آیتونو ته اړین یو.

## ناسخ او منسوخ

د قرآن عظیم الشأن پر ناسخ او منسوخ آیتونو پوهېدنه، په قرآنپوهنه کې خورا ونډه لري.

### د ناسخ او منسوخ مانا

که د قرآن عظیم الشأن په آیتونو کې اندنه وشي؛ نو داسې آیتونه به ومومو، چې نور آیتونه یې "نسخ" کړي او د هغه آیت پخوانی حکم یې یا بدل کړی او یا یې له منځه وړی او نوی حکم یې د هغه حکم ځایناستی کړی، چې په داسې وخت کې، هغه آیت ته چې حکم یې منسوخ یا بدل شوی او پر ځای یې یو بل حکم راغلی وي، "منسوخ" او نوي آیت ته چې پخوانی حکم یې نسخ کړی، "ناسخ" وایي.
لاندې مثالونو ته پام وکړئ:

۱- له بیت المقدس نه کعبې ته د قبلې را اوړېدل
((قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاء فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّواْ وُجُوِهَكُمْ شَطْرَهُ وَإِنَّ الَّذِينَ أُوْتُواْ الْكِتَابَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ وَمَا اللّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ [1] = په یقین (د روستی قبلې د ټاکلو لپاره)، موږ د اسمان خواته ستا بیا بیا مخ اوښتل وینو، دادی موږ تا د هغې قبلې لوري ته گرځوو، چې ستا خوښېږي (نو د مسجدالحرام خوا ته مخ وگرځوه او چېرې چې وئ، مخ هماغې لوري ته واړوئ او په حقیقت کې چا ته چې اسماني کتاب ورکړ شوی، ښه پوهېږي (د قبلې بدلیدل) د الله تعالی له لوري (پرځای او) سم دي او په خپلو کتابونو کې یې لوستي، چې دا سلام پیغمبر به دوو قبلو ته لمونځ کوي او الله تعالی یې (ددې آیتونو په پېټولو کې)، له کړنو ناخبره نه دی.))
د مسلمانانو لومړی قبله "بیت المقدس" و؛ یهودانو او د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم دښمنانو، رسول الله ته پیغورونه ورکول، چې تاسې مسلمانان قبله نه لرئ او مجبور یئ، چې زموږ د قبلې پر لوري لمونځ وکړئ، چې رسول الله دې پیغورونو خورا خپه کړ او الله تعالی ددې آیت په رالیږو، قبله له بیت المقدسه کعبې ته راواړوله او په قرآني اصطلاح، په هغه آیت کې چې بیت المقدس پکې قبله معرفي شوې وه، منسوخ شو او دا آیت، چې نوی حکم یې راوړی، ناسخ دی.
۲- د ښځې د عدې د وخت بدېدل، چې له یوه کاله څلور میاشتو او لسو ورځو ته راټیټه شوه:
((وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِّأَزْوَاجِهِم مَّتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ فَإِنْ خَرَجْنَ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِي مَا فَعَلْنَ فِيَ أَنفُسِهِنَّ مِن مَّعْرُوفٍ وَاللّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ [2] = او له تاسې چې څوك ومري او کونډې ترې پاتې شي، هغوی باید خپلو کونډو ته دا وصیت وکړي، چې تر یوه کال پورې دې د هغوی لگښت ورکړ شي، په دې شرط، چې هغوی (د مېړه له کوره) و نه وځي (او بل واده و نه کړي) او که (په خپله خوښه) ووتې (نو پر تاسې د لگښت حق نه لري؛ خو هغوی چې) د خپل ځان په برخه کې، په ښه توگه هر څه کوي، پر تاسې یې گناه نشته او الله تعالی ناماتی حکیم دی.))
د البقره سورت د ۲۴۰ آیت د څرگند نص له مخې، د هغې ښځې، چې مېړه ومړ؛ نو تر یوه کاله بل مېړه نشي کولای؛ خو په همدې آیت کې (بقره/۲۳٤) کې د ۲٤۰ آیت حکم نفې شو او له یوه کاله، څلور میاشتې شو. اړوند آیت ته پام وکړئ:

[1] (بقره/۱٤٤)

[2] (بقره/۲٤۰)

((وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَاللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ [1] = او له تاسې چې څوك مړه شي او كونډې يې پاتې وي؛ نو بايد څلور مياشتې او لس ورځې (په عدت كې) تېرې كړي؛ خو كه دا موده يې پوره كړه؛ نو بيا پر تاسې گناه نشته، چې كه څه غواړي، هغوى دې په خپله خوښه په ښه توگه وكړي (او د خپلې خوښې له سړي سره دې واده وكړي)او الله تعالى ستاسې له كړنو خبر دى.))

۳- د شپې فرض لمونځ مستحب شو

د زمر سورت لومړيو آيتونو له مخې، د شپې لمونځ پر رسول الله او نورو مؤمنانو فرض و؛ خو د همدې آيت په پاى كې (۲۰ آيت) الله تعالى، دا لمونځ مستحب كړ، وايي: چې څومره او د شپې په هر وخت كې مو چې خوښه وه؛ لمونځ وكړئ.

٤-د نجوا حراموالى او د صدقې وركول

قرآن عظيم الشأن له رسول الله سره نجوا او په غوږ كې خبرې، چې رسول الله يې ځوراوه او د مسلمانانو په منځ كې يې ناډاډمني رامنځ ته كوله، حرامه كړه او داچې ځينو نجواوو او پسپسكيو ته اړتيا وه او رسول الله بايد د جگړې په اړه ځينې خبرې ورسره په غوږ كې وكړي؛ نو الله تعالى پخوانى حكم (مجادله/۱۲) له منځه يووړ، و يې ويل: كه څوک له رسول الله سره نجوا كول غواړي؛ نو بايد صدقه وركړي. پخوانى حكم، چې نجوا پكې حرامه وه، نسخ شوه او د صدقې وركولو حكم يې پر ځاى راغى.

٥- له كتابيانو سره د سوليز چلن حكم يې پر وژلو بدل شو

د بعثت په پيل كې، الله تعالى د ځينو مصلحتونو په پامنيوي، خپل استازي ته حكم وكړ، چې له كتابيانو (يهود او نصاراوو) سره سوليز چلن ولري؛ خو په اوسنيو شرايطو كې چې هغوى د مسلمانانو پر خلاف دسيسې كوي؛ نو الله تعالى د يو آيت په رالېږلو يو نوى حكم وكړ، چې وايي: كه هغوى هغه څه چې الله تعالى او رسول يې حرام كړي، حلال وگڼي او له تا سره جگړې ته ملا وتړي؛ نو تاسې هم جگړه ورسره وكړئ او د حق دين منلو ته يې اړ كړئ او كه داسې يې و نه كړل؛ نو و يې وژنئ.))

[1] (بقره/۲۳٤)

## په قرآن عظیم الشأن کې فقهي احکام

قرآن عظیم الشأن ټولو دردونو ته د شفا نسخه ده او د انسان ټولو غوښتو ته یې په ټولو برخو کې مناسب ځواب ورکړی او داچې قرآن عظیم الشأن ته نړیوال او د ټولو وختونو کتاب ویل کیږي، ددې لپار دی، چې د انسان ټولو غوښتنو ته ځواب ورکولای شي.

## احکام څه ته وايي؟

د اسلام د سپیڅلې شرع په څرگندنه-اصطلاح؛ احکام ټولو هغو دستوراتو او قوانینو ته ویل کیږي، چې الله تعالی له مسلمانانو پرې عمل غوښتی دی.
شرعي احکام هم هماغه دیني دستورات دي، چې باید هر عاقل، بالغ او مکلف مسلمان چې کله د تکلیف منگ ته ورسېد، باید عمل پرې وکړي.
هر دین ځان ته قانون او دستورات لري، چې لارویان یې باید عمل پرې وکړي او بې قانونه دین، بشپړ نه دی. اسلام هم د احکامو په ټاکلو (عملي قوانین او دستورات)، مسلمانان د تکامل په بهیر کې اچولي دي، چې د دې احکامو په عملي کولو، د الله تعالی خوښي لاس ته راوړي.
د قرآن عظیم الشأن یو سورت هم پورتنۍ موضوع ته اشاره کړې ده او په والعصر سورت کې وايي:
((وَالْعَصْرِ. إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ. إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ = پر زمانې قسم! بېشکه (هر) انسان په زیان کې دی؛ خو بې له هغوی چې ایمان یې راوړی او ښه (کارونه) یې کړي او یو بل ته یې په حق سپارښتنه او په زغم سپارښتنه کړې وي.))

## توحید د قرآن عظیم الشأن آریزه ویېنه ده

توحید د قرآن عظیم الشأن تر ټولو بنستیزه ویېنه دی. توحید؛ یعنې پر ایکي یو الله تعالی گروهه درلودل، چې ټول کاینات یې پنځولی او د هغه د ځواک، پوهې، لیدانې او واکمنۍ ښکارندوی دی او لوړ کمالات لري.
توحید د دین له آرونو لومړی او مهم آر دی. پر توحید له گروهې پرته، د دین نور آرونه نه پلي کیږي. رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم هم د رسالت په ابلاغ کې، لومړی خلکو ته د توحید په اړه ښوونې کولې او په دې لار کې یې ډېر زحمتونه گاللي او رسول الله صلی الله

عليه و آله وسلم او پتمنو يارانو يې د توحيد د پلي کېدو لپاره، ۲۳ کاله ډول ډول زحمتونه گاللي ول.
حضرت بلال حبشي (رض) تر ستونزمنو دباوونو او درنو ډبرو لاندې د مرگ تر خولې ولاړ؛ خو صبر يې کاوه او سره له دې ټولو سختيو يې ويل: احد، احد، احد؛ يعنې زما څښتن، ايکی يو دی او بې له هغه بل معبود نشته او د بوتانو له عبادته کرکجن و، پر توحيد له ايمان پرته، د چا ايمان نه سمېږي، پر الله تعالى ايمان؛ انسان ته رسالت، ژمنه او پازوالي وربښي. د قرآن عظيم الشأن تر ټولو چورليز ويينه هم د الله پوهنې ويينه ده او پکار ده، د هېواد ځوانان هم الله پوهنې ته لېچې راونغاړي او د خپل ايمان بنسټ پياوړی کړي.

## د حضرت محمد(ص) لومړی شعار

تر وحې روسته د رسول الله لومړی شعار داو: "قولو لا اله الا الله تفلحو=ووايئ بې له الله بل معبود نشته، چې بريالي شئ. "
* لا اله الا الله" د بوتانو د عبادت نفې ده:
د الله تعالى استازي صلى الله عليه و آله وسلم د توحيد د اشعار په مطرحولو، خلک د بېشعوره بې ارادې بوتانو له عبادته منع کړل او خلک يې د الله تعالى عبادت ته چې له هر ډول عيبه پاک دی، راوبلل.
قرآن عظيم الشأن هم خلک، الله پېژندنې او د الله تعالى عبادت ته رابللي او خلک يې د دروغجنو خدايانو له عبادته منع کړي او دا خبره يې تل کړې چې که بې له الله مو د هر چا عبادت وکړ؛ نو بې لارې به شئ او په خپل لاس به مو ځان ته د تباهۍ کنده ايستې وي.
لاندې آيت نه ځير شئ:
((لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا فَسُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ [1]= که په اسمان او ځمکه کې بې له "الله "نور خدايان هم وای؛ نو هرومرو به "(د اسمان او ځمکې) د واړو (نظام) ړنگ شوی وای؛ نو الله؛ د عرش پالونکی، له هغه څه پاك دی، چې مشرکان يې وايي!))
* اسماء حسنى يوازې د الله تعالى لپاره دي:
الله تعالى خورا کمالات لري، چې قرآن عظيم الشأن ددې کمالاتو او صفاتو جمعې ته اسماء الحسنى وايي:

[1] (انبياء/۲۲)

((اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ لَهُ الْأَسْمَاء الْحُسْنَى [1]=الله؛ هغه دی، چې بې له هغه بل لمانځوړ نشته (او) ښکلي نومونه په هغه پورې ځانګړي دي.))
هغه ذات دی، چې ژوندی، پوه، لیدونکی، اورېدونکی، ځواکمن او مړه خوا الله تعالی دی او د ټولو نېکیو سرچینه الله تعالی دی او که الله تعالی نیمګړتیا درلوده؛ نو اړتیا به یې پیدا کړې وه، چې په خپله اړمن، د بل اړتیا پوره کولای نشي. قرآن عظیم الشأن، الله تعالی له هر ډول عیب او نیمګړتیا پاک ګڼلی دی.
(سبحان و تعالی عما یشرکون) سبحان؛ الله تعالی، له هر ډول شرک او نیمګړتیا پاک دی.

***الله پېژندنه د بشر د فطرت یوه برخه ده:**

له ښخوا راهیسې د انسانانو په منځ کې په بېلابېلو ډولونو د الله پېژندنې ویبنې نوموتې وې. ډېرو خلکو دین درلود او د نړۍ لپاره یې یو څښتن تصور او زباتوه، که څه په منځ کې یې د الله تعالی په اړه څه اختلافات وو. له لرغونو اثارو داسې جوتېږي، چې پخوانیو خلکو هم پر دین او الله پېژندنې ګروهه درلوده؛ ان د امریکا او استرالیا په څېر سترې وچې، چې نوي برسېره شوي، وګړي یې دینوال وو او الله تعالی یې پېژنده او پر الله تعالی ګروهه، تل په بشر کې وه؛ نو دا جوتوي، چې الله پېژندنه، فطري چار دی او انسان په خپل فطرت، چې الله تعالی ورکړی، د نړۍ لپاره یو څښتن په ذهن کې انځوروي.
قرآن عظیم الشأن هم دې خبرې ته اشاره کړې ده:
((وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّى يُؤْفَكُونَ [2]= او که و یې پوښتې: ((چې دوی چا پنځولي؟)) نو هرومرو وايي: ((الله)) نو (بیا) څنګه د هغه له عبادته اړول کېږي؟!))

* الله تعالی د ټولو ځواکونو ښکارندوی دی:

د الله تعالی یو صفت او اسماء الحسنی د علم او ځواک درلودل دي. د نړۍ منظم یون ته چې انسان ځیر شي؛ نو دا ټولې، د الله تعالی د ځواک په اړه خبرې کوي. الله تعالی پر خپل ناپایه ځواک او علم ډول ډول موجودات وپنځول او هر یو یې وروزه او هغوی یې د کمال پر لوري کړل. الله تعالی دی، چې هستي یې تلپاتې او فناناپذیره ده او پر هر څیز پوه او برلاس دی.
الله تعالی په قرآن عظیم الشأن کې وایي:
((لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ [3]= د اسمانونو او ځمکې واکمني یوازې د هماغه ده، ژوندي کول او مړه کول کوي او هغه پر هر څه قادر دی.))

---

[1] (طه/۸)

[2] (زخرف/۸۷)

[3] (حدید/۲)

*د الله تعالی چې خوښه وي؛ نو جوړوي يې:
الله پېژندنه د الله تعالی څواک او اراده، د قرآن عظیم الشأن له تودو بحثونو څنې ده او هغه پر دې مانا: الله تعالی چې د هر څه اراده وکړي؛ نو بې څنډه يې بې له وزلې او بې زحمته پنځوي؛ يعنې يوازې "کن" او "فيکون" وايي؛ يعنې همداچې الله تعالی د څه اراده وکړي، پيدا کېږي او که وغواړي نه دې وي؛ نو نه به وي، په دې باب اړوند آيت ته پام وکړئ:
... والله ملک السموت الارض.... او الله تعالی پر هر څه برلاس او ستاسې د ټولو ورستنېدل د هغه پر لوري دي.
*يوازې الله تعالی مطلق مړه خوا دی:
((وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ ذُو الرَّحْمَةِ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَسْتَخْلِفْ مِن بَعْدِكُم مَّا يَشَاء كَمَآ أَنشَأَكُم مِّن ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ آخَرِينَ [1]= او ستا پالونکی مړه خوا او د رحمت څښتن دی (نو پر چا ظلم نه کوي؛ بلکې ټول د خپلو کړنو پايلېويني) که وغواړي؛ تاسې (له منځه) وړي او پر ځای به مو د خپلې خوښې خلک راولي؛ لکه چې يې تاسې د نورو قومونو له څوځاته پيدا کړي ياست.))
*د الله تعالی رحمت هر چېرې خور دی:
ټول عالم په الهي نعمتونو کې ډوب دی، که څوک وغواړي، دالله تعالی نعمتونه وشمېري؛ نو دا کار به و نه کړای شي؛ ځکه نعمتونه يې له شمېره وتي دي.

## د قرآن عظيم الشأن د تفسير کړنلار

که څه پر هر مسلمان د قرآن عظيم الشأن له تفسير سره اشنايي فرض نه ده؛ خو په دې باب ورته څه نا څه پوهه په کار ده. هر مسلمان پرته له دې چې د قرآن عظيم الشأن له تجويد سره اشنايي ولري، نو ورسره جوخت، بايد د خپل علم هومره، پر قرآن عظيم الشأن پوه شي او د قرآن عظيم الشأن له انسانسازه مفاهيمو، د خپل ژوند په بېلابېلو برخو کې ګټه واخلي. د قرآن عظيم الشأن تفسير هم د قرآن عظيم الشأن په څېر يو پراخ او ستر سمندر دی، چې هر څوک بايد د خپلې پوهې او وړتيا هومره، ګټنه ترې وکړي او د قرآن عظيم الشأن د تفسير له فنونو او اوزارو سره اشنايي ولري. د يادونې وړ ده، چې د تفسير له اوزارو سره له اشنايۍ پرته څوک له تفسيره ګټنه نشي کړای.

---
[1] (انعام/١٣٣)

## د تفسير اوزار

موږ تر خپلې وسې هڅه کړې، څوان کهول ته د تفسير مهم او چارسازه اوزار په ساده ژبه بيان کړو او بايد وويل شي.
١ _ له عربي ژبې سره آشنايي. ٢ _ د آياتو له شأن نزول سره اشنايي. ٣ _ محکم آيتونه. ٤ _ متشابه آيتونه. ٥ _ وحې. ٦ _ د وحې د نزول شرايط. ٧ _ تنزيل. ٨ _ تاويل. ٩ _ د آيتونو ظاهر او باطن. ١٠ _ ناسخ او منسوخ. ١١ _ د قرآن عظيم الشأن له موضوعاتو سره آشنايي. ١٢ _ مکي او مدني سورتونه. ١٣ _ د قرآن عظيم الشأن تاريخ او د راټولولو پړاوونه يې.

## د تفسير ډولونه

قرآن عظيم الشأن په لاندې ډولونو تفسيرېداى شي:
١ _ آيت په آيت تفسير: يعنې په يوه آيت د بل آيت تفسيرول.
٢ _ تفسير ماثور: دې ډول تفسير ته روايي تفسير هم وايي او په دې ډول تفسير کې د قرآن عظيم الشأن آيتونه، د روايتونو په رڼا کې تفسيرېږي، چې ډېرو پخوانيو مفسرينو به پر همدې کړنلار، قرآن عظيم الشأن تفسيراوه او هغوى چې په دې ډول، قرآن عظيم الشأن تفسيراوه؛ نو چې د هر آيت لپاره يې روايت نه مونده؛ نو هغه آيت ه يې پر ځاى پرېښود؛ نو داچې د قرآن عظيم الشأن آيتونه ډېر دي او د ټولو په اړه روايتونه زموږ په کتابونو کې نشته؛ نو ويل کېږي، چې دا ډول تفسير يو بشپړ او پراخ بنسټه تفسير نه دى.

## الهي ازمېينې

په ټوله نړۍ کې قانونپوه مجلسونه، دوه ډوله قوانين تصويبوي: يو قانون د جرګې د دننى چارو د سمبالښت لپاره؛ لکه د وکيلانو شمېر، د يوې لايحې د تصويب لپاره لازم شرطونه او د هر وکيل دنده او يو قانون د هېواد سمبالنې لپاره، چې دولت يې د پلي کولو دنده لري.
الله تعاليم دوه ډوله قوانين لري:
يو ډول قانون يې د خلکو لپاره ليکلى، چې نوم يې احکام دي او ځينې قوانين يې ځان ته جوړ کړي، چې الهي سنتونه ورته وايي؛ لکه رزق ورکول: (على الله رزقها) او هدايت کول: (ان علينا للهدى) د الله تعالى يو قانون، چې ځان يې پرې ملزم کړى، د خلکو ازمېښت دى، چې د قرآن عظيم الشأن په ډېرو آيتونو کې نوموتى دى او د بقرې سورت په ٥٥ آيت کې وايي: (ولنبلونکم) تاسې ټول ازمايو.
دلته په دې هکله څو پوښتنو ته ځواب ورکوو:

۱ ـولې الله تعالی انسان ازمايي؛ مگر الله تعالی موږ نه پېژني او له راتلونکې مو خبر نه دی؟
ځواب: د الله تعالی ازمېښت د پوهې لپاره نه؛ بلکې د پېژندو لپاره دی، چې انسان ځان وپېژني او دروغجن له رښتينو بېل شي؛ ټول مؤمنان ادعا لري، چې د الله تعالی احکامو ته لاس پر سينه دي؛ خو په ازمېينه کې جوتېږي، چې څوک دروغ وايي او څوک رښتيا. پردې سربېره، د الله تعالی د سزا او ثواب ورکولو بنسټ، د انسان خپلې کړنې دي؛ نه د هغه پوهه او ټول پوهېږو، چې ترکاڼ کړای شي ور او کړکۍ او... جوړې کړي؛ خو چې کار يې نه وي کړی؛ نو لاسباړه نه ورکوي، الله تعاليم موږ ازمايي، چې زموږ غبرگون ووينې او زموږ د خپلو کړنو له مخې اجر راکړي.
۲ ـ د ازمېښت وزلې: د ژوند ټولې چارې خير يا شر، کېدای شي د ازمېښت وزلې وي؛ لکه چې الله تعالی وايي: (نبلوكم بالشر والخير) انسان په بېوزلۍ، تنگ لاسۍ، سوکالۍ، هوساينې او پراختيا کې ازمېيل کېږي، چې معلوم شي، په سخته او تنگه کې صبر کوي او له لارې نه کږېږي يا داچې يوازې په پراختيا کې له خلکو سره مرسته کوي يا يوازې په خپل فکر کې دی.
۳ ـ په الهي ازمېينو کې د خلکو غبرگون څنگه دی؟
ځواب: خلک د الهي ازمېينو په اړه څو ډوله دي: هغوی چې له ستونزو سره په لومړي چلن کې چغې او سورې وهي او نړۍ پر سر را اخلي. (اذا مسه الشر جزوعا) د صبر او پراخې سينې خاوندان دي (و بشر الصابرين) ځينې ترخې پېښې د زړه پر سترگو او ورين تندي مني. (و منهم من ينتظر)
چې کله د يوې کورنۍ غړي د ترخو خوړو؛ لکه مرچ او پيازو پر وړاندې بېلابېل غبرگونونه لري، ماشوم چې مرچ خولې ته وروړي، چغې کړي، غټان، چې مرچ خوري؛ نو زغملی يې شي؛ خو د کورنۍ پلار د مرچ او پيازو اخستو لپاره پيسې ورکوي.
٤ـ(( أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ أَن يَسْبِقُونَا سَاء مَا يَحْكُمُونَ= ايا هغوی چې ناوړچاري کوي، گومان يې کړی، زموږ پر ځواک به برلاس شي؟! څومره ناوړه پرېکړه يې کړې ده!))
۵ـ ((مَن كَانَ يَرْجُو لِقَاء اللَّهِ فَإِنَّ أَجَلَ اللَّهِ لَآتٍ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ= (څوك چې د الله تعالی د ملاقات (او قيامت) هيلمن وي (بايد د هغه د احکامو په اطاعت کې زيار وباسي؛) ځکه د الله تعالی ټاکلې نېټه هرومرو راتلونکې او هغه هرڅه اوري او پوهېږي.))

## ستر گناهونه

د الله تعالی له هر امره سرغړونه گناه ده، ځينې چارې د گناه خطر ډېروي؛ لکه:

۱ _ د گناه مورد: د بېلګې په توګه: د خلکو مال خوړل حرام دي؛ خو د پلارمړي مال دا ګناه ډېر وي.
۲ _وخت او ځای: ګناه په هر وخت او ځای کې ناوړه چار دی؛ خو په سپېڅلیو وختونو او ځایونو کې؛ لکه په روژه او جومات کې ډېره ګناه لري.
۳ _ د ګناه کوونکي شخصیت: د هغوی حساب په ګناه کې له نورو سره توپیر لري، چې په ټولنه کې خلکو ته بېلګه وي. الله تعالی د رسول الله مېرمنو ته وایي: که ګناه مو وکړه؛ نو د نورو ښځو په پرتله به دوه ګرایه سزا درکول کېږي. هو! که پلار، مور او ښوونګ، ګناه وکړي؛ نو د هغوی اولاد او زدکړیالان به هم ګناه ته ورنږدې شي.
٤ _ ښکاره ګناه: ښکاره ګناه، د ګناه عذاب ډېروي؛ ځکه ښکاره ګناه هم د قانون ماتونې لپاره ډاډ دی، هم د خلکو شخصیت ته سپکاوی او هم د نورو ډاډه کول دي. د لوط قوم به په عمومو غونډو کې بربنډېدل او پر هر بد کار یې لاس پورې کاوه، تردې چې قرآن عظیم الشأن وایي: (فی نادیکم المنکر) (۳۸)؛ یعنې په عمومي ځایونو کې مو منکر کاوه.
داچې قرآن عظیم الشأن د ((نادی)) کلمه کارولې، ښیي ټولنه هم حریم لري، چې باید وساتل شي او که و نه ساتل شي، د نورو لپاره د فساد لاره پرانځي.
۵ _ د نورو ګناه ښکاره کول: ډېر خلک د دین او تقوا د درلودو له لامله ګناه نه کوي؛ خو ډېر د ټولنیزې حیا په پار ځان ساتي؛ خو که د حیا پردې وشلېدې؛ نو پر ټولنه به د فساد نېز راشي، چې هېڅ څوک به یې مخه نشي نیوای؛ نو هېڅ څوک حق نه لري، خپله کړې ګناه نورو ته هم ووایي او څوک حق نه لري د چا ګناه بل چا ته ووایي، د ګناه له مراسمو انځور او فیلم اخستنه منع دي؛ ځکه دا ډول انځورونه او فیلمونه په ټولنه کې د ګناه بدي او رټنه کموي او د نورو د فساد لپاره لار هواروي.
د فساد او فحشا خورول دومره خطرناک دي، چې ان په اړه یې فکر هم ستره ګناه شمېرل شوې ده.
قرآن عظیم الشأن د نور سورت په ۱۹ آیت کې وایي: هغوی چې خوښېږي د مؤمنانو بدی خورې کړي؛ نو په نړۍ او آخرت کې به دردونکی عذاب ولري.
د فساد له خورولو سره مینه؛ کله په قلم وي، کله د فحشا د مرکزونو په جوړولو وي، که د نورو په راهڅولو او کله هم د فحشا د امکاناتو په چمتو کولو وي.
امام صادق وایي: هغه تن ددې آیت مصداق دی، چې که د مؤمن ګناه ووینې یا واوري او بل ته یې ورسوي.

په یوه بل حدیث کې راغلي: څوک چې د څا بد چار خور کړي او نورو ته یې ووايي؛ نو داسې به وي؛ لکه پخپله یې چې کړی وي.
زموږ د ډېرو ستونزه سرچینه هغه خوی دی، چې غواړو خلک بې پته کړو، که څه ناخبره یو؛ خو دا کار کوو؛ د نور سورت په ۱۹ آیت کې راغلي: الله تعالی پوهېږي؛ خو تاسې نه پوهېږئ.
لنډه او سپینه داچې په ټولو گناهونو کې چې ان مینه درلودل هم ورسره ستره گناه وه، د نورو د گناه کیسه کول او د خلکو بې پته کول دي.
۶ _په گناه کې مرسته: له نورو سره په گناه کې مرسته او ورته لارښوونه داسې دي؛ لکه چې پخپله یې کړې وي.
د همدې سورت (عنکبوت) په ۳۲ او ۳۳ آیتونو کې به ولولئ، چې د حضرت لوط علیه السلام مېرمن هم د لوط قوم په څېر پوپناه شوه او گناه یې دا وه، چې خلکو ته یې د گناه لارښونه کوله. د بېلگې په توگه: فاسدو وگړیو ته یې خبر ورکاوه، چې حضرت لوط علیه السلام ته مېلمانه راغلي؛ نو د عذاب پر مهال، چې الله تعالی د حضرت لوط علیه السلام کورنۍ ساتله؛ نو دا مېرمن په هلاکو شویو کې وه. هو! د یو څا مېرمن والی یا مېړه والی د خلاصون لاره نه؛ بلکې د فکر یووالی د خلاصون لار ده.

## مفسد

چې کله الله تعالی پرښتو ته وویل: انسان پنځوم او هغه خپل خلیفه کوم؛ نو پرښتو وارخطا الله تعالی ته وویل: (اتجعل فیها من یفسد فیها و یسفک الدماء)؛ یعنې داسې څوک خپل خلیفه کوې، چې فساد کوي او وینه تویوي؟ الله تعالی وویل: له داسې څه خبر یم، چې خبر ترې نه یئ.
وژنه، وینه تویونه او ناامني راوستل، د فساد روښانه بېلگې دي؛ خو قرآن عظیم الشأن څو نور څیزونه هم فساد شمېرلي، چې یو یې هم مالي او وتیز فساد دی.
حضرت شعیب علیه السلام په داسې قوم کې ژوند درلود، چې ډنډۍ وهل پکې دود وې؛ نو حضرت شعیب پردې سربېره، چې د یوه معبود عبادت ته یې رابلل، له دې بد چاره یې هم منع کول؛ د اعراف سورت په ۸۵ آیت کې لولو: [(فاءفوا الکیل والمیزان و لا تبخسوا الناس اشیائهم ولاتفسدوا فی الارض)خلکو! د پیمانې او تلې حق پوره ادا کړئ، د خلکو له ماله مه کموئ او په ځمکه کې فساد مه کوئ.]

هو! د خلکو حق لتاړل، کم کاري او ډنډۍ وهل، يو ډول مالي او وټيز فساد دی، چې ټولنې ته ډېرې ناوړې پايلې لري، چې يوه يې هم حرامه روزي ده. حرامه روزي، انسان فاجر او بدچاروي او که دا حرام خوري جبران نشي، نو انسان به پر کفر او انکار ⁄ نټه لاس پورې کړي.
قرآن عظيم الشأن د "مطففين" سورت په پيل کې وايي: افسوس دې د ډنډۍ وهوونکيو پر حال وي او بيا په ۷ آيت کې هغوی ته "فجار" او په ۱۰ آيت کې ورته "مکذبين" وايي. له دې درې آيتونو معلومېږي، چې انسان سوکه سوکه پرېوځي، چې لومړی گام يې ډندی وهل او حرام خوري ده. دويم گام فاسد او فاجرېدل او په پای کې د حق پر وړاندې درېدل دي.
ددې خبرې شاهد د کربلا پېښه ده: سره له دې چې د کوفې او شام لښکر، امام حسين پېژانده؛ خو بيا يې د هغه د وژلو لپاره ملاگانې تړلې وې، چې امام وويل: ددې ستر خيانت دليل دادی، چې گېډې مو له حرامو ډکې شوې دي.
حديث وايي: حرام مال وده نه لري او که وده يې وکړه؛ نو برکت به نه لري.
په بل حديث کې راغلي: حرام مال ان د انسان پر ځوځات اغېز لري.
د لمانځه د قبلېدو شرط دادی، چې په هغه ځای کې چې اودس او لمونځ کوو او همداراز جامې او اوبه هم غضبي نه وي.
ان که په ماشومتوب کې مو هم د چا مال تصرف کړی وي، بايد په يو ډول يې خاوند رضا کړو او که مړ شوی وي؛ نو وارثان يې راضي کړو.
که د چا درباندې پور و او پر لمانځه ولاړ وئ او راغی او د خپل پور پر غوښتو يې ټينگار کاوه؛ نو بايد سلام واړول شي، پور يې ورکړ شي او له سره لمونځ پيل کړو.
که چا له هماغه پيله دا هوډ کړی وي، چې د خپلې کوروداني مهر ور نه کړي او کوروالی ورسره وکړي؛ نو روايتونه وايي، چې داسې به وي؛ لکه زنا يې چې ورسره کړې وي.

## لمونځ او له بديو ژغورنه

پوښتنه: لمونځ څنگه وگړي او ټولنه له فحشا او بديو ژغوري؟
ځواب: ۱-د ټولو بديو جرړه په غفلت کې ده او الله تعالی غافل انسان د اعراف سورت په ۱۷۹ آيت کې تر څاروي هم بد گڼلی دی. (اولئک کالانعام بل هم اضل اولئک هم الغافلون) او داچې لمونځ د الله تعالی ياد او د غفلت لرې کولو لپاره تر ټولو غوره وزله ده؛ نو د بديو لارې چارې له منځه وړي.
۲ _لمونځ کول او الهي رنگ، له شيطاني رنگ اخستنې مخنيوی کوي؛ لکه که چا سپينې جامې اغوستې وي؛ نو په چټل ځای کې نه کېني.

۳ _ د لمانځه ترڅنګ پر زکات سپارښتنه شوې، چې وګړي د بېوزلیو په اړه د کنجوسی او بې توپیری له بدیو ساتي او ټولنه د بېوزلۍ له بدیو ساتي، چې د ډېرو بدیو جرړه پکې ده.
٤ _لمونځ کول ځینې احکام لري، چې پلي کول یې انسان له ډېرو ګناهونو ژغوري؛ لکه:
د لمونځ کوونکي د لمانځه د ځای او جامو حلال والی یې د نورو پر حقونو له تېري ساتي.
د لمونځ کوونکي د اودس د اوبو، ځای، جامو او د بدن د پاکوالي شرط یې له ډېرو چټلیو ساتي.
د قبلې پر لوري د درېدو شرط، انسان هر لوري ته له پامه ساتي.
رکوع او سجده انسان د تکبر له بدۍ ساتي.
په لمانځه کې د مناسبو جامو اغوستل، انسان د بې حیایۍ او بربنډۍ له بدۍ ساتي.
د جماعت لمونځ د امام لپاره د عدالت شرط، انسان له فسق او سرغړونې ساتي.
د جماعت لمونځ انسان له بېځایه ګوښېدو ساتي.
د جماعت د لمانځه ډېر شرطونه او احکام ډېر ارزښتونه راژوند کوي؛ لکه: له خلکو سره یو ځای کېدل، له مشره مخکې نه تلل، له ټولنې روسته نه پاتېدل، د جماعت امام د حق خبرې منل، نظم و انظباط، د متقیانو درناوی، له تفرقې لرېتوب، د جماعت په لمانځه کې د هر توکم، ګوند، ټبر او ژبې خلک یو ځای، په یوه لیکه کې درېږي.
په لمانځه کې د حمد سورت په ویلو، انسان خپلې ټولې اړتیاوې له الله تعالی غواړي.

## الهي عدل

الله تعالی عالم، قادر، عادل، حکیم، لوراند، لورین، ازلي، ابدي، خالق او رازق دی؛ نو په دې ټول صفتونو کې ولې یوازې عدالت څېړل کېږي.
دې مهمې پوښتنې ته د ځواب لپاره څو خبرو ته پام پکار دی.
۱- د الله تعالی په صفتونو کې عدالت دومره ډېر ارزښت لري، چې د الله تعالی نور ډېر صفتونه په دې صفت پسې ورګرځي؛ ځکه عدالت؛ یعنې هر څیز په خپل ځای کې ایښوول؛ نو په دې بنه کې دي، چې حکیم، رزاق، لوراند او لورین هم پرې تطبیقېږي.
۲- د "معاد" مساله، د پیغمبرانو رسالت او د امامانو دنده هم د عدالت په چار پورې تړلې ده.
۳- د اسلام په پېر کې، د عدالت په اړه اړېېچ رامنځ ته شو، یوه ډله اهل سنت، چې "اشاعره" یې ورته ویله، بیخي د الله تعالی له عدالته منکر شول، و یې ویل، چې د الله تعالی په هکله عدالت او ظلم مفهوم نه لري، د عالم ټوله هستي د هغه په واک کې ده او د هغه ده او هر کار، چې کوي، عین عدالت دی، هغوی ان پر "عقلي حسن او قبح" هم ګروهه نه درلوده، ویل یې:

زموږ عقل ځان ته ښه او بد نشي درک کولای، ان د نېکۍ کولو ښېګڼه او د ظلم بريد. (او داسې نورې-غلطيانې يې درلودې) بله د اهل سنتو ډله "معتزله" شوه او ټولو "شيعه وو" د الله تعالی پر عدالت ګروهه درلود، ويل يې: هغه هېڅکله ظلم نه کوي. د دې دوو ډلو د توپير لپاره يې پر دويمې ډلې "عدليه" نوم کېښود، چې عدل يې د خپل مکتب له آرونو څخه کړ او د نور ښوونځيو پر وړاندې يې د معلومولو لپاره، امامت هم خپل اصل کړ؛ نو چېرې چې د "عدل" او "امامت" خبره راځي؛ نو د "اماميه شيعه" ښوونځی راپېژني.
٤- له هغه ځايه، چې د دين فروع هم د دين له آرونو اخستل شوي او د الله تعالی عدالت هم په بشري ټولنه کې خورا مهم دی او د انساني ټولنې مهمه ستنه هم ټولنيز عدالت دی؛ نو د دين له آرونو، عدالت هم يو اصل منل شوی او په بشري ټولنو کې د عدالت راژوندي کول او له هر ډول ظلم او تېري سره مبارزه ده؛ لکه څنګه چې د الله تعالی د ذات او صفتونو او عبادت توحيد، په ټولنه کې د يووالي رڼا ده او توحيد صفتونه پياوړي کوي.
د پېغمبرانو او امامانو مشري هم په ټولنه کې د "رښتينې مشرۍ" الهامونکې ده؛ نو د الله تعالی د عدالت آر، چې پر ټوله هستۍ واکمن دی، په بشرې ټولنو کې، په ټولو برخو کې پر عدالت ټينګار دی، د پنځون ستر عالم پر عدالت ولاړ دی، بشري ټولنه به هم بې له عدالته پر ځای پاتې نشي.
٢-عدالت څه ته وايي؟
عدالت دوه بېلابېلې ماناوې لري:
١- لکه څنګه چې مو وويل، ددې کلمې پراخ مانا؛ هر څه په خپل ځای کې ايښوول دي او په بل تعبير: د موزون او متعادل پر مانا دی. د عدالت دا مانا پر ټول "عالم خلقت"، منظومو، اتوم، انسانانو، بوټو او ژويو واکمنه ده او دا هماغه خبره ده، چې د رسول الله په حديث کې راغلې ده: ځمکه او اسمانونه پر عدالت ولاړ دي.
بله بېلګه: که د ځمکې د "جاذبې" او "دافعې" ځواکونه خپل انډول له لاسه ورکړي او يوه پر بل برلاس شي؛ نو يا به ځمکه لمر راکاږي او اور به واخلي او له منځه به ولاړه شي او يا به له خپل مداره ووځي او په نامحدوده فضا کې به سرګردانه، کړهاند، ځلبلاند او ورکه شي.
يو شاعر پخپلو شعرونو کې عدالت مانا کړی، چې موږ پښتو مفهوم راخستی دی:
که اوبه د ګل بوټي يا د ونې مېوې ته واچول شي؛ نو پخپل ځای کې کارېدلي دي، چې دې ته عدالت ويل کېږي او که مرداربوټو او اغزو ته واچول شي؛ نو په خپل ځای کې نه دي کاريدلې، چې دې ته ظلم ويل کېږي.

۲- د عدالت بله مانا د "خلکو د حقونو پاملرنې" ته وايي، چې مخې ته يې ظلم دی؛ يعنې د نورو حق اخستل او ځان ته يې ځانګړي کول، يا د يوه حق اخستل او بل ته يې ورکول، يا پر تبعيض قايليدل؛ يعنې چې يو ته حق ورکړای شي او بل ته نه.
روښانه ده، چې دويمه مانا "ځانګړې" او لومړۍ مانا "عام" ده. پاموړ ده، چې د الله تعالی په اړه دواړه ماناوې رښتينې دي، که څه ددې وينو موخه دويمه مانا ده. د الله تعالی د عدالت مانا داده، چې نه د چا حق له منځه وړي او نه د چا حق، بل ته ورکوي او نه د خلکو په منځ کې تبعيض کوي؛ هغه هراړخيز عادل دی.
"ظلم"؛ که له چاحق اخستل کېږي او يا نه ورکول کېږي او يا تبعيض؛ نو الله تعالی له دې هرڅه، سپېڅلی او پاک دی.
هغه هېڅکله د ښو کړنو خاوند نه کړوي، بدکار نه هڅوي، د يوه د ګناه په پار بل نه نيسي او لامده او وچ يوځای نه سوځوي ان که يو پکې سم وي؛ نو الله تعالی، د يوه حساب له ټولو بېلوي او په عذاب کې يې له نورو سره نه يو ځای کوي.
او داچې د "اشاعره" ډله وايي: ((که الله تعالی خپل ټول پېغمبران دوزخ ته او ټول بدچاري او جنايت کوونکي جنت ته يوسي؛ نو ظلم نه دی))؛ نوډېره بې سوره، بې بنسټه او د شرم خبره يې کړې او د هر چا عقل، چې له تعصبه پاک وي؛ پوهېږي، چې څومره بده خبره يې کړې ده.

## د مساوات او عدالت توپير

يوه بله مهمه خبره، چې په دې وينا کې اشاره ورته اړينه ده، داچې د "مساوات" او "عدالت" مانا سره غلطېږي او فکر کېږي، چې عدالت دې ته وايي چې مساوات رعايت شي؛ خو داسې نه ده.
د يوه ټولګي د زدکړيالانو ترمنځ عدالت دې ته نه ويل کېږي، چې ټولو ته ۱۰۰ نمرې ورکړای شي او د دوو مزدورانو ترمنځ عدالت دا نه دی، چې دواړو ته يو هومره مزدوري ورکړای شي؛ بلکې عدالت دادی، چې هر زدکړيل ته د خپلې وړتيا او پوهې هومره او هر مزدور ته د خپل کار هومره "مزدوري" ورکړای شي. په عالم طبيعت کې هم عدالت په پراخ مانا همدې ته وايي، که د د سمندر ستر کب زړه، چې تقريباً يو ټن وزن لري، له يوې مرغۍ سره، چې تقريباً څو ګرامه وزن لري، مساوي و؛ نو عدالت به نه وي او که د يوې سترې ونې ډډ له يوه وړوکي نېالګي سره يو هرمره و؛ نو عدالت نه؛ بلکې ظلم به و.

عدالت هغه دی، چې هر موجود د خپل حق او وړتیا له مخې، خپلې برخې ته ورسي.

## د شرونو او آفتونو فلسفه

له پخوا راهیسې داسې ناپوهان پیدا کېدل، چې د الله تعالی پر عدالت یې نیوکې کولې او داسې خبرې یې کولې، چې د الله تعالی له عدالت سره یې اړخ نه لګاوه او ان د عدالت پر نفې کولو به د الله تعالی نفې کولو ته هم رسېدل!

ناوړه پېښې؛ لکه توپانونه، زلزلې او نور غمونه، چې پر ټولو راځي، د انسانانو ترمنځ توپیر او همداسې هغه شرونه او افتونه، چې پر انسانانو، بوټو او موجوداتو راځي.

دا وینه د الله پېژندنې په ترځ کې، د توکیزیانو پر وړاندې راپورته کېږي اوکله د الله تعالی د عدل په وینه کې. دا وینه ددې لپاره راپورته کوو، چې پوه شو، دا اند څومره غلط دی؛ نو پکار ده، په دې هکله یو پراخه وینه وکړو، چې دا اندونه تر ځیرلاندې ونیسو.

۱-نسبي ورمندون- قضاوت او محدود معلومات:

معمولا موږ په خپلو قضاوتونو او د کړکېچونو په تشخیص کې، پر هغو اړیکو ډډه وهو، چې څیزونه یې له موږ سره لري، د ساري په ډول، وایو: پلانی څیز لرې دی که نږدې؛ یعنې زموږ په نسبت یا پلانی انسان پیاوړی دی که کمزوری؛ یعنې زموږ د بدني او روحي حالت په پرتله هغه کوم حالت لري. د خیر، شر، آفت او د بلا د چارو په اړه هم په ډېرو ځایونو کې زموږ ورمندون همداسې وي.

د بېلګې په توګه: که د ځمکې پر یوې برخې باران ورېږي؛ موږ له دې سره کار نه لرو، چې په ټولیزه توګه ددې باران اغېز څه و، موږ یوازې د خپل کور، پټي او یا چې ډېر په سوچ کې شو، د خپل ښار په هکله فکر کوو؛ نو که اغېز بې مانا و؛ نو "بلا" ورته وایو.

چې کله یو زوړ کور، د بیارغاونې لپاره ړنګېږي؛ نو که موږ یې ترڅنګ تېر شو؛ نو یوازې دوړه یې زموږ په برخه وي او وایو: څومره له شرمه ډکه پېښه! که څه په راتلونکي کې هلته یو روغتون جوړ شي او نور خلک ګټنه ترې وکړي او همداراز د باران په مثال کې، که په ټولیزه توګه مثبت اغېز ولري، په رغې او عادي ورمندون کې، موږ د مار چیچل آفت او شر ګڼو؛ خو له دې بې خبره یو، چې همدا د زهرو نشه، د همدې مار لپاره یوه دفاعي وزله ده او له دې بې خبره، چې د همدې مار له زهرو ژوندبښاندي درمل جوړېږي، چې د زرونو انسانانو ژوند ژغوري؛ نو که موږ وغواړو پر غلطه ولاړ نه شو؛ نو باید خپلو محدودو معلوماتو ته و نه وینو او په ورمندونو

کې یوازې هغو اړیکو ته و نه وینو، چې څیزونه یې له موږ سره لري؛ بلکې ټول اړخونه په پام کې ونیسو او هر اړخیز ورمندون وکړو.
آریزه خبره خو دا ده، چې د نړۍ پېښې، د زنځیر د کړۍ په څېر، په یو بل پورې تړلې دي. هغه توپان، چې نن زموږ په ښار کې را الوتی؛ هغه باران چې نېز ترې راجاري دی، له هغه اوږدو لړیو څنې یو لړ دی، چې د نړۍ د نورو ځایونو له پېښو سره بشپړې اړیکې لري او همداسې د نن پېښې، د پرون او سبا له پېښو سره تړاو لري. پایله داچې پر یو وړوکي ځای گوته ایښوول او په اړه یې غوځ ورمندون کول، له سول-منطق او عقل لرې خبره ده.
څه چې د نمښتې-انکار وړ دي، د "مطلق شر" پیدایښت دی؛ خو که یو څیز له یو اړخه خیر او بلخوا شر وي او خیر پکې برلاسی وي؛ نو پروا نه لري. د جراحی عملیات له یوه اړخه دردوونکی او بلخوا خورا گټور دی؛ نو خیر نسبي دی. د نورې توضیح لپاره د زلزلې پر مثال نوره رڼا اچوم: سمه ده، چې زلزله په یوه سیمه کې ورانی کوي؛ خو که زنځیري اړیکې یې له نورو چارو سره په پام کې ونیسو؛ نو هرومرو به مو ورمندون بدل شي.
ایا زلزله د ځمکې په بخارونو او تودوخې پورې اړه لري یا د سپوږمۍ په جاذبې پورې، چې د ځمکې وچ او جامد پوټکی، د ځان پر لوري راکاږي او کله ماتېږي او یا په دواړو پورې اړه لري؟
باید پوه شو، چې د ځمکې دننه تودوخه څومره د ټېلو په جوړولو کې گټوره ده، چې زموږ د وخت د انرژۍ تر ټولو مهمه سرچینه ده او همداراز همدا تودوخه څومره د ډبروسکرو په جوړولو کې گټوره ده؟ ؛ نو خیر نسبي دی.
او همداراز د سپوږمۍ د جاذبې د جزرومد عامل څومره د سمندرونو د اوبو په ژوندي ساتلو، پکې د موجوداتو او کله د شاوخوا د کڅونو خړوبول، چې خوږې اوبه دریابونو ته ورتویوي اغېز لري؛ نو خیر نسبي دی.
دلته دی، چې پوهېږو زموږ نسبي قضاوتونه او محدود معلومات دي، چې چارې یې د پنځون په ننداره کې موږ ته تور ټکي ښوولي او څومره چې د پېښو او مخلوقاتو ترمنځ د اړیکو په هکله فکر وکړو؛ نو هومره به یې پر ارزښت پوه شوه.
قرآن عظیم الشأن وایي:
((وَمَا أُوتِيتُم مِّنَ الْعِلْمِ إِلاَّ قَلِيلاً[1] = او تاسې ته یوازې د پوهې ډېره لږه برخه درکړه شوې ده.))
اوله دې پوهې سره په ورمندون کې بېړه پکار نه ده.

[1] (اسراء /۸۵)

۱-ناوړه پېښې او ګواښونه؛

ټولو داسې کسان ليدلي، چې کله په نعمتونوکې ډوب شي؛ پر پېسمنۍ او ځانمنۍ ککړ شي او په دې حالت کې ډېرې مهمې انساني چارې او دندې شا ته غورځوي.

او همداسې موږ وليدل، چې کله د انسان د ژوند سمندر آرام وي؛ څرنګه د غفلت پر خوب ويدېږي او که دا حالت دوام ومومي؛ نو د انسان د بدمرغۍ لامل به شي.

د کاڼي کرخه ده، چې د همدې ناوړه پېښو يوه برخه، ددې غرور او د غفلت خوب ته د پای ټکي د ايښوولو لپاره دي. هرومرو به مو له تکړه چلونکيو اورېدلي وي: دا واټ، چې دومره هوار، بې موړې او بې کندې دی، څومره خطرناک دی او چې کله د سرک همدا هواري، چلونکي ته خوب راوړي، چې بيا همدا چار له ډول ډول خطرونو ډک دی؛ ان ليدل شوي، چې په ځينو هېوادونو کې پر داسې هوارو سړکونو مصنوعي موړې اچول شوي، چې د داسې خطرونو مخه ونيسي.

د انسان د ژوند لار هم همداسې ده؛ که ژوند يې لاندې باندېتوب، موړې او کندې و نه لري او کله ناوړه پېښې ورپېښې نشي؛ نو له الله تعالی او له خپلو دندو به غافل وي.

هېڅکله نه وايو، چې انسان دې په خپلو لاسونو ناوړه او ترخې پېښې را پيدا کړي اويا داچې پخپله يې مخې ته ورشي؛ ځکه داسې چارې تل د انسان په ژوند کې وې او وي به؛ بلکې دا وايو: پام مو وي، چې ددې پېښو د يوې برخې فلسفه داده، چې د غرور او غفلت مخنيوی وکړي؛ ځکه غرور او غفلت ستاسې د نېکمرغي دښمنان دي.

قرآن عظيم الشأن وايي:

((وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَىَ أُمَمٍ مِن قَبْلِكَ فَأَخَذْنَاهُم بِالْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ [1]=موږ تر تا مخکې امتونو ته (پېغمبران) لېږلي؛ (او چې کله له دې پېغمبرانو سره په مخالفت کې ودرېدل؛ نو) هغوی مو په کړاوونو اخته کړل؛ ښايي (چې راوېښ شي او الله تعالی ته زارۍ او عاجزي وکړي او (حق ته) تسليم شي!))

## په ژوند کې د ناوړه پېښو فلسفه

ومو ويل: ځينې نيوکه کوونکي په ژوند کې ناوړه پېښې، ستونزې او ناکامۍ د الله تعالی له عدله د نمښتې لپاره پلمه کوي او کله له خدايه د نمښتې لپاره پلمه ترې جوړوي. په تېره وينه کې

[1] (انعام /٤٢)

مو پردې خبرې څه رڼا واچوله او دوه فلسفې مو وویلې: اوس د وییني نورې برخې ته پام وکړئ.
انسان د ستونزو په غېږ کې روزل کېږي. بیا پردې خبره ټینګار کوم، چې موږ نباید پخپله د ځان لپاره ستونزې جوړې کړو؛ خو سره له دې، همدا سختې او ناوړه ستونزې دي، چې زموږ اراده پیاوړې او ځواک مو ډېروي، مثال یې د پولاد دی، چې په سوځنده بټیو کې سوځول کېږي او کلکېږي؛ موږ هم ددې پېښو په بټیو کې پخېږو.
جګړه بده ده؛ خوکله یوه جګړه د یوه ملت وړتیا رازغونوي، نفاق یې پر یووالي او پر شاتګ یې پر پرمختګ اړوي.
د لویدیځ یو مشهور تاریخپوه وایي: د نړۍ په هر ګوټ کې چې کوم ځلنده تمدن و؛ نو د یوه ستر بهرني ځواک تر یرغل روسته و، چې د هغه هېواد ځواکونه یې راویخ کړي؛ البته د ژوند د ناوړه پېښو په اړه د ټولو خلکو او ټولنو غبرګون یو شان نه دی، ځینې بدویني او کمزورېږي او سمې پایلې ترې نه اخلي؛ خو هغه خلک، چې مساعدې زمینې لري، ددې پېښو پر مهال پر خپلو بډو ګوتې وهي، لېچې رانغاړي، پر کار لاس پورې کوي او خپلې کمزورۍ سموي؛ خو خبره داده، چې ډېر خلک رغی ورمندون کوي او یوازې ستونزو او ترخو ته ګوري او مثبت او جوړونکې نښې یې نهویني.
ادعا نه کوو، چې د ژوند ټولې سختۍ داسې اغېز لري؛ خو تر یوې کچې همداسې دي.
که تاسې د نابغه انسانانو ژوند لیک ولولئ؛ نو و به ګورئ، چې تقریباً ټول، په سختۍ او کړاوونو کې لوی شوي او ډېر کم به داسې کسان پیدا کړئ، چې په ناز و نعمت کې د نبوغ پولې ته رسېدلي وي، ستر پوځي بولندویان هغه دي، چې تل یې په لومړۍ لیکه کې ستونزې او زحمتونه ګاللي وي. د اقتصاد اندیال ماغزه، له هغوی سره دي، چې په کړکېچنو اقتصادي بازارونو کې راګېر شوي وي. ستر پیاوړي سیاستمداران هغوی دي، چې له سیاسي ستونزو سره لاس و ګرېوان شوي وي. لنډه داچې ستونزې او کړاونه انسان پخپله غېږ کې روزي.

### ستونزې مو الله تعالی ته مخه کوي

په تېرو وییناو کې مو وویل: زموږ د وجود هره ټوټه یوې موخې ته پنځېدلې، سترګې یوې موخې ته، غوږونه، زړه، ماغزه او اعصاب هر یو، د یوې موخې لپاره پنځېدلي، ان د ګوتو پر سر لیکې هم موخه لري؛ نو دا څرنګه کېدای شي، چې زموږ ټول وجود بې فلسفې او بې موخې وي او همداسې و مو ویل، چې دا ټول ځکه دي، چې هر اړخیزه بشپړتیا وکړي؛ نو ښکاره خبره ده، چې دې پشپړتیا ته د رسېدو لپاره، ژوره ښوونه او روزنیزې کړلارې پکار دي؛

نو د همدې لپاره، الله تعالی پردې سربېره، چې انسان ته يې پاک توحيدي فطرت ورکړی، پېغمبران يې هم له اسماني کتابونو سره رالېږلي، چې په دې لار کې انسان ته لارښوونه وکړي او ددې ترڅنګ، کله ناکله انسان بايد د خپلو ګناهونو او غلطيو غبرګون ووينې، د خپلو کړنو له پايلو سره اشنا شي او بيا الله تعالی ته مخه کړي؛ نوځکه ويل کېږي، چې ددې پېښو يوه برخه الهي لورنه او نعمت دی.

قرآن عظيم الشأن وايي:

((ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ [1]= د خلکو د کړنو له لامله، فساد په وچه او لمده کې ښکاره شوی، الله تعالی غواړي د خپلو ځينو کړنو (سزا) پرې وڅکي! ښايي (د حق لوري ته) راو ګرځي.))

د پورتنيو مطالبو په رڼا کې: دردونکې پېښې "شر" ګڼل او ورته "بلا" ويل او د الهي عدالت خلاف يې ګڼل، له عقل دليل او سول لرې خبره ده؛ ځکه څومره چې دې خبرې ته ښه ځيرېږو؛ نو نوې فلسفې ترې رابرسېرېږي.

## د ناخوالو او ترخو پېښو فلسفه

د ژوند ستونزې او لاندې باندېتوب، ژوندون ته روح ورکوي، کېدای شي ددې خبرې هضمول ځينو ته ستونزمن وي، چې که نعمتونه په پرلپسې راشي؛ نو خپل ارزښت له لاسه ورکوي. نن جوته شوې، چې که يو جسم په يوه کوټه کې کېښوول شي او له هر اړخه پرې قوي او يو شان رڼا واچول شي او جسم او کوټه هم صاف او محدوده وي؛ نو هېڅکله به هغه جسم و نه ليدل شي؛ ځکه چې کله سيورى د رڼا ترڅنګ شي؛ نو د جسم اړخونه معلوموي او هغه له خپل شاوخوا بېلوي او موږ کړای شو هغه ووينو. د ژوند ارزښت هم د ژوند د ستونزو د کم رنګو او پر رنګو سيوري په پرتله د ليدو وړ نه دی. که په ټول عمر کې پر چا رنځ نه راتلای؛ نو چاه د روغتيا احساس نه کاوه، پر چاچې يوه شپه تبه تېره شي او بيا روغ شي او چې کله هغه تبه وررياده شي؛ نو پر خپله روغتيا شکرونه باسي.

دا ستونزې خو پخپله موږ ځان ته جوړې کړې دي. يوه بله خبره، چې ددې وينې په پای کې اړين بولم، داده، چې خلک د ناوړه پېښو په اړه، په ورمندون کې پر غلطه ځي او هغه تېری،

---

[1] (روم/ ٤١)

چې پرې کوم ظالم انسان کړی، پر الله تعالی یې وراچوي، د بشر په لاس د بې نظمی پړه، پر الله تعالی وراچوي.
د بېلګې په ډول: کله نيوکه کوي، ولې زلزلې په ښارونو کې ورانی نه کوي، چې يوازې په کليو کې ورانی کوي؟ دا هم شو عدالت! که بلا راځي؛ نو ولې په مساوي توګه پر ټولو نه راځي؟ ولې پېښې بېوزله کړوي؛ خوله دې بې خبره دي، چې دا ټولې خبرې د الله تعالی په عدالت پورې هېڅ اړه او تړاو نه لري؛ بلکې دا د انسانانو، يو پر بل د تېري او زبېښاک پايله ده. که کليوال هم د ښاروالو په څېر د ځان لپاره کلک کورونه جوړ کړي؛ نو ولې يې زلزله وران کړي؟ نوچې کله يو کور د لوټو او يو څو ډبرو جوړ شي؛ نو ښکاره ده، چې له معمولي باد او زلزلې له جټکی سره به ړنګېږي؛ نو د انسان په لاس د بې بنسټه او کمزوري کور جوړول، د الله تعالی په عدالت پورې څه اړه لري؟!
يا زموږ په افغانستان، ليدل کېږي، چې خلک په خوړونو او د سيندونو پر غاړه کورنه جوړوي او هغه هم په دې اند چې خوړ يا سيند وچ شوی؛ خو چې کله په هماغه خوړ يا سيند کې معمولي غوندې اوبه هم راشي او کور يې ړنګ کړي؛ نو بيا چغې سورې وهي.
ددې نيوکو پرځای بايد هڅه وکړو، د ټولنې ټول وګړي، له ټولو امکاناتو، په يوه کچه ګټه واخلي او ظالم ته ووايو، چې تېری مه کوه او مظلوم ته ووايو، چې ظلم مه منه!

# مرگ

مرگ د خلکو په ذهنونو کې، تل د یوې وېرونکې بلا په څېر انځور شوی، چې ان د مرگ په اړه فکر کول هم پر خلکو، خوږ ژوند تریخ کړی او نـه یوازې لـه مړینې وېرېږي؛ بلکې د هدیرې نوم یې هم بدې ایسي.
د نړۍ په ادبیاتو کې یې هم له مرگه "د مرگ بلا"، "د مرگ پنجه"، "د اجل سـپېره" او ورته تعبیرونه راوړي او چې د یوه مړي نوم واخلي؛ نو داچې مخاطب و نه وېرېږي؛ نو د "لرې وسه له تا" او د داسې نورو تعبیرونو په راوړو، د اورېدونکي او مرگ ترمنځ دېوالونه جوړوي؛ خو باید دا خبره وڅېړل شي، چې له مرگه د وېرې سرچینه په څه او کوم ځای کې ده؟ او ولې ځینې له دې غټ بردا شت سره بیا هم له مرگه نه وېرېږي او هر وخت مرگ په ورین تندي استقبالوي؟
په تاریخ کې به مو ویلي وي، چې ځینې په "آب حیات" او د "ځوانۍ په اکسیر" پسې گرځېدل او ځینې په مینه د جهاد جبهو ته تلل او د مرگ څېرې ته موسکي ول او کله یې د ژوند له اوږدېدو هم گیله کوله او تل یې د «لقاء الله» ارمان کاوه.
ددې وېرې آریز لاملونه دوه څیزونه دي:

## ۱-مرگ پر فنا تعبیرېدل:

انسان تل له نېستۍ تښتي، له رنځورۍ تښتي؛ نه له روغتیا، له تیارې وېرېږي او له رڼا نه وېرېږي، له بېوزلۍ وېرېږي، چې شتمني له منځه وړي او هېښنده خو داده، چې له مړي هم وېرېږي او په کومه خونه کې چې مړی وي؛ چمتو نه دی، شپه پکې سبا کړي؛ حال دا، همدا انسان، چې ژوندی و، نه ترې وېرېده!
اوس باید ووینو، چې ولې انسان له عدم او نېستۍ وېرېږي؟
دلیل یې څرگند دی، هستي له هستۍ سره تړل شوې او وجود له وجود سره اشنا دی او وجود له عدم سره هډو ا شنا نه دی؛ نو له نېستۍ سره زموږ پردېتوب طبیعي خبره ده؛ نو اوس که مړینه، د هر څه پای وگڼو او گومان وکړو، چې په مړینې به هرڅه پای ته ورسي؛ نو حق لرو، چې له نوم او خیاله یې هم وډار شو؛ ځکه مرگ له موږ هر څه اخلي؛ خو که مړینه د نوي او تلپاتې ژوند پیل او د یوې سترې نړۍ پر لوري دریمڅه وگڼو؛ نو نه یوازې وېره به ترې نه لرو؛ بلکې هغوی چې پاک او سرلوړې مړینې ته په ورین تندي ورغاړې وځي، ورته به مبارکي هم ووایو.

**۲-تورې دوسيې:**

ځينې پېژنو، چې مړينه پر فنا او نېستۍ نه تفسيروي او هېڅکله تر مړينې روسته، له ژونده منکر نه دي؛ خو سره له دې، بيا هم له مرګه وېرېږي؛ ځکه کړنکليک يې پر بدو کړنو دومره تور شوی، چې له مرګه وېرېږي، مثال يې د خطرناکو مجرمانو په څېر دی، چې له زندانه له ازادۍ وېرېږي؛ ځکه پوهېږي، چې که له زندانه يې راوايسته؛ نو غرغره کېږي. هغوی د زندان په او سپنو پورې کلک نښلي؛ نه داچې له ازادۍ وېره لري؛ بلکې له يوې داسې ازادۍ وېرېږي، چې پايله يې د اعدام سزا ده؛ خو هغوی چې په مرګ کې نه ((فنا))ويني او نه له بدو کړنو له ډک کړنليکه؛ نو ولې بايد له مرګ ووېرېږي. بېشکه چې پر هغوی هم خپل ژوند ډېر ګران دی؛ خو ددې لپاره، چې د نوي ژوند لپاره ترې ډېره ګټه واخلي؛ هغه ژوند، چې تر مرګ روسته يې په تمه دی او هغه مرګ ته پر ورين تندي ورغاړې وځي، چې موخه يې د الله تعالی خوښي وي.

**دوه بېلابېلې کتنې**

و مو ويل: خلک دوې ډلې دي او هغوی ډېر دي، چې له مړينې بېزاره دي؛ خو پوه بله ډله وه، چې که مړينه يې د يوې سترې موخې؛ لکه شهادت لپاره وه؛ نو له مړينې يې په ورين تندي هرکلی کاوه او يا لږ تر لږه، داسې و، چې پوه شول، چې د عمر د کتاب پاڼې يې مخ پر خلاصېدو دي؛ نو ډېر خپګان يې نه درلود او دليل يې دا دی، چې هغوی دوه بېلابېلې کتنې لري.

**لومړۍ ډله:**

يا اصلاً تر مړينې روسته پر نړۍ ايمان نه لري او که لري يې؛ نو تر اوسه پرې بشپړ باور نه لري؛ نو د مرګ شېبه، له هر څه سره د مخه ښې شېبه بولي، چې البته له هرڅه سره د مخه ښې کولو شېبه ډېره سخته ده؛ له رڼا وتل او په تورتم کې ګام ايښوول، ډېره دردونکې ده او همداسې له يو بنده داسې نياوتون-محکمې ته تګ، مجرم ته سخت دي، چې د جرم اسناد يې جوت وي او هر څه يې بربنډ شوي وي.

**دويمه ډله:**

مړينه يوه نوې زوکړه ګڼي، د نړۍ له محدود او تياره چاپېرياله وتل او د يو پراخ او روښانه عالم پر لوري ګام اوچتول بولي. له يوې وړوکې او تنګې پنجرې ازادېدل او په بې پولو اسمان

کې وزرې وهل او الوتل، له داسې چاپېریاله وتل، چې د ډول ډول جګړو، شخړو، تنګ نظریو، بې عدالتیو او کینو مرکز دی او داسې چاپېریال ته ورتګ دی، چې له دې هرڅه پاک وي؛ نو ښکاره خبره ده، چې هغوی به له داسې مرګه وېره نه لري او د حضرت علي په څېر به وايي: پر الله تعالی قسم، چې بریمن شوم.
پر حضرت علي مرګ، ما شوم ته د مور تر تي هم ډېر ګران دی؛ نو وړیا خبره نه ده، چې موږ د اسلام په تاریخ کې د امام حسین او د هغه د یارانو په څېر کسان وینو، چې څومره مرګ ته ورنږدې‌دل؛ هومره خو شحالېدل او څېره یې له خو شحالۍ غوړېده او بیا په تاریخ کې لولو: د سجدې پرمهال، چې پرحضرت علي د زهرجنې تورې ګوزار و شو؛ نو و یې ویل: د کعبې پر الله تعالی قسم، چې بریمن شوم.
څوک دا نه وايي، چې انسان دې ځان په خطر کې کړي او دا ستر الهي نعمت دې نالیدی وګڼي او سترو موخو ته د رسېدو لپاره ترې ګټه وانخلي؛ بلکې مراد دادی، چې له ژونده سمه ګټه واخلي او هېڅکله له پای یې وېره و نه لري؛ په تېره، چې د یوې سترې موخې لپاره وي.

## معاد

که ددې نړۍ ژوند له بلې نړۍ سره اړوند و نه ګڼو؛ نو بې مانا او تشـمنځی به شي او داسې مثال به ولري، چې د مور د ګېډې ژوند ددې نړۍ له ژونده پرته وګڼو. ما شوم، چې د مورپه ګېډه کې وي او د میاشتو لپاره په دې تیاره زندان کې ایسار وي؛ نو که عقل ولري او د مور په ګېډه کې د خپل ژوند په اړه فکر وکړي؛ نو حیران به شي.
زه ولې په دې تیاره زندان کې یم؟
ولې باید په وینه او اوبو کې لامبو ووهم؟
د عمر د پای پایله به مې څه وي؟
له کومه او د څه لپاره راغلی یم؟
خو کـه ورتـه پوهـه ورکړه شي، چې دا یو سریزه ایز پړاو دی، غړي به یې دلته جوړ شي، مضبوط به شي او په یوه بله نړۍ کې د حرکت لپاره چمتو کېږي. نهه میاشتې روسته به له دې بنده ستا د ازادۍ حکم واورول شي. یوې داسې نړۍ ته به ورشي، چې روڼ لمر او ځلانده سپوږمۍ لري، شنې ونې، رواني او رڼې اوبه او ډول ډول نعمتونه لري؛ نو هله یوه ارامه ساه اخلي او وايي: اوس پوه شوم، چې دلته مې د وجود فلسفه څه وه!

دا سریزه ایز پړاو، ښه پوهنتون ته د رسېدو لپاره یو ښوونځی دی؛ خو که د مور د ګېډې د ژوند اړیکه له دې نړۍ و شلول شي؛ نو هر څه به بې مانا او تیاره شي؛ یو وحشتناک او بې موخه، کړوونکی او بې پایلې زندان به شي.
د دنیوي ژوند او تر مرګ روسته د ژوند اړیکه همدا ده. څه په کار دي، مور اویا کاله یا ډېر ددې نړۍ په ستونزو کې واوسو.
د یوې مودې لپاره خام یو، چې تجربه او پاخه شو او تجربه لاس ته راوړو؛ نو عمر مو پای ته ورسي. باید د مودو لپاره پوهه لاس ته راوړو او همداچې د پوهې له اړخه یو ځای ته ورسو؛ نو زاړه شو!
رښتیا! د څه لپاره ژوند کوو؛ د ډوډۍ خوړو لپاره، جامو اغوستو لپاره، ویدېدو لپاره؟ ددې تکراري ژوند دوام؟
ایا په رښتیا دا پراخه اسمان، پراخه ځمکه او دا ټولې سریزې، د علم دا دومره زده کړه او د تجربو لاس ته راوړل، دا دومره ښووندان، ټول د خوړو، څښلو، جامو اغوستو او دې تکراري ژوند لپاره دي؛ نو هغوی چې پر معاد ایمان نه لري، ددې ژوند پوچي ورته جوتېږي؛ ځکه نشي- کړای د ژوند دا وړې چارې د ژوند موخې وګڼې او تر مړینې روسته، پر ژوند هم ایمان نه لري؛ نو لیدل کېږي، چې ځینې یې ځانونه وژني او ځان له دې لارې له یو بې مانا او پوچ ژونده خلاصوي.
خو که ګروهه ولرو، چې نړۍ آخرت ته یو پټی دی او نړۍ داسې پټی دی، چې باید دانې پکې وکرو او یېبره-محصول یې په تلپاتې ژوند کې راټول کړو.
نړۍ یو پوهنځی دی، چې باید پوهه پکې لاس ته راوړو او خپل ځان په یو بل تلپاتې ژوند کې د ژوندون لپاره چمتو کړو، نړۍ یو لار او پُل دی، چې باید تېر پرې شو؛ نو په دې بڼه کې، نړۍ به راته بې مانا او پوچه نه وي؛ بلکې تلپاتې ژوند ته به سریزه وي، چې څومره هڅه ورته وکړای شي؛ بیا هم لږ دی.
هو ګرانو! معاد ژوند ته مفهوم ورکوي او ژوند له ((خپګان)) ((ترهورۍ)) او تشمنځۍ ژغوري. پر معاد ایمان د روزنې ستر لامل دی. پر مرګ پر ګروهې سربېره، په هغې نړۍ کې د الله تعالی پر نیاوتون-محکمه ایمان درلودل، زموږ پر ننني ژوند هم ګټور اغېز لري.
فرض کړئ، په یوه هېواد کې اعلان وشي، چې د کال پر پلانۍ ورځ به هېڅ ډول جرم ته سزا ور نه کړه شي او خلک ډاډمن کړای شي، چې هغه ورځ د سزا په پام کې نه نیو سره تېره کړي، پولیس او پوځ هم رخصت دي، محکمې او د عدلیې چارې هم بندې دي او هغه

ورځ، چې تېره شوه؛ نو هېره شوه؛ نو پخپله فکر وکړئ، چې پر هغه ورځ به په ټولنه کې څه وشي؟

پر قیامت ایمان، پر یوه ستره محکمه ایمان دی، چې ددې نړۍ له محکمې سره هډو پرتلنوړ نه دی. ددې نیاوتون-محکمې ځانګړنې دا دي:

۱-یوه محکمه ده، چې واسطه پکې نه چلېږي او په دروغو هم د قضاوت رای نه بدلېږي.

۲-یوه محکمه ده، چې ددې نړۍ تشریفاتو ته اړتیا نه لري؛ ځکه تفصیل او اوږدوالی نه لري، بې ځنده د سترګو په رپ کې محاکمه کېدل او حکم اورول دي.

۳-یوه محکمه ده، چې د خلکو د تورونو اسناد یې خپلې کړنې دي؛ یعنې پخپله کړنې هلته شتون لري او له خپلې ګټې سره اړیکې پخپله تشخیصوي، چې څوک ترې هډو منکرېدای نشي.

٤- د هغې محکمې لووي-شاهدان؛ لاسونه، پښې، غوږونه، سترګې، ژبه، پوټکی او د انسان تنه ده او ان پر هغه ځمکه یا کور، چې پکې ثواب یا ګناه شوې وي، ستا شاهدان دي.

۵-هغه محکمه ده، چې قاضي یې الله تعالی دی؛ هغه الله تعالی چې له هر څه خبر دی، چا ته اړین نه دی او تر ټولو عادل دی.

٦-په دې محکمه کې سزا قراردادي نه ده او دا زموږ کړنې دي، چې انځورېږي او څنګ ته مو راځي او کړوي مو یا هوساینه راکوي.

پر داسې محکمه ایمان، انسان داسې ځای ته رسوي، چې د حضرت علي په څېر وايي: ((پر الله تعالی قسم، که د شپې د نرمې بسترې پرځای پر اغزو سملم او له پښو او لاسونه مې په زنځیر وتړي او په کوڅو او بازارونو کې مې راکاږي او په داسې حال کې په الهي محکمه کې سوب شم، چې د الله تعالی پر کوم بنده مې ظلم کړی وي او یا د چا پر مال مې ګېډه اچولې وي. [1])) پر همدې محکمې د ایمان پایله ده، چې د اور په څېر سره اوسپنه، د خپل هغه رور لاس ته وروړاندې کوي، چې په بیت المال کې د توپیر غوښتونکی و او چې رور یې چغې کړې؛ نو ورته یې وویل: ته د انسان په لاس له جوړ شوي اوره داسې چغې وهې؛ خو خپل رور دې هغه اور ته ورغورځوې، چې الله تعالی بل کړی دی؟ [2]

ایا داسې انسان له داسې ایمان سره غولېدلای شي؟ ایا پر بډو یې وجدان اخستای شي؟ ایا په هڅونه او ګواښنه کېدای شي، د حق له لارې کوږ کړای شي؟

---

[1]. (نهج البلاغه ۲۲٤خطبه)

[2]. (نهج البلاغه ۲۲٤ خطبه)

قرآن عظيم الشأن وايي: ((وَوُضِعَ الْكِتَابُ فَتَرَى الْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَاوَيْلَتَنَا مَالِ هذَا الْكِتَابِ لاَ يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلاَ كَبِيرَةً إِلَّا أَحْصَاهَا وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِراً وَلاَ يظْلِمُ رَبُّكَ أَحَداً[1]=او هلته به کړنلیکونه کېښوول شي؛ نو ته به ګورې چې ګناهکاران، څه چې په کړنلیکونو کې دي، ترې وېرېږي او وايي به: ((های، زموږ بدې برخې! دا څنګه لیکنه ده، چې زموږ هره کوشنۍ او لویه پکې راټوله شوې ده؟!)) او (حال دا ) خپل ټول کړه به سوب وینې او ستا پالونکی پر هېڅچا تېری نه کوي.))

## د قیامت د محکمې- نیاوتون ګیله

تر مړینې روسته ژوند او د الهي محکمې چار، انسان ته نوې خبره ده، الله تعالی ددې محکمې یوه وړه بېلګه، په همدې نړۍ کې موږ ته راښوولې، چې نوم یې د وجدان محکمه ده.

اجازه راکړئ، پردې خبره رڼا واچو: انسان د هغو کړنو په پار چې کوي یې، په څو محکمو کې محکمه کېږي. او دا محکمه همدا بشري عادي محکمې دي، چې ډېرې نیمګړنې او کمزورۍ لري.

چې باید وویل شي، د همدې محکمو له دې ټولو نیمګړتیاوو سره په جرمونو کې ډېر کموالی راوړي؛ خو ددې محکمومیت بنسټ داسې دی، چې هېڅکله ترې د بشپړ عدالت تمه نشي کېدای؛ ځکه نن په محکمو کې ناصالح قاضیان ناست دي، بډې، واسطه، سیاسي لوبې او نور داسې زر ډوله معاملې پرې واکمنې دي؛ نو انسان ویلای شي، چې له شتونه یې نشتون ښه دی؛ ځکه شتون یې یوازې د ځینو پر ګټه دی.

او که ددې محکمو قاضیان عادل او متقیان وي، بیا هم داسې مجرمان شته، چې کړای شي داسې ماهرانه عمل وکړي، چې د جرم آثار له منځه یوسي او داسې دوسیه او نندارہ ځان ته جوړوي، چې د قاضي لاسونه کلک تړي او ټول قوانین بې اغېزې کوي.

دویمه محکمه، چې حساب و کتاب لري او دقیق ده، د "مکافات عمل" محکمه ده.

کړنې مو آثار لري، چې لرې یا نږدې به مو غاړه ونیسي- که دا یو عمومي حکم نه وي؛ خو د ډېرو په اړه رښتین دی. حکومتونه مو ولیدل، چې د ظلم او تېري بنسټ یې کېښود او څه یې چې له لاسه کېدل، و یې کړل؛ خو بالاخره کومه څاه یې چې خلکو ته کنلې وه، پخپله یې

---

[1] (کهف/ ٤٩)

پرې لار شوه او د خپلو کړنو غبرګون ور تر غاړې شو او داسې راپرېوتل، چې له منځه ولاړل او تل خلک لعنت پرې وايي.
مکافات عمل هماغه د عامل او معلول اړيکه او بهرنی پيوند يې دی، چې لږ داسې پيدا کيږي، چې پر صحنه سازۍ به څوک ځان ترې خلاص کړي.
يوازې نيمګړتيا، چې دا محکمه لري داده، چې ټوليزه او عمومي نه ده؛ ځکه موږ د قيامت د ورځې له محکمې څخه نه بې اړې کوو.
درېيم نياوتون، چې ترديې يې هم حساب و کتاب دقيق دی، د "وجدان" نياوتون دی.
د انسان په زړه کې دننه يو پټه ځواک دی، چې فلاسفه ورته " عملي عقل " وايي، قرآن عظيم الشأن ورته " لوامه نفس " او نن ورته وجدان ويل کيږي.
څنګه چې انسان بايد ښه وکړي؛ نو بې ځنډه او په چوپه خوله دا محکمه جوړه شي؛ خو آرونهي او جدي خپله محاکمه پيلوي، چې د حکم پايله يې د رواني او روحي هڅوونو او مجازاتو په بڼه بيانوي، کله مجرمان داسې پر دننۍ کوړه وهي او مجرم ته دومره روحي کړخت ورکوي، چې مرګ ته پر ورين تندي ورغاړې وځي، ځان وژني او وايي: ځکه مې ځان وواژه، چې ځان د وجدان له خپګانه خلاص کړم.
او کله د يو ښه کار په پار انسان دومره هڅوي او دومره خوشحالي ورکوي، چې په جامو کې نه ځايېږي، په خپل دننه کې يوه ژوره ارامي ننګېري، داسې يوه ارامتيا، چې د بيان لپاره يې لا بشر ټکی نه دی راپيدا کړي.
دا نياوتون-محکمه هېښنده ځانګړنې لري:
۱-ددې محکمې قاضي، لووی- شاهد، د حکم چلوونکی او ننداره کوونکی ټول يو دی، هماغه د وجدان ځواک دی، چې شهادت ورکوي، ورمندون-قضاوت کوي او بيا متی بڼه وهي او حکم ورکوي.
۲- کله عادي محکمې، کلونه کلونه، د يوې محکمې لپاره تېروي؛ خو دا محکمه بې ځنډه، د سترګو په رپ کې محکمه جوړوي او وخت ته اړتيا نه لري؛ البته کله د جرم جوتولو او له سترګو د غفلت د پردې د لرې کېدو لپاره وخت پکار وي او د مدرک تر راوړو روسته خپل غوڅ حکم ورکوي.
۳-ددې محکمې حکم يو پړاو او استيناف، بيا کتنه او ستره محکمه نه لري.
٤- دا محکمه يوازې سزا نه ورکوي؛ بلکې دنده پېژاندو ته انعام هم ورکوي؛ نو هغه محکمه ده، چې ښه او بد دواړه پکې حاضرېږي او چاچې څه کرلي وي؛ نو خپل رېبلي ورکوي او د خپلو کړنو له مخې حکم ورکوي.

۵-ددې محکمې سزا د نورو محکمو سزاوو ته ورته والی نه لري.
په ظاهره خو نه زندان لري، نه دوره، نه د اعدام سته؛ خو کله انسان له دننه داسې کړوي، چې پر انسان نړۍ له دې ټولې پراختیا سره راتنګوي.

لنډه داچې دا محکمه د نړۍ د محکمو په څېر نه ده؛ بلکې ډول يې د قيامت د محکمې په څېر دی.

د محکمې ستريا تردې ده، چې قرآن عظيم الشأن، قسم پرې خوړلی او هغه يې د قيامت د محکمې ترڅنګ راوړی، وايي:

((لاَ أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ. وَلاَ أُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ. أَيَحْسَبُ الإِنسَانُ أَلَّن نَجْمَعَ عِظَامَهُ. بَلَى قَادِرِينَ عَلَى أَن نُّسَوِّيَ بَنَانَهُ[1] = د قيامت پر ورځ قسم! او قسم خورم پر (ويښ وجدان او) ملامتوونکي نفس (چې قيامت حق دی)! ايا انسان انګېري، چې هډونه به يې راټول نکړو؟! هو! زموږ له وسې پوره دي، چې د هغه د ګوتو[د سرونو بېلې بېلې ليکې هم] سمې او بياورغوو.))

البته سره له دې ټولو ځانګړنو، ددې لپاره، چې دا محکمه هم دنيوي محکمه ده او نيمګړتيا لري؛ نو موږ د قيامت د ورځې له محکمې نه مړه خوا کوي.

۱-د وجدان واکمني پر هر څه نه ده او واکمني يې د انسان له ان او تشخيص سره انډول ده.

۲-کله يو ماهر چلي انسان خپل وجدان هم تېر باسي.

۳-کله په ځينو ګناه کارانو کې د وجدان غږ دومره کمزوری وي، چې غوږونو ته يې نه ورسي.

نوځکه څلورمې محکمې ته چې د قيامت د ورځې محکمه ده اړين يو.

## په قيامت کې د انسان تمځايونه

د قيامت تمځايونه ډېر دي، په يو تمځای کې د انسان پر خوله ټاپه لګي او نور غړي به يې شهادت ورکوي؛ (شهيدعليهم سمعهم وابصارهم وجلودهم[2]) په بل تمځي کې انسان کړای شي خبرې وکړي(وقفوهم انهم مسؤلون [3]) په بل ځای کې له انسان سره خبرې نه کېږي؛ (لا يکلمه الله[4])؛ خو په بل ځای کې الله تعالی وايي: (هاتوابرهانکم)

که څه ځينو احتمال ورکړی، چې ددې آيت مراد به دا وي، چې له هرې مشرکې ډلې به يو مشر د شاهد او وياند په نامه راباسي او پوښتنه به ترې وشي: د شرک دليل مو څه دی؛ خو هغه

---

[1] (قيامت/۱-٤)

[2] (فصلت/۲۰)

[3] (صافات /۲٤)

[4] (بقره /۱۷٤)

روایت، چې تر همدې آیت لاندې له امام باقر نه روایت شوی [1] مراد یې دادی، چې په هر وخت کې به یو معصوم انسان (پیغمبر یا د پیغمبر وصي) وي، چې د انسان پر کړنو به خبر وي، چې د قیامت پر ورځ به د خلکو د کړنو شاهد او گواه وي.

## معاد او فطرت

معمولاً ویل کېږي، چې څښتن پېژندنه، د انسـان په فطرت او خټه کې اغږل شوې ده او که آگاه او نا آگاه ضـمیر یې راوسـپړل شي؛ نو له څښتن سره د مینې ډېر آثار به پکې ومومندل شي؛ خو دا چتر یوازې د "توحید" او الله پېژندنې پوره نه؛ بلکې د دین ټول آرونه او فروغ باید د انسان په فطرت کې وي، که داسې نه وي؛ نو د "تشریع" او "تکوین" د غونډال ترمنځ به پکار همغږي نه وي.

که موږ د خپل زړه کومې ته ور شو؛ نو داسې به راته وویل شي، چې مرگ د ژوند پای نه ده؛ بلکې د "عالم بقاء" پر لوري یوه دریمځه ده، پردې خبره د پوهېدو ته دې لاندې خبرو ته پام وشي:

**۱-له بقاء سره مینه**

رښتیا! که انسان د فنا او نېستۍ لپاره پنځول شوی وي؛ نو باید له فنا سره مینه ولري او باید د خپل عمر په پای کې، له مړینې خوند واخلي؛ خو گورو، چې د مرگ څېره (د نېستۍ پر مانا) په هر وخت کې، پر انسان ښه نه لگي او بدې یې ایسي.

په اوږد عمر پسې منډې او هلې ځلې کول، د ځوانۍ د اکسیر پیدا کول، د آب حیات پلټنه، هر یو ددې واقعیت ننښه ده. له بقا سره مینه ښیي، چې موږ د بقاء لپاره پنځول شوي یو؛ خو که د فنا لپاره پنځول شوي وای؛ نو دې مینې به مانا نه درلود. ټول هغه بنسټیز عشقونه، چې زموږ په دننه کې دي، زموږ وجود بشپړوي، له بقا سره مینه او عشق هم زموږ د وجود بشپړونکی دی.

هېر مو نشي، چې موږ د "معاد" خبره، د حکیم او پوه الله تعالی د وجود تر منلو روسته څېړو او گروهن یو: څه چې هغه زموږ په وجود کې پنځولي، د حساب کتاب له مخې دي؛ ځکه له بقا سره مینه هم باید حساب و کتاب ولري، چې هغه هم، بې د بلې نړۍ له شتونه هېڅ نشي کېدای شي.

---

[1] (المیزان تفسیر ۱۶/ ۲۰)

**۲-په تېرو قومونو کې قيامت**

د بشر تاريخ راښيي، چې په تېرو قومونو کې دين له پخوا څخه و، چې تر ژوند روسته پر ژوند د انسان د بشپړ گروهې گواه هم همدا تاريخ دی.

هغه آثار، چې له پخوانيوانسانانو، ان تر تاريخه د مخکې انسانانو پاتې دي، په تېره، د قبرونو په ځانگړي توگه جوړول او د مړيو څرنگه ښخوالی، ټول ددې حقيقت لووي-گواهان دي، چې هغوی تر مرگه روسته پر ژوند گروهن ول.

دا جرړه لرونکې گروهه، چې تل په بشر کې وه؛ يوه ساده خبره او يا يوازې يو رووړد يا د تلقين پايله نشي-گڼل کېدای. تل وينو، چې کومه گروهه په بستېزه بڼه د تاريخ په اوږدو کې په بشري ټولنو کې شتون لري؛ نو بايد هغه گروهه داسې وگڼو، چې د انسان په فطرت او خټه کې اغږل شوې ده؛ ځکه يوازې فطرت دی، چې د وخت له تېرېدنې او انديزو او ټولنيزو بدلونونو سره مقاومت کړای شي او هماغسې پر پښو ولاړ وي؛ گڼې نور دودونه او تلقينونه د وخت په تېرېدو هېرېږي.

پلانی ډول جامه اغوستل يو رووړد او دود دی؛ نو د چاپېريال په بدلېدو او يا د وخت په تېرېدو له منځه ځي؛ خو له اولاد سره د مور مينه يوه غريزه ده، چې د انسان په خټه کې اغږل شوې ده؛ نو نه يې د چاپېريال بدلون کمولای شي او نه پرې د وخت تېرېدل اغېز لري او هر ډول دننني لېوالتيا، چې پردې بڼه واوړي، پردې دلالت کوي، چې د انسان فطرت او په سته کې ايښوول شوي دي.

چې کله پوهان وايي: ((دقيقو څېړونو څرگنده کړې، چې ړومبيو قومونو يو ډول مذهب درلود... ؛ ځکه خپل مړي يې په ځانگړي توگه خاورو ته سپارل او د کار وسايل يې هم ورسره ايښوول او له دې لارې يې پر بلې نړۍ خپله گروهه جوتوله. [1]))

موږ ښه پوهېږو، چې دا قومونو تر مرگ روسته پر ژوند گروهن ول، که څه هغوی پر کږه تللي ول او داسې گومان يې درلود، چې هغه ژوند هم ددې نړۍ د ژوند په څېر دی او د همدې ژوند وسايل پکې په کار دي.

**۳-د دننني محکمې وجود، چې نوم يې وجدان دی، پردې خبره بل گواه دی.**

معاد د انسان په فطرت کې اغږل شوی؛ لکه څنگه چې مخکې مو هم وويل، چې موږ په ښه توگه دا خبره احساسوو، چې زموږ په دننه کې يوه محکمه شته چې پر کړنو مو څارنه کوي، د ښه چارو په پار انعام راکوي او يو داسې د هوساينې ننگېرنه راکوي، چې ځانگړې خوشحالي

[1]. (د کينگ ټولنپوهنه، ۱۹۲مخ)

لري، چې قلم يې له ستاينې پاتې راځي او د ګناهونو په تېره، د سترو ګناهونو په پار داسې سزا راکوي، چې ژوند پر انسـان تريخوي. ډېر داسـې ليدل  شوي، چې ځينو له ګناه، سـتر جرم، وژنې او له عدالته تر تېښـتې روسـته پخپله راغلي او ځان يې قانون ته ورمعرفي کړی او د دې کار دليل هم د همدې وجدان له کړخته خلاصون ويل شوی.

انسـان د دننني محکمې (وجدان) له مشاهدې سره له ځانه پوښـتي: څنګه زه، چې يو وړوکی موجود يم؛ نو يوه محکمه لرم؛ خو سـتره نړۍ له خپل ځان سره مناسـبه محکمه و نه لري؟ نو له دې لارو د معاد فطرت والی جوتېږي:

۱-له پاينې سره مينه. ۲-د تاريخ په اوږدو کې پرې د بشرـ ګروهه. ۳-د انسان په وجود کې وړه محکمه.

## جنت او دوزخ د کړنو انځور دی

ډېر خلک له ځانه پوښتي: ايا تر مرګ روسته ژوند هم ددې نړۍ په څېر دی يا يو له بل سره توپير لري؟ ايا نعمتونه، سزاوې او لنډه داچې پرې واکمن قوانين، ددې نړۍ په څېر دي؟

په ځواب کې دې په غوځه وويل شي: ډېر لاسوندنه-شواهد په لاس کې دي، چې هغه نړۍ له دې نړۍ سره توپير لري، تردې څه چې په دې نړۍ کې د قيامت په اړه وينو؛ يوازې د يو سيوري په څېر دي، چې له لرې يې وينو.

لکه چې د مور په ګېډه کې د ماشوم مثال مې راوړ، هماغومره، چې د مور د ګېډې نړۍ له دې نړۍ سره توپير او واټن لري؛ نو د دې نړۍ او تر مرګ نه روسته ژوند هم سره توپير او واټن لري.

که يو ماشوم د مور په ګېډه کې وي او عقل او هوش ولري او که غوښتل يې د خپلې راتلونکې نړۍ، اسمان، ځمکې، سپوږمۍ، لمر، ستورو، غرونو، ځنګلونو او سمندرونو انځور پخپل ذهن کې وکړي؛ نو هېڅکله به دا کار ونشي کړای. د يوه ماشوم لپاره، چې د خپلې مور په ګېډه کې دی او بې د مور له ګېډې يې بل ځای نه وي ليدلای؛ نو سپوږمۍ، لمر، سمندرونه، توپان، باد، ګلان او ښکلا ورته هډو مانا او مفهوم نه لري، د هغې د ژوند په کتاب کې يوازې څو ټکي دي او که فرضاً څوک وکړای شي، د مور له ګېډې نه بهر خبرې ورسره وکړي؛ نو هغه به يې د خبرې پر مفهوم پوه نشي.

ددې نړۍ او د هغې نړۍ توپير هم همدومره ډېر دی؛ نو هېڅکله به و نه شو کړای د هغې نړۍ له ژوند او نعمتونو يې هغسې چې دي، خبر پيدا کړو.

په حديث کې راغلي: ((په جنت کی داسې نعمتونه دي، چې هېڅ سترګې نه دي ليدلي او هېڅ غوږ نه دي اورېدلي او د چا ماغزو ته هم نه دي راغلي.))
پردې نړۍ حاکم نظامونه هم له هغه نړۍ سره خورا توپير لري؛ د بېلګې په توګه: د قيامت د ورځې په نياوتون-محکمه کې د انسان د کړنو ګواهان يې لاس، پښې او پوټکی دی او ان هغه ځمکه، چې ګناه پرې شوې ده:
((الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَى أَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَا أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ[1]-نن يې خولې بندوو او لاسونه يې له موږ سره خبرې کوي او پښې يې د هغوی پر کړنو ګواهي لي!))
((وَقَالُوا لِجُلُودِهِمْ لِمَ شَهِدتُّمْ عَلَيْنَا قَالُوا أَنطَقَنَا اللَّهُ الَّذِي أَنطَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَهُوَ خَلَقَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ=[2] او د خپل (بدن) پوټکو ته وايي: ((تاسې ولې زموږ پر زيان شاهدي وويله)) (پوټکي) وايي: ((هغه الله موږ پر خبرو راوستو، چې هر شی په خبرو راولي او هغه تاسې لومړی ځل پيدا کړئ او يوازې د هغه پر لوري ورګرځول کېږئ.))
البته يو وخت ددې خبرې منل ستونزمن ول؛ خو د علم په پرمختګ او د انځور او غږ په ضبطولو پکې د هېښنې ځای نه پيدا کېږي.
که څه د هغې نړۍ تصور زموږ له ذهنه لرې خبره ده؛ خو دومره پوهېږو، چې د هغه نړۍ نعمتونه او سزاوې هم جسماني او روحاني اړخ لري؛ ځکه معاد دواړه اړخونه لري او ښکاره خبره ده، چې ثوابونه او سزاوې يې هم دواړو اړخونو لپاره وي؛ يعنې لکه څنګه چې د مادي او جسماني اړخ په اړه وايي:
((وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الأَنْهَارُ كُلَّمَا رُزِقُوْا مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ رِزْقاً قَالُوا هَذَا الَّذِيْ رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ وَأُتُوا بِهِ مُتَشَابِهاً وَلَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُطَهَّرَةٌ وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ[3]= هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړی او نېکې چارې يې کړي، زېری ورکړه، چې هغوته د جنت بڼونه دي، چې تر ونو لاندې يې وياله بهېږي او هر وخت چې څه مېوه ورکړه شي؛ نو وايي: ((دا خو هماغه مېوه ده، چې موږ ته مخکې (په نړۍ کې) راکړه شوې وه (؛خو دا څومره تر هغوی غوره او خوندورې دي))) او کومې مېوې، چې وروړل کېږي، په ښايست او ښوالي کې يو ډول دي او هلته (په جنت کې) هغوی ته سپېڅلې مېرمنې دي او تل به هلته وي.))

---

[1] (يس/ ٦٥)
[2] (فصلت /٢١)
[3] (بقره / ٢٥)

د معنوي نعمتوونو په اړه وايي:
((وَعَدَ اللّهُ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ وَرِضْوَانٌ مِنَ اللّهِ أَكْبَرُ ذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ[1]- الله تعالى له مؤمنانو نارينه او ښځو سره د جنت د ښېونو ژمنه کړې، چې تر ونو لاندې به يې ويالې بهېږي (او) تل به پکې اوسېږي، په هغو تلپاتې جنتونو کې به ورته سوتره هستوګنځي (ور پر برخه) وي (او تر هر څه لا ډېر داچې) د الله تعالى رضا (او خوښي) به ور پر برخه وي، چې يوازې دا ستره بريا ده.))
هو! جنتيان لـه دې خبرې، چې اللـه تعالى ترې راضي دی او هغوی يې منلي دي، دومره خوشحاله وي، چې خوشحالي يې له هېڅ څيز سره پرتلنوړ نه ده.
د دوزخيانو په اړه هم جسماني عذابونو دي، داچې الله تعالى ترې راضي نه وي، تر ټولو ستر عذاب او کړخت دی.

## د کړنو انځورېدل

پاموړ خبره خو دا ده، چې د قيامت پر ورځ به زموږ کړنې راژوندی شي او په بېلابېلو بڼو به راسره وي او د پاداش او کيفر يوه مهمه برخه د کړنو انځور دی.
ظلم او تېري به د توري وريځې په څېر زموږ شاوخوا نيولې وي، چې د الله تعالى د رسـول وينا ده، چې: (الظلم هوالظمات يوم القيامه)
د پلارمړ نامشروع مال به د اور د لمبو په څېر زموږ شاوخوا ونيسي.
((إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْماً إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَاراً وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيراً[2]-څوک چې په ظلم د پلارمړيو مالونه خوري (په حقيقت کې) يوازې اور خوري او ډېر ژر به د اور (دوزخ) په لمبو کې وسوځي.))
((سَابِقُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِن رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ[3]-له خپل پالونکي د ښښنې پر لوري او هغه جنت ته (د رسېدو لپاره) يو له بله د مخکې کېدو هڅه وکړئ، چې ارتوالی يې د اسمان او ځمکې د ارتوالي هومره دی، چې يوازې هغو کسانو ته چمتو شوي، چې پر الله تعالى او د

[1] (توبه/ ۷۲)
[2] (نساء / ۱۰)
[3] (حديد/ ۲۱)

هغه پر استازیو یې ایمان راوړی وي؛ دا د الله فضل دی، چاته چې یې خوښه شي (او وړ یې وبولي) ورکوي یې او الله د ستر فضل خاوند دی.))
ایمان به د رڼا په څېر، زموږ شاوخوا روښانه کړي. هغه سودخواره، چې پر خپلو ناوړه کړنو یې د ټولني وتیز انډول له منځه وړی و، د هغه مېرګیو د رنځور په څېر به وي، چې له ځمکې پاڅي؛ نو خپل ځان به نشي راټینګولای؛ نو راپاسي به او بېرته غورځېږي.
هغه مالونه، چې کنجوســانو ټول کړي او د بېوزلیو حق یې ترې نه و ورکړی؛ نو همدا مال به یې په قیامت کې پر ورمېږونو د یوه دروند پېټي په څېر وي، چې له لاسه به یې حرکت نشي-کړای.
((وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ هُوَ خَيْراً لَّهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلِلّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ [1]- الله تعالی چې پر چا لورېدلی وي او پکې کنجوسي کوي؛ نو نه دې یې ګڼي، چې داکار یې په ګټه دی؛ بلکې په زیان یې دی، ژر به د قیامت پر ورځ هغه څه ورته د غاړې هار شي، چې کنجوسي یې پرې کوله او اســمانونه او ځمکه یوازې الله تعالی ته پاتېږي اوڅه چې کوئ، الله تعالی پرې ښــه خبر دی.))
او همداراز هره کړنه انځورېږي.
پوهېږو، چې د نن علم وايي، چې په نړۍ کې هېڅ څه له منځه نه ځي او اغېز یې تل خپله بڼه بدلوي. ددې قانون له مخې، زموږ کړنې هم له دې دوو وتلې نه دي او د تل لپاره پاتېږي، که څه بڼه یې بدله شي.
قرآن عظیم الشأن وايي:
((وَوُضِعَ الْكِتَابُ فَتَرَى الْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَاوَيْلَتَنَا مَالِ هَذَا الْكِتَابِ لاَ يُغَادِرُ صَــغِيرَةً وَلاَ كَبِيرَةً إِلاَّ أَحْصَــاهَا وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِراً وَلاَ يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَداً [2]= او هلته به کړنلیکونه کېښوول شي؛ نو ته به ګورې، چې ګناهکاران، څه چې په کړنلیکونو کې دي، ترې وېرېږي او وايي به: ((های، زموږ بدې برخې! دا څنګه لیکنه ده، چې زموږ هره کو ښنی او لویه پکې راټوله شوې ده؟!)) او (حال دا) خپل ټول کړه به حاضر ویني او ســتا پالونکی پر هېچا تېری نه کوي.

[1] (آل عمران /۱۸۰)
[2] (کهف/٤٩)

((فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْراً يَرَهُ. وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرّاً يَرَهُ [1]= نو څوک چې د يوې ذرې هومره ښه (کار) وکړي، و به يې ګوري او څوک چې د يوې ذرې هومره بد (کار) وکړي، و به يې ګوري.))

ددې حقيقت په پامنيوي، چې زموږ واړه، غټ، ښـه او بدې کړنې، په دې نړۍ کې ثابت او محفوظ پاتېږي او له منځه نه ځي او په قيامت کې به راسره وي، چې خپلو کړنو ته يې پام وي؛ نن داسې غونډالونه جوړ شوي، چې د دې خبرې منل يې اسان کړي دي.

يو عالم ليکي: نن يې د مصرـي کوزه ګرانو غږيزې څپې منعکسـې کړې دي، چې د اورېدو وړ دي.

لنډه داچې هر ښه او بد عمل زموږ پر روح او بدن اغېز لري او د تل لپاره به راسره وي.

## تقوا

((أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَى تَقْوَى مِنَ اللّهِ وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ أَم مَّنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىَ شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ وَاللّهُ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ [2]=او ايا هغه غوره دی، چې د خپلې ودانۍ بنسټ يې پر الهي تقوی او د هغه د خوښۍ لپاره ايښی وي، که هغه چې خپله ودانۍ يې د يوه پاڼ پرغاړه جوړه کړې وي، چې ورسره يوځای په جهنم کې وغورځېږي؟ او الله تعالی ظالمانو ته سمه لار نه ښيي.))

## د "تقوا" ويی

تقوا يوه عامه ديني اصطلاح ده، چې په قرآن عظيم الشأن کې، په اسمي او فعلي بڼه ډېره راغلې ده. تقريبا هومره، چې د "ايمان" او "عمل" نوم راوړل شوی او لمونځ او زکات راغلی او ان تر روژې يې ډېر نوم راوړل شوی دی. په نهج البلاغه کې هم پر "تقوا" خورا ډډه شوې ده. په نهج البلاغه کې د "متقين" په نامه يوه اوږده خطبه هم ده او دا خطبه حضرت علي کرم الله وجهه د هغه سړي په ځواب کې ويلې وه، چې د متقيانو انځور يې غوښتی و؛ په پيل کې امام يوازې په څو غونډلو-جملو بسيا وکړه؛ خو دا سړی (همام بن شريح)، چې بااستعداده و، قانع

[1] (الزلزله/٧-٨)

[2] (توبه/١٠٩)

نه شو او په خپله غوښتنه یې ټینګار وکړ. امام هم خوله راوسپړله او تر سلو ډېر د متقیانو فکري، اخلاقي او عملي ځانګړنې یې وویلې.[1]

دا کلمه د "وقی" له مادې دی، چې د ساتلو، خوندېینې او ساتنې په مانا دی. د "اتقاء" مانا "احتفاظ"دی؛ خو تر اوسه لیدل شوي نه دي، چې په فارسي کې یې دا کلمه په "حفظ" او "نگهداري"ژباړلی وي. که په فارسي ژباړو کې دا ټکی په اسمي بڼه وکارول شي؛ لکه پخپله "تقوا" او یا "متقین"، چې په "پرهېزګاري"ژباړل کېږي. د بېلګې په توګه: ((هدیً للمتقین)) داسې ژباړي: ښیون-هدایت دی متقیانو ته او که په فعلي بڼه وکارول شي؛ په تېره، که د امر فعل وي او اړوند او "متعلق" یې هم یاد شي؛ نو د وېرې او ډار په مانا دی. د بېلګې په توګه: د ((اتقوا الله)) یا ((اتقوا النار)) په ژباړه کې ویل کېږي: له خدایه وډارېږئ یا له اوره وډارېږئ.

البته تر اوسه لا چا ادعا نه ده کړې، چې "تقوا" د "پرهېز"، "وېرې" یا "ژغورنې" په مانا ده؛ بلکې داچې لیدل شوي، چې پخپله د یوه څیز د ساتنې غوښتنه داده، چې له یو څه پرهېز وشي او پرېښوول شي، همداراز غالباً ساتنه او د نفس ساتنه له هغو چارو د وېرې ملازمې چارې دي؛ داسې انګېرل شوي، چې دا ماده مجازاً په ځینو ځایونو کې د پرهېز او په ځینو ځایو کې د وېرې او ډار په مانا کارول شوې ده.

البته هېڅ خنډ هم نشته، چې دا کلمه مجازاً د پرهېز او د وېرې په مانا وکارول شي؛ خو بلخوا موجب او دلیل هم نشته چې تایید کړي، چې له دې ټکي مراد یوه مجازي مانا ده؛ د بېلګې په توګه، پرهېز یا وېره وي. څه دلیل شته چې ووایو د ((اتقوا الله)) مانا داده، چې له خدایه وډارېږئ او د ((اتقوا النار)) مانا داده، چې له اوره وډار شئ؟؛ بلکې ددې ډول غونډلو مانا داده، چې ځانونه د اور له خطره وژغورئ او یا ځان د الهي کړاوو له خطره وژغورئ؛ نو پر دې بنسټ، د "تقو" د کلمې سمه مانا "ځان ساتنه=ځان ژغورنه" ده، چې هماغه د نفس ساتنه ده او متقین؛ یعنې ځان ساتي.

تقوا په شرع کې؛ یعنې څه چې انسان ګناه ته راکاږي؛ نو ترې د نفس ساتنه ده، چې محرمات او ممنوعات پرېږدي.

راغب په څرګنده وايي: تقوا؛ یعنې ځان خوندي ساتل او وایي، چې د وېرې پر ځای، د تقوا د وییي – کلمې کارول مجاز دي او البته نه یې څرګندوي، چې د((اتقوا الله)) په مثال کې موخه مجازي مانا ده او لکه چې مې وویل: دلیل نشته چې تایید کړي، په دا شان غونډلو- جملو کې مجازي کارول شوې وي.

---

[1] . څېړونکی: ددې خطبې شرح مې په ((متقیان)) نومې کتاب کې ژباړلې او ځینې برخې یې په www.andyal.com وېبپاڼه کې لوستی شئ.

څه چې هېښنده برېښي، ددې ویی – کلمې پارسي ژباړه ((پرهېزگاري)) ده. نه دي لیدل شوي، چې یو لغتوال دې هم مدعي شوی وي، چې دا ویی- کلمه دې په دې مانا کارول شوي وي؛ لکه چې و مو لیدل، راغب ددې ویی- کلمې کارونه، د وېرې په مانا یې نوم اخلي؛ خو د پرهیز په مانا یې دا ویی- کلمه نه ده کارولې. معلومه نه ده، چې له کوم ځایه او په کوم دلیل په پارسي ژباړو، کې دا ویی- کلمه پر پرهېزگاری ژباړل شوې ده؟! گومان کوم یوازې پارسي ژبې دي، چې له دې ویی- کلمې د پرهیز او ډډې مفهوم درک کوي. اړنگ – شک نشته چې په عمل کې د تقوا او د یو څیز پر وړاندې د نفس د خوندېینې- صیانت لازمه له هماغه څیزه ډډه او پرېښوول یې دي؛ خو نه داچې د تقوا مانا هماغه ډډه او پرېښوونه وي.

## د تقوا مانا او حقیقت

څه چې د تقوا د ویی- کلمې په هکله وویل شول؛ نو تر څه بریده ترې د اسلام له نظره د تقوا پر حقیقت او مانا پوهېدای شو؛ خو اړین دي، چې په دیني او اسلامي آثارو کې د دې ویی – کلمې کارونې ته زیاته پاملرنه وشي، چې روښانه شي، تقوا څه ته وایي. دلته یوه سریزه وایم.
انسان که وغواړي، چې په ژوند کې آرونه ولري او له هغو آرونو پلوي وکړي، که دا آرونه له دین او مذهبه اخستل شوي وي یا هم له بلې سرچینې؛ نو بېزاه- ناچار دی، چې معلوم دریځ ولري او گډوډي یې پر چارو واکمنه نه وي. د معلوم دریځ، د مسلکوالي، مرام او گروهې درلودو لازمه ده، چې د یوې موخې پر لوري حرکت وکړي او ځان له هغو چارو وساتي، چې له نردې- اني ځاني غوښتنو سره یې همغاړی- موافق وي؛ خو له ټاکلې موخې او آرونو سره یې په ټکر کې نه وي.
نو د عامې ویی – کلمې په مانا، تقوا د هر وگړي د ژوند لازمه ده، چې غواړي انسان ووسي او د عقل په حکم ژوند وکړي او له څرگندو آرونو لاروي وکړي.
دیني تقوا؛ یعنې له گناهونو ځان ساتل، دین چې ژوند ته کوم قانون وضع کړی، هماغه په پام کې نیول او له قانوني پولو څخه نه اوړېدل او له ښکاره بدیو ځان ساتل، چې همدې ته "تقوا" وایي او کېدای شي موږ دوه ډوله تقوا لرو: کمزورې تقوا او ځواکمنه تقوا.
**لومړی ډول:** داچې انسان ځان د گناه له چټلیو وساتي؛ نو له موجباتو یې تښتي او تل ځان د گناه له چاپېریاله لرې ساتي، داسې کس دې ته ورته دی، چې د "حفظ الصحې" لپاره هڅه کوي، د مرض او مېکروب له چاپېریاله او د رنځ د لېږد له موجباتو ځان لرې وساتي، د ساري په ډول: هڅه کوي د "نري رنځ" چاپېریال ته نږدې نشي او یا له هغو سره روغبړ و نه کړي، چې پردې رنځ اخته دي.

**دویم ډول:** پخپله اروا کې داسې حالت او ځواک رامنځ ته کوي، چې ورته اروايیزه او اخلاقي خوندېينه ورکوي او که فرضا يو چاپېريال ته هم ورشي او د ګناه وزلې هم پکې وي؛ نو دا حالت او اروايیزه ملکه يې خوندي ساتي او ددې خنډېږي، چې پر ګناه ککړ شي؛ دا هغه چا ته ورته دی، چې پر ځينو وزلو يې په بدن کې طبي خوندېينه رامنځ ته کړې وي، چې د پلانې رنځ مېکروب پرې اغېز و نه کړي.

زموږ پرمهال عام خلک، چې له تقوا کومه انګېرنه لري؛ نو هماغه لومړی ډول يې دی. که وويل شي، چې پلانی باتقوا دی؛ يعنې محتاط – احتياط کوونکی دی، ګوټ ته شوی او ځان يې د ګناه له موجباتو لرې ساتلی دی. دا هماغه کمزورې ډول تقوا ده.

ښايي د دې انګېرنې د پيدا کېدو لامل دا وي، چې له پيله يې تقوا راته "پرهېزګاري" او "ډډه کول" ژباړلې او رو رو له ګناه ګوښواله- ډډه، د ګناه له چاپېريال او موجباتو د ګوښوالی پر مانا پټيل شوې او تردې ځايه رارسېدلې، چې د تقوا ويی- کلمه په عام نظر کې د ډډې او له ټولنې د لرېوالي مانا ورکړي. په عمومي ګړدود کې چې کله مو دا ويی – کلمه تر غوږه شي؛ نو يو ډول ځانلواله - ګوښواله، ډډه او پر شا تګ مو په نظرونو کې انځورېږي.

مخکې مې هم وويل، داچې انسان عقلي او انساني ژوند ولري؛ نو لازمه يې دا ده، چې د ځرګندو آرونو تابع وي؛ نو لازمه يې له هغوچارو ډډه کول دي، چې له ځاني غوښتنو سره يې همغاړې- موافقې وي؛ خو له موخې او د ژوند له آرونو سره يې په ټکر کې نه وي. ددې ټولو لازمه دا نه ده، چې انسان دې له چاپېريال او ټولنې ډډه او ګوښوالي وکړي - خورا غوره او ستره لار - چې له ديني اثارو به ورته لاسوند- شاهد هم راوړم- دا ده، چې انسان پخپله اروا کې ملکه، حالت او داسې خوندېينه رامنځ ته کړي، چې همدا حالت يې ساتندوی وي. اتفاقا په منظمو ادبياتو کې داسې ښوونې تر سترګو کېږي، چې تقوا هماغه لومړی ډول ښيي؛ يعنې کمزوري او بېوسي.

دا هماغه لومړی ډول تقوا او د نفس خوندېينه ده، چې په عين حال کې کمزوري او ناغېړي ده. داچې انسان له ښوينده چاپېرياله لرې شي او ښوی نشي؛ نو دا کوم هنر نه دی، هنر په دې کې دی، چې په ښوينده چاپېريال کې ځان له ښوېدنې وساتې.

اړنګ – شک نشته چېرې، چې سترګې ځي، زړه هم ورپسې ځي؛ خو ايا چاره دا ده، چې سترګه ړنده کړو؟ يا داچې بله غوره لار هم شته او هغه داچې په زړه کې داسې ځواک رامنځ ته کړو، چې سترګه ونشي کړای، زړه ځان پسې راکاږي. که داسې وي، چې له سترګې د زړه آزادۍ ته يوه توره جوړه کړو، چې نوکه يې د پولادو وي؛ نو يو بله توره بايد غوږ ته هم جوړه کړو؛ ځکه څه چې غوږ اوري؛ نو زړه يې يادوي او ذايقه او لامسه او شامه هم همداسې ده.

# د تقوا ارزښت او اغېز

سره له دې چې تقوا د بشر په اخروي ژوند کې ځرګندې اغېزې لري او له ابدي پرېشانۍ د ژغورنې یوازېنۍ لار ده، د انسان په دنیوي ژوند کې هم ارزښت او خورا اغېزې لري. حضرت علي کرم الله وجهه تر هر چا مخکې په خپلو ښوونو کې د تقوا پر ویی – کلمې ډېره کړې او ډېرې اغېزې یې ورته ویلي او کله خو د تقوا ګټو ته هېښنده عمومیت ورکوي او وایي: ((تقوا؛ له هرې پرېشانۍ آزادي او له هرې بدمرغۍ ژغورنه ده.))

بیا وایي: ((تقوا؛ د زړونو د رنځوریو درمل، د بدنونو د رنځونو شفا، د ټټرونو د خرابۍ سموالی او ستاسې د نفسونو پاکوالی دی.))

حضرت علي کرم الله وجهه د بشر ټول دردونه یوځای ته راټولوي او ټولو ته تقوا ګټوره ګڼي. که حق ووایو او تقوا ته یوازې منفي او د ډډې اړخ ور نه کړو او هماغسې یې وپېژنو؛ لکه حضرت علي، چې پېژندلې؛ نو باید منښته - اعتراف وکړو، چې تقوا د ژوند له ارکانو څنې یو دی، (که وګړیز ژوند وي که ټولنیز) او که داسې نه وي؛ نو د ژوند بنسټ به ځپځپاندی وي.

د یو څیز ارزښت هله معلومېږي، چې ووینو بل څه یې ځای نیولای شي، که نه. تقوا د ژوند له حقایقو څنې ده؛ څکه بل څه یې ځای نشي نیولای، نه زور، نه پیسې، نه قانون او بل هېڅ څیز یې هم ځای نشي نیولای.

ځانګړیو موضوعاتو ته قانون ټاکل کېږي؛ خو بیا هم ګورو، چې موخه ترې لاس ته نه راځي. په قوانینو کې بدلون او زیاتوالی راولي؛ خو بیا هم موخه لاس ته نه راځي. البته اړنګ – شک نشته چې قانون هم په خپل ځای کې د ژوند له حقایقو څنې دی. له ټولیزو الهي قوانینو، چې تېر شو، خلک څینې مدني قوانینو ته اړتیا لري؛ خو ایا یوازې د قانون په چاپولو ټولنه سمېدلای شي؟

قانون پولې ټاکي؛ نو ځواک باید پخپله په خلکو کې وي، چې ددې پولو درناوی وکړي او دا هماغه څه دي، چې د تقوا نوم یې ورکړی دی. وایي: باید د قانون درناوی وشي، دا سمه ده؛ خو چې د تقوا د آرونو درناوی ونشي؛ نو د قانون د درناوي خبره کړای شو. څو بېلګې یې دا دي:

نن د غلا او فساد موضوع خورا توده ده، نه غواړم دا ادعا وکړم، چې د فساد د زیاتېدنې پر لاملونو پوهېږم او ټول به ووایم، بېشکه بېلابېل ټولنیز لاملونه پکې ښکېل دي؛ خو دومره وایم، چې د فسادونو د زیاتوالي آریز لامل، د تقوا له منځه تلل دي. که په خلکو کې تقوا لړه شوې نه وای؛ نو فساد به دومره ډېر شوی نه وای. په پخواني ژوند کې هم نیمګړتیاوې وې او تر پخوا هرومرو په نني ژوند کې هم ستونزې ډېرې دي؛ خو پخوا به تقوا ډېرې ستونزې هوارولې؛ خو

نن مو تقوا له لاسه ورکړې، په دې چې د ژوند وزلې هم ښه شوي؛ خو له لا ډېرو ستونزو سره لاس و گرېوان يو.

نن ډېر خلک ټولنيزې ستونزې لري، چې اندونه يې ځان ته رامات کړي دي. تل ويل کېږي، چې ولې طلاق ډېر شوی؟ ولې وژنه او جنايت ډېر شوی؟ په توکيو کې ولې درغلی پيدا شوي دي؟ فحشاء ولې ډېره شوې ده؟

بېشکه د ايمان د ځواک کمزوري او د تقوا د کلا خرابېدل بايد ددې مفاسدو يو مهم لامل وشمېرل شي.

هېښنده خو داده، چې ځينې تل دا "ولې؟" وايي او ليکي، بلخوا داچې دوی خپله تقوا او ايمان نه لري؛ نو پر بېلابېلو اسبابو او لاملونو ددې "ولې؟" جرړې د خلکو په ارواوو کې پوه کوي او خلک د اخلاقي گډوډيو، د تقوا د ستو او د تقوا خونديني د منځه وړنې پر لوري بيايي. که ايمان نه وي او – نعوذ با الله- الهي تقوا حقيقت و نه لري؛ نو شونې ده يو کس ووايي، چې ولې غلا و نه کړم؟ ولې جنايت و نه کړم؟ ولې درغلي و نه کړم؟ ولې؟ ولې؟ ولې؟

# د عقل د دښمنانو دښمن

حضرت علي کرم الله وجهه وايي: دوستان درې ډوله دي او دښمنان هم:
الف-دوستان: (۱) دوست. (۲) د دوست دوست (۳) او د دښمن دښمن.
ب_دښمنان: (۱) دښمن (۲) د دوست دښمن (۳) د دښمن دوست.
له دې وینا لیږد – نقل قول مې موخه دا وه، چې د د ښمن دښمن هم له دوستانو څنې دی. داچې د دښمن دښمن ته دوست په شان لیدل کېږي؛ نو لامل یې دا دی، چې دښمن کمزوری کوي او لاسونه یې ورتړي او له دې لارې، له انسان سره مرسته کوي. دا خپله یوه قاعده ده، چې د دښمن دښمن د دوست په څېر دی او انسان پیاوړی کوي.
دا قاعده په وګړیو کې روانه ده او همداراز د انسان په حالاتو او مانیزو ځواکونو کې هم روانه ده. د انسان مانیز ځواکونه پر یو بل اغېز کوي او احیاناً مخالف اغېز لري او یو د بل اغېز خنثی کوي. په دې مطلب کې د نمښتې – انکار ځای نشته. د انسان په وجود کې د بېلابېلو ځواکونو ترمنځ ټکر ته څه نا څه پاملرنه شوې او دا خپله اوږد داستان لري.

# حج

((فِيهِ ايَاتٌ بَيِّنَاتٌ مَّقَامُ إِبْرَاهِيمَ وَمَن دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا وَلِلّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ الله غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ[1]= په هغه کې څرګندې نښې دي (چې له هغو) د ابراهیم مقام دی او څوك چې (د الله تعالی کور ته) ورننوځي؛ نو خوندي شو. پر خلکو د الله تعالی حق دی، چې که د چا هغه کور ته د رسېدو وس وي؛ نو حج دې وکړي او که څوك (ددې حکم له عملي کولو) منکر شي (ځان ته به یې زیان رسولی وي)؛ (نو پوه دې شي) چې په حقیقت کې الله تعالی له نړیوالو مړه خوا دی.))
پر خلکو د الله تعالی حق دا دی: څوک چې وس لري، حج ته دې ولاړ شي؛ یعنې که څوک مالي، اندیز-فکري او جسمي وس لري او حج ته تګ یې پر عادي ژوند کوم اغېز نه غورځوي او که له حجه راستون هم شي او خپل ژوند پرمخ بوځي او په لار کې ورته کوم ګواښ نه وي؛ نو هرومرو دې حج ته ولاړ شي او که څوک دا ټول شرایط ولري او حج ته ولاړ نشي او سرغړونه وکړي؛ نو د کافرانو په ډله کې به وشمېرل شي.
په حدیث کې راغلي: چا چې د مړینې تر دمه حج ته شا کړې وي او له کولو یې سرغړونه کړې وي؛ نو د قیامت پر ورځ به له مسیحیانو او یهودانو سره راپاڅي.

---

[1] (آل عمران/۹۷)

## حج په روايتونو کې

په روايتونو کې د نورو کړنو په پرتله د حج په هکله ډېر تعبيرونه راغلي دي. امام محمد باقر وايي: "اسلام پر پينځو بناوو ولاړ دی، چې يو يې حج دی."[1]

حضرت علي وايي: "الله تعالی حج د اسلام بېرغ گرځولی دی ".

امام صادق وايي: "چې کعبه وي او خلک ترې طوافونه کوي؛ نو دين به هم ژوندی وي".

په بل ځای کې وايي: "حج ته مه شاکوئ، چې هلاک به شئ[2] ".

حج د مسلمانانو بنسټ او بېرغ دی، که بېرغ راولوېږي او بنسټ ونړېږي؛ نو مسلمانان به کمزوري شي او طاغوتيان به پرې واکمن شي. همداراز امام صادق په يو بل ځای کې وايي: "که خلک حج ته شا کړي؛ نو د الله تعالی قهر [بې اتفاقي، نهيلي، د طاغوتانو حکومت] به پرې نازل شي ".

د "جواهر الکلام" په کتاب کې د حج په هکله راغلي: "حج يو ډول ځان جوړونه او رياضت دی، له ځاني غوښتنو سره جگړه او په روږدونو کې بدلون راوستل دي. حج يو ډول وتېزه غاړه ايښوونه ده. حج يو ډول بدني عبادت دی. منډې، گرځېدل او تنده هم پکې شته. په حج کې کړه وړه او ويناوې هم شته، لمونځ يوه ((وجودي)) کړنه ده او بايد ترسره شي؛ خو روژه ((عدمي)) بڼه لري؛ يعنې خوراک، څښاک پکې نه کېږي. په حج کې هم ځينې داسې کارونه شته چې بايد وشي او ځينې نورو ته شا شي. "حاجي" چې احرام وتړي؛ نو تر شلو ډېرې کړنې دي، چې بايد ورته شا شي او ځينې نورې کړنې بايد په احرام کې ترسره شي[3]. "ځکه حج د زکات او خمس په شان دی، چې بايد له خپل ماله څه نا څه پکې ورکړل شي، حج د روژې په شان دی، له ځينو کارونو بايد ډډه پکې وشي او حج د لمانځه په شان بدني حرکتونه هم لري او همداراز د جهاد په شان کړاوونه او سختۍ هم لري.

### توحيدي تيارسۍ

حج له هرځای، هر ملت او هر توکمه-نژاده د ملت پالنې، د انسانانو په منځ کې د مانيزو پولو، تفرقې، کفر او شرک او همداراز د الله تعالی له دښمنانو د کرکې او د شيطان رټلو او شړلو پر ضد د ((توحيدي تيارسۍ)) اعلان دی. حج د سترې دبدبې او ځواک ننداره ده. حج يو ډول

---

[1]. (وسايل ١١\٧)

[2]. [وسايل ١٣\٨].

[3] (جواهر الکلام ١١٧\٢١٤)

سياسي غونډه او ځواک ښوونه ده. حج له پورتنۍ نړۍ سره همغږي او يو خوله کېدل دي. حج ځمکمېشتي ، له اسمان مېشتو سره په يوه ليکه کې راولي، څوک چې پر ځمکه له کعبې طوافونه کوي؛ نو له هغو پرښتو سره به انډول وي، چې له "بيت المعمور" طوافونه کوي، حج يوه کړلار ده؛ ځکه نړيوال دين نړيوال دښمن لري او له دښمن سره سيالۍ ته بايد نړيواله کړلار ورکړي.

## د الله تعالی بندګي

حج سرايښوونه، تسليمېدل او خوښي ده، د الله تعالی تر حکم لاندې راتلل دي، مينه او ستاينه ده. حج د تعبد ننداره ده او تعبد له عبوديت او امره د اطاعت نښه ده او که نه ځای پرځای دا پوښتنې رامنځ ته کېږي چې: ولې کعبه په دې سوځنده سيمه کې جوړه شوې ده؟ ولې په حج کې جامې وباسو او احرام اغوندو؟ ولې په حج کې ځينې څيزونه حرام شوي؟ ولې د خپل سر وېښتان خروو؟ او داسې نورې پوښتنې رامنځ ته کېږي؛ خو حج د تعبد، تسليمېدو او غاړه ايښوولو يو ټولګی دی او په عين حال کې، فلسفه، حکمت، سياست، يووالی، امامت او توحيد هم دی. د قيامت ورځې د ننداري او فطرت ته د بېرته ورستنېدو ښېلګه هم ده. الله تعالی ته تسليمېدل ځانګړی خوند لري او د الله تعالی بندګي يو ډول کمال دی. حضرت علي کرم الله وجهه د بندګۍ په هکله وايي: "ماته همدومره عزت بس، چې بنده دې يم او دومره وياړه راته بسيا دی، چې ته مې پالونکی يې".
انسان که پر يوه لار ځي او يا څه کوي؛ نو هغه بايد الهي لار او کړنې وي.

## حج سرښندنه او بلهارېدل دي

موږ د الله تعالی په حکم حج ته ځوو. لومړی له خپل ماله، ورپسې له خپله کوره، ورپسې له خپلې کوڅې، ورپسې له ښار او په پای کې له خپل هېواده هم تېرېږو، مکې ته چې ورننږدې شو؛ نو له جامو، رووړدونو، خوليو او څپليو هم لاس اخلو.
ورپسې رو رو، له سينګارولو، له وېښتانو ګومنځولو، عطرو، نکريزو هينداريې او له ښځې او بچو هم لرې کېږو. داسې ځای ته رسوو، چې کورونو او خپلو ليدو ته هم شا کوو او انسان بايد د مکې په بېدياوو کې څو شپې او ورځې تېرې کړي، چې د حضرت ابراهيم عليه السلام او رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم يادېزې بيا راژوندۍ کړي.

**حج ازمېښتوزله ده**

امام صادق وايي: "الله تعالی کړای شول کعبه په داسې ځای کې کېږدي، چې ښه هوا يې درلودای؛ خو په يوه سوځنده او له سينده لرې په غرنۍ سيمه کې يې ځکه کېښوده، چې خلک وازمېيئ، چې دروغجن ايمانوال له رښتينو مؤمنانو وپېژندل شي. مکه د ژوند، عبادت او د پېغمبرانو د بلنې ځای دی او د تاريخ په پوړيو کې، د لمونځ کوونکيو قبله وه[1]. "

حج د خدی پر لوري کډه او خوځښت دی. له وطنه د حج پر لوري تګ داسې دی؛ لکه يو انسان، چې له ټولو ګناهونو پاک شوی وي. حج د ګناهونو او تېروتنو د ښښنې لامل او انسان له ځاني غوښتنو ژغوري. په حج کې انسان له خپلو خپلوانو، وطن، اولاد، جامو، سينګار، خولۍ، ځپلۍ، وېښتانو او عطرونو لرې کېږي او په ګڼو خلکو کې روان وي، لويي او کبر يې ماتېږي او ساده انسان ترې جوړېږي.

انسان په حج کې بربنډېږي او په ناګنډل شوې سپينه ټوکر کې احرام تړي؛ نو دا کار خپله زېږونه وريادوي، چې دې نړۍ ته لوڅ راغلی و او په سپينه ټوکر کې تړل شوی و او همداراز خپله مړينه هم وريادوي، چې په سپين کفن کې به يې په قبر کې ږدي. انسان خپل ټول خيالي او جوړ کړای شوي امتيازونو، ځان او فطرت ته شا کوي چې هرومرو به د الله تعالی پر لوري بېرته ورستون شي.

له وطن، کلي او کوره وتل، خپلې جامې ايستل او کفن اغوستل او بېديا ته تلل، انسان ته د عبوديت او بندګۍ داسې حالت وربښي، چې قلم يې د ليکلو وس نه لري. هغه جامې، چې يو عمر مو اغوستې وې او موږ يې نورو ته بل شان ورښوولي وو او د همدې جامو ګرېوان کې به تنګ يا ازاد وو او همداراز د همدې جامو رنګ به موږ له نورو بېلولو او غره پرې وو؛ نو مکې ته د ننوتو پر حال يې بايد وباسو؛ ځکه هر څه بايد شاته وغورځوو او الله تعالی او کعبې ته مخه کړو، چا چې الله تعالی ته مخه کړه؛ نو بايد نورو ټولو څيزونو او چارو ته شا کړي.

په حديث کې راغلي: حج الله تعالی ته مخه کول دي[2].

حج د رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم د ښو او يادېزو بېرته راژوندي کول دي. په حج کې نه يوازې ښې بېرته راژوندۍ کېږي؛ بلکې د تېرو پېغمبرانو؛ لکه حضرت آدم او حضرت ابراهيم عليهماالسلام يادېزې هم راژوندۍ کېږي. په حج کې د دين ټول نظريات عملي کېږي، حج ننداريتون دی، چې د توحيد د مېړنو ټولې سرښندنې پکې ثبت شوي دي. حج هغه نه

[1]. (بحارالانوار ۹۹| ۲۸-۲۹).

[2].. (ميزان الحکمة | ٦٤حديث ۳۲).

سوځنده اور دی، چې له ځان سره يې د توحيد ټول اسناد يادګار ايښي دي. مکه د حضرت جبرائيل او پرښتو د راکوزېدو او د لمونځ کونکيو قبله ده. "حاجي" بايد خپل سر په ګرېوان کې ښکته کړي، چې چېرې راغلی يم؟ دا ځای د حضرت آدم ډېر خوښ و. دا هغه ځای دی، چې حضرت ابراهيم او حضرت اسماعيل په خپلو لاسونو جوړ کړی دی، په دې ځای کې رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم ، حضرت خديجې او حضرت علي په ګډه د جماعت لمونځ کړی دی. په دې ځای کې به له الله تعالی سره بيعت کوم او د الله تعالی د اولياوو پر پله به پل ږدم.

## حج د پيغام رسونې او پيغام اخستنې ځای دی

په روايتونو کې راغلي: له اسلامي چارو سره اشنايي او د اسماني مشرانو له پيغامونو ځان خبرول او نورو ته يې ويل د حج له نورو موخو څنې دي.
د تبريزي واکمنۍ پر مهال د هغوی د تېري له کبله خلک د خبرو او پيغامونو اورېدو ته کعبې ته راتلل.

## د برائت اعلان

په حج کې يو بل مهم چار ته بايد پاملرنه وشي او هغه له کفارو او د اسلام له دښمنانوسره د کرکې اعلان دی. د پيغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم پر مهال دې ټکي ته خورا پاملرنه کېده. د برائت سورت همدا پيغام لري او له بسم الله الرحمن الرحيم پرته نازل شوی دی؛ ځکه له کفره کرکه بايد د " رحمن " او "رحيم " له سپېڅلي نوم سره يوځای رانشي. اسلام وايي: ستاسې هر څه لکه خوځښتونه، غونډې او عبادتونه بايد دښمن مات کړي، ستاسې لمونځونه بايد تاسې له فحشاء او بديو وژغوري.
((اتْلُ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ وَلَذِكْرُ اللَّهِ أَكْبَرُ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُونَ[1]= هغه چې له (اسماني) کتابه پر تا وحې شوي، ولوله او لمونځ پرځای کړه، چې لمونځ (انسان) له بې حيايۍ او ناوړو چارو ايساروي او البته د الله ياد ډېر لوی دی او څه چې کوئ، الله تعالی پرې پوهېږي.))
تاسې بايد په بېلابېلو اړخونو کې خوځښت ولرئ، چې دښمن ولړزېږي.
لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ[2]

---

[1] ؟ (عنکبوت/۴۵)
[2]. (فتح / ۲۹)

باید دښمن له تاسې وویریږي. تُرْهِبُونَ بِهِ عَدْوَّ اللّهِ وَعَدُوَّكُمْ [1]
پر مسلمانانو ولورېږئ او له کفارو سره له زوردېري کار واخلئ. (أَشِدَّاء عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاء بَيْنَهُمْ – [2]
له دښمنانو سره جوړ جاړی و نه کړئ؛ ځکه جوړجاړی ستاسې د دښمنانو غوښتنه ده. [وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ[3]
له الله تعالی پرته له بل چا مه وېرېږئ، د شیطان او لارویانو چلونه یې کمزوري دي. په حج کې باید د کفارو پر ضد اواز راپورته شي او دا اوازونه مسلمانان زړوري او دښمنان وېروي.

## حج تبلیغاتو ته یو مناسب ځای دی

رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم به د حج په ورځوکې خلکو ته د الله تعالی پیغامونه رسول.
امام صادق په عرفات کې حاجیانو ته په لوړ اواز درې ځل وویل: " خلکو! ستاسې لارښود او مشر رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم و، ورپسې حضرت علي، امام حسن، امام حسین، امام زین العابدین، امام باقر او اوس زه یم[4] ".
امام باقر وصیت وکړ، چې په "منی" کې دې ورته د څو کالو لپاره وېر وکړي او د واکمن حکومت هغه جنایتونه او ظلمونه دې پکې ووایي، چې پر موږ اهلبیتو یې کړي دي.
امام حسین څو میاشتې په مکه کې پاتې شو، چې حاجیان راشي او خپله غاړه پرې خلاصه کړي او د یزید د واکمنۍ له سیاسي اوضاع یې خبر کړي، چې هر یو «حاجي» خپلې خپلې سیمې ته دا پیغام ورسوي.

## حج دې په حلال مال وکړو

په کومو پیسو، چې انسان حج ته ځي، که حلالې نه وي؛ نو چې مکې ته نږدې شي او احرام واغوندي او وایي: خدایه!((راغلم، خطاب به وشي موږ دې نه منو. [5]))
امام باقر وایي: " الله تعالی په حرام مال شوي حج او عمره نه قبلوي. "
په قرآن عظیم الشأن کې راغلي: ((سکه الله تعالی یوازې د پرهیزګارانو کړنې مني)).

---

[1]. (انفال /٦٠)

[2]. عنکبوت/٦٦)

[3]. [قلم /٩]

[4]. (فروغ کافي: ٤\٤٦٦)

[5]. (نهج الفصاحه \ ١٩٨)

رسول الله وايي: "که د حج په سفر کې د چا په جامو کې ان د حرامو يوه نښه هم وي؛ نو حج يې نه قبلېږي ". [1]
حديث: " که په حرامو پيسو حج ته ولاړې؛ نو ته نه؛ بلکې ستا د سورلۍ وزلې به حج کړی وي ".

## حج ته تر تګ مخکې ښنه غوښتل

که يو مسلمان پر چا تېری کړی وي؛ نو حج ته تر تګ مخکې دې ورځخه ښنه وغواړي. دلته يو قيصه را اخلو: علي بن يقطين د امام کاظم له يارانو و او د هارون الرشيد په حکومت کې وزير و. حج ته راغی او مديني ته هم ولاړ، چې له امام کاظم سره وويني؛ خو امام کاظم ورته د ليدو اجازه ور نه کړه او ورته يې وويل: حج به دې قبول نشي؛ ځکه ابراهيم، چې يو شپون و، تا ورته د ليدو اجازه نه وه ورکړې. علي بن يقطين ډېر خپه شو او له مدينې څخه کوفې ته د ابراهيم کور ته ورغی او ښنه يې ترې وغوښته او بېرته مدينه ته راستون شو او بيا امام کاظم ورسره وليدل[2].
که څوک له چا خپه وي، حج ته تر تګ مخکې دې يې پخلا کړي، چې د رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم د مېلمستوب وړتيا پيدا کړي. غوره ده، چې حج ته تر تګ مخکې انسان وصيت وکړي، وصيت د خطر ننګېرنه نه؛ بلکې انسان ته مړينه وريادوي او د نا کړای شويو کارونو هوارۍ ته يوه لار ده او لوړو انساني موخو ته دوام ورکول دي، وصيت يوازې مالي سپارښتنې نه؛ بلکې هر ډول حکمت، نصيحت اوسپارښتنې ته هم ويل کېږي.

## د حج شننه

حج د مسلمانانو فريضه او سترو موخو (نښلون – ټولنې – مهاجرت او يون) بيانوونکی دی.
خو مور خپل حاجيان وينو، چې د ابراهيم عليه السلام رښتيني استازي ځکه نه دي، چې له حج څخه يې راته د پورتنيو اصلونو سوغات نه دي راوړي، څه يې چې په سوغات کې راوړي، يو جوړ تسبيح، جای نماز، چينايي ساعتونه، چې په ټولنه کې پر (حاجي صاحب) ياد شي.
((حال دا، حج سلطاني تيزاب دی، که څوک پکې غوپه او بيا راوايستل شي؛ نو په بل جنس بدلېږي، په دې شرط، که پوه پرې شي، چې چېرې راغلی او څنګه راوتلی.))

[1]. (بحارالانوار ۹۹| ۱۲۰)
[2]. (سفينة البحار۲ | ۲۵۲).

دا دی اوس هغه درې آرونه تر څېر لاندې نیسو.

**۱- اتصال / نښلون:**

پر اتصال د پوهېدنې لپاره لومړی باید انفصال وپېژنو او هغه په دې مانا: موږ اوس د تېرو کهولونو په پرتله، د انفصال په مفهوم ښه پوهېږو، د روزګار پېښې، ټولنیز نظامونه، جګړې، د فرهنګ او تمدن نقل او انتقال، د ژبو، لیک، اند او سلیقو بدلون او د نوي کهول منځ ته راتګ ددې لامل ګرځي، چې دا نوی منځ ته راغلی کهول، له تېر شوي کهول څخه پردی شوی او نور یې نه پېژني او دا پېښه، اوس هم د سر په سترګو وینو، چې له تاسې سره مخکېنی او روستنی کهول کوم تفاهم نه لري، حال دا، لس، پینځلس، شل یا دېرش کلونه به زموږ ترمنځ واټن وي؛ خو سړی فکر کوي، چې درې پېړۍ یو تر بله لرې یو، دا ولې؟ بېلابېل عوامل او د ژوندن ډول ډول پېښې ددې بېلتون لامل ګرځي او له دې عواملو یو هم د ((فرهنګ)) او ((تاریخي بهیر)) بدلون دی.

هر کال حج ته تلل؛ یعنې هر کهول او هر کال له تاریخي بهیر (له حضرت ادم څخه تر حضرت نوح او له دوی څخه تر حضرت ابراهیم او بیا حضرت محمد علیهم السلام پورې) سره ځان نښلول دي.

د کهولونو ترمنځ چې جباران، ظالمان، مستکبرین، پېښې او بدلونونه او همداراز زماني واټن، چې کوم بېلتون راولي او په پایله کې کهولونه له تېرو ویاړنو (د انبیاوو علیهم السلام او صالحینو مبارزې، سرښندنې...) بی پروا کوي او ان د اړیکو د یومخې د پرېکړې لامل ګرځي؛ نوځکه حج ته (هر کال یا په عمر کې یو ځل) تلل، د کهولونو بېرته نښلول دي.

کعبې په تاریخ کې، د کهولونو ترمنځ د مانیز، تاریخي او فرهنګي میراثونو د اتصال، انتقال او کهولولو ونده درلودلې؛ خو که نن موږ دا پرتمین مراسم د پوهې له مخې ترسره کړو (لکه چې ځینې یې کوي)؛ نو کعبه به ددې کهول، راتلونکي کهول او بشریت لپاره د اتصال نقش ولري؛ لکه چې درلودلی یې و.

**۲_ اجتماع:**

په یوه ځای کې د خلکو راټولېدو ته ((اجتماع)) وایي، چې هلته یو له بل سره د افکارو تبادله وکړي، هر یو نورو ته خپل ټولنیز حالت او محیطي حالات بیانوي، چې یو د بل له احواله خبر شي. د دغسې لرې پرتو او خپرو ورو ټولنو او ګرنیو له یوځای کېدو څخه ((ژوندۍ ټولنیزه روحیه)) او ((هڅاند ټولنیز اند)) رامنځ ته کېږي.

تجمع اصلا د ((انساني تحرک عامل)) او د خلکو د ودې لپاره د ((ګروهیز نړۍ لید)) منځ ته راوستونکې ده.

په نړۍ کې رازراز غونډې جوړېږي، چې پکې پوهان، اشرافان او د طبقاتو او ملتونو استازي ګډون کوي؛ خو حج یوه ((نړیواله ولسي ټولنه)) ده، چې نېغ په نېغه، په خپله ولسونه پکې ګډون کوي، په دې اجتماع کې افغانستانی، پاکسانی، ایرانی عراقی، ترکی، او.... ولسونه په طبیعي حالت په طبیعي اند دود- طرز فکر او واقعي ډول یو له بل سره ویني.

نو د حج ددې ټولنیز آر په پامنیوي، مجاهدین باید د حج له اجتماع څنې د ((اسلامي انقلاب)) او ((اسلامي جهاد)) د غځولو لپاره پوره کار واخلي، د نړۍ مسلمین، د هېواد له حالاتو باخبره شي او په خپل اقتصادي، مالي اخلاقي مانیز او سیاسي شتون سره، خپلو شرعي دندو ته ورمتوجه شي، چې په دې توګه به یې د نړۍ د مسلمانو ېرګنو ملاتړ په برخه شي.

په لنډه توګه، چې کله وایو، هر انقلاب دوه څېرې لري؛ ((وینه)) او ((پېغام))؛ نو د انقلاب د پېغام (د انقلاب خورول، پر خپل مظلومیت خلک پوهول، د جهاد په اړه مسلمین خپلو دندو ته متوجه کول او...) رسولو ته د حج ستره ټولنه، ډېره غوره او مهمه زمینه ده.

**۳_ مهاجرت او حرکت:**

حج د خوځنده کړنو ټولګه ده او له کوم ځایه چې پیلېږي؛ نو عملي او نظري ((توقف)) پکې نشته.

د احرام تړل، په عرفات کې وقوف، په مشعرالحرام کې وقوف، په منی کې د عقبه جمره ویشتل، په منی کې قرباني، سر خریېل، د کعبې طواف، د طواف لمونځ، په منی کې بیتوتیه، بیا جمرو یشتنه؛ دا ټولې کړنې، د ((حرکت او مهاجرت)) ښودونکي دي او له پیله تر پایه پکې توقف نشته؛ په ټاکلو ورځو او وختونو کې د حج کړنې، په ډلییزه توګه ترسره کېږي او دا له طبیعت او زمانې سره د حج د کړنو جوختوالی راښیي.

په ځانګړي وخت کې به احرام تړې، په ځانګړي وخت کې به عرفات ته ځې، په ځانګړي وخت کې به مشعرالحرام ته ځې او..... چې په ځانګړیو ځمکو کې ځانګړیو وختونو کې د دې کړنو ترسره کول، د طبیعت او د کایناتو له نظم سره یې تناسب او همغږي راښیي.

حج د ((رمزي)) کړنو ټولګه ده (سمبولیکې کړنې دي)، دا کړنې له پیله د ((بوت پالی )) پر ضد د ابراهیم علیه السلام د خوځون یادونه ده، چې په بشري تاریخ کې یې د (توحید)) د راڅوندي کولو او د ((عدالت)) د ټینګښت لپاره ترسره کړي دي.

او بلخوا دا خوځون- تحرک او زیار ایستنه، د هاجرې بي بي د کوښښونو (سعی) او خوځون یادونه ده، چې د ابراهیم علیه السلام د خوځښت د تداوم لپاره یې کړي دي.

د هاجرې همېشنی یون، د همېشني هجرت یادونه ده، چې «ابراهیمي ادیان» او د اسلام دین د هجرت دین دی او په لنډه توګه، حاجي چې په عین حال کې، ابراهیم علیه السلام د انساني

تاریخ، د اسلام د پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم او د توحید په ستر خوځښت پورې ځان نښلوي، په ژوندن کې د کایناتو له نظام سره هم نښلون مومي او په دې توګه ښودل کېږي، چې په اسلام کې د طبیعت او ماوراطبیعت ترمنځ بېلتون نشته او له آره وینو، چې د اسلام په ټولو عبادي کړنو کې، وخت ټاکونکی عنصر دی او دا ډېره د غور وړ ده.
حجرالاسود یمین الله فی الارض

**حجرالاسود پر ځمکه د الله تعالی لاس دی:**
حجرالاسود یوه اشاره او رمز دی.
حجرالاسود، چې ښکلوو، یا لاس پرې وهو یا له لرې اشاره ورته کوو، مانا یې دا ده، چې له څښتن تعالی سره بیعت کوو او داچې دا بیعت وننګېرو کړو؛ نو نوموړې ډبرې ته لاس ورغځوو.
نو د دې ډبرې نوم، ددې لپاره د الله تعالی لاس ایښودل شوی، چې ټول بیعت کوونکي، د یوه لاس له پاسه، د بل لاس د ایښودو احساس وکړي. زه چې له کلونو کلونو راهیسې له نورو سره بیعت کوم او نور ټول نفې کوم؛ نو داچې دغسې عمل په عملي توګه پلي شي، د نښې په توګه یې ډبره ایښې ده.

**د عرفات، مشعرالحرام او منی ترمنځ اړیکه:**
عرفات له عرفان څخه اخستل شوی. په اسلامي کیسو کې راغلي، چې آدم علیه السلام او حوا بي بي تر ((هبوط)) روسته، دلته سره وپېژندل؛ نوځکه ورته عرفات وایي او زه دا په لاندې ډول تفسیروم:
موږ چې د کعبې تر ((طواف)) روسته، ((عرفات)) ته راګرځو؛ یعنې له ابراهیم (علیه السلام) څخه مخ پر شا آدم علیه السلام ته ګرځو او مانا یې دا ده، چې د بشریت پیل، لومړنی تاریخ، معرفت، شناخت او پېژندنې ته ورګوځو، هغه معرفت چې انسان له حیوان څخه بېلوي.

**مشعرالحرام:**
مشعر له ((شعور)) څخه اخستل شوی او مشعر د ((شعور ځای)) دی. موږ تر ((عرفات)) روسته، مشعرالحرام ته راځو؛ یعنې تر شناخت، پېژندنې او عرفان او پوهې روسته شعور ته رسو، حال دا، زموږ په ذهني قضاوت کې لومړی ((شعور)) او بیا عرفان (پوهه) وي؛ خو دلته د حج دا کړنه راښيي: په تفاهم، علم، معرفت او ښاندې چې د ((شعور)) په نامه ښکارنده په ذهن کې

پالل کېږي، کومه عبثه او بې ځايه ښکارنده نه ده، شعور بايد وپالل شي او په زيار، هڅو او مجاهدتونو، د عرفان په چوپړ کې وګومارل شي؛ خو کوم ((شعور))؟ حرام شعور!
لکه څنګه چې ((بلد الحرام)) او ((شهرالحرام)) هغه ښار او مياشت ته وايي، چې ((حريم)) ولري او پکې فساد، ګناه او تېری نه کېږي؛ نو دغسې هغه شعور به ارزښت ولري، چې د((بلدالحرام)) او((شهرالحرام)) په څېر حريم ولري.
انسانيت، ژمنه، آګاهي، پوهه او انساني شرافت په ((حريم)) کې خوندي ساتل کېږي او داسې نه ده، چې هر مفسد به برلاسی وي او څنګه يې چې خوښه وي، همغسې به عمل کوي، نننی انسانان ډېر د شعور خاوندان دي؛ خو شعور يې حرام نه دی؛ نو له همدې لامله، د اوسنيو جناياتو عاملين همدوی دي او ((شعور)) بايد ((حرام)) قيد ولري؛ يعنې آزاد شعور نه وي؛ لکه د نننيو انسانانو شعور، چې د وحشت او جاهليت د لاس وزله شوی. حرام شعور؛ د مسجد الحرام او شهرالحرام په څېر(چې پکې جنګ او تېری حرام دی) د انساني عفت په حدودو کې ساتل شوی دی.
د اسلام ضد او غير اسلامي لارو لارويان، د شعور خاوندان دي؛ خو شعور يې پر((ابليسي)) بنسټ دی؛ نوځکه پر ځمکه د شيطنت عاملين او اشرار دي، حال دا، د اسلامي لارې لارويان د ((الهي عرفان)) پر بنسټ، د ((شعور)) خاوندان دي، چې ټولې کړنې يې پر ځمکه باندې، د اشرارو د تسلط د پای ته رسولو، د قسط، عدل، سولې او امنيت منځ ته راوستو لپاره ترسره کېږي.

**منی:**
منی د ((ارزو)) او ((عشق)) په مانا ده، هغه ځای دی، چې انسان هلته تر عرفان او شعور روسته د مطلق تسلمېدو پړاو ته رسي او په پايله کې ((عشق)) او د ((اسماعيل)) بلهارۍ- قربانۍ ته رسي.

**اسماعيل:** يعنې هر چا ته چې هر څه ((ډېر ګران)) وي.

## کعبه نړيواله مرکزي هډه

((جَعَلَ اللّهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيَامًا لِّلنَّاسِ[1]))

[1] (مايده/۹۷)

د تاریخ د فلسفې یو آر دی، چې وایي: ((تېر د راتلونکي په جوړولو کې ستره ونډه لري))؛
نو ددې آر له مخې اوس وینو، چې د مستضعیفنو نړیواله مرکزي هډه به چېرې وي؟
اړنګ نشته چې د نړیوال ((مرکزیت = سنترالیزم)) اندنه – مفکوره له زرګونو کلونو راهیسې لرغوني ده او د نړیوال مرکزیت فکر، له ((فطرت)) څخه راولاړه شوې او څرنګه چې دا اندنه، فطري اصالت لري او د پنځون له ناموس سره یو ځای پیدا شوی؛ نو چې کله به د هر وخت او کهول مستضعفینو، د نورو شعارونو په څېر، دا شعار د وخت د مستکبرینو له خولې په دې نیت واورېد، چې ګنې ((نړیوال مرکزیت)) به واقعیت پیدا کړي؛ ځانونه به یې جلادو ظالمانو ته وقف کړل، چې په دې توګه به د ((شرک)) له ((نړیوال مرکزیت)) څنې ګړګنې ګړګنې ولسونه او انسانان ځار شول.
امپراتورۍ منځ ته راغلې او لویو لویو ځواکونو تمرکز پیدا کړ؛ خو څرنګه چې بنسټ یې پر شرک، خیانت او ذلت ولاړ و؛ نو د تل لپاره پاتې نه شوې، ویجاړې او له منځه ولاړې.
په نننۍ زمانه کې د ملګرو ملتونو سازمان، د نړۍ د ګردو مستکبرینو د راټولیدو ځای دی. د سازمان ماڼۍ په میلیاردنو ډالرو د مستضعیفنو له وینو څخه جوړه شوې، چې د یو دردمند درد هم پرې نه دی دوا شوی.
دا سازمان د ټولنوالۍ- سوسیالستي، پرګنوالۍ- کمونستی، پانګوالۍ، ولسپالۍ - نشنالستي سکولرستي او صیهونستي ټولو شیطاني افکارو آریز چینه ده او د ټولو ښکاره او پټو ابلیسي لاسونو مرکزي نړیواله هډه ده.
د دې سازمان آریز ((کارګرځی)) پینځه ستر شیطانان دی، چې پکې د ((وټو)) حق لري.
د مسکو، واشنګټن، پیکنګ، لندن او پاریس ماڼۍ ددې سازمان اداري شبکې دي.
د ملګرو ملتونوسازمان د نننۍ زمانې د ((حزب الشیاطین)) مرکزي دفتر دی.
د تاریخ په اوږدو کې د ځواکونو د نړیوال مرکز د منځ ته راتګ لپاره ډېر ې هڅې شوي، چې د ملګرو ملتونو اوسنی سازمان، د تېرو وختونو د سترو شیطاني ځواکونو د زیار پیبره - محصول ده.
نو دا دی، چې له ((مکې)) سره په سیالۍ کې څو څو ځلې په بېلابېلو نومونو د((نړیوال مرکزیت)) لپاره سازمانونه منځ ته راغلي. په یمن کې د یمن د پاچا د مصنوعي کعبې جوړول او د ابراهیم پر کعبه د ابرهه د تور لښکر برید د همدې نیت د سر ته رسولو لپاره و.
په هر صورت، د مستضعفینو د حرکت لورى، د کعبې پر خوا دی؛ ځکه د کعبې لومړۍ ډبره د((خلکو د پیغمبر)) په لاس ایښودل شوې او د تاریخ په اوږدو کې، د خلکو((قبله)) او د ټولې نړۍ د مسلمانو پرګنیو د اعتکاف ځای او د برابرۍ او رورولۍ غوره بېلګه وه او ده.

سبا به د ټولې نړۍ مستضعفین، د ابراهیم علیه السلام پر توحیدي کعبې اډانه وکړي؛ ځکه د ((طبقاتي اروا پوهنې)) له مخې، د ((ملګرو ملتونو)) د سازمان موقعیت، د مستکبرینو له مزاج سره اړخ لګوي او د دې پر وړاندې د ((مکې)) موقعیت، د مؤمنو او ژمنو مستضعفینو له مزاج سره اړخ لګوي.

د((ملګرو ملتونو سازمان)) د ماشیني انسانانو، صنعتي، پانګوالۍ او توکیزو- مادي پریوتو سیاستونو نړیواله هډه ده.

او دلته:

حج له ځان سره د میعاد ځای دی.

حج د عزت، ځواک، پوهې، آګاهۍ، ایمان، یووالي، ګډوالۍ، جهاد، سیاسي تقوی، اوښتونیز- انقلابي صبر، قسط، عدل، خلافت او آزادۍ ځای دی.

حج د ملګرو ملتونو د سازمان پرخلاف د مؤمنینو واحد مرکزیت دی.

حج د مستکبرینو پرخلاف، د مستضعیفنو ستره نړیواله غونډه ده؛ نوځکه د مستضعیفنو الله تعالی د خلکو د نړیوال پاڅون لپاره کعبه د امن او سولې کور ګرځوالی دی.

((جَعَلَ اللّهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيَامًا لِّلنَّاسِ))

او ډېر ژر به ((بیت الحرام)) د مستضعیفنو نړیواله مرکزي هډه وګرځي.

کعبه د ځمکې د عاصیانو ((معبد ځای)) دی؛ نوځکه به مستضعفین، هر ډول استعباد وغندي.

او نور به کله هم و نه غولېږي او تر هغه به پر مخ ځي، چې د ټولې ځمکې وارثین شي. برې د اسلام دی.

## شرک څه ته وايي؟

که انسان بې له خدایه کوم بل څوک ومني؛ نو دا به شرک وي.

که د الله تعالی پېرزوینې ته د الله تعالی اولیاء د واسطې په توګه ومنو او د کار آریز خاوند الله تعالی وګڼو؛ نو دا شرک نه دی؛ ځکه د کارونو تدبیر د الله تعالی په لاس کې دی [یدبرالامر[1]] او ځینې پرښتې یې هم تدبیر ته ټاکلي دي. [فَالْمُدَبِّرَاتِ أَمْرًا[2]] داچې د خلکو د روزۍ ویش د الله تعالی په لاس کې دی؛ خو ځینې یې دې کار ته ګومارلي دي. فَالْمُقَسِّمَاتِ أَمْرًا [3]].

[1] سجده ۵\

[2]. (نازعات\۵)

[3]. (الذاریات\٤)

الله تعالی وايي: ((إِنَّا نَحْنُ نُحْيِي الْمَوْتَىٰ وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا وَآثَارَهُمْ وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ فِي إِمَامٍ مُبِينٍ [1]= په حقيقت کې موږ پخپله مړي را ژوندي کوو او څه چې يې مخکې لېږلي او څه چې ترې پاتې دي، ليکو يې او موږ ټول څيزونه د څرګند لارښود په (کتاب) کې شمېرلي دي.))
خو ځينې يي د کړنو ليکلو ته هم ګومارلي دي. [كِرَامًا كَاتِبِينَ [2]]
الله تعالی زموږ ساه اخلي؛ خو ساه اخستو ته يې هم يو پازوال ټاکلی دی.
((قُلْ يَتَوَفَّاكُم مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِي وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ [3]= ووايه: ((پر تاسې، چې د مرګ پرښته ګومارل شوې ده، ستاسې (روح) اخلي، بيا د خپل پالونکي پر لور بېرته وګرځول شئ.))
هو! الله تعالی د ټولو ځواکونو او خېر سرچينه ده؛ خو قانون يې داسې ايښی، چې ټول کارونه بايد په وزلو او طريقو وشي. د بېلګې په توګه: که غواړئ پر خپل پېغمبر، قرآن عظيم الشأن نازل کړي؛ نو د جبرائيل او روح الامين له لارې يې پرې نازلوي. د انسانانو او پرښتو کار په حقيقت کې د الله تعالی کار دی. (وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ [4]) او واسطې هېڅ کله د کار د اوږدېدو لامل نه ګرځي. (وَمَا أَمْرُنَا إِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ [5]) د الله تعالی امر د سترګو په رپ کې کېږي؛ څکه يې په نړۍ کې انسان، پرښته او يا کوم موجود، چې د کار د وزلې او واسطې په توګه ايښي؛ نو دې واسطو ته زموږ پاملرنه شرک نه دی، شرک به هغه مهال وي، چې موږ الله تعالیبر کړو او يوازې واسطې ته سترګې پر لار شو او هغه يوازېنۍ آريز لامل وګڼو؛ خو تر کومه چې موږ الله تعالی د ټولو ځواکونو سرچينه وګڼو او پر وړاندې يې کوم بل ځانګړی ځواک و نه منو؛ نو شرک نه دی. د بېلګی په توګه: وايو غوږونو مې واورېدل يا پخپله مې واورېدل، سترګو مې وليدل يا پخپله مې وليدل. دلته موږ سترګو او غوږونو ته د اورېدو او ليدو نسبت ورکوو؛ نو ددې مانا دا نه ده، چې غوږونه او سترګې به له ما پرته د اورېدو او ليدو وس ولري؛ بلکې دا دواړه غړي واسطه دي. که څوک ووايي، چې زه په سترګو لوست کوم؛ نو مانا يې دا نه ده، چې سترګې به ځان ته د ليدو وس ولري.
په نړۍ کې چې کومې واسطې دي، هغه ټول د الله تعالی مخلوقات دي او تر بشپړ واک لاندې يې دي. دا واسطې کېدای شي، وربځې، لمر، څمکه باد او... وي او يا کېدای شي د بشپړ

---

1. (يس/١٢)
2. (الانفطار\١١)
3. (سجده/١١)
4. صافات\٩٦
5. قمر\٥٠

مانیزو مقاماتو خاوندان وي؛ لکه د الله تعالی اولیاء او یا د الله تعالی پرښتې. قرآن عظیم الشأن په ډاګه وايي: [مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِهِ [1]]

په المائده سورت کې الله تعالی حضرت عیسی ته وايي: د مړيو په ژوندي کولو کې ستا د نفس اغېز زموږ په اجازې دی، کومه مرغۍ، چې دې له خټو جوړه کړه، زما په اجازې وه او زما په اجازې دې والوزوله.

((إِذْ قَالَ اللّهُ يَا عِيسى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِي عَلَيْكَ وَعَلَى وَالِدَتِكَ إِذْ أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ الْقُدُسِ تُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلاً وَإِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاةَ وَالإِنجِيلَ وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ بِإِذْنِي فَتَنفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِي وَتُبْرِئُ الأَكْمَهَ وَالأَبْرَصَ بِإِذْنِي وَإِذْ تُخْرِجُ الْمَوتَى بِإِذْنِي وَإِذْ كَفَفْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَنكَ إِذْ جِئْتَهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ فَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْهُمْ إِنْ هَذَا إِلاَّ سِحْرٌ مُّبِينٌ [2]=(دریادکړه) چې کله الله تعالی عیسی د مریمې زوی ته وویل: ((پرتا او مور دې زما نعمت درياد کړه! ما په ((روح القدس = سپېڅلي روح)) ستا مرسته وکړه، چې په زانګو(او پوره عمر کې دې) له خلکو سره خبرې کولې، ما تا ته کتاب، حکمت، تورات او انجیل وښود، تا زما په حکم له خټې د مرغۍ (جوسه) جوړوله او په هغې کې دې پوکی کاوه او جوسه به زما په حکم مرغۍ شوه، تا زما په امر مور زېږي ړانده او د برګي (پیس) رنځوران روغول او زما په امر دې مړي (هم) ژوندي کول او چې کله ته بني اسراییلو ته له څرګندو دلایلو سره ورغلې، ما ته د هغوی له زیان رسونې وژغورلې؛ نو له هغوی د حق منکرانو (کافرانو) وویل: ((دا خو ښکاره کوډې دي.))

وویل شول، چې د الله تعالی د اولیاوو کار، په حقیقت کې د الله تعالی کار دی او د هغه په اجازه دی؛ نو د الله تعالی له اولیاوو توسل او ترې استمداد غوښتل، له خدایه د استمداد او توسل په منزلت دي.

لکه څنګه چې د رسول الله لاروي، د الله تعالی لاروي ده. ((مَّنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللّهَ وَمَن تَوَلَّى فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا[3]=چا چې د پیغمبر اطاعت وکړ؛ نو د الله تعالی اطاعت یې کړی او چا چې ترې مخ واړاوه؛ نو ته موږ ورته (د همېشه) ساتونکي(په توګه) نه یې لېږلی (او په اړ یې پازوال نه یې)

---

[1]. (بقرة\٢٥٥)

[2]. (مایده/١١٠)

[3]. (نساء/٨٠)

# گناه

گناه تېروتنې او غلطۍ ته وايي. په اسلام کې هر کار چې د الله تعالی د حکم پرخلاف وشي، گناه بلل کېږي. گناه د الله تعالی له حکمونو سرغړونه ده؛ نو که کوشنۍ هم وي، غټه گڼل کېږي.

رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم، حضرت ابوذر (رض) ته وویل: ((لاتنظر الی صغر الخطیئة و لکن انظر الی من عصیته - د گناه کوشنیوالي ته مه گوره، وگوره چې له چا سرغړونه کوې.[1]))

**په قرآن عظیم الشأن کې د گناه ویی - کلمې:**

په "قرآن عظیم الشأن" کې او د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم په احادیثو کې گناه، په بېلابېلو ویېو - کلمو یاده شوې او هر یو د گناه له ناوړه اغېزو او نښو پردې اوچتوي او په بېلابېلو ډولونو یې څرگندوي.

**په قرآن عظیم الشأن کې د گناه په هکله راغلې کلمې:**

۱) ذنب. (۲) معصیت. (۳) اثم. (٤) سیئه. (۵) جرم. (٦) حرام. (۷) خطئیه. (۸) فسق. (۹) فساد. (۱۰) فجور. (۱۱) منکر. (۱۲) فاحشه. (۱۳) خبث. (١٤)شر. (۱۵) لمم. (١٦) وزر و ثقل. (۱۷) خنث.

**۱- ذنب:** وروسته او دنبال ته وايي؛ ځکه هر غلط او ناسم کړه یو ډول دنیوي او اخروي مجازات او سزاوې لري، دا ویی، په قرآن عظیم الشأن کې ۳۵ ځل راغلې ده.

**۲-معصیت:** د الله تعالی له حکمونو د سرغړونې مانا ورکوي او څرگندوي، چې انسان د الله تعالی د بندگۍ له پولې وتلی دی. دا ویی په قرآن عظیم الشأن کې ۳۳ ځل راغلې ده.

**۳- اثم:** ناغېړۍ او له اجرونو د بې برخې او روسته پاتېدنې مانا ورکوي؛ ځکه په حقیقت کې گناه کوونکی پاتې (او ناکام) شوی دی او ځان ته دې هوښیار نه وايي؛ دا ویی، په قرآن عظیم الشأن کې ٤٨ ځل راغلې ده.

**٤- سیئه:** ناوړه کار ته وايي، چې د غم او پرېشانۍ لامل شي. دا ویی د حسنه ضد ده او حسنه د نېکمرغۍ په مانا ده. دا ویی په قرآن عظیم الشأن کې ١٦٥ ځل راغلې ده.

---

[1] مجموعه ورام، ۲/ ۵۳

**٥- د** ((**سوء**)) ویی هم له همدې ویی څنې اخستل شوې او په قرآن عظیم الشأن کې ٤٤ ځل راغلې ده.
**٦- جرم:** له ونې د مېوې د بېلېدو او یا هم د پرېوتې په مانا دی. جریمه او جرم له همدې څنې اخستل شوی دی. جرم هغه چار دی، چې انسان له حقیقت، نېکمرغۍ بشپړتیا او موخې بېلوي. دا ویی، په قرآن عظیم الشأن کې (٦١) ځل راغلې ده.
**٧- حرام:** د منع په مانا دی؛ لکه څرنګه چې انسان په حج او عمره کې د احرام جامې اغوندي او له ځینې چارو منع کېږي او د حرام میاشت هم هغه ته وایي، چې شخړې او نښتې پکې منع دي. مسجدالحرام؛ یعنې هغه جومات چې ځانګړی حرمت او درناوی لري او د مشرکینو ورننوتل منع دي؛ دا ویی، په قرآن عظیم الشأن کې ٧٥ ځل راغلې ده.
**٨- خطیه:** غالباً ناقصدي ګناه ته وایي. د غټې ګناه لپاره هم کارول شوې ده او د البقره سورت ٨١ آیت او د الحاقه سورت ٣٧ آیت په دې مطلب لېنه - ګواهي ورکوي؛ دا ویی هغه حالت ته ویل کېږي، چې په انسان کې تر ګناه روسته راپیدا کېږي او له ژغورنې یې بېلوي او د انسان پر زړه د الهي رڼا لارې بندوي.[1] دا ویی په قرآن عظیم الشأن کې ٢٢ځل راغلې ده.
**٨- فسق:** په آر کې له پوټکي د کجورې د زړني وتو ته وایي او ښیي، چې ګناهکار انسان، د الله تعالی د بندګۍ له کړۍ وځي او په ګناه الهي پولې ماتوي او په پایله کې، بې پولې او بې ساتنې پاتېږي. دا ویی په قرآن عظیم الشأن کې ٥٣ځل راغلې ده.
**٩- فساد:** د اعتدال او منځلارۍ له پولې وتو ته ویل کېږي، چې پایله یې ویجاړېدل او د وړتیاوو له منځه تلل دي. دا ویی، ٥٠ ځل په قرآن عظیم الشأن کې راغلې ده.
**١٠- فجور:** د دین د بیاژواکۍ - احیا او پردې څیري کولو ته وایي، چې د رسوایي لامل هم وګرځي او دا ویی، په قرآن عظیم الشأن کې ٤ځل راغلې ده.
**١١- منکر:** دا ویی له انکاره اخستل شوې او د ناآشنا مانا ورکوي؛ څکه ګناه د انسان له ختې، روغ فطرت او عقل سره اړخ نه لګوي؛ روغ عقل او فطرت، ګناه ناآشنا او ناوړه بولي، دا ویی په قرآن عظیم الشأن کې ١٤ځل او ډېر ځل له بدیو د منع تر عنوان لاندې راغلې ده.
**١٢- فاحشه:** هغه خبرې او کار ته ویل کېږي، چې په ناولتیا او ناوړتوب کې یې اړنګ - شک پاتې نشي او په ځینو ځایونو کې ډېر ناوړه او کرکجن کار ته ویل کېږي. دا ویی، په قرآن عظیم الشأن کې ٢٤ ځل راغلې ده.

[1] المیزان، ١/ ٢١٨

**۱۳- خبث:** هر کړغېړن او ناوړه کار ته خبیث وایي. او دا ویی د((طیب)) ضد ده، چې د پاک په مانا ده. د خبث ویی، ١٤ځل په قرآن عظیم الشأن کې راغلې ده.

**١٤- شر:** هر ناوړه څیز ته وایي، چې خلک ترې کرکه کوي او د خیر د ویی پر ضد ده او هغه کار ته ویل کېږي، چې د ټولو خلکو ښه نه ایسي. د شر ویی، د بلاوو او کړاوونو لپاره کارېږي؛ خو کله د ګناه په اړه هم کارېږي. د زلزال سورت په اتم آیت کې د ګناه په مانا کارول شوې ده.

**۱۵- لمم:** (د قلم په وزن) ګناه ته د نږدېدنې او د لږو څیزونو په مانا دی او د صغیره ګناهانو لپاره کارېږي. او دا ویی په قرآن عظیم الشأن کې یو ځل راغلې ده.

**١٦- وزر:** دروندوالي ته ویل کېږي او د نورو کسانو د ګناهونو د وړلو په اړه کارېږي. ((وزیر)) هغه ته ویل کېږي، چې د حکومت درنې چارې پر مخ بیایي. دا ویی، په قرآن عظیم الشأن کې ٢٦ ځل کارول شوې ده. په قرآن عظیم الشأن کې د((ثقل)) ویی هم کارول شوې، چې دروندوالي ته ویل کېږي او د ګناه په اړه کارول شوې ده. د عنکبوت سورت ۱۳آیت پردې مطلب ګواهي ورکوي، چې وایي:

((وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالاً مَّعَ أَثْقَالِهِمْ وَلَيُسْأَلُنَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَمَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ = او هغوی به هرومرو د خپلو (ګناهونو) درونډ پېټي پر اوږو کوي او (همداراز) پر خپل پېټي سربېره،(د نورو د ګناهونو) درانه پېټي هم او په باوري توګه، د قیامت پر ورځ به د هغو تورونو پوښتنه ترې کېږي، چې دوی (په الله تعالی پورې) تړل.))

**۱۷- حنث:** (د جنس پر وزن) باطلو ته د ورکرېدو، لېوالتیا او د بیا پوښتنې مانا ورکوي او تر تړون روسته د تړون ماتونې او ترې سرغړونې لپاره کارول شوې ده. دا ویی، په قرآن عظیم الشأن کې دوه ځل راغلې ده.

دا اوولس (١٧) ویی، د ګناه له ناوړه اغېزو او نښو پرده اوچتوي او هره ویی، د ځانګړي خبر له مخې انسان له ګناه ژغوري.

## په روایتونو کې د ګناه ویی:

په اسلامي روایتونو کې د بېلابېلو ګناهانو لپاره نورې ویی هم کارول شوي، چې دادي: جريرة، جنايت، زلت، عثرت، عيب او داسې نور؛ دا هره ویی، ډول ډول ګناهونه څرګندوي، چې شونې ده د انسان مخې ته ورشي.

**د گناه ډولونه:**

اسلامي علماوو، له پخوا راهيسې، گناهونه دوه ډوله ويشلي دي.

۱ کبيره گناهونه (غټې)

صغيره گناهونه (واړه)

دا ويش له قرآن عظيم الشأن او روايتونو سرچينه اخلي؛ په قرآن عظيم الشأن کې راغلي:

((إِن تَجْتَنِبُواْ كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَنُدْخِلْكُم مُّدْخَلاً كَرِيمًا[۱]= که له هغو سترو گناهونو ځان وژغورئ، چې ترې منع کېږئ؛ نو له وړو گناهو به مو تېر شو او د عزت ځای ته به مو ننباسو.))

((وَوُضِعَ الْكِتَابُ فَتَرَى الْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَا وَيْلَتَنَا مَالِ هَذَا الْكِتَابِ لاَ يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلاَ كَبِيرَةً إِلاَّ أَحْصَاهَا وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا وَلاَ يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا[۲]= او هلته به کړنليکونه کېښوول شي؛ نو ته به گورې چې گناهکاران، څه چې په کړنليکونو کې دي، ترې وېرېږي او وايي به: ((های، زموږ بدې برخې! دا څنگه ليکنه ده، چې زموږ هره کوشنۍ او لويه پکې راټوله شوې ده؟!)) او(حال دا) خپل ټول کړه به حاضر مومي او ستا پالونکی پرهېچا تېری نه کوي.))

((الَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ إِلَّا اللَّمَمَ إِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ هُوَ أَعْلَمُ بِكُمْ إِذْ أَنشَأَكُم مِّنَ الْأَرْضِ وَإِذْ أَنتُمْ أَجِنَّةٌ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ فَلَا تُزَكُّوا أَنفُسَكُمْ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَى[۳]= هغوی چې له سترو گناهونو او ناوړو (کارونو) ډډه کوي؛ خو بې له کوشنيو گناهونو (چې کله پرې ککړېږي)؛ نو شك نشته چې ستا د پالونکي ښښنه پراخ ده، هغه تاسې له هغه مهاله ښه پېژني، چې تاسې يې له ځمکې پيدا کړئ او چې کله لا د خپلو ميندو په گېډو کې ((پټ)) وئ؛ نو خپل ځانونه پاك مه گڼئ (او ځانونه مه ستايئ) او الله تعالی ښه پوهېږي، چې رښتينی پاک څوک دی.))

د جنتيانو په هکله وايي:

((وَالَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ وَإِذَا مَا غَضِبُوا هُمْ يَغْفِرُونَ[۴]=او(د هغو) کسانو (لپاره دي) چې له سترو گناهونواو ناوړه (کارونو) ډډه کوي او چې کله په غوسه شي؛ نو تېرېږي.))

د الهي ښښنې او مغفرت په هکله قرآن عظيم الشأن وايي:

---

[۱] نساء/۳۱

[۲] کهف/۴۹

[۳] نجم/۳۲

[۴] شوری/۳۷

((إِنَّ اللّهَ لاَ يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَن يَشَاءُ وَمَن يُشْرِكْ بِاللّهِ فَقَدِ افْتَرَى إِثْمًا عَظِيمًا[1]= الله تعالی (هېڅکله) شرك نه ښښي او بې له دې چې څومره ګناوې دي؛ نو چا ته يې چې خوښه شي (او وړ يې وبولي) وربښي يې او څوك چې له الله تعالی سره شريك ونيسي؛ نو په حقيقت کې ستره ګناه يې کړې ده.))

له دې آيتونو جوتېږي، چې ګناهونه دوه ډوله دي: کبيره او صغيره او همداراز ځينې ګناهونه له حقيقي توبې پرته نه بښل کېږي؛ خو ځينې يې ښښل کېږي.

## توبه او پاکېدل

توبه او قبلېدل يې د الله تعالی د پراخه نعمت، رحمت او لورنې نښه ده. ګناه ته شا کول، الله تعالی ته بېرته مخه کول او ترې ښښنې او عذر غوښتو ته توبه وايي.

عذر غوښتنه درې ډوله ده؛ کله عذرکوونکی وايي: ما هېڅ کله هم دا کار نه دی کړی. کله وايي: ما له دې کبله دا کار وکړ او کله وايي: دا کار مې وکړ، بد مې وکړل، تېروتم، اوس پښېمانه يم او دا همغه توبه ده.

### توبه په اسلام کې شرطونه لري:

۱- ګناه ته شا کول. ۲- له ګناه پښېماني. ۳- هوډ وکړي، چې بيا دا ګناه و نه کړي. [2] ٤- د ګناه سکېنده - جبرانول.

توبه داسې ده؛ لکه څوک چې له تنه خيرنې جامې وباسي او پاکې واغوندي. توبه د خيرن او چټل بدن وينځل او عطر پرې اچول دي.

قرآن عظيم الشأن وايي:

((وَأَنِ اسْتَغْفِرُواْ رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُواْ إِلَيْهِ يُمَتِّعْكُم مَّتَاعًا حَسَنًا إِلَى أَجَلٍ مُّسَمًّى وَيُؤْتِ كُلَّ ذِي فَضْلٍ فَضْلَهُ وَإِن تَوَلَّوْاْ فَإِنِّيَ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيرٍ [3]= او داچې: له خپل پالونکي ښښنه وغواړئ، بيا هغه ته توبه وباسئ (تردې چې) تاسې تر يوې ټاکلې مودې پورې (ددې نړۍ له نعمتونو) ښه برخمن کړي او د هر فضل خاوند ته د هغه فضل هومره ورکړي او که (له دې فرمانه) مو مخ واړاوه؛ نو بېشکه زه پر تاسې د يوې سترې ورځې له عذابه وېرېږم.))

---

[1] نساء/۴۸

[2] مفردات راغب، ۷٦ مخ

[3] هود/۳

په یو آیت کې "استغفار" او "توبه" یو ځای راوړل؛ ښيي دا دواړه سره توپير لري. لومړنی د وینځلو او دویم د کمالونو د لاس ته راوړو په مانا دي.
انسان باید لومړی ځان له گناهونو پاک او بیا پر الهي صفتونو سینگار کړي. لومړی له زړه هر ډول ((باطل معبودان)) وشنډي او بیا دې پکې حق معبود (= الله) ځای کړي.

**په قرآن عظیم الشأن کې توبه او استغفار**

((وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُواْ فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُواْ أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُواْ اللّهَ فَاسْتَغْفَرُواْ لِذُنُوبِهِمْ وَمَن يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ اللّهُ وَلَمْ يُصِرُّواْ عَلَى مَا فَعَلُواْ وَهُمْ يَعْلَمُونَ [1] = او هغوی چې کله کوم ناوړه چار وکړي یا پر ځان تېری وکړي (نو) الله تعالی وریادېږي او د خپلو گناهونو ښښنه غواړي او له الله پرته لا بل څوك دی، چې گناهونه وبښي؟ او پر خپلې گناه ټینگار نکوي؛ ځکه پوهېږي (چې بد یې کړي دي).))
((وَمَن يَعْمَلْ سُوءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللّهَ يَجِدِ اللّهَ غَفُوراً رَّحِيماً [2] = او څوك چې بد (کار) وکړي یا پر خپل ځان تېری وکړي او بیا له خدایه ښښنه وغواړي؛ نو الله تعالی به ډېر ښښونکی (او) مهربان ومومي))
((وَعَدَ اللّهُ الَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ [3] = الله تعالی له هغو سره د ښښنې او ستر اجر ژمنه کړې، چې ایمان یې راوړی او (نېکې) چارې یې کړې وي.))
((قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ [4] = ووایه: ((زما هغو بندگانو، چې تاسې د خپلو ځانونو په اړه له پولې اوښتي یاست! د الله تعالی له رحمته مه نهیلېږئ؛ (ځکه) چې الله تعالی [د توبې په شرط] د ټولو (گناهونو) آثار ښښي، چې یواځې هغه ډېر ښښونکی (او) مهربان دی.))
په دې آیتونه کې دا تعبیرونه راغلي دي:
زما بندگانو! مه نهیلېږئ، د الله تعالی رحمت د ټولو گناهونو د ښښنې لامل او الله تعالی غفور (او) رحیم دی؛ نو له دې جوتېږي، چې د الله تعالی د استغفار، رحمت او د توبې د منلو لمن څومره پراخه ده. په تېره، د ((عبادی- زما بندگانو))، له تعبیره دا څرگندېږي، چې ټول ښه او بد بندگان

[1] آل عمران/۱۳۵
[2] نساء/۱۱۰
[3] مایده / ۹
[4] زمر/۵۳

خو زما دي او الله تعالی پرې دومره مهربان دی، چې ټول یې خپل بندګان ګڼلي؛ نو ځکه د ښښنې د هیلو لمن خورا پراخه ده.

((وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُواْ لِي وَلْيُؤْمِنُواْ بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ [1] = او چې کله دې زما بندګان زما په اړه وپوښتي، (نو ووايه:) په حقيقت کې زه نږدې يم او بلونکی چې ما وبلي؛ نو دعا یې قبلوم؛ نو باید زما بلنه ومني او پر ما ایمان راوړي، چې ښايي سمه لار ومومي (او مقصد ته ورسي). ))

الله تعالی له انسان سره ډېر نږدې دی او په پورتني آیت کې الله تعالی (۷) اووه ځل خپل ځان له وزلې او واسطې پرته یاد کړی؛ لکه زما بندګانو! زما په هکله، زه نږدې یم، ما یادوئ، زه یې ځواب وایم، پر ما ایمان راوړئ، ما وبلئ.

((و تُوبُوا اِلی اللّهِ جَمعیاً اَیُّها المُؤمِنون [2] = مؤمنانو! ټول (نر و ښځې) الله تعالی ته توبه وباسئ.))

((هُو الّذی یَقبِلُ التَّوبَة مِن عِبادِه [3] = او الله هغه (مهربان ذات) دی، چې د خپلو بندګانو توبه مني.))

((اِنَّ اللّه یُحِبُّ التَّوّابین [4] = بېشکه د الله توبګاران خوښېږي.))

((یا ایّها الَّذینَ آمَنوا تُوبُوا اِلَی اللّهِ تَوبَةً نَصُوحاً [5] = مؤمنانو! الله تعالی ته (ټینګ په اخلاص او د زړه له کومې توبه وکړئ.))

((و هُو الَّذی یَقبلُ التَّوبَة عَن عِبادِه و یَعفُوا عَنِ السَّیِّئات [6] = او (الله) هغه (ذات) دی، چې د خپلو بندګانو توبه قبلوي او له ګناهونو یې تیرېږي.))

((اَفَلا یَتُوبُونَ اِلَی اللّه و یَستَغفِروُنَه و اللّهُ غَفُورٌ رَحیم [7] = نو ولې الله تعالی ته توبه و نه باسئ او ښښنه ترې نه غواړئ؟ (حال دا ) الله تعالی ښښونکی (او) مهربان دی.))

---

[1] بقره/۱۸۶

[2] نور/۳۱

[3] شوری/ ۲۵

[4] بقره/۲۲۲

[5] تحریم/۸

[6] شوری/۲۵

[7] مایده/ ۷۴

الله تعالی په دې آیت کې، انسانان توبې او استعفار ته رابللي او د "غفور"او "رحیم" د صفتونو په ویلو غواړي، د انسانانوعواطف وهڅوي، ښايي په دې توګه انسانان، الله تعالی ته مخه کړي، توبه وکړي، چې ګناهونه يې پاک شي او په توبې خپل کمالونه او فضلیتونه لاپسې ډېر کړي.

## توبه په روایتونو کې

د روایتونو تر څېړنې روسته د توبې او استغفار په هکله په زړه پورې او پراخ معلومات لاس ته راځي چې دادي:

**۱- ریښتینې توبه:**

ریښتینې توبه پینځه څانګې لري: ۱- ګناه ته شا کول. ۲- له پخوانی ګناه پښېمانې. ۳- د ګناه د پرېښوولو هوډ. ٤- د هغو ګناهونو جبرانول چې د((حق الله)) او((حق الناس)) پر ادا کولو د جبران وړ وي. ۵- په ژبه استغفار ویل.

## نصوح توبه

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَّصُوحًا [۱] =مؤمنانو! الله تعالی ته (ټینګ په اخلاص او) د زړه له کومې توبه وکړئ))
رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وايي: أن يَتُوب التائِب ثمّ لايَرجع فی ذَنبٍ كما لايَعود اللَبن الى الضَّرع - لکه څرنګه چې شیدې بېرته سینې ته نشي تلای؛ نو دغسې توبګار هم بېرته ګناه ته نه مخه کوي. [۲]
امام صادق د"نصوح" کلمې په تفسیر کې وايي: ((هو الذَّنبُ الّذی لا يَعودُ فيه اَبداً- نصوح هغه توبه ده چې هېڅکله بیا هغه ګناه و نه کړې[۳].))
په یو روایت کې راغلي: ان يكونَ الباطِنُ كالظاهِر و افضِل من ذلك- د نصوح توبه هغه ده، چې د انسان باطن تر ظاهر؛ بلکې تردې هم غوره شي. [٤]

---

[۱] تحریم/ ۸
[۲] مجمع البیان ۲/ ۳۱۸
[۳] کافي، ۲/ ۲۳۲
[٤] بحار٦/ ۲۲

حضرت علي كرم الله وجهه د نصوح په هكله وايي: ((نَدمٌ بِالقَلب و استِغفار باللّسان و القَصد على ان لا يَعود - نصوح دې ته وايي چې: انسان په زړه كې پښېمانه وي، په ژبه عذر وغواړي او د گناه د همېشه پرېښوولو لپاره ټينگ هوډ وكړي. [1]))

## د سمې توبې شرطونه

چا د ځان ښوونې لپاره د حضرت علي كرم الله وجهه په مخ كې وويل: استغفرالله. حضرت علي كرم الله وجهه وويل: ((مور دې سر ته كښېنه! آيا پوهېږې چې استغفار (يوازې په ژبه نه؛ بلكې) لوړې مرتبې لري (چې بايد عملي يې كړې)؟ حضرت علي كرم الله وجهه ډېره كړه: استغفار او توبه شپږ څانگې لري: له پخوانيو گناهونو پښېماني. د گناه پرېښوولو هوډ. د خلكو حق ادا كول. د الله تعالى حق ادا كول. په غمونو د بدن د هغو غوښو ويلي كېدل چې په حرامو خوړو منځ ته راغلي وي. بدن يې؛ لكه چې د گناه خواږه څكلي، دغسې بايد د الله تعالى د اطاعت سختي هم وڅكي. او په دې وخت كې استغفرالله ووايه. [2]))

امام زين العابدين وايي: ((انمّا تَوبَة، اَلعَمل و الرُّجوع عن الاَمر و ليستِ التَّوبة بِالكَلام-توبه تش په خوله ويلو ته نه؛ بلكې له بې لارې راستېندو او د غوره كار كولو ته وايي. [3]))

د توبې بل شرط د هغې د ضايعاتو جبرانول دي. قرآن عظيم الشأن وايي:

((إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ [4] = خو هغوى چې تردې (تور) روسته توبه وباسي او ځانونه سم كړي (نو الله تعالى يې ببښي؛ (ځكه) ) ډېر الله تعالى ببښونكى (او) مهربان دى.))

((واصلحوا)) دا څرگندوي چې د توبې مهم شرط د گناه د ضايعاتو جبرانول او ځان سمونه ده. پر توبې منښته- اقرار كول، د همغې د كمال له شرطونو څنې ده.

امام باقر وايي: ((و اللّه ما ينجو من الذّنب الاّ من اقربه [5]- پر الله تعالى قسم! چا چې پر گناه اعتراف نه وي كړى، له گناه نه ژغورل كېږي.))

حضرت علي كرم الله وجهه وايي: ((المُقرّ بالذَّنبِ تائِب – پر گناه منښتى، توبگار دى. [6]))

---

[1] تحق العقول / ۱۴۹

[2] نهج البلاغه/ ۴۱۷ حكمت

[3] كشف الغمه ۲/ ۳۱۳

[4] نور/۵

[5] وسايل ۱۱/ ۳۴۷

[6] مستدرک الوسايل ۲/ ۳۴۵

## د توبې ډولونه او پړاوونه

امام صادق وايي: ((و كل فرقة من العباد لهم توبة.... و توبة الځانګړي، من الاشتغال بغير الله تعالی و توبة العام من الذنوب[1] = هره ډله ځان ته يوه توبه لري؛ د الله تعالی د ځانګړو بندګانو توبه داده چې په هغو شيبو کې چې له خدايه غافل وي او "غيرالله" ته يې پام وي (له داسې حالاتو څخه د پښېمانۍ توبه وباسي) او د عامو وګړيو توبه دا ده چې له ګناهونو توبه وباسي.))
پر تېرو کړنو پښېماني او ګناه ته د شا کولو هوډ، د توبې لومړی پړاو دی. نور پړاوونه يې دادي چې:
توبګار له هر پلوه داسې روحاني او سپېڅلی حالت پيدا کړي؛ لکه د ګناه تر مخه چې و. مثال يې د يوه رنځور دی، چې د درملو په خوړو يې تبه له منځه ځي؛ خو تردې روسته "تقويتي درمل" ته اړتيا لري، چې بدن يې تر رنځورۍ دمخه غوندې شي. امام باقر په دې هکله وايي: ((التائِبُ من الذَّنب کَمَن لا ذَنبَ له و المُقيم علی الذّنب و هو مستغفِرٌ منه کالمُستَهز-[2] له ګناه څخه توبګار د بېګناه په شان دی او څوک چې په ګناه کې پاتې شي او استغفار هم کوي؛ نو د ملنډې وهونکي په شان به وي.))

## شکر

((شکور)) هغه ته وايي، چې ډېر شکر ايستونکی وي. شکور د الله تعالی له صفتونو څنې دی؛ ځکه انسان ته د نېکۍ په بدل کې ډېر ثواب ورکوي او د هر يو خير کار په پار لس ثوابونه، ۷۰۰ ثوابه او يا بې حسابه ورکوي.
حضرت نوح به هر سهار او ماښام درې ځل په ځانګړيو غونډلو د الله تعالی شکر ايسته.
د شکر مرتبې دادي: پر زړه، ژبه او عمل شکر.
پر زړه شکر هغه دی، چې د الله تعالی نعمتونه وپېژنو او ايمان ولرو، چې دا ټولې پېرزوګانې د هغه له لوري دي او بې له هغه ټول يې وسيلې دي او د ناوړه او ستونزمنو پېښو له لامله ترې لاس وانخلو.
حضرت زينب د حضرت امام حسين خور؛ سره له دې چې دومره سختۍ او کړخت وليد؛ نو د امويانو حکومت ته يې وويل: (ما رايت الا جميلا) بې له ښکلا مې هېڅ و نه ليدل.

---

[1] مصباح الشريعه/ ۹۷
[2] کافي ۲/ ۴۳۵

هو! د هستۍ پر دسترخوان ټول مخلوقات په خپل ځای کې ښکلي دي؛ خو ددې ښکلا د لیدو سترګې نه لرو؛ لکه غټ انسانان پر دسترخوان مربا، شیریني، ترشي، پیاز او مرچک ټول ښکلي ګڼي؛ خو که همدا دسترخوان یو ماشوم ته په مخ کې خور شي؛ نو یوازې خواږه به ورته ښه ښکاري او تراخه به یې بدې ایسي.
پر ژبه شکر هغه دی، چې پر ژبه د ((الحمد الله رب العالمین)) په څېر غونډلې راوړو.
په عمل کې شکر هغه دی، چې د الله تعالی له نعمتونو هغسې ګټه وکړو؛ لکه څنګه چې یې ویلي وي؛ د بېلګې په توګه: که خواږه مو وخوړل؛ نو په لاس ته راغلې انرژۍ یې کار وکړو او که څواک مو پیدا کړ؛ نو د بېوزلیو لاسنیوی وکړو.
د الله تعالی شکر، د نعمتونو د ډېرېدو لامل دی.
د الله تعالی شکر، انسان د شیطان له وسوسو ساتي؛ لکه چې شیطان، الله تعالی ته وویل: زه به له هرې لارې خلک بې لارې کړم؛ څکه ډېر خلک شکر نه کاږي او څوک چې شکر نه کاږي؛ نو د هغه د وسوسو په جال کې به راګېرېږي.

## مور و پلار

په حدیثونو کې له مور و پلار سره پر احسان ټینګار او د هغوی کړول رټل شوي دي: مور و پلار ته په مینه د کتو ثواب د قبول شوي حج دی. رضا یې د الله تعالی رضا او غوسه یې د الله تعالی غوسه ده. له مور و پلار سره ښه چلن او احسان عمر ډېروي او ددې لامل ګرځي، چې اولاد مو هم راسره په احسان چلن وکړي.
په حدیثونو کې راغلي: ان که و یې وهلې؛ نو ورته ((اف)) هم مه وایه. یوازې په مینه ورګوره، لاس مه پرې اوچتوه، پر لار مخکې مه ترې ځه. په نوم مه ورغږ کوه، داسې څه و نه کړې، چې خلک ورته کنځلې وکړي، مخکې ترې مه کېنه او تر غوښتو مخکې ورسره مرسته وکړه.
یو سړي خپله مور پر اوږو کېنولې وه او طواف یې ورکاوه، چې رسول الله یې ولید؛ ورته یې وویل: ایا د مور حق مې ادا کړی دی؟
رسول الله : ان ستا د زوکړې پر مهال د هغې د درد د یوې چغې حق دې هم نه دی ادا کړی.
رسول الله وپوښتل شو: تر مړینې روسته هم د والدینو لپاره احسان شته دی؟
رسول الله وویل: لمونځ کول او ثواب یې وربښل، ورته بښنه غوښتل، ورسره پر کړیو ژمنو عمل، پور یې ورکول او د دوستانو یې درناوی، له والدینو سره احسان دی.
یو سړي له خپل پلاره رسول الله ته شکایت وکړ. رسول الله یې پلار راوغوښت او و یې پوښت. سپین ږیري پلار یې وویل: هغه مهال، چې غښتلی او شتمن وم؛ نو له زوی سره مې مرسته

کوله؛ خو نن چې هغه شتمن دی؛ نو راسره مرسته نه کوي. د الله تعالی رسول په ژړا شو، و یې ویل: داسې کاڼي او شګه به پیدا نه کړې، چې ددې خبرې په اورېدو و نه ژاړي او بیا یې زوی ته وویل: ته او شتمني دې د پلار ده.

په حدیث کې راغلي: ان که مور و پلار خپل اولاد وواهه؛ نو اولاد دې ووایي: الله تعالی دې تاسې وبښي، چې دا هماغه ((کریم قول)) دی.

له والدینو سره احسان د انبیاوو چار دی؛ لکه چې حضرت عیسی علیه السلام داسې ستایل شوی (بِراً بوالدتی) او د حضرت یحیی علیه السلام په اړه راغلي: (براً بوالدیه)

والدین یوازې طبیعي مور و پلار نه دي، په ځینو روایتونو کې رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم او امیرالمؤمنین د امت پلار شمېرل شوي؛ لکه څنګه چې حضرت ابراهیم علیه السلام د عربو پلار دی. (ملة ابیکم ابراهیم)

که والدین پام وکړي، چې تر توحید روسته نوموتي دي؛ نو خپل اولاد به ډېر په مینه توحید ته راوبلي. (قضی ربک الا تعبدوا الا ایاه وبالوالدین احساناً)

مور و پلار په طبیعي توګه له خپل اولاد سره احسان کوي، قرآن عظیم الشأن اولاد ته سپارښته کوي، چې له خپلو والدینو سره مو احسان وکړئ. (وبالوالدین احسان)

# زنا

نامشروع جنسي اړيکې (زنا) ډېر وګړني او ټولنيز زيانونه او فسادونه لري؛ نو ځکه په اسلام کې حرامه ده او په قرآن عظيم الشأن کې د شرک قتل (۸۳) او غلا ترڅنګ راوړل شوې ده (۸٤).

## د زنا پر څو ناوړه اغېزو او مفاسدو رڼا

۱_د ډېرو دښمنيو، ځان وژنو، له کوره تښتېدنو، نامشروع اولادونو (حرمونو) جنسي رنځوريو او د شريفو کورنيو لپاره د جنجال سرچينه ده.

۲_ داچې زناکار د شهوت پالنې لپاره په ده او هغه پسې ځي؛ نو پکې مينه او الفت نه وي.

۳_ زناکار مقابل لوری د خپل ژوند شريک نه بولي؛ بلکې د شهوت د اور د مړه کېدو وزله يې بولي.

٤_ زنا د کورنۍ له جوړېدو مخنيوی کوي، کورنۍ اړيکې شلوي. او صله رحم له منځه وړي.

٥_زنا د مورولۍ او پلارولۍ احساس له منځه وړي او د ځوځات پايښت او د اولاد روزنې ته پام پکې نه وي.

٦_زنا د ارث او ميراث نظام له منځه وړي او واقعي پاتوړی نه معلومېږي.

٧_د انساني هويت او شخصيت له منځه وړو لامل ده او عمر کموي.

٨_ زنا يوه ګناه نه؛ بلکې زناکار زنا ته نور ګناهونه؛ لکه دروغ، تور، غلا او ان وژنه هم کوي.

٩_ټولنې ته نامشروع او بې هويته انسانان راوړاندې کوي، چې ډېرو ټولنيزو مفاسد او جرمونو ته لار هواروي او د فحشا روښانه مصداق دی.

## اسلام د زنا د مخنيوي لپاره ځينې کړلارې لري؛ لکه:

۱_په ځينو ځايونو کې د ښځو او سړيو نه يو ځای کېدل.

۲_د نامحرم او نامحرمې په يو ځای کې ځان ته نه پاتېدل.

۳_ ښځې دې په سينګار نامحرمو ته ځان نه ښکاره کوي.

٤_نامحرم ته نه کتل،لاس نه ورکول، د زنا فکر نه کول او راپارونکي انځورونه او فيلمونه نه کتل.

٥_ زناکار ته يې سخته سزا ټاکلې ده.

٦_د واده سپارښتنه او په ودونو کې له درنو دودونو ژغورنه.

٧_هغوی رټل شوي، چې ناوخته واده کوي.

٨_ د کورنۍ جوړول او کوروالی يې عبادت ګڼلی دی.

# استکبار او مستکبر

د تاریخ په اوږدو کې داسې خلک پیدا کېدل، چې مغرور به ول او ځان یې د هر څه مرکز او چورلیځ باله، په دې سورت کې فرعون وایي: (ما علمتم لکم من اله غیری) زه درته له ځان پرته بل معبود نه پېژنم او کله، چې کوډګرو پر حضرت موسی ایمان راوړ؛ نو و یې ویل: (آمنتم به قبل آذن لکم) ایا زما له اجازې پرته مو پر موسی ایمان راوړ؟

فرعون تمه لري، هېڅ څوک ، د هغه له اجازې پرته پر څه شي ګروهه و نه لري. نن هم ځینې فرعونان او ځواکونه شته چې ځانونه یې د نړۍ د سیاست او اقتصاد چورلیځ کړي.

مستکبران د ځواک ښوونې لپاره کله یو کس، ډله یا هېواد له منځه وړي او یا ورسره مرستې کوي؛لکه نمرود، چې حضرت ابراهیم ته وویل: (انا احیی و امیت[1]) ددې خلکو ژوند او مړینه زما په لاس کې ده. څوک چې وغواړم وژنم یې او چې و یې وغواړم، له زندانه یې خلاصوم.

مستکبران کله د نړۍ مادیات خلکو ته رامخې ته کوي؛ لکه چې فرعون به ویل: (الیس لی ملک مصر وهذه الانهار تجری من تحتی) ایا د مصر حکومت زما نه دی؟ آیا نه وینئ، دا ویالې زما تر ماڼۍ لاندې بهېږي[2]؟

مستکبران کله په غرور خلک ځان ته تسلیموي. فرعون هغو کوډګرو ته چې ایمان یې راوړ، وویل: (لا قطعن ایدیکم و ارجکلم من خلاف) (لاسونه او پښې به مو سرچپه غوڅې کړم[3].

مستکبران کله په بې ځایه ځان ښوونې، ساده خلک د ځان مریانوي. قارون به داسې په کوڅه او بازار کې ګرځېده، چې ظاهري نړۍ پرسته خلکو به د حسرت اوسیلې ایستل او ویل یې: کاشکې موږ ته هم هغه څه وي، چې د قارون لپاره دي[4].

مستکبران کله خلک په بې بنسټه ژمنو ځان ته راجذبوي. فرعون کوډګرو ته وویل: که حضرت موسی بې پته کړئ؛ نو ستر انعام به درکړم او په حکومت کې به مقام درکړم.[5]

---

[1] (بقره/۲۵۸)

[2] (زخرف / ۵۱)

[3] (اعراف / ۱۲٤)

[4] (قصص/ ۷۹)

[5] (اعراف /۱۱٤)

مستکبران کله په خپلو سفرونو زړونه څپڅپاندوي. قرآن عظیم الشأن وایي: په ښارونو کې د کفارو تگ دې مغرور نه کړي[1] مستکبران کله د نورو په سپکولو اروایي جگړه پیلوي او پر انبیاوو او لارویانو یې بې بنسټه تورونه لگوي او اراذل ورته وایي.[2]
مستکبران کله د دنگو ماڼیو په جوړولو زړونه راکاږي. فرعون خپل وزیر هامان ته وویل: داسې برج راته جوړ کړه، چې ور وخېژم، چې د موسی الله ترې ووینم.[3]
وگورئ، چې قرآن عظیم الشأن څومره ژور دی، چې د مستکبرانو کړنلار یې داسې انځور کړې، چې زموږ د وخت له مستکبرانو سره هم اړخ لگوي.

## سیده لار

سیده لار کومه ده؟ کېدای شي د هرې سلیقې خاوند له نیکونو، طاغوت او شیطاني وسوسو په لاروی، خپله لار سمه وگڼي؛ خو حقیقت کوم دی؟
سمه لار هماغه سم دین دی، چې باید ځان پوه پرې کړو؛ لکه څنگه چې د کور خاوند تر هر چا ښه، د خپل کور پته ورکولای شي؛ نو متعال خالق هم تر نورو ښه نېغه لار راښیي.
نور خلک مو خپلو شخصي گټو ته غواړي؛ خو الله تعالی زموږ گټه غواړي او په فکر کې مو دی. نور تېروتنه، محدودیت او ځاني غوښتنې لري او شونې ده ناسمه لار راوښیي؛ خو الله تعالیوس او تېروتنه نه لري.
نېغه لار هم باید وپېژنو او هم پرې ولاړ شو، هم ترې و نه وځو او نور هم دې لارې ته راوبلو. د نېغې لار تاکنه هم په فکر کې ده، هم په کړنه کې او هم په تاکنه. هم په وگړیزو او هم په ټولنیزو چارو کې باید ولاړ پرې شو.
افراط و تفریط له نېغې لارې وتل دي، ان د الله تعالی عبادت هم برید او اندازه لري. اسلام هر کار ته سمه لار ښوولې ده:
له نشتمنو سره په مرسته کې:
((وَالَّذِينَ إِذَا أَنفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا[4]=او هغوی چې کله (د الله تعالی په لار کې) لگښت کوي؛ نو نه بې ځایه لگښت کوي او نه کنجوسي؛ بلکې منځلاري وي.))
په لمانځه کې د غږ په ټیټوالي او لوړوالي کې:

[1] (آل عمران / ١٦٦)
[2] (شعراء / ١١١)
[3] (غافر / ٣٦)
[4] (فرقان/٦٧)

((قُلِ ادْعُواْ اللّهَ أَوِ ادْعُواْ الرَّحْمَنَ أَيًّا مَّا تَدْعُواْ فَلَهُ الأَسْمَاء الْحُسْنَى وَلاَ تَجْهَرْ بِصَلاَتِكَ وَلاَ تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَلِكَ سَبِيلا[1]= تاسې يې (("الله" وبولئ که يې "رحمن" وبولئ، په هرنامه، چې يې وبولئ (سپېڅلی ذات يې يو دی او) يوازې هغه ته ښکلي نومونه دی.)) او لمونځ دې مه ډېر جگ او مه ډېر رو وایه او د دواړو ترمنځ (منځلاری) وسه.))

په هڅونه او نیوکه کې پر منځلاری او اعتدال ټینگار کوي. په خوراک، څښاک، اغوستو، له کور او نړی سره په مینه، غچ او ان د اسلام له دښمنانو سره په چلن کې يې پر منځلاری حکم راکړی، چې له افراط و تفريطه ځان وژغورو او اعتدال ته يې رابللي يو.

په قرآن عظيم الشأن او روايتونو کې ډېرې بېلگې شته چې پکې پر منځلاری ټينگار شوی او له افراط و تفريطه منع شوي يو.

دې خبرو ته ځير شئ:

*رسول الله هم عمومي رسالت لري((وَكَانَ رَسُولاً نَّبِيًّا [2])) او هم خپله کورنی رابلي ((وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلَاةِ[3])))

*اسلام هم له خالق سر پر اړيکو ټينگار کوي(لمونځ) (اقيمو الصلوه) او هم له خلکو سره پر اړيکو (زکات) ټينگار کوي. (آتَوُاْ الزَّكَاةَ)

*مينه مو پر حق له لېينې- گواهی کاږه نه کړي. (شُهَدَاء لِلّهِ وَلَوْ عَلَى أَنفُسِكُمْ[4]) او نه مو دښمنی د عدالت له پلي کولو لرې کړي. (وَلاَ يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ[5])

*مؤمنان هم دافعه لري، (أَشِدَّاء عَلَى الْكُفَّارِ) او هم جاذبه (رُحَمَاء بَيْنَهُمْ[6])

*هم د زړه ايمان او باور پکار دی (آمَنُواْ) او هم نيکچاري. (عَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ[7])

* هم ژړا او دعا او هم له الله تعالی د بري غوښتل اړين دي(رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا[8]) او هم پراخه سينه او صبر (عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُواْ مِئَتَيْنِ[9])

---

[1] (اسراء / ١١٠)

[2] (مريم/ ٥١)

[3] (مريم/ ٥٥)

[4] (نساء/ ١٣٥)

[5] (مايده/ ٨)

[6] (فتح/ ٢٩)

[7] (بقره/ ٢٥)

[8] (بقره/٢٥٠)

[9] (انفال/ ٦٥)

د عاشورا پر شپه، امام حسين هم دعا کوله او هم يې توره وهله.
* د عرفې پر ورځ او د غټ اختر (قربان) پر شپه د الله تعالی د کور زيارت کوونکي دعا کوي او د غټ اختر پر ورځ بايد حلاله وکړي او وينې ووينې.
* اسلام مالکيت مني[الناس مسلّطون على اموالهم[1]] خو نورو ته د زيان رسولو مخالف دی او هغه محدودوي. (لا ضَرر و لا ضِرار[2])
هو د زړه سره! اسلام خو څه يو اړخيز دين نه دی، چې يوازې يوه اړخ ته به گوري او نور اړخونه به هېر کړي؛ بلکې ټينگار يې پر اعتدال، منځلارۍ او نېغه لار دی.

## زېری او گواښ

انسان تر هر څه ډېر له خپل ځان سره مينه لري او د خپل وخت او شتمنۍ يوه برخه له همدې د دفاع په لار کې لگوي، چې هغه ته او څه چې ورپورې تړاو لري، زيان ور و نه رسوي. د وسلو، روغتيا او امنيتي چارو بودجې، د کلکو دېوالونو ماڼۍ او کورونه جوړل، د مرمۍ ضد موټر، ساتندويان، پوليس، سرتېري او سرحدي پوليس؛ دا ټول د دې لپاره دي، چې د انسان جسم له خطره وژغوري؛ خو هغه خطرونه، چې د انسان مقام او شخصيت ته متوجه وي، ډېر دي او په دې خطرونو کې چې کوم تر ټولو مهم او اوږد وي؛ نو په اړه يې اخطار هم بايد جدي او دوامداره وي؛ پردې سربېره، انسان ناليدي او نامريي دښمنان هم لري؛ لکه له يوې خوا ناپوهي، غفلتونه، ځاني غوښتنې، ځان بايلل، ناروا غوښتنې او بلخوا د ابليس او د جنسي او انساني شيطانانو وسوسې، د انسان دښمنان دي او تر ټولو ښه اخطار ورکوونکي، الهي انبياء دي؛ ځکه علمي پر مختگونو او تکنالوژۍ، نه د انسان له غفلتونو او نه له شيطاني وسوسو مخه نيوای شي .
عقل ته به ورشو، چې څه وايي: يو مثال ته پام وکړئ: فرض کړئ، زر تنه پر مسافرت وځي او په خپلو موټرونو کې سوريږي او ترافيکو هم لارښوونه ورته کوي، په دوی کې ځينې مسافر په لار کې پکار راتلونکي توکي له ځان سره اخلي او نور تش لاس روانيږي؛ نو که په لار کې مو راوړې وزلو ته اړتيا پيدا نه کړه؛ نو زيان مو نه دی کړی، يوازې څه اضافه بار مو له ځان سره راوړی؛ خو که په لار کې ټېر، جک او يا... ته اړتيا پيدا شوه او راسره نه وي؛ نو بيا؟!
عقل خو وايي: احتياط پکار دی او په لار کې پکار راتلونکي توکي له ځان سره واخلئ او د ترافيکو خبرو ته هم غوږ نيول پکار دي.

---

[1] (بحار ۲۷۲/۲)

[2] (کافي ۲۸/۵)

تردې مثال روسته، را به شو دې خبرې ته: انسان غواړي، يوه لار ووهي او څښتن هم د انبياوو له لارې، مسافرو ته اخطار ورکوي، چې تر مړينې روسته ژوندي کېدل، حساب، کتاب، ثواب او عذاب شته، لار خطرناکه ده او تاسې بايد په لار کې پکار راتلونکي توکي له ځان سره يوسئ، له ځان سره ممنوع وسايل مه وړئ، ځغاسته مو کابو کړئ او د متقي عالمانو خبرو ته غوږ شئ.

خلک ددې خبرو تر اورېدو روسته، دوه ډلې کېږي: يوه ډله لمونځ کوي او له الله تعالی سره له دې لارې اړيکې ټينګوي او په خمس، زکات، انفاق او صدقې خپله اړيکه له نشتمنو سره ټينګوي، له ګناهونو، حرام کار، ناروا ورهښې- کسب او رزقه ځان ساتي او په خپلې تقوا په دې لار کې پکار راتلونکي توکي له ځان سره اخلي او وړي يې.

بله ډله په لويې او ملنډو په ځاني غوښتنو کې ډوب وي، پر الله تعالی، معاد، خپلو دندو او له نشتمنو سره پر مرسته ايمان نه لري او د دښمن د دسيسو پر وړاندې غافلانه ژوند کوي.

دلته بې لارويو ته زموږ ځواب دادی: ان که معاد، قيامت، حساب و کتاب هم نه وي؛ هغه ډله، چې څو دقيقې يې لمونځ کړی، له نشتمنو سره يې مرسته کړې او په کال کې يې څو روژې هم نيولې او که وسه يې درلوده؛ نو حج ته هم پکې ولاړل؛ نو ايا زيان يې وکړ. ددې خلکو مثال د هغه چلوونکيو په څېر دی، چې په لار کې پکار راتلونکي توکي يې له ځان سره واخستل؛ خو په لار کې يې ورته اړتيا پيدا نه کړه.

خو که د معاد او قيامت راتلل حقيقي وي؛ نو (چې راتلو ته يې په زرګونو دلايل شته) هغوی چې ايمان، تقوا، او د خير کار نه درلود؛ نو الهي نياوتون-محکمې ته به تش لاس ورتل؛ نو هلته به يې څه عذر درلود؟ نو سم ليد او عقل داسې حکم راکوي؛ لکه څنګه چې د نړۍ ټولو عقلمنو د فرضي دښمن د مقابلې لپاره سرتېري او اردو روزلې او ډېری پېسې پرې لګوي؛ نو که جګړه راپېښه نشوه؛ نو د سرتېرو ساتل، روزل او چمتوتيا زيان نه لري؛ خو که دفاع ته اړتيا شوه او هېڅ ډول چمتوتيا نه وه؛ نو تش لاس به له بدمرغۍ پرته بله هېڅ پايله و نه لري.

نو ځکه د الهي انبياوو د رسالت يوه دنده اخطار، د غفلت لرې کول، يادونه، موعظه او ارشاد دی او الله تعالی کله هم يو قوم بې له انذار ورکونې نه دی پرېښی؛ نو د څه په اړه، چې انبياوو اخطار راکړی، بايد په ټينګه پام ورته وکړو.

## د آثارو ثبت

قرآن عظیم الشأن وایي: (نَکْتُبُ مَا قَدَّمُوا وَآثَارَهُمْ)؛ یعنې نه یوازې د بندګانو کړه وړه؛ بلکې د کړنې آثار هم ثبتوو. پر خبره د رڼا اچولو لپاره، یو مثال راوړم. د ساري په ډول: که یو بې ادبه انسان  واده ته رانړوت او برېښنا یې پرې کړه او په تیاره کې څه پېښې راپېښې شوې، د بېلګې په توګه: ځینې له پوړیو را و غورځېدل، لوښي مات شول، بوټان ورک شول، ماشومان ووېرېدل، ځینو ناوړه ګټنه وکړه، واده ګډ وډ شو، د مېلمنو ښه عزت ونشو، چې دا ټول د یوه انسان د کوشنۍ کړنې اثار دي؛ نو په دې کیسه کې چې که خطاکار انسان ونیول شي؛ نو ایا نه ښایي دا ټولې ورانکارۍ پرې ورواړول شي؟

په قرآن عظیم الشأن کې د (لَا تَقْتُلُوهُ) (مه وژنئ) په قالب کې دوه ټکي، د یو سړي او ښځې له خولې راوتلي دي: لومړی د فرعون ښځه وه، چې کله یې ولیدل مېړه یې موسی وژني؛ نو و یې ویل: (لَا تَقْتُلُوهُ[1]) او په دې خبرې او له بدیو په منع یې موسی علیه السلام له وژل کېدو وساته، چې د دې ژوندي پاتېدو اثار دا شول، چې موسی علیه السلام ستر پیغمبر شو او بني اسرائیل یې د فرعون له شره وژغورل. (د یوې مېرمنې د یوې کړنې ښه اثار)

بل ځل هله ول، چې رونړو یې غوښتل یوسف علیه السلام ووژني، چې یو رور یې د (لَا تَقْتُلُوهُ) په ویلو، د یوسف علیه السلام له وژل کېدو مخه ونیوه او هغه یې په څاه کې واچاوه، د یوسف علیه السلام ژوندي پاتېدو اثار درلودل او هغه داچې په راتلونکي کې، یوسف علیه السلام د مصر واکمن شو او په خپل تدبیر یې مصر له وچکالۍ او سوکړې- قحطۍ وساته. (له بدیو د منع  ښه اغېز) او دا هماغه څیز دی، چې قرآن عظیم الشأن یې وایي: (نَکْتُبُ مَا قَدَّمُوا وَآثَارَهُمْ)

## بدفال

*"طیره"؛ یعنې بدفال نیول، چې یو ډول کږنې او انګېرنې دي.

*بدفال بدګوماني ده، چې هېڅ ډول عقلي بنسټ نه لري او په حدیثونو کې یو ډول شرک او کفر بلل شوی دی[2].

*د الله تعالی د رسول صلی الله علیه و آله وسلم وینا ده: څوک چې په داسې فالونو کې ککړ دي، له موږ څخې نه دي[3].

---

[1] (قصص/۹)

[2] (میزان الحکمة)

[3] (میزان الحکمة)

*بدفال د خپګان لامل دی. هغوی چې پر بدفال ککړ دي، ډارن او کمزوري انسانان دي، چې پر الله تعالی توکل نه لري.
*په حدیث کې راغلي: بدفال پر الله تعالی باندې په توکل جبران کړئ او چې کله پرې ککړ شوئ؛ نو خپل کار ته په ډېر ه مینه ملا وتړئ[1].
*د بدفال پر وړاندې ښه فال دی، چې انسان ته روحیه ورکوي او د رسول الله هم ډېر خوښ و.[2]

## اذان

اذان او اقامت تر لمانځه مخکې ویل کېږي او په لمانځه کې الله تعالی ته د پاملرنې لار هواروي، اذان چوپتیا ماتوونکی، برابر، موزون، لنډ، له منځپانګې ډک او هغه جوړونکی شعار دی، چې د مسلمان بنسټیزې ګروهیزې، ستنې او عملي لوري هم پکې شامل دی. اذان د اسلام د شتون اعلان دی، د خیالي معبودانو پر ضد غږ او د مسلمانانو د ګروهو او کړنو پېژندنه ښوول دی.
اذان د تبلیغاتو د پرانستې فضا نښه ده او په څرګنده او غوڅه د مسلمانانو د اندیز دریځ اعلان دی. دا د توحیدي شعار لومړنی غونډلې دي، چې د ماشوم په غوږ کې ویل کېږي او له دې لارې، الهي زده کړې ورلېږدېږي او لویانو ته هم تل له غفلت او بې خبرۍ د ژغورنې اغېزمن لامل دی.
اذان یوازېنې غږ دی، چې د اسمان اوسېدونکیو ته رسي.
اذان هغه غږ دی، چې شیطان تښتېدو ته اړ باسي او زړه یې خویوي. سپارښتنه شوې: که څوک په کورنو کې رنځور وي؛ نو اذان دې وویل شي او اذان دې په خوږ غږ کې وویل شي.
رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وایي: ((داسې وخت به راشي، چې اذان به سپک شي او سپکو ته به وسپارل شي.[3]))
په حدیث کې راغلي: ((د قیامت پر ورځ به زیاترو سرونه ټیټ نیولي وي؛ خو اذان ویوونکي به پر جیګو سترګو محشور شي.[4]))
څوک چې د اذان کوونکي له کبله لمونځ ته راځي؛ نو په اجر کې به ورسره شریک وي.

---

[1] (میزان الحکمة)
[2] (بحار ۷۷/ ۱۵۳)
[3] (کنزالعمال، ۷/ ۶۹۰)
[4] (وسائل، ۴/ ۶۱۴)

حضرت بلال (رض) تورپوستی مسلمان و او رسول الله موذن کړی و، چې په وحې اذان نازل شو. رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم خوږغږي بلال (رض) ته وښود. داچې رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم هغه د موذن په توگه غوره کړ، راته لاندېنۍ زده کړې لري.

۱_مریانو ته شخصیت او ستروي ورکول؛ ځکه حضرت بلال (رض) مریی و او روسته د اسلام ویاند شو.

۲_تورپوټکي ته شخصیت ورکول په دې مانا دي، چې د څېرې رنگ کچه نه ده.

۳_د هغو کبرجنو سپکاوی دی، چې یوه ورځ یې پر حضرت بلال واکمني درلوده او د هغه سپکاوی یې کاوه او ملنډې یې پرې وهلې.

٤_ ایمان، تقوا او وړتیا، ظاهري نیمگړتیاوې پوره کوي، حضرت بلال د "شین" پر ځای "سین" وایه او ژبه یې نښته؛ خو اسلام یې مانیز کمال او دننني ښکلا ته ډېره پاملرنه وکړه.

حضرت بلال (رض) په اسلام کې لومړی موذن دی. هغه د بعثت په لومړیو کې ایمان راوړ او په دې لار کې یې ډېرې ستونزې او کړاوونه وزغمل؛ کفارو د حجاز پر سوځنده شږو اچولی و؛ خو هغه د "احد احد" چغې وهلې. د مکې د سوبې پر ورځ هم د کعبې چت ته وخوت او د انحضرت صلی الله علیه و آله وسلم په حکم یې اذان وکړ او ټول بوتان یې راوغورځول.

حضرت بلال (رض) د بدر، احد او خندق په جگړو کې گډون درلود. د انحضرت صلی الله علیه و آله وسلم تر مړینې روسته یې اذان و نه کړ. یو ځل یې فاطمې بي بي ته اذان وکړ، چې د خپل پلار وخت یې ډېر په زړه را وریدلی و؛ خو د اذان په نیمه کې، فاطمه بې بې سره له ټولو خلکو په ژړا شوه.

_ د حضرت بلال دا چلن څرگندوي، چې د حق په لار کې او د غوره مشر پر مهال دې اذان وویل شي.

_ حضرت بلال (رض) د ایمان تر سیوري لاندې داسې مقام ته رسي، چې د آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم د بعثت ویاند او د بیت المال زېرمه دارېږي.

## لمونځ

دلته لومړی په لنډ ډول د بېلابېلو اړخونو له مخې د لمانځه اهمیت او بیا د لمانځه سلامونه تر غور لاندې نیسو.

**له دیني اړخه:**

نبوي حدیث: لمونځ د دین ستنه ده.

د انسان او الله تعالی ترمنځ اړیکه، په لمانځه پیدا او ټینګیږي، که دین په عملي توګه د بنده او خالق ترمنځ اړیکه ټینګه نه کړای شي؛ نو خپلو موخو ته نشي رسېدلای؛ ځکه د دین له موخو ځنې یو دا هم دي، چې د بنده او الله تعالی ترمنځ روحاني اړیکه ټینګه کړي.

**له اخلاقي پلوه:**

((اتْلُ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ وَلَذِكْرُ الله أَكْبَرُ و الله يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُونَ[1] = هغه څه ولوله چې له (اسماني) کتابه پرتا وحې شوي او لمونځ پر ځای کړه، چې لمونځ (انسان) له بې حیایی او ناوړو چارو ایساروي او البته د الله یادښت [تر هر چار] خورا مهم دی او څه چې کوئ، الله تعالی پرې پوهیږي.))

لمونځ د انسان مخه، ښتن تعالی ته ګرځوي، چې د اخلاقي او انساني فضیلتونو د غوړېدنې، ودې او تقو لامل یې ګرځي او انسان په الهي خویونو روزل کیږي، چې طبعاً له دغسې انسان څخه بې حیایي او بدکار نه ترسره کیږي او په پایله کې مطلوب اخلاقي انسان ترې جوړیږي.

**له روزنیز او ټولنیز اړخه:**

((إِلاَّ الْمُصَلِّينَ. الَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَاتِهِمْ دَائِمُونَ. وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ. لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ[2]= خو بې له لمونځ کوونکیو (چې له دې نیمګړتیا ژغورل شوي)، هغوی چې تل خپل لمونځونه کوي؛ او هغوی چې په مالونو کې یې یو ټاکلی حق وي، د سوالګر او بې برخې لپاره (چې له بېوسی سره سره سوال نه کوي ))

دلته ځیر شئ، چې اسلام په ټولنه کې د فقر له منځه وړو لپاره لمونځ کونکی په روحاني لحاظ روزي، چې د ټولنې د چارو د سمون لپاره په هڅو لاس پورې کړي.

**له سیاسي اړخه:**

((اتْلُ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ وَلَذِكْرُ الله أَكْبَرُ و الله يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُونَ[3]= ((هغه څه ولوله چې له (اسماني) کتابه پرتا وحې شوي او لمونځ پر ځای کړه، چې لمونځ (انسان) له بې حیایی او ناوړو چارو ایساروي او البته د الله یادښت [تر هر چار] خورا مهم دی او څه چې کوئ، الله تعالی پرې پوهیږي.))

---

[1] (عنکبوت/۴۵)

[2] (معارج /۲۲، ۲۳، ۲۴، ۲۵)

[3] (عنکبوت/۴۵)

اسلام د خپلو موخو د تطبيق لپاره، منظم تشکيلاتي فعاليتونه کوي، چې طبعاً دا ډول فعاليتونه بې له حزب او تشکيلاتو ناشوني دي؛ نوځکه الله تعالی خپل گوند د ((حزب الله)) په نامه ياد کړی. داچې لمونځ پينځه وخته پر مسلمان او په جماعت سره فرض شوی، په لمانځه زور اچول او يا هره جمعه ورځ، د يوې سيمې خلک راټولېږي او د جمعې لمونځ کوئ او يا حج ته د نړی له گوټ گوټه مسلمانان راټولېږي؛ نو که دا راټولېدنې، له تشکيلاتي فعاليتونو سره تر غور لاندې ونيسو، راجوته به شي، چې پينځه وخته په جماعت لمونځ، د يوه کلي پر حالاتو له خبرېدو سربېره، په خپلو منځونو کې د معلوماتو د بدليدو رابدليدو او نادودو له منځه وړو لپاره څومره اغېزمنه او پرځای هڅه ده.

دغسې د جمعې لمونځ هم د سيمې د خلکو د ستونزو د هواري لپاره سيمه ييزه غونډه ده او په کال کې يو ځل حج، د نړی د ټولو مسلمينو له حالاتو د خبرېدو او لازمو هوډونو لپاره مناسب ځای دی، که لمونځ د تشکيلاتي فعاليتونو له اړخه تر څير لاندې ونيسو؛ نو څرگنده به شي، چې لمونځ له سياسي اړخه خورا اهميت لري.

**د اروا پوهنې له اړخه:**

((الَّذِينَ آمَنُواْ وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ الله أَلاَ بِذِكْرِ الله تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ[1] = هغه کسان، چې ايمان يې راوړی او زړونه يې د څښتن په ياد ډاډه (او هوسا) دي؛ خبر وسئ! يوازې د الله په يادولو سره (د مؤمنانو) زړونه ډاډ مومي.))

نن د اراوپوهنې او روحي رنځوريو ډاکترانو ته دا جوته شوې، چې وېره، نهيلي او تشويش، تر نيمايي څخه د ډېرو رنځوريو لامل گرځي، چې دا عوامل په دعا، لمونځ او ديني ايمان له منځه تلای شي.

**له طبي اړخه:**

د لمانځه سريزې؛ لکه اودس، غسل او د بدن او جامو پاکوالی، دا ټول په حقيقت کې د چاپېريال او انسان په روغتيا ښې اغېزې لري او د حديث شريف له مخې، چې ((پاکوالی د ايمان شرط)) ښودل شوی؛ نو يوه برخه يې د لمانځه د حکم په تطبيق کې عملي کېږي.

**له روحي اړخه:**

---

[1] (رعد/۲۸)

((قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ. الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ[1] = ((په رښتيا، مؤمنان بريالي شول؛ هغوی چې په خپل لمانځه کې عاجزي کوي))

توجه او خشوع د لمانځه له مهمو شرايطو څنې دي؛ ځکه د انسان حواس يو ځای ته راټولېږي او ذهن يې حضور مومي، چې همدا عوامل د انسان د برياليتوب لامل گرځي.

**له مانيز اړخه:**

د لمونځ په گډون ټول عبادتونه، پر ظواهرو سربېره، باطن او حقيقت هم لري مثلا: موږ لمونځ ظاهرا د بدني حرکاتو په اجرا کولو کوو؛ خو په باطن کې همدا لمونځ د مؤمن معراج او روحاني سفر دی (الصلوة معراج المؤمن) د اسلامي روايت له مخې، خلک عبادت په درې ډوله سر ته رسوي.

۱_ ځينې خلک د دې لپاره عبادت کوي، چې ثواب وگټي، چې دا د حريصانو عبادت دی (حرص).

۲_ ځينې خلک ددې لپاره عبادت کوي، چې له اوره خلاص شي او دا د بندگانو عبادت دی (وېره).

۳_ ځينې خلک ددې لپاره عبادت کوي، چې له څښتن تعالی سره مينه لري او دا د کريمانو عبادت دی (امن).

رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ويلي: ((د الله تعالی داسې عبادت وکړه، چې گنې ته هغه ويني او که ته هغه نه وينې؛ نو هغه خو تا گوري))

((وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ نَافِلَةً لَّكَ عَسَى أَن يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا[2] = او د شپې په يوه برخه کې (له خوبه راويښ شه او) قرآن عظيم الشأن ولوله (او لمونځ وکړه) دا ستا اضافي دنده ده، هيله ده ستا پالونکی تا (د شفاعت) پر ستايل شوي مقام وگوماري.

## سجده

سجده؛ الله تعالی ته د تذلل نښه ده او د عبوديت خورا لوړه درجه ده. انسان په سجده ځان له هستۍ سره يورنگوي.

[1] (مؤمنون/۱، ۲)

[2] (اسراء/۷۹)

((وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّماوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ[1] = (نه يوازې سيوري؛ بلکې) په اسمانو او ځمکه کې چې څه خوځنده دي او همداراز پرښتې، الله تعالی ته سجده کوي.))
سجده غوره حالت دی او انسان، الله تعالی ته نږد کوي. سجده د انسان د ژوند د څلورو پړاونو يوه خواله او نښه ده. حضرت علي وايي: ((لومړۍ سجده؛ يعنې له خاورې يم او چې له لومړۍ سجدې سر راپورته کوي، مانا يې دا ده، چې زه، دې نړۍ ته راغلی يم او له خاورې پنځول شوی يم. د دويمې سجدې خواله دا ده، چې زه به مړکېږم او خاورو ته به ځم او بېرته به سر ترې راپورته کول؛ يعنې بېرته به محشورېږم.[2]))
او دا ددې آيت مضمون دی:
((مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَى[3] =موږ تاسې له همدې (ځمکې) پنځولي ياست او همدې ته به مو بېرته ورولو او له همدې به مو (په قيامت کې) يو ځل بيا را وباسو.))
سجده د عبوديت نښه ده؛ نو پر خوړونکي او اغوستونکي څيز سجده منع ده؛ ځکه کله خلک له لمانځه بهر په نورو حالتو کې، د نورو څيزونو بندګي کوي؛ نو پر داسې څيزونو دې سجده ونشي؛ ځکه سجده الله تعالی ته نږدېدنه ده.
بې له الله تعالی، بل ته سجده کول جايز نه دي.
((وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلاَ تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَداً[4]= او داچې جوماتونه يوازې د الله تعالی دي؛ نو (په هغو کې) له الله تعالی سره بل څوك مه بلئ (او مه لمانځئ). ))
که د حضرت يوسف روڼو سجده ورته وکړه؛ نو په حقيقت کې دا له خدايه شکر و، چې يوسف يې له څاه راوويست او عزت او دبدبه يې ورکړه.
((وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ وَخَرُّوا لَهُ سُجَّداً وَقَالَ يَا أَبَتِ هذا تَأْوِيلُ رُؤْيايَ مِن قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي حَقّاً وَقَدْ أَحْسَنَ بِي إِذْ أَخْرَجَنِي مِنَ السِّجْنِ وَجَاءَ بِكُم مِّنَ الْبَدْوِ مِن بَعْدِ أَن نَّزَغَ الشَّيْطَانُ بَيْنِي وَبَيْنَ إِخْوَتِي إِنَّ رَبِّي لَطِيفٌ لِمَا يَشَاءُ إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ[5]= او خپل مور و پلار يې پر تخت کېنول او ټول (يوولس روڼه او مور و پلار) هغه ته (د الله تعالی د شکرانې لپاره) سجده کوونکي (پر ځمکه) پرېوتل او (يوسف) وويل: ((پلاره! دا زما هماغه د مخکېنې خوب تعبير

[1] (نحل/۴۹)
[2] (بحارالانوار، ۸۲/ ۱۳۹)
[3] (طه/۵۵)
[4] (جن/۱۸)
[5] (يوسف/۱۰۰)

دی، چې پالونکي مې رښتیا کړ او ښېګڼه یې راسره وکړه، چې زه یې له زندانه را وایستم او تاسې یې (د کنعان) له بېدیا(مصر ته) راوستئ؛ حال دا، شیطان زما او د رونو ترمنځ شخړه اچولې وه، په حقیقت کې، پالونکی مې، چاته چې وغواړي (او وړ یې وبولي) په خورا باریکو تدبیرونو، خپله غوښتنه پوره کوي؛ (ځکه) یوازې هغه پوه حکیم دی.))

## الله تعالی ته د هستۍ سجدې

د قرآن عظیم الشأن او الهي نړۍ لید له مخې، ټول کاینات او ذرات، د یو ډول شعور څښتنان دي او د الله تعالی په تسبیح او سجدو بوخت دي. په قرآن عظیم الشأن کې په دې هکله ډېر آیتونه راغلي.

((تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَسْجُدُ لَهُ مَن فِي السَّماوَاتِ وَمَن فِي الأَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُومُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ وَكَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ[1] =ایا ته نه وینې، په اسمانو او ځمکه کې ټول مخلوقات او لمر و سپوږمۍ او ستوري او غرونه او ونې او خوځنده او ډېر خلك الله تعالی ته پر سجده دي؟! خو پر ډېرو (د سرغړونې له لامله) عذاب حتمي شوی دی))

الله تعالی ځینو پېغمبرانو ته د مرغیو د ژبې پوهه او سول- منطق ورکړی و.

((عُلِّمْنَا مَنطِقَ الطَّيْرِ[2]= خلکو! موږ ته د مرغانو خبرې ښوول شوي دي.))

حضرت سلیمان د مېږیانو په خبره پوهېده.

((فَتَبَسَّمَ ضَاحِكاً مِن قَوْلِهَا[3]= نو (سلیمان) د مېږي پر خبره موسکی او په خندا شو.))

ټول موجودات، د الله تعالی تسبیح وایي؛ خو تاسې یې پر تسبیح نه پوهېږئ.

((تُسَبِّحُ لَهُ السَّماوَاتُ السَّبْعُ وَالأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ وَإِن مِن شَيْءٍ إِلاَّ يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلكِن لاَّ تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ إِنَّهُ كَانَ حَلِيماً غَفُوراً[4]= اووه ګوني اسمانونه او ځمکه او څه چې د دوی په منځ کې دي، ټول د الله تعالی پاکي وایي او هېڅ څیز نشته، چې پاکي او ستاینه یې و نه وایي؛ خو تاسې د هغو په تسبیح نه پوهېږئ، په رښتیا، هغه زغمونکی (او) ښه ښنونکی دی.))

علامه طباطبایي وایي: ((حق دا دی، چې د موجوداتو تسبیح یو حقیقت دی (نه مجاز) او د غږ په لفظ ویل کېږي.))

---

[1] (حج/۱۸)

[2] (نمل/۱٦)

[3] (نمل/۱۹)

[4] (اسراء/۴۴)

که څه لازمه نه ده، چې تېول لفظونه او غږونه یوشان وي. د موجوداتو د تسبیح ویل، د الله تعالی پر ذات د ګواهي دلالت دی. په یوه حدیث کې راغلي: څاروي پر مخ مه وهئ؛ ځکه د الله تعالی تسبیح وایي او همداراز خپلې جامې ووینځئ؛ ځکه چټلې جامې، د الله تعالی تسبیح نه وایي.

قرآن عظیم الشأن وایي:

((فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيدٍ فَقَالَ أَحَطتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِ وَجِئْتُكَ مِن سَبَإٍ بِنَبَإٍ يَقِينٍ [1]= نو تر لږ درنګ روسته (ملاچرګک راغی او) و یې ویل: ((ما داسې څه معلوم کړل، چې لا تر اوسه تاسې ته نه دي څرګند، ما درته د "سبا" (له سیمې) باوري خبر راوړی دی؛))

((إِنِّي وَجَدتُّ امْرَأَةً تَمْلِكُهُمْ وَأُوتِيَتْ مِن كُلِّ شَيْءٍ وَلَهَا عَرْشٌ عَظِيمٌ [2] - هلته مې یوه ښځه ولیده، چې پر هغوی واکمنه ده او هرڅه ورکړ شوي او (په تېره ) لوی تخت یې درلود))

((وَجَدتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُونَ لِلشَّمْسِ مِن دُونِ اللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ فَهُمْ لاَ يَهْتَدُونَ [3]= ما ولیده، چې هغې او قوم یې د الله تعالی پرځای، لمر ته سجده کوله او شیطان، کړه وړه یې ورښایسته کړي او له (سمې) لارې یې اړولي دي؛ نو ځکه سمه لار نه مومي. ))

((أَلاَّ يَسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي يُخْرِجُ الْخَبْءَ فِي السَّماوَاتِ وَالأَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُونَ وَمَا تُعْلِنُونَ [4]= ولې هغه الله ته سجده نه کوي، چې د اسمانو او ځمکې پټ چارې را برسېروي او تاسې چې څه پټوئ او یا یې ښکاره کوئ؛ (نو) هغه پرې پوهېږي.))

((اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ [5]= هغه الله چې بې له هغه بل معبود نشته او د ستر عرش پالونکی دی.))

## د الله تعالی د اولیاوو سجدې

د الله تعالی د اولیاوو په سجدو، عبادت، خضوع او خشوع کې ستر سبق دی، څو بېلګې یې دا دي:

---

[1] (نمل/۲۲)

[2] (نمل ۲۳)

[3] (نمل/۲۴)

[4] (نمل/۲۵)

[5] (نمل/۲۶)

امام زين العابدين په سجده کې د الله تعالی ډېر ذکر کاوه، چې له سجدې به راپورته شو؛ نو له خولو به لوند خیش و. [1]
امام کاظم د سهار تر لمانځه روسته تر لمر ختو په سجده پروت و.
حضرت ابراهيم ځکه د خليل الله مقام ته ورسېد، چې اوږدې سجدې يې کولې.
حضرت سلمان (رض) وايي: ((که سجده نه وای؛ نو د مړينې به مې هيله کړې وای.)). [2]
حضرت موسی تر هر نفل لمانځه روسته، خپل ښی او کيڼ مخ پر خاورو مخوده. يو کس وايي: و مې ليدل، چې امام صادق په سجده کې تر پينځو سوو ځلو ډېر ((سبحان الله)) وويله.
امام زين العابدين لقب "سجاد" دی، دليل يې دا دی، چې ډېرې سجدې يې کولې.
قرآن عظيم الشأن د رسول الله د اصحابو په اړه داسې وايي:
((مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعاً سُجَّداً يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَاناً سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَى عَلَى سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُم مَغْفِرَةً وَأَجْراً عَظِيماً [3]= محمد، د الله استازی دی او هغه کسان، چې ورسره دي، پر کافرانو ډېر سخت (او) پخپلو کې خواخوږي او ډېر مهربان دي، ته به يې تل رکوع او سجده کوونکي وينې (او په دې عبادت) د الله تعالی فضل او خوښي غواړي. پر وچوليو يې د سجدو نښې ښکاره دي. هغوی په تورات او انجيل کې په همدې ځانګړنو ياد شوي؛ دوی هغه کښت ته ورته دي، چې لومړی (تنکي او کمزوري) تېغونه را و باسي، بيا خپله ملا ټينګه کړي، بيا کلك شي، بيا (د ښې ودې له لامله ) پر خپلو ډډونو درېږي، چې بزګران ورته حيرانېږي. (همدغسې د محمدصلی الله عليه و آله وسلم ياران له کمزورۍ ځواک ته رسي) چې کافران يې پر بيا وړتيا، له غوسې وسوځي! هغوی چې ايمان راوړی او ښه (چارې) يې کړي(نو) الله تعالی د ښښنې او لوی اجر ژمنه ورکړې ده.))

## د سجدې اغېزې

سجده؛ انسان الله تعالی ته نږدې کوي، ګناهانو څنډي، د شيطان ملا ماتوي او انسان جنتي کوي، په دې هکله حديثونه هم راغلي، چې دا دي:

[1] (بحارالانوار، ۸۲/ ۱۳۷)
[2] (بحارالانوار، ٦/ ۱۳۰)
[3] (فتح/۲۹)

چا رسول الله ته وویل: گناهونه مې ډېر او علم مې لږ دی. رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وویل: ((ډېرې سجدې کوه؛ لکه څرنګه چې باد د ونې پاڼې غورځوي، همدغسې سجده هم گناهونه څنډي.[1]))

یوه ډله رسول الله ته ورغله، و یې ویل: موږ جنت ته تلل غواړو، ضمانت راکړه. رسول الله وویل: ((په دې شرط، چې تاسې اوږدې سجدې کړې وي.[2]))

امام صادق وایي: ((سجدې مو اوږدې وکړئ؛ ځکه شیطان ډېر پرې خپه کېږي، شیطان ته امر شوی و، چې آدم ته سجده وکړي؛ هغه سروغړونه وکړه؛ خو انسان ترې اطاعت وکړ او بریالی شو[3].))

رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم یو یار ته وویل: ((که غواړې په قیامت کې راسره پاتې شې؛ نو الله تعالی ته اوږدې سجدې کوه.[4]))

## د لمانځه سلامونه

په لمانځه کې څلور سلامونه مطرح دي، چې دلته د خپلې پوهېدنې له مخې، رڼا پرې اچوو.

١_ السلام علیک ایها النبی ورحمة الله وبرکاته.

((سلام، رحمت او برکت دې پرتا وي ای نبي صلی الله علیه وآله وسلم.))

٢_ السلام علینا.

((سلام دې پر موږ وي؛ یعني موږ، چې د یوې ((گروهې)) او ((اسلامي امت)) غړي یو او حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه و آله وسلم مو لارښود دی.

٣_ وعلی عباد الله الصالحین.

((اوسلام دې د څښتن تعالی پر ټولو صالحو بندگانو وي.))

٤_ السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

((سلام، رحمت او برکت دې پر نامحسوسو (ملایکو) او محسوسو (موجوداتو) وي

**تشریح:**

لمونځ د مؤمن معراج او روحاني سفر دی (الصلوة معراج المؤمن)؛ نو د دې موخې په پامنیوي، د لمانځه سلامونه هم د روحاني او مانیز- معنوي اړیکې او ټینگښت ښودونکي دي.

---

[1] (بحارالانوار، ٨٢/ ١٦٢، مستدرك، ١/ ٣٢٩)

[2] ((بحارالانوار، ٨٢/ ١٦۴، مستدرك، ١/ ٣٢٩)

[3] (بحارالانوار، ٨٢/ ١٦٣)

[4] (بحارالانوار، ٨٢/ ١٦۴)

السلام علیک ایهاالنبی:

په لومړي پړاو کې پر نبي سلام ويل شوی او په دې سلام کې لمونځ کوونکی، له نبي سره خپل مانيزه اړيکه ټينګوي.

نبي د څښتن تعالی له لوري انسانانو ته د ازادۍ، اګاهی، پوهې، ليدانې- بصيرت او د باطلو ځواکونو پر وړاندې د ((عصيان)) پېغام راوړی او زموږ انديزه - فکري مبداء (لا اله – الا الله، محمدرسول الله) ده؛ نو په لمانځه کې چې پر نبي سلام وايو؛ مفهوم يې دا دی، چې موږ ستا د راوړې لارې لارويان يو، ته مو بېلګه او ښوونډ يې.

((لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ الله أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو الله وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ الله كَثِيراً[1] = په يقين، د الله تعالی د استازي په ژوند کې ستاسې هغو خلکو ته غوره بېلګه ده، چې الله تعالی او د اخرت ورځې ته هيلمن وي او الله تعالی ډېر يادوي.))

نن، چې شيطاني لارې (پاګنواله- کمونزم، پانګوالي، سکولرزم، لبرالزم، ولسواله-نشنلزم.... ) د انسانانو د بې لارۍ، ضلالت، رکود، انجماد، ځوړتيا، او په شاتګ، انساني ضد او ابليسي کږلارې پرمخ بيايي، موږ ددې پر وړاندې خپل ((اسلامي هويت)) ساتلی او د تکامل، بشپړتيا، کمال، ودې، ارتقا او ښيون لار مو نيولې.

يا په لنډ ډول: پر نبي باندې سلام اچول، د نړۍ د غيرالهي او شيطانی لارو پر وړاندې په غوڅه، پرېکنده او مشخصه توګه د مسلمان ((انديز، ګروهيز او ايديالوژيکي)) دريځ اعلانول دي.

**السلام علينا:**

سلام دې پر موږ وي؛ يعنې چې د رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم لارويان او د ((اسلامي امت)) غړي يو، د دې سلام په ويلو، د نړۍ له ټولو مجاهدينو سره (چې له هر ډول استکبار او کفر سره جنګېږي)، خپله روحاني اړيکه ټينګوو؛ ځکه ټول د يوه امت غړي او له ګډ دښمن (الکفرکلهم ملة واحد) سره جنګېږو. دا ((سلام)) مسلمان مجاهد ته روحي ډاډ او اطمينان ورکوي، چې له استکبار سره په جهاد او مبارزه کې يوازې نه يې؛ بلکه ټول مسلمانان دې تر شا ولاړ دي.

نن د نړۍ د مشرۍ لپاره، کفار په واحد تشکل (د ملګرو ملتونو سازمان! ) کې راټول شوي، که څه د کفارو ترمنځ بېلابېل سيستمونه شتون لري؛ خو بيا هم يوه لار او بهير وهي او د مسلمينو او مظلومينو د ځورولو او رټولو لپاره ګډ هوډ کوي او په نړۍ کې د هر اسلامي ازادي غوښتونکي خوځښت د ځپلو او له منځه وړو لپاره، پر هر شوني کار لاس پورې کوي.

---

[1] (احزاب/۲۱)

داچې د لمانځه دویم سلام (السلام علینا) د مؤمنیو ترمنځ روحاني اړیکې ټینګوي؛ نو پوهېدای شو، چې جسماني او توکیزې اړیکې خو هرومرو باید وي؛ نوځکه ټول اسلامي خوځښتونه (چې د هر مذهب لاروي وي) باید د اسلامي مبارزو د هدایت- ښیون، همغږۍ او پیوستون لپاره ((سرمشریزه شورا)) جوړه کړي، چې د ((نړیوال کفر)) پر وړاندې، مسلمین تشکیلاتي مرکز او ((سرمشریزه شورى)) ولري او هر هېواد، چې د دې ډول فعالیت لپاره مناسب وي، د مرکز په توګه وټاکي، یو د بل له مبارزاتي تجربو پند واخلي، چې د مستکبرینو پر ضد د مسلمینو ((الهي غورځنګ)) د ((نړیوال انقلاب)) په بڼه انځور شي.

((یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُواْ اصْبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَاتَّقُواْ الله لَعَلَّکُمْ تُفْلِحُونَ [1] = مؤمنانو! (د ستونزو او هوسونو پر وړاندې) له زغمه کار واخلئ او (د دښمنانو پر وړاندې هم) زغم وکړئ او (خپلې) پولې څارئ او (ځانونه) د الله تعالى له (عذابه) وساتئ. ښایي برى ومومئ))

په پایله کې به د ((نړیوال کفر)) ټغر راټول او د عدل ((نړیوال اسلامي حکومت)) به جوړ شي.

((أَلَیْسَ الصُّبْحُ بِقَرِیبٍ [2] = ایا سهار نژدې نه دی))

**وعلى عباد الله الصالحین:**

((د څښتن تعالى پر صالحو بندګانو دې سلام وي.))

څوک چې پر غیبو ایمان لري، لمونځ کوي او نفقه هم ورکوي او پردې سربېره، د انبیاوو پر رسالت او اخروي ژوند ایمان لري؛ نو د البقره سورت د لومړنیو آیتونو له مخې، مؤمن انسان شمېرل کېږي؛ نو مؤمنین چې د اسلامي ایمان (توحید، نبوت، معاد) په رڼا کې کومې کړنې سرته رسوي ((صالحه کړنې)) ورته وایي. ددې سلام په ویلو سره، د حال، تېرې او راتلونکې زمانې د صالحینو ترمنځ روحاني ارتباط ټینګېږي او د ځنځیر د کړۍ په څېر، یو له بل سره نښلول کېږي:

دا ((سلام)) په حقیقت کې د بشري تاریخ په اوږدو کې د ((تاریخ فلسفه))، د وحدت ((توحید)) پر بنسټ تفسیروي، چې ټولو صالحینو یوه لار، یو ارمان او یوه موخه درلوده او هغه هم ((توحید)).

چې کله وایو، سلام دې د الله تعالى پر صالحو بندګانو (و على عباد الله صالحین) وي ؛ نو موږ د تېرې شوې زمانې له صالحینو سره خپله روحاني اړیکه ټینګ کړ، چې موږ نن ستاسې د

[1] (آل عمران/۲۰۰)

[2] (هود/۸۱)

نېکو کړنو لارویان یو، چې په دې توگه مو په ((عالم برزخ)) کې، د هغوی روح خوشحاله کړ. دغسې زموږ اوسنۍ نېکې کړنې، به د راتلونکیو کهولونو لپاره د نېکو کړنو لار هواره کړي.

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته:**

ځلورم سلام نامحسوسو موجوداتو (ملایکو) او محسوسو موجوداتو ته ویل شوی.

د ((توحیدي لید)) له نظره، هستي او کاینات پر دوو نسبي او اعتباري برخو ویشل شوې ده.

(الف): غیب (نامحسوس) (ب): شهادت (محسوسات)

هر څه چې له تجربیاتو، مشاهداتو او حسي ادراکاتو لرې وي، هغه ((غیب)) دي؛ خو چې د دوی تر واک لاندې وي، ((شهادت)) ورته وایي.

د مؤمن له صفاتو څنې یو یې هم پر غیبو ایمان درلودل دي.

((الَّذِینَ یُؤْمِنُونَ بِالْغَیْبِ [1]))

دلته په ځلورم پړاو کې چې په ((محسوسو او نامحسوسو)) موجوداتوسلام ویل شوی، مفهوم یې دا دی، چې انسان له نورو مخلوقاتو (غیب او شهادت) سره خپل پیوستون او اړیکه اعلانوي او د یوازېتوب پر اندې -مفکورې د بطلان کرښه راکاږي.

نو په ځلورم سلام کې چې مسلمان انسان، د طبیعت او د څښتن تعالی له ټولو مخلوقاتو سره اړیکه او مانیز پیوستون اعلانوي؛ نو ځان د طبیعت برخه گڼي او نورو مخلوقاتو ته د ضرر د نه رسولو اعلان کوي او د طبیعت له ځواکونو څخه د خپل تکامل (الیه راجعون) لپاره گټه اخلي؛ ځکه علم د طبیعت د ښکاروندو او د دوی ترمنځ اړیکه بیانوي او دین ورته لوری او جهت ورښیي، پرعکس نن وینو، چې ((علم او تکنالوژۍ)) ډېره پراختیا موندلې؛ خو له دیني لارښوونې بې برخې ده؛ نوځکه د علم او تکنالوژۍ له لاسه، اټومي چاودنو په هوا، وچه او لمده کې د الله تعالی مخلوقات په عذاب کړي؛ نو که علم په دین مشري نشي؛ نو ډېر ژر به نړۍ د اور په لمبو کې وسوځي؛ لکه چې همدا اوس د سوځېدو په حال کې ده (د سترو شیطانی ځواکونو د لرې او نژدې واټن ویشتونکیو اټومي توغندیو ته پام وکړئ) او دا حالت مو په دې پوهوي، چې انسان له طبیعت سره د حقیقي اړیکې مطلب هېر کړی یا داسې وایو، چې د لمانځه ځلورم سلام یې هېر کړی دی.

---

[1] (بقرة/۳)

# نړۍ او آخرت

ځينې، چې د اسلام د ((انقلابي فرهنګ)) د حقيقي روحيې له پوهېدنې بې برخي وي؛ نو له تبليغاتو او ذهنيته يې داسې ښکاري، چې ګنې اسلام خلک داسې روزي، چې ((نړۍ)) ته شا او((آخرت)) ته مخه کړي؛ حال دا، که د ((اسلام)) په ((اصيل فرهنګ)) کې بې له تعصب، ناپوهۍ او کينې، د ((نړۍ او آخرت)) چار ته ځير شو؛ نو ددې دواړو په اړيکه او مفهوم به ښه پوه شو.

د انبياوو عليهم السلام د ښوونو له مخې، نړۍ انسانانو ته د تيارۍ او ځان چمتو کولو پړاو دی. نړۍ د آخرت سريزه او انسان ته د ښوونځي په حيث ده، يا په بله وينا: نړۍ انسان ته د مور د زېلانځ - رحم په څېر دی، چې پکې د بل ژوند لپاره تياری نيسي:

((نړۍ)) د کرلو او تخم شيندلو ځای دی او((آخرت)) د رېبلو او مېوې راټولولو. نړۍ او آخرت د کال د دوو فصلونو په څېر دی، چې ((نړۍ)) د کرلو او((آخرت)) د راټولو فصل دی.

نوځکه د ((نړۍ او آخرت)) ترمنځه داسې ټينګه اړيکه ده، چې د انساني عمر دوه برخې او د يو کال دوه فصلونه ګڼل شوي، چې يو يې کرل او بل يې راټولول دي، يو يې ((زنې)) او بل يې ((مېوه)) ده.

په اسلام کې ((نړۍ)) د ((آخرت)) سريزه ګڼل شوې؛ نو طبيعي ده، چې آخرت ته د رسېدو لپاره هرومرو بايد له سريزې تېر شي؛ نوځکه دا به د اسلام له مزاج او طبيعته څومره لرې وي، چې نړۍ په پام کې و نه نيسي او احکام يې خلک له نړۍ څخه په شا کوي.

آنحضرت صلی الله عليه وآله وسلم وايي: ((په اسلام کې ګوښه کېناستل او له نړۍ څخه مخه اړول نشته.))

همدغسې په اسلامي رواياتو کې راغلي: ((د نړۍ لپاره داسې وسه، چې ګنې تل دلته اوسې او د آخرت لپاره داسې وسه، چې ګنې سبا به مرې.))

((څوک چې نړۍ د آخرت او يا آخرت د نړۍ لپاره پرېږدي؛ نو زما له لاروېانو به نه وي.))

د نړۍ او آخرت په اړه په قرآني آيتونو کې له غور او پلټنې معلومېږي، چې ((۱۱۵)) ځايه د ((نړۍ)) او (((۱۱۵)) ځايه د ((آخرت)) يادونه شوې، چې ددې مساوي اندازې يادونه، د ((نړۍ او آخرت)) دواړو اهميت راښيي.

حضرت علي کرم الله وجهه وايي: ((په نړۍ کې د الله تعالی دوستان، په پرلپسې هلو ځلو د څښتن تعالی د رحمت په لټه کې وي او په نړۍ کې يې آخرت په برخه کېږي.))

نړۍ د الهي وحې د راکېوتو ځای، د پرښتو مصلا او د څښتن تعالی د دوستانو معبد دی. چا چې له نړۍ سره په صداقت او رښتینولۍ چلن وکړ؛ نو دنیا هم ورسره رښتینې او صادقه ده او د خوښۍ او عافیت لامل یې ګرځي، ته په نړۍ تېروځې؛ خو نړۍ څوک نه تېر باسي، ته په نړۍ تېری کوې؛ خو نړۍ پر تا تېری نه کوي.....))

له پورته څرګندونې جوته شوه، چې ((اسلام)) نړۍ داسې نه ویني، چې ګڼې دا د انسان لپاره ((تبعیدځی)) دی او یا د بې ارزښته ژوند ځای وي او په اسلامي ښوونو کې چې ((نړۍ)) رټل شوې، مطلب یې دا دی، چې انسان یوازې په مادیاتو (نړۍ) اخته نشي او مانا (آخرت) هم په پام کې ولري؛ ځکه که یوازې مادیاتو ته یې مخه وي؛ نو په دې بڼه کې یې نړۍ ((معبود)) ګرځي، چې دې ته ((نړۍ پالي)) وایي، چې د ((شرک)) یو ډول دی او اسلام د ځمکې پرمخ د ((شرک)) ځپونکی دی.

نړۍ ته د پاملرنې بل دلیل دا دی، چې انبیاوو علیهم السلام پر ځمکه د((توحیدي ټولنې)) او ((حق حکومت)) د جوړښت لپاره نه ستومانیدونې هلې ځلې کړې او بلخوا، په قرآني آیتونو کې د((سیاست))، ((جهاد))، ((سوداګرۍ))، ((صنعت))، ((علومو))، ((کورنۍ))، ((واده))، ((ټولنیزو مرستو)) او... یادونه راښیي، چې اسلام څومره د دنیوي ژوند نظام ته پاملرنه کړې ده. د انبیاوو علیهم السلام له سترو موخو څنې یو دا هم وه، چې د ((دنیوي او اخروي نېکمرغۍ)) ترمنځ ټکر له منځه یوسي او هغه انسانان، چې یوازې یو اړخ یې په پام کې نیولی وي، د ((عتدال)) په بهیر کې یې مشري کړي.

له نړۍ څخه د سر اړونې مانا دا نه ده، چې د حلالې لارې د رزق حاصلول بد ګڼل شوي؛ بلکې دا کار ثواب او عبادت ګڼل شوی؛ خو مطلب دا دی، چې په نړۍ، مال، ریاست، مقام، چوکۍ.....) پورې زړه تړل غندل شوي دي. څوک چې په ژوند کې د ((څښتن)) له قوانینو پرته بل هر څه اصل وګڼي؛ نو هغه به یې ((معبود)) وي.

مال، شتمني، چوکۍ، مقام، اولاد؛ دا ټول څیزونه، د څښتن تعالی نعمتونه دي. که له دې نعمتونو څخه د ((څښتن)) په لار کې ګټنه وکړو؛ نو ویل کېږي، چې د نعمتونو((شکر)) مو ایستلی او د ((آخرت)) لپاره مو کار کړی او که بې د((څښتن)) تعالی له لارې مو په نورو لارو کې ورڅخه ګټنه وکړه؛ نو ویل کېږي، چې نعمتونه مو په خپل ځای کې نه دي کارولي او ((ناشکري)) مو کړې او د ((نړۍ)) لپاره مو کار کړی دی.

داچې په اسلامي روایتونو کې د راکړل شویو نعمتونو د ((شکر ایستنې)) حکم راکړل شوی؛ نو مفهوم یې لفظي شکر ایستنه نه؛ بلکې هر څیز او نعمت باید پخپل ځای کې د ((څښتن)) لپاره کېښودل شي او همدې ته د آخرت لپاره کار هم وایي.

ځوک چې نعمت د ((ښښتن)) تعالی لپاره نه؛ بلکې د بل هر څه لپاره، هر چېرې چې وکاروي؛ نو د نعمت ناشکري يې کړې او دې ته د نړۍ لپاره کار هم وايي.
ددې ځرګندونې په پامنيوې، في نفسه ((نړۍ)) او څه چې په نړۍ کې توکيز او مانيز امکانات او نعمات دي، نه دي رټل شوي؛ خو د دوو نيتونو، دوو لارو او جهتونو (لوريو) په پامنيوې، د نړۍ د توکيزو او مانيزو نعمتونو کارول په پام کې نيول شوی دی. د بېلګې په توګه: کمپيوټر يوه وزله ده، چې هم د ((نړۍ)) او هم ((آخرت)) لپاره کارېږي. په دې مانا که شهوت راپاروونکي فلمونه پکې ثبت يا ولګوو؛ نو د لهو لعب لپاره به استعمال شوی وي، چې دا دنيوي کار شو او که د ((اسلامي پوهانو)) خبرې، د قرآن عظيم الشأن تلاوت، اسلامي ترانې، اشعار او روحاني موسيقي پرې ثبت کړو او د خلکو (الناس) د ذهن د روښانولو لپاره ګټنه ترې وکړو؛ نو دا کار به مو د (آخرت) لپاره وي. تلويزيون هم که د بې مانا، منځنتشي، بې موخو او بې ژمنې هنر، فلم او صحنو د خوړولو لپاره استعمال شي؛ نو دا دنيوي کار شو او که ددې پرعکس شي؛ نو دا اخروي کار شو.
که يو هېيوال ددې لپاره لمونځ کوي، چې خلکو ته ښه معلوم شي او له دې لارې، په خلکو کې شهرت ومومي او هر ځوک ترې سودا وکړي؛ نو دا يو دنيوي لمونځ دی، نه اخروي. دا لمونځ د الله تعالی لپاره نه؛ بلکې د ګهاک ډېرولو لپاره دی.
مبارزه او جهاد که د طاغوتانو، اشرارو، کمونستانو، ملحدينو او مستکبرينو د له منځه وړلو او د هغوی پرځای د الهي قوانينو د اجرا لپاره نه وي او د بل هر څه (ځانښودنې، د امکاناتو را ټولولو، ځان مشهورولو، ځواک ترلاسه کولو...) لپاره وي؛ نو دا ډول جهاد، دنيوي کار دی، نه اخروي؛ نوځکه ځوک چې په همدې مفهوم او مانا جهاد کوي، دا د باطني او ظاهري طاغوت په لار کې زيار ايستل دي، چې د ((فی سبيل الطاغوت)) مبارزې په نامه يادېږي.
په اسلام کې ((مشري)) يو آر دی، چې د مسلمانانو مشر پر خلکو باندې د اسلامي قوانينو د چلولو ژمن دی او دا کار يو مسوليت دی، ((مشري د ټولو عباداتو د قبلولو معيار دی او که مشري نه وي، ټول کړه وړه به ناسم وي؛ ځکه ټولنه، چې پر لار ولاړه شي؛ خو سمه مشري نشي؛ نو نه يوازې د ټولنې ټول کارونه به بې ګټې وي؛ بلکې د عبادت، دين او انسان زيان به هم پکې وي.))
که يو مشر له دې مقامه د خلکو د تېرايستنې، ځان ښودنې د خپلې خوښې د حکم چلولو، مادي امکاناتو راغونډولو او له ټولو هغو لارو چارو کار واخلي، چې د((اسلامي انقلاب)) او د ((اسلامي معيارونو)) پرخلاف وي؛ نو دا يوه مجازي او دنيوي مشري ده؛ نه اخروي.

له اسلامي دستوراتو ځنې يو هم په جماعت لمونځ دی، چې پر توکيزو او مانيزو ګټو سربېره، يو ټولنيزه ګټه يې دا ده، چې مسلمانان يو د بل له حاله خبر شي. يو له بل سره خواخوږي او شفقت وکړي. خپلمنځې ستونزې او شخړې په ګډه او مشوره وڅېړي او د اواري لار يې پيدا کړي. له مملکتي چارو ځنې باخبره او د ستونزو په اواري کې نظر ورکړي؛ خو هغه د جمعې لمونځ، چې پورتنۍ موخې و نه لري؛ نو دا د روږد په ډول راټولېدل دي، بې له دې چې زموږ د روحياتو او ټولنې جوړوونکی وسي او يا ((لمونځ، چې د انسان جوړونې کارخانه د ه)) خپلې موخې ته به نه وي رسېدلای. دا لمونځ دنيوي لمونځ شو؛ نه اخروي.

چې کله وايو، موږ دا کار د آخرت لپاره کړی، مطلب مو يو ذهني او خيالي پايله په لاس راوستل نه دي؛ بلکې مطلب مو دا دی، چې د څښتن تعالی هر حکم له حکمته تش نه دی او د يوې موخې لپاره يې ټاکلی؛ نو موږ بايد د حکم پر مانا، موخې او حقيقت ځان وپوهوو او بيا داسې عمل وکړو، چې موخه مو تر لاسه شي، چې په حقيقت کې په همدې منځپانګه او مانا، اسلامي اوامر پرځای کول، د((ودې))، ((آزادۍ)) او((آخرت)) لپاره د کار په مفهوم هم دی.

((فَمَنْ أَسْلَمَ فَأُوْلَئِكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا[1] = نو چا چې اسلام ومانه؛ نو هغوی د ښيون په لټه کې وو.)) پورتنی آيت د رښتيني مسلمان مصداق دی.

موږ په ورځني ژوندن کې ډېری مسلمانان وينو، چې اسلامي دستورات په ايماني توګه په خورا (تعصب) سره اجرا کوي؛ خو په حکم کې چې څه موخه وي، هغه نه ترلاسه کوي.

آيا حکم غلط دی؟ (اليعاذبا الله) آيه پر حکم د سړي ايمان او تصور ناسم دی؟

په ځواب کې وايو: نه حکم غط دی او نه پر حکم د سړي ايمان؛ ځکه لوی الله تعالی، حکم د يوې موخې او حمکت له مخې ټاکلی، نه عبث او بې موخې؛ خو نيمګړتيا په موږ کې ده او هغه داچې ايمان مو د پوهې پر بنسټ نه؛ بلکې په پټو سترګو او موروثي دی، په دې مانا، چې موږ د اسلام د آرونو په منلو او پر هغوی باندې په ايمان راوړو کې له قرآني کړنلارې لارروي نه ده کړې؛ بلکې څه چې پر کورنۍ او ټولنې واکمن فرهنګ، تبليغات او فضا وه، همغسې موږ پر احکامو او قضاياوو ((ايماني تصور)) پيدا کړی، حال دا، قرآن عظيم الشأن وايي:

((وَلاَ تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ[2] = او په هغه څه پسې مه ځئ، چې پوه پرې نه ياست.))

---

[1] (جن/۱۴)

[2] (اسراء/۳۶)

## د لمانځه موخه

((إِنَّ الصَّلاَةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ[1] = لمونځ (انسان) له بې حيايۍ او ناوړو چارو ایساروي.))

دا ځکه په لمانځه کې وګړيز او ټولنيزه سمونه، فحشا او د بديو له منځه وړل دي او ((پر نېکو د امر او له بديو د منع)) پر بنسټ، د ځان او ټولنې مشري او جوړول موخه دي؛ نوځکه ((لمونځ د انسان جوړونې کارخانه ده.))

نو د لمانځه د اقامه کولو مفهوم دا شو، چې موږ بايد ځان د لمانځه پر منځپانګه، موخه او حقيقت پوه کړو او د تطبيق لپاره يې پر کار پيل وکړو.

((الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ[2]= دا همغوی دي، چې که موږ يې پر ځمکه واکمن کړو؛ نو لمونځ کوي او زکات ورکوي او پر ښو چارو امر او له بديو منع کوي او د ټولو چارو پای يواځې الله تعالی ته ده.))

نو د اسلامي ټولنو ستره ستونزه دا ده، چې له وزلې ځخه مو موخه جوړه کړې؛ نوځکه د ټاکل شوې موخې سم پېژندل او موخې ته د رسېدو لپاره له ټاکل شوې وزلې سمه ګټنه، زموږ د کړنو د ((الهي لوري او جهت)) د ټاکنې په مفهوم او يا په بله وينا، د ((آخرت)) لپاره د کار په مانا هم دي.

[1] (عنكبوت ٤٥)

[2] (حج ۴۱)

## عدالت

(فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ)

۱_ د پنځون بنسټ پر عدل او حق دی[1].

۲_ د انبیاوو د بعثت موخه دا ده، چې خلک د عدالت پلي کولو ته راپاځي.

((لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَيْبِ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ[2]= [په یقین (موږ) خپل استازي له څرګندو دلایلو سره ولېږل او له هغو سره مو (اسماني) کتاب او تله (له باطله د حق پېژندنه او عادلانه قوانین) ولېږل، چې خلك پر انصاف ودرېږي او اوسپنه مو راکوزه کړه، چې په هغې کې ډېر زور او د خلکو لپاره ګټې دي، چې الله تعالی ته معلومه شي، چې څوك په پټه د هغه (د دین) او له استازیو سره یې مرسته کوي؛ په رښتیا، الله تعالی غښتلی ناماتی دی.))

۳_ عدالت ژوند او ظلم مرګ دی[3].

٤_ یو ساعت پر عدالت چلن تر اویا کلونو هغو عبادتونو غوره دی، چې د ورځې روژه وي او شپه په ویښه تېروي[4].

۵_ د عادل مشر دعا قبلېږي[5].

٦_ که په خلکو کې پر عدالت چلن وشي؛ نو د الله تعالی پر حکم به آسمان روزي او ځمکه خپل برکتونه راولېږي[6].

۷_ امام کاظم وویل: که په خلکو کې عدالت پلی شي؛ نو خلک به بې اړې شي[7]. او بیا یې وویل: عدالت تر شاتو هم خوږ دی.

---

[1] (بحار۳۳/ ٤۹۳)

[2] (حدید/۲۵)

[3] (آثارالصادقین ۳۵/۱۲)

[4] (جامع السعادات ۲۲۳/۲)

[5] (وسایل ۱۰۸/۷)

[6] (کافی ۳/ ٥٦٦)

[7] (کافی ٥٤١/۱)

۸_ امام کاظم د (يحيی الارض بعد موتها)؛ يعنې الله تعالی مړه ځمکه راژوندۍ کوي، په تفسير کې ويل: الله تعالی داسې سړی معبوثوي، چې عدل پلی کړي او ځمکه د عدالت په پلي کولو ژوندۍ کېږي[1].
۹_ فاطمې بي بي وويل: عدالت د زړه ټکور دی[2].
(هو! خلک بېوزلي زغملای شي؛ خو بې عدالتي نه)

## عدالت؛ د انبياوو په ښوونځي کې

*عدالت معمولاً د قانون له ويی او د بې عدالتۍ ويی له بې قانونۍ سره مل دی؛ نو که انسانانو ته پخپله قانون ارزښت ونه لري؛ نوځنگه به يې پلی کړي؟
هغه قانون، چې د بشر په لاس جوړ شوی وي، د بدلون په حال کې وي.
هغه قانون، چې د ډلو ټپلو او وگړيو گټې پکې خوندي وي. هغه قانون، چې د محدودو، ناڅيزه معلوماتو، غريزو، توکم، ملت پالی، گواښنې، تطميع او ځاني غوښتنو تر اغېز لاندې جوړ شوی وي.
هغه قانون، چې په هره سيمه کې په بېلابېلو بڼه وي او هر وخت بدلون پکې راځي او هر زورځواکی يې د وتو کولو حق لري.
هغه قانون، چې ليکوال يې پر گناهونو ککړ وي او په خپله قانون ليکونکی هم عمل پرې نه کوي؛ نو تاسې په خپله ووايئ، چې دا ډول قانون، انسان ته کرامت او سپېڅلتيا درلودای شي؟ او يا به ټولنې ته د عزت، مړانې او ودې لارې چارې چمتو کړي؟ او ايا له دې ډول قانونونه سرغړونه ظلم او بې عدالتي ده؟!
خو د انبياوو قانون، چې د انسان د خالق له لوري دی او سرچينه يې د الله تعالی ناپايه پوهه، حکمت او پېرزوېنه ده او راوړنکی يې يو سپن لمنی- معصوم دی، چې په خپله يې لومړی پر ځان پلی کړی. هغه قانون، چې له هېڅ واک، گوند او ټبره اغېزمن شوی نه دی او داچې انسان دې ډول قانون ته په کرامت او سپېڅلتيا گوري؛ نو پلي کول يې هم ورته خوندور دي او سرغړونه ترې ظلم او بې عدالتي ده.

---

[1] (کافی ۲۷٤/۷)
[2] (من لايحضر۳/ ٥٦۷)

## د عدالت گروهيزې او فطري لارې چارې

*عدل په الهي نړۍ ليد کې مانا پيدا کوي؛ ځکه انسان په الهي ليد، الله تعالی عادل، هستي حساب شوې او هر څه د الله تعالی تر څارنې لاندې گڼي. په الهي ليد د ټول بشر لومړنۍ ماده خاوره او پای يې د قيامت پر ورځ د الهي عدل نياوتون-محکمه گڼي.

او په الهي ليد، انسان د انبياوو د بعثت موخه، د عدل پلي کول بولي او د امام مهدي په راښکاريدو به د ځمکی پر مخ عدالت پلی شي. پر داسې قيامت گروهن دی، چې واړه او غټ کارونه يې ټول ثبت شوي او په مخ کې به ورته کېښوول شي او په الهي ليد، ټول پيغمبران عادل پلی کوونکي بلي. هو! دا ډول گروهې دي، چې په انسان کې د عدل د پلي کولو لپاره انگيزه پيدا کوي؛ خو څوک چې هستي بې خاونده او بې حسابه گڼي، پنځون بې نخچې او بې کړلارې گڼي، راتلونکې يوازې نيستي او نابودي بولي او هستۍ ته په موخه قايل نه وي؛ نو عادلېدو ته دليل نه لري.

## د عدل پراختيا

*عدالت د اسلام له آريز چورليځونو څنې دی، چې د الله تعالی په صفتونو کې تر توحيد روسته اوڅار - مطرح شوی دی. په اسلام کې بايد د ديني مرجعيت خاوند، د ُجمعې د ورځې او د نورو جماعتونو امام، شاهد، قاضي او د بيت المال مسوول، د عدالت درلودو شرط ولري.

که د عدالت چار ته هراړخيزه کتنه وشي؛ نو پوه به شو، چې په ټولو اسلامي کړلارو کې د عدالت پر چار او له افراط او تفريطه پر لرېوالي او پرمنځلارۍ ټينگار شوی دی؛ لکه:

١-په عبادت کې عدالت، تردې چې د روايتونو په کتابونو کې د ((باب الاقتصاد فی العباد، تر عنوان لاندې يو باب هم راغلی دی.

٢-په کار او ساتېرۍ کې عدالت.

٣_ په مينه او غوسه کې عدالت.

٤_ دوست او دښمن ته عدالت.

٥_ په توليد او مصرف کې عدالت.

٦_ په ستاېنه او رټنه کې عدالت.

٧_ د بيت المال په ويش اود شخصي مال د وصيت پرمهال عدالت.

٨_ په ښځو، اولاد او ملگرو کې عدالت.

٩_ په ورمند- قضاوت کې عدالت.

١٠_ په قصاص کې عدالت.

۱۱_ په جګړه کې عدالت.
۱۲_ له څارويو سره په چلن کې عدالت.
حضرت علي د زکات د راټولولو پازوال ته وويل، چې بايد پر لار د هغو څارويو خيال وساتې، چې په زکات کې درکړل شوي[۱]؛ مثلاً که څلور اوښان وي او يو ساعت لار وهي؛ نو پر هر يو د پينځلسو دقيقو لپاره سپور شه.
په بل ځای کې وايو: که حاجي مکې ته د ژر رسېدو لپاره خپل څاروي له معموله ډېر ستړی کړي؛ نو په حقوقي مسلو کې يې لېينه - ګواهي د منلو وړ نه ده؛ ځکه پر خپل څاروي يې ظلم کړی دی[۲].
په اسلام کې د هر څه په اړه پر عدالت ټينګار شوی ان که يو ماشوم په جومات کې ناست وي او موږ يې له هغه ځايه پاڅوو او هلته لمونځ وکړو؛ نو لمونځ مو ټکنی شو[۳].

**بېلګې**

*د حجاز ځينو خلکو به د حج مراسمو په ترسره کولو کې ځان تر نورو غوره ګاڼه او لار يې له نورو بېلوله، چې قرآن عظيم الشأن ورته حکم وکړ؛ لکه څنګه چې نور خلک حج کوي، تاسې هماغسې حج وکړئ. (ثُمَّ أَفِيضُواْ مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ) او چې کله به شتنمو له انبياوو غوښتل، چې موږ به دې هله لارويان شو، چې دا بېوزله او خوار له ځانه وشړې؛ خو پېغمبرانو ورته ويل، چې کله به هم دا کار و نه کړو. (وَمَآ أَنَاْ بِطَارِدِ الَّذِينَ آمَنُواْ[٤])
*رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم په خپل روستي سفر کې وويل: خلک له هر ټبر او توکم، چې وي يو له بل سره برابر دي[٥].
*ځينو سياستوالو او مصلحت اندو حضرت علي ته وړانديز ورکړ، چې د بېوزليو او سترو شخصيتونو او د ټولنې د مخورو د تنخواوو په اړه توپير وکړه، چې هغوی راسره ودرېږي او حکومت به غښتلی شي، بغاوت به نه کوي او له حضرت معاويه بن ابي سفيان سره به نه يو ځای کيږي.

---

[۱] (نهج البلاغه، ۲۵ليک)
[۲] (وسائل الشيعه، کتاب الحج)
[۳] (توضيح المسايل)
[٤] (هود. ۲۹)
[٥] (سفينة البحار ۲/ ۳٤۸)

حضرت علي وويل: غواړې باج ورکړم؟! که څوک غواړی پاتې دې شي، که نه، ځي دې[1].
حضرت علي د خپل حکومت په پیل کې وویل: تر ما مخکې چې څومره هم بې ځایه لګښت شوی، بېرته به یې واخلم او بیت المال ته به یې ورکړم، ان که د ښځو په مهر کې یې پیسې لګولي وي او یا یې مریان پرې ازاد کړي وي.
*رسول صلی الله علیه و آله وسلم وویل: هغه واکمن به لومړی دوزخ ته ځي، چې پر عدالت نه وي چلیدلای[2].
*په بل حدیث کې وایو: که څوک د لسو تنو مشر وي؛ خو که ترمنځ یې پر عدالت چلن و نه کړي؛ نو د قیامت پر ورځ به پښې او لاس تړلی راپاځي[3].

## قسط او عدل

د قسط او عدل کلمې په قرآن عظیم الشأن او نبوي احادیثو کې په وار وار سره راغلي، ((قسط)) د ((ظلم)) او عدل د ((جور)) په مقابل کې راځي او معمولاً دا دواړه کلمې، په مرادف ډول استعمالیږي، حال دا، د (قسط)) او ((عدل)) کلمې ډېر ژور مفهوم لري.
د طبقاتي (ټولنپوهنې)) له نظره، ((قسط)) د ټولو ټولنیزو چارو ((لاندبنسټ)) دی.
((قیام با لقسط)) او ((قایم بالقسط))، چې په قرآن عظیم الشأن کې په وار وار سره راغلي او ډېر ټینګار پرې شوی، هم د څښتن تعالی کار دی او هم د څښتن تعالی د پېغمبرانو او هم د اسلامي مشرانو او اسلامي امت رسالت دی.
((قسط)) هغه واقعیت او حقیقت دی، چې هستي پرې ((قایمه)) ده؛ یعنې د پنځون نظم، د قسط بیانوونکی دی، چې هره ذره او عنصر یې پخپل ځای او بهیر کې واقع شوی، لویو او کوشنیو ښکارندو، له خپل شان سره مناسب ځای نیولی؛ داسې نه ده، چې یو څیز له بل څیز څخه کوشنی یا لوی شي، د کوشني څیز ځای یې نیولی وي او یا یې بې ځایه کړی وي؛ نوځکه وایو، چې کاینات (له کوشنۍ ذرې څخه تر لویو لویو کهکشانونو/ستورلیځونو پورې) د ((قسط)) پر بنسټ قایم دي، چې ((څښتن)) تعالی دا واقعیت داسې بیانوي:
((شَهِدَ اللّهُ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ وَالْمَلاَئِكَةُ وَأُوْلُواْ الْعِلْمِ قَآئِمَاً بِالْقِسْطِ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ[4]= الله تعالی (د کایناتو د یوه نظام پر پنځون) شاهدي ورکوي، چې له هغه پرته بل معبود نشته او

---

[1] (وسایل ۱۵/ - ۱۰۷)
[2] (میزان الحکم)
[3] (میزان الحکمه)
[4] (آل عمران/۱۸)

پرښتې او د پوهې خاوندان هم (هر يو په يوه ډول پردې مطلب شاهدان دي! حال دا، الله تعالی ټول کاينات) پر عدالت ټينگ درولې دي، له هغه پرته بل معبود نشته چې ناماتی ځواکمن حکيم دی.))

دغسې انسانان او بشري ټولنې، چې د هستی جز گڼل کيږي، بايد د ((قسط)) بيانوونکی وي، چې اوس نه دي؛ يعنې د ښتن تعالی بندگان، د رحمان؛ الله تعالی جل جلاله، د پراخه دسترخوان له توکيزو او مانيزو نعمتونو څخه د خپل ((حق)) هومره متناسب ځای ونيسي او د پالونکي له توکيزو او مانيزو نعمتونو څخه د هغه پيژندل شوي ((حقوق)) ادا شي. د هر چا واقعي حق وپيژندل شي، چې له خپل وړتيا، شان او لياقت سره په خپل موقعيت کې ځای ونيسي، هر ((انديز)) يا ((علمي)) کارکوونکی، د خپل کار مالک شي، عادلو او صالحينو ته د ټولنې واکمني ور پر غاړه شي، عالم ته د علم د خورولو او د خلکو (الناس) د روښانولو حق ورکړل شي، د هر چا وړتيا تشخيص او بيا ورته د ودې (= رشد) مخه پاکه شي، چې د کايناتو له عمومي نظام سره همغږي ده. ټولو پيغمبرانو عليهم السلام د ((قسط)) د قايمولو پازوالې پرغاړه درلود.

((وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ فَإِذَا جَاء رَسُولُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ وَهُمْ لاَ يُظْلَمُونَ [1]= او هر امت يو استازی لري او چې استازی يې ورشي؛ نو ترمنځ يې په انصاف پريکړې کيږي او تيری پرې نه کيږي.))

دغسې د ((قسط)) قايمول، پر هر چا باندې لازم دي، چې پر دغسې حقيقت ايمان لري.

((وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُواْ حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا إِن يُرِيدَا إِصْلاَحًا يُوَفِّقِ اللّهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيراً [2]= او که د ميړه او ميرمنې د مخالفت په اړه انديښمن ياست؛ نو يو منځگړی د ميړه له کورنۍ او يو منځگړی د ميرمنې له کورنۍ وټاکئ (چې دا شخړه هواره کړي) که دواړه (ميړه او ميرمن) د روغې جوړې هوډ لري؛ نو الله تعالی به يې جوړ کړي؛ ځکه الله تعالی پوه او باخبر دی (او د ټولو پر نيتونو پوه دی).))

((وَقَالَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى نَحْنُ أَبْنَاء اللّهِ وَأَحِبَّاؤُهُ قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُم بِذُنُوبِكُم بَلْ أَنتُم بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ يَغْفِرُ لِمَن يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَاءُ وَلِلّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ [3]= او يهودو او نصاراوو، وويل: ((موږ د الله تعالی زامن او (ځانگړي) دوستان يې يو)) ورتهووايه: ((نو تاسي ولې د خپلو گناهونو له لامله ځوروي؟! بلکې تاسې د الله تعالی له پيدا کړيو يو بشر

---

[1] (يونس/۴۷)

[2] (نساء/۳۵)

[3] (مايده/۱۸)

یاست (الله تعالی چې) چا ته وغواړي (او وړ يې وبولي) ښښه کوي او چا ته چې يې خوښه شي (او مستحق يې وبولي) سزا ورکوي، د آسمانو او ځمکې او څه چې پکې دي، واکمني د الله تعالی ده او د ورستنېدنې بهير د هغه پر لوري دی.))

د((قسط)) پر بنسټ جوړه شوې ټولنه، يوه ((توحيدي ټولنه)) ده، چې ټول خلک د خپلو وړتياوو او لياقت په اندازه، په ټاکلو مدارونو کې واقع شوي، چې دغسې ټولنې ته امت وايي. په ((امت)) کې ((عدالت)) د((قسط)) پربنسټ اجرا کېږي؛ يعنې د بشري ټولنو د افرادو او ډلو ترمنځ ټاکل شوي قوانين او ټولنيزې اړيکې (عدالت)، په ټولنه کې د هغوی د واقعي برخې ((قسط)) پر بنسټ رامنځ ته کېږي.

د قرآن عظيم الشأن د څرګند حکم له مخې، د اسلام له موخو څخه يوه موخه او په پايله کې د مسلمانانو له مسوليتونو څخه يو مسوليت،((خلک)) د قسط قايمولو لپاره راپاڅول دي.

((لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَيْبِ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ[1] = په يقين (موږ) خپل استازي، له څرګندو دلايلو سره ولېږل او له هغو سره مو (اسماني) کتاب او تله (له باطله د حق پېژندنه او عادلانه قوانين) ولېږل، چې خلك پر انصاف ودرېږي او اوسپنه مو راکوزه کړه، چې په هغې کې ډېر زور او د خلکو لپاره ګټې دي، چې الله تعالی ته معلومه شي، چې څوك په پټه د هغه (د دين) او له استازيو سره مرسته کوي؛ په رښتيا، الله تعالی غښتلی ناماتی دی.))

دلته څښتن تعالی اعلانوي، چې رسولان مې له کتاب او تلې سره لېږلي او ددې رسالت موخه دا ده، چې خلک د قسط پلي کېدو ته راپاڅوي. د پاملرنې وړ دا ده، چې سملاسي يې ورپسې اوسپنه (الحديد) مطرح کړې او بيا د خلکو مسوليت، چې د الله تعالی او د هغه له پېغمبرانو سره په دې رسالت کې مرسته وکړي او په پای کې چې د څښتن تعالی لپاره دوه صفتونه (قوي او عزيز) ياد شوي، دواړه د سرلوړۍ او ځواک صفتونه دي.

دا درس موږ ته راښيي: د((کتاب او تلې)) موخه خلک ((قسط)) ته راپاڅول دي؛ خو د((قسط)) تطبيقول ((ايمان))، ((پوهې)) او پر ((قانون)) سربېره، په زور(اوسپنې) پورې هم اړه لري.

[1] (حديد/۲۵)

((إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللّهِ وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَيَقْتُلُونَ الَّذِينَ يَأْمُرُونَ بِالْقِسْطِ مِنَ النَّاسِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ [1]= هغوی چې د الله تعالی پر آیتونو کافران کېږي او پېغمبران پر ناحقه او عدالت خپروونکي وژني؛ نو ورته د (الهي) دردناك عذاب زېرې ورکړه.))

((أُولَئِكَ الَّذِينَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ [2]= دا هغه کسان دي چې (ددې سترو ګناهونو له لامله يې) په نړۍ او اخرت کې (ښه) کړه وړه تباه شول او مرستندوی (او شفاعت کوونکی) نلري))

له دې آيتونو معلومېږي: هغه کسان، چې له خدايه نمښته- انکار کوي او هغوی چې پېغمبران او قسط غوښتونکي وژني، ليکه يې يوه ده، چې طبعاً ((الله لمانځنه)) د ((پېغمبرانو رسالت)) او د هغو کسانو بلنه، چې خلک د ((قسط تطبيق)) ته رابولي، درې واړه يو دي.

موږ د يوه مثال په ترڅ کې، د ((قسط)) او عدل په کلمو او د دوی ترمنځ په اړيکه ځان پوهوو:

**عدل:**

د ټولنې د وګړيو او ډلو ترمنځ د ټولنيزو اړيکو (چې يا د رسمي پېژندل شويو حقوقو له مخې وي) قانوني بڼې ته ((عدل)) وايي.

**قسط:**

ځوک چې په ټولنه کې د يوه مسوليت ژمنه پرغاړه لري، په توکيزو نعمتونو او ټولنيزو امکاناتو کې د هغه واقعي برخې ته ((قسط)) وايي.

نو د سمو جزايي قوانينو او شريفو قاضيانو په شتون کې هېڅوک، ځوک نشي ځورولای او عدالت پلي کېږي، چې په دې بڼه کې هر ځوک د خپلو شتمنيو، حقوقو، ګټو او امکاناتو ساتونکی وي او ځوک پر بل باندې تېری نشي کړای.

دلته که احمد، محمود ته د مزدورۍ د رسمي نرخ له مخې شل افغانۍ ورکړي؛ نو که محمود قضايي محکمې/ نياوتون ته شکايت وکړي، چې ما خو د مجبوريت له مخې دا مزدوري منلې وه؛ ځکه په هېواد کې د ورځنۍ مزدورۍ رسمي نرخ همدا ټاکل شوی؛ خو د کار واقعي ارزښت مې پنځوس افغانۍ دی؛ نو قاضي، چې د رسمي پېژندل شويو قانوني حقوقو له مخې قضاوت وکړي؛ نو محمود پړ او ملامت دی.

خو قسط وايي: دا سمه ده، چې شل افغانۍ مزدوري تا د هېواد د رسمي نرخ له مخې ورکړې، په قانوني لحاظ پر تا نيوکه نه لري؛ ځکه د کار ((بيه)) يې د رسمي ټاکل شوي قانون له مخې

---

[1] (آل عمران/۲۱)

[2] (آل عمران/۲۲)

شل افغانۍ دی؛ خو د کار ارزښت او((واقعي حق)) مې پنځوس افغانۍ دی، نورې دېرش افغانۍ دې څه کړې؟ قانوني مزدوري دې ورکړې؛ خو((واقعي حق)) دې لتاړلی؛ نوځکه دلته د ((عدل)) خوله چوپه ده؛ خو قسط نیوکه کوي، ((قسط)) د((برخې)) په مانا دی.
د شل افغانیو په ورکړې سره عدالت اجرا کېږي؛ خو((قسط)) نه؛ نوځکه ((عدل)) د((جور)) په مقابل کې دی، چې د ټاکل شویو حقوقو(چې ټولو منلی وي) له مخې قضاوت کوي.
خو((قسط)) (هغه حق چې وګړی یې پر ټولنه لري) اقتصادي زیربنا لري. ((عدل)) روبنا او((قسط)) زیربنا دی. ((عدل)) د وګړو ترمنځ د ټاکل شویو قوانینو له مخې دی او((قسط)) نه؛ نوځکه ((عدل)) د((جور)) په مقابل کې دی، چې د ټاکل شویو حقوقو(چې ټولو منلی وي) له مخې قضاوت کوي.
خو((قسط)) (هغه حق چې وګړی یې پر ټولنه لري) اقتصادي زیربنا لري. ((عدل)) روبنا او((قسط)) زیر بنا دی. ((عدل)) د وګړیو ترمنځ د ټاکل شویو قوانینو له مخې دی او ((قسط)) په اقتصادي او طبقاتي نظام او د((مالکیت)) په آر پورې اړه لري. یا((قسط)) په اقتصادي زیربنا او د((مالکیت)) په آر پورې اړه لري.
مثلاً په انګلستان کې د سالمو قضایي محکمو او عادلو قاضیانو د شتون له لامله، یو څه اندازه عدالت اجراکېږي.
په انګلستان کې عدالت شته او په هغه پلاني هېودا کې نشته؛ خو څه چې په دې دواړو هېوادونو کې نشته، ((قسط)) دی؛ ځکه ((قسط)) په قضایي محکمو پورې اړه نه لري؛ بلکې د ټولنې په ((اقتصادي نظام)) او ((اقتصادي زیربنا)) پورې اړه لري، چې په دواړو هېوادونو کې طبقاتي نظام حاکم دی. په یوه هېواد کې د عدالت د اجرا لپاره، باید د هغه هېواد قضایي محکمې اصلاح شي؛ خو د ((قسط)) لپاره باید د هغه اقتصادي زیربنا ړنګه شي؛ ځکه د ((قسط)) تطبیقول، یوازې د ملکیت په نظام کې د ټولنیز انقلاب په بدلون شوني دي.
**عدل:** ټولنه هر چا ته د ټاکل شوي قانوني حق له مخې حق ورکوي.
**قسط:** ټولنه باید هر چا ته د خپلې ((حقیقي برخې)) له مخې برخه ورکړي.
هغه عدالت، چې ((قسطي)) بنسټ و نه لري (بې له قسطه عدالت) دروغجن او لنډمهاله عدالت دی؛ خو د قسط په شتون کې، عدالت حتمي دی؛ ځکه بنسټ، چې پر ((حق)) ولاړ وي، روبنا خو حتمي ده. ((قسط)) د ټولنې د ټولو افرادو ترمنځ د برابرۍ په مانا نه دی؛ ځکه دا هم نا ممکنه ده او هم له انصافه لرې ده؛ بلکه د((قسط)) پر بنسټ ټولنه کې، د افرادو ترمنځ ټاکل شوي قوانین (= عدالت)، د ((قسط)) پربنسټ اصلاح کېږي او د هر چا قانوني حق (لاسباړه) له واقعي حق سره چمتو کېږي؛ یعنې عدالت د قسط له مخې اجرا کېږي؛ ځکه د

بنسټ په اصلاح سره، ځانګې پخپله اصلاح کيږي او داچې ((قسط)) زيربنا او عدل روبنا ده؛ نوځکه په قسط نظام (امت) کې، قانوني حق (لاسباړه) له واقعي حق سره سم ورکول کيږي.
د ټولنې د جوړښت کړلار يې د لوديديز او ختيز افکارو پر بنسټ نه؛ بلکه له اسلامه د سمې پوهېدنې له لامله د ((قسط)) بر بنسټ ده.
نړيوال استکبار د حق او باطل له ذهني جګړو نه ويريږي؛ بلکه د اسلام د ((ټولنيز رسالت)) (چې د قسطي نظم منځ ته راوړونکی دی) له جنګه ويريږي.
((وَأَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُونَ وَمِنَّا الْقَاسِطُونَ فَمَنْ أَسْلَمَ فَأُولَئِكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا[1]= ((او داچې زموږ ځينې مسلمانان دي او ځينې ظالمان دي؛ نو چا چې اسلام ومانه؛ نو هغوی د هدايت په لټه کې وو.))
نوځکه قاسطون ښکاره ظالمان، جباران، جلادان، د خلکو د حقوقو او ازادۍ دښمنان، د (زر)) او ((زور)) نمانځوونکی او د استبدادي ځواک غوښتونکی دي.
په عمومي توګه داسې وايو، چې د اسلامي نړۍ مخامخ دښمنان (قاسطون) نړيوال استکبار دی او داچې مستکبرينو، نړۍ په خپلو منځونو کې ويشلې؛ نو د کفري نړۍ هره څېره، چې په اقتصادي، سياسي، فرهنګي، پوځي او ټولنيز لحاظ، پر هر اسلامي هېواد برلاسې او واکمنه وي؛ نو هماغه مستکبرين د هماغه هېواد لپاره ((قاسطون)) دي.
هغوی چې اسلام يوازې د وګړيزو عبادتونو د دين په توګه منلی او د ټولنې د جوړولو لپاره د اسلام د ټولنيز رسالت له مخې، د قسط بر بنسټ طبقاتي دريځ نه لري؛ نو د دې ډول مبارزو پايله، د يوه ((بوت)) له منځه وړل او د بل راوستل دي.
خو د اسلامي اوختون-انقلاب د پلويانو مبارزه، له اسلامه د سمې پوهېدنې پر بنسټ پيل شوې، چې مبارزه يې پر((تخريبي حالت)) سربېره ((تعميري حالت)) هم لري؛ ځکه د يرغلګرو او مستکبرينو تر ماتې روسته، د ((قسط)) له مخې ټولنه جوړوي، چې دې مبارزاتي پړاو ته ((تعميري پړاو)) وايي.
اسلام يوازېنی دين دی، چې خلک په هراړخيزه توګه، په ظاغوتي نظامونو (پانګوالي، ولسپالنه - نشليزم، ټبرپال، سيموال، توکمپالي، ژبپال، توکيزوال- او...) او د شر او الحاد په ټولو ډولونو پوهوي او له منځه وړو لپاره يې د مبارزې سمه لار هم ورښيي.

[1] (جن/۱۴)

## د عدالت پېژندو لار

که څه د عدالت درلودل او داچې انسان له گناه ډډه کوي؛ نو دا د انسان دننني چار دی؛ خو ځينې نښې د خلکو په ژوند او عمل کې تر سترگو کېږي، چې کړای شو، د همدې لارې په انسان کې د عدالت پر شتوالي او نشتوالي ځان پوه کړو. په روايتونو کې داسې نښې ښوول شوي، چې ځينې يې کچې دي او که انسان يې ولري؛ نو عادل ورته ويلای شو.

امام صادق وپوښتل شو: عادل څوک دی؟و يې ويل: ((عادل هغه دی، چې سترگې يې له نامحرم، ژبه يې له گناه او لاسونه يې له تېري بچ ساتلي وي[1].))

رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم عادل انسان داسې معرفي کوي: ((څوک چې پر خلکو په معاملو کې تېرې و نه کړي، دروغ و نه وايي، پر خپلو ژمنو ولاړ وي او هغه چې مړانه يې بشپړه او عدالت يې ښکاره وي. [2]))

امام صادق وپوښتل شو: بايد د انسان عدالت څرنگه او له کوم ځايه وپېژنو؟ و يې ويل: ((څوک چې حيا او پاکلمني ولري، په خوړو، وينا او شهوت کې ځان پر گناه ککړ نه کړي او له سترو گناهونو؛ لکه زنا، ربا، شراب او د جگړې له تېښتې ډډه وکړي او يوازې د عذر په درلودو، د جمع په لمانځه کې گډون و نه کړي؛ نو دا به عادل وي او د هغه په عيبونو پسې پلټنه او ورپسې غيبت کول پر خلکو حرام دي [3]))

په روايت کې راغلي: ((څوک چې پينځه وخته لمونځ په جماعت کوي؛ نو په هکله يې خوشبينه وسئ او گواهي يې ومنئ. [4]))

که يو انسان د مسلمانانو غونډو او جماعت لمانځه ته راتله او د گناه او فساد له ځايونو يې ډډه کوله، ښايي همدا کار د نورو خلکو ډاډ ځان ته رامات کړي او خلک هم له دې لارې عادل انسان پېژندای شي او کوم عنوان، چې فقهاء په عدالت کې د «حسن ظاهري» په نامه يادوي، کېدای شي مطلب يې هم دا وي.

د امام حسين لمسی امام باقر د ښځو د عدالت په هکله وايي: ((د کومې ښځې، چې ستر پرده جوړه وه او له درنې کورنۍ وه، له خپل مېړه سرغړونه نه کوي او ځان له ناوړه چارو او ناروا ښوونې ډډه وکړي؛ نو دا ښځه به عادله وي. [5]))

---

[1] (بحارالانوار، ۷۵/ ۲۴۸)

[2] (بحارالانوار ٦٧/ ۱)

[3] (استبصار، ۳/ ۱۲)

[4] (وسايل شيعه، ۱۸/ ۲۹۱)

[5] (استبصار ۱۳|۳)

په ځینو روایتونو، کې فاسق هغه ته ویل شوی، چې په ښکاره د ناوړه گناهو له لامله یې کوړې خوړلې وي او یا هم په خلکو کې په بدچارۍ مشهور وي[1].
داچې یو تن عدالت ولري؛ نو مانا یې دا نه ده، چې په ټول عمر کې یې گناه نه وي کړې؛ ځکه دا ځانگړنه یوازې انبیاء او د الله تعالی معصوم اولیاء درلودای شي، داچې په ښکاره موږ له یو انسانه کومه ستره گناه نه وینو؛ نو دا بسیا ده. پاتې دې نشي، که څوک ځان عادل و نه گڼي او ان دا خلکو ته هم ووایي، چې زه عادل نه یم؛ خو که خلک هغه د عادل او متقي په توگه وپیژني، کړای شي د جماعت امام شي او خلک هم اقتداء ورپسې کړای شي او باید خلک سرغړونه ترې و نه کړي. که د جماعت تر لمانځه روسته څرگنده شي، چې د جماعت امام عادل نه و؛ نو ورپسې شوی لمونځ صحیح دی او بېرته راگرځول یې پکار نه دي.

## د«وجدان محکمه» یا «وړوکی قیامت»

په قرآني آیتونو کې له غور او پلټنې څرگندیږي، چې ((انساني نفس)) درې پړاوونه لري او داسې نه ده، چې گڼې ((نفس)) درې ډوله دی.
اوس د((نفس)) درې پړاوونه تشریح کوو:
((اماره نفس))، ((لوامه نفس))، ((مطمینه نفس)).

**۱_ اماره نفس:**

په دې پړاو کې ((نفس))، انسان بدیو، شهواتو، فجور او فسق ته هڅوي؛ نو ویل کیږي، چې په دې پړاو کې پر انسان ((اماره نفس)) واکمن وي.
((وَمَا أُبَرِّئُ نَفْسِي إِنَّ النَّفْسَ لأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ إِلاَّ مَا رَحِمَ رَبِيَّ إِنَّ رَبيِّ غَفُورٌ رَّحِيمٌ[2]= او زه ځان نه پاکوم؛ (ځکه) چې (انساني) نفس ډېر په بدیو امر کوي؛ خو پر چا چې زما پالونکی ولوریږي؛ ځکه پالونکی مې ډېر بښونکی (او) لورین دی.))

**۲-لوامه نفس:**

په دې پړاو کې انسان په غلط کار یا غلط فکر یا ناوړه نیت پښېمانیږي او انسان وربانديې ملامتوي؛ نو ویل کیږي، چې په دې پړاو کې پر انسان ((لوامه نفس)) واکمن وي او په نننۍ څرگندنه- اصطلاح ((ضمیر)) او ((اخلاقي وجدان)) هم ورته وایي.

---

[1] (وسایل شیعه ج۱۸\۲۹۵)

[2] (یوسف/۵۳)

په ځینو انسانانو کې ((لوامه نفس)) ډېر پیاوړی او غښتلی وي، په ځینو کې کمزوری وي؛ خو په هر صورت، هر انسان په دې پړاو کې نه وي او بله داچې د ډېر و گناهونو له کبله، لوامه نفس بېخي له منځه هم ځي.
((لَا أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ. وَلَا أُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ[1]= د قیامت پر ورځ قسم! او قسم خورم پر (وینښ وجدان او) ملا ماتوونکي نفس (چې قیامت حق دی)!))

**۳_ مطمینه نفس:**

په دې پړاو کې انسان پر سمه لار(تقوی) باندې پر تللو او د کړې (فجور) په پرېښودو ډاډینه ننگېري او د بشپړې تقوی مقام ته رسېدو او د مسولیت احساس کوي. داسې چې په اسانۍ سره یې د کړېدو شونتیا نشته.
((يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ. ارْجِعِي إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً[2]= ((ډاډمن نفسه! د خپل پالونکي لوري ته دې وگرځه، حال دا، (ته له هغه) خوښ یې (او) هغه له تا خوښ دی.))
څښتن تعالی په قیامت سورت کې، دوه قسمه (زه قسم خورم د قیامت پر ورځ، زه قسم خورم په ملامتونکي نفس یا وینښ وجدان) یادوي، اوس موږ پرې دې مسلې رڼا اچوو، چې ددې دواړو قسمونو ترمنځ څه اړیکې دي؟
حقیقت دا دی، چې د قیامت د شتوالي لپاره یو دلیل دا هم دی، چې په انسانانو کې د ((وجدان محکمه)) شته. داسې، چې د نېکیو کولو په پایله کې، د انسان روح خوشالېږي او په دې توگه، هغه ته بدله ورکوي او د بد کار او گناه په کې یې روح سخت ربړېږي او په دې توگه سزا ورکوي.
نوځنگه چې په ((عالم صغیر= انسان)) کې وړوکې محکمه شته، دغسې ((عالم کبیر= کاینات)) به هم، هرومرو((ستره محکمه)) ولري.
نو په انسان کې د((اخلاقی وجدان =ملامتونکی نفس)) له شتوالی، موږ پوهېدای شو، چې ((قیامت =معاد)) شته او له دې ځایه د دواړو قسمونو اړیکه څرگندېدای شي. یا په بله وینا: د لومړي قسم لپاره دویم قسم دلیل دی.

[1] (قیامت/۱، ۲)

[2] (فجر /۲۷، ۲۸)

## د قیامت د «ستري محکمې» او د «اخلاقي وجدان» او کوشني محکمې ترمنځ ورته والی

۱_ دلته قاضي، شاهد او د حکم پلي کوونکی یو دی؛ لکه چې په قیامت کې هم همدغسې دي.

((قُلِ اللَّهُمَّ فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ أَنتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِي مَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ[1]= ووایه: ((خدایه! (ای) د اسمانو او ځمکې ځېرونکیه (او پنځوونکیه او) پر پټو او ښکاره و پوهېدونکیه! ته به د خپلو بندګانو ترمنځ په څه کې یې چې اختلاف درلود، پرېکړه وکړې.))

۲_ د اخلاقي وجدان په کوشنۍ محکمه کې سپارښتنه، بډې، ډله ټپله او واسطه نه منل کېږي. دغسې د قیامت ستره محکمه هم ده.

((وَاتَّقُواْ يَوْمًا لاَّ تَجْزِي نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْئًا وَلاَ يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ وَلاَ يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَلاَ هُمْ يُنصَرُونَ [2] =او هغې ورځې له (عذابه) وساتئ، چې هېڅوك نه له چا (الهي عذاب) لرې کولای شي او نه یې سپارښتنه کولای شي او نه یې تاوان منل کېږي، چې (په بدل کې یې پرېښوول شي) او نه ورسره مرسته کېدای شي.))

۳_ د وجدان په محکمه کې ستري دوسیې په لږ وخت کې فیصله کېږي، نه پکې استیناف ته اړتیا شته او نه بیا نوې کتنې ته او نه په میاشتو او کلونو کلونو سرګردانۍ ته، دغسې د قیامت ستره محکمه هم ده.

((أَوَلَمْ يَرَوْاْ أَنَّا نَأْتِي الأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا وَاللّهُ يَحْكُمُ لاَ مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ وَهُوَ سَرِيعُ الْحِسَابِ[3]= او ایا نه ګوري چې موږ (تل) په ځمکې پسې راځوو او د هغې له شاوخوا(او اړخونو) څنې یې کموو؟ (او رو رو ټولنې، مدنیتونه او پوهان له منځه ځي) او الله تعالی حکومت کوي او هېڅوك د هغه د احکامو د مخنیوي یا رد وسه نه لري او هغه چټک حسابی دی.))

٤_ د دې نړۍ د رسمي محکمو پرخلاف، د ویښ وجدان د محکمې د سزاوو اثار، لومړی د انسان له دننه راولاړېږي او بیا یې پر بهر اغېزې غورځوي، لومړی د انسان روح ځوروي او بیا یې په تنه، څېره، خوب او خوړو کې اغېزې څرګندېږي. دغسې د قیامت ورځ هم ده.

---

[1] (زمر/۴٦)

[2] (بقره/۴۸)

[3] (رعد/۴۱)

((نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ. الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ[1]=(هغه) الهي بل شوی اور دی. (هماغه اور) چې پر زړونو لوېږي او خوله اچوي.))

۵_ د وجدان محکمه شاهدانو ته څه اړتیا نه لري؛ بلکه د انسان خپل معلومات، د هغه په گټه یا زیان د شاهد په توگه منل کېږي؛ لکه چې د قیامت پر ورځ هم، د انسان لاس، پښې، پوټکی او تنه د هغه پر کړنو شاهدي ورکوي.

((وَأَمَّا الَّذِينَ فَسَقُوا فَمَأْوَاهُمُ النَّارُ كُلَّمَا أَرَادُوا أَن يَخْرُجُوا مِنْهَا أُعِيدُوا فِيهَا وَقِيلَ لَهُمْ ذُوقُوا عَذَابَ النَّارِ الَّذِي كُنتُم بِهِ تُكَذِّبُونَ[2]=د هغه مځکې به د روستنیو تر راتلو پورې ایسار کړای شي، بیا چې کله ټول هلته ورشي؛ نو د هغو غوږونه او د هغو سترگې او د هغو د جسم پوټکی به پر هغو شاهدي ووایي، چې هغوی په نړۍ کې څه کول)).

د دواړو محکمو[3] له عجیب شانته ورته والي جوتېږي، چې د ((معاد)) مسله فطري ده؛ ځکه د هستۍ ددې ستر سمندر په یوه څاڅکي کې چې دا ډول پټه او هېښنده محکمه وي؛ نو دا ستر عالم خو به هرومرو حساب، کتاب او محکمه هم لري. [4]

---

[1] (همزه/٦- ٧)

[2] (سجده/٢٠)

[3] یادونه: د ((وجدان محکمې)) په باب د زیاتو معلوماتو لپاره د استاد ناصر مکارم لاندې کتابونه ولولئ.

١_ رهبران بزرگ (بحث وجدان). ٢_ معاد وعالم پس از مرگ (بحث دلایل معاد).

[4] یادونه: دابحث له ((تفسیر نمونه څخه ژباړل شوی.))

## غيبت څه ته وايي؟

*غيبت دې ته وايي، چې که د يوه چا په نشتون کې يې په اړه داسې څه ووايې چې خلک ترې خبر نه وي او هغه انسان يې په اورېدو خپه شي. [1]

نو مخامخ نيوکه يا هغه نيمگړتيا، چې خلک ترې خبر وي او اورېدونکی خپه پرې نشي، غيبت نه دی.

د مړي، ژوندي، سړي، ښځې، وړوکي، ستر، خپل، پردي، ښوونـد، زدکړيالان او پلار د ټولو غيبت حرام دی او گناه يې يو له بل سره توپير نه لري.

*رسول صلی الله عليه و آله وسلم وويل: له مړيو لاس واخلئ، څوک چې ومړ؛ نو ورپسې بد مه وايئ. [2]

### غيبت د روايتونو په رڼا کې

امام صادق وويل: غيبت کوونکی که توبه وکړي؛ نو روستی تن به وي، چې جنت ته ننوځي او که توبه و نه کړي؛ نو لومړی تن به وي، چې دوزخ ته ننوځي. [3]

امام رضا له امام سجاد څخه روايت کړی: يو عالم وايي: که چا د مسلمان له غيبته ځان وساته؛ نو الله تعالی به يې د قيامت پر ورځ له گناهونو تېر شي [4].

رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم : تر څلوېښتو ورځو پورې د غيبت کوونکي لمونځ او روژه نه قبلېږي [5].

رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم وايي: د قيامت پر ورځ، چې ځينو ته کړنلکيونه ورکړ شي؛ نو و به وايي: ولې پکې زموږ ښه کړه نه دي کښل شوي؛ نو ورته به وويل شي: الله تعالی نه څه کم کړي او نه هېر کړي؛ بلکې ستاسې ښې چارې، د غيبت له لامله له منځه تللي او په مقابل کې داسې کسان هم شته چې کله خپل کړنليک ويني، چې پکې ډېرې ښې چارې ليکل شوي؛ نو خيال به وکړي، چې دا يې کړنليک نه دی؛ نو ورته به وويل شي: چا چې دې غيبت کړی و، ښه کړنې يې ستا په کړنليک کې ليکل شوي دي[6].

---

[1] (وسائل ۸/۶۰۰- ۶۰۴)

[2] (نهج الفصاحه، ۲۶٤ حديث)

[3] (مستدرک ۱۱۷/۹)

[4] (بحار ۷۲/ ۲۵۶)

[5] (بحار۷۳/ ۲۵۸)

[6] (بحار۷۲/ ۲۵۹)

رسول صلی الله علیه و آله وسلم مکې ته په خپل روستي سفر کې وویل: ستاسې وینه، مال او پت محترم دی؛ لکه څنګه چې دا د "ذي الحجې" میاشت ده او دا د حج ورځې محترمې دي[١].
په روایتونو کې د غیبت کوونکي نامه د هغه چا ترڅنګ راغلې، چې تل شراب څښي[٢].
په روایتونو کې راغلي: هغوی چې د نورو غیبت راسپړي؛ نو الله تعالی به یې عیبونه ښکاره کړي[٣].
رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وایي: د غیبت کوونکي روژه باطله ده[٤].
رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وایي: یو درهم ربا تر ۳٦ زناګانو بده ده او تر ټولو بده او ستره ربا د مسلمان له پت سره معامله ده[٥].
په حدیث کې راغلي: په جومات کې د لمانځه لپاره د ناستې انتظار عبادت دی؛ خو چې غیبت پکې ونشي[٦].

## د غیبت جبرانول

*که په چا پسې مو غیبت کړی وي او مړ شوی وي؛ نو باید له الله ښښنه وغواړو، چې البته الله تعالی توبه منونکی دی؛ خو که په هغه پسې چې غیبت مو کړی، که ورته ووایو، چې ستا غیبت مو کړی؛ نو خپه به شي. ځیني عالمان وایي، چې باید ورته و نه ویل شي، چې غیبت مو درپسې کړی؛ بلکې الله تعالی ته باید توبه وایستل شي او که د غیبت اورېدونکی پېژنئ؛ نو په چا پسې، چې مو غیبت کړی؛ نو د هغه د سپکاوي د جبران لپاره یې ښه ووایو او که داسې ول، چې که پوهېدئ، چې درڅخه نه خپه کېږي؛ په خپله ترې ښښنه وغواړئ.
شیخ طوسي د تجرید په شرح کې د رسول الله د یوه حدیث په رڼا کې وایي: که په هغه پسې، چې غیبت کېږي، خپل غیبت واوري؛ نو د جبران لپاره باید ورشو او رسماً ښښنه ترې وغواړو؛ خو که یې خپل غیبت نه وي اورېدلی؛ نو چې کله هغه رایادېږي باید ورته استغفار وشي[٧].

---

[١] (شرح نهج البلاغه، ابن ابی الحدید ٦٢/٩)
[٢] (بحار ٢٦٠/٧٢)
[٣] (محجة البیضاء، ٥مخ)
[٤] (محجة البیضاء٢٥٤/٥)
[٥] (بحار ٧٢/ ٢٢٣)
[٦] (کافي ٣٥٧/٢مخ)
[٧] (وسایل ٦٠٥/٨)

## غیبت په کومو ځایونو کې جایز دی

۱ـ د مشورې په مقام کې؛ یعنې که چا د بل کس په اړه مشوره وغوښته؛ نو موږ کړای شو مشوره غوښتونکي ته د هغه کس نېمګړتیاوې ووایو، چې په اړه یې مشوره کېږي.
۲ـ د باطلې ګروهې د لارویانو غیبونه ویلای شو، چې خلک ورپسې ولاړ نشي.
۳- په نیاوتون-محکمه کې د یوه مجرم پر خلاف د لېینې - ګواهۍ پر مهال که غیبت وشي؛ لکه څنګه چې د باطلې ګروهې د رد لپاره خلکو ته باید حقیقت وویل شي.
٤ـ د داسې لېینې د رد لپاره، چې د داد وړ نه وي.
۵ـ د ظالم د ظلم ویل، چې د چا مظلومیت پکې جوتېږي.
٦-څوک چې ښکاره ګناه کوي، غیبت نه لري.
۷ـ څوک چې د دروغو ادعا کوي؛ د ساري په ډول وایي: زه عالم یم، ډاکټر یم او موږ پوهېږو، چې هغه ددې ځانګړنو وړ نه دی؛ نو خلک پوه کړ، چې هغه ددې ځانګړنو وړ نه دی.

## د غیبت خطرونه

په غیبت کولو کې نورې ګناوې هم پټې دي؛ لکه:
۱-د فحشاء خورول؛ د خلکو د بدیو خورول دومره خطرناک دي، چې نه یوازې خورول یې؛ بلکې له خورولو سره یې مینه هم ډېر دردونکی عذاب لري.
((إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي النړۍ وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ[1]=په حقیقت کې هغوی چې په مؤمنانو کې د بدنامۍ خورول خوښوي (نو) ورته په نړۍ او اخرت کې دردناك عذاب دی او الله تعالی پوهېږي او تاسې نه پوهېږئ.))
۲ـ د مؤمن سپکاوی او خوارول.
۳ خبره خوله په خوله کول.
٤-جنګ او فتنه اچونه.
۵-ظلم او نورې ګناهګانې...

## د غیبت ډولونه

غیبت کله په ژبه، اشاره، لیکنه، انځور، چوپتیا او.... په ښه وي؛ مثلاً وایي: افسوس، چې دین مې ژبه نیولې او په دې ټکي ټولو ته وایي، چې پلانی څومره عیبونه لري او یا د الحمدالله په ویلو، چې ښه ده موږ پکې راګېر نشو؛ نو ښایي پلانی راګېر شوی دی. کله د خپل عیب په

[1] (نور/۱۹)

ویلو د بل عیب بیانوي، د ساري په ډول وايي: انسان کمزوری دی، موږ ټول بې صبره یو؛ یعنې هغه کمزوری او بې صبره دی. کله د غیبت په اورېدو وايي: سبحان الله، الله اکبر! اوپه دې سپېڅلیو کلمو غیبت کوونکی، غیبت ته راهڅوي او کله په ژبه وايي: غیبت مه کوئ؛ خو زړه یې غواړي، چې غیبت واوري، چې دا نفاق دی.

## د غیبت اغېزې

***الف: ټولنیزې او اخلاقي اغېزې**

۱_ د کینې راپیدا کېدل، د ډاډ له منځه تلل او په خلکو کې د فتنې او اړپېچ رامنځ ته کېدل او له ټولنې د گټورو وگړیو گوښه کول.

۲-د گناه لپاره نوره زړورتیا پیدا کېدل؛ ځکه همداچې انسان پوه شو، خلک یې له گناه او عیبه خبر شول، بې عزته شو؛ نو سترگې یې نورې هم شلېږي او گناه کولو ته لا ډاډه کېږي او توبه یې له ذهنه وځي.

۳_ د خلکو د عیب خورول، ټولنه نوره هم ککړوي او گناه کولو ته زړورتیا نوره هم ډېر وي.

٤_ د غچ اخستنې احساس راپاروي؛ ځکه همداچې یو چا واورېدل، پلاني یې غیبت کړی؛ نو دی یې هم غیبت ته ملا تړي.

په بله وینا: نننی غیبت مو ددې لاملېږي، چې خلک زموږ غیبت وکړي. ((لاتغتب فتغتب)) او څوک چې بل ته څاه کني، خپله پکې لوېږي [1].

رحمان بابا وايي:

کوهـــــی مــــه کــــنه د بــــل چــا پــه لار کې
که نه ستا به د کوهي په لار کې لار شــي

***ب: د غیبت اخروي اغېزې:**

۱-غیبت کول د انسان ښې کړنې له منځه وړي[2].

۲_ غیبت کول، د عبادتونو د قبلېدو مخه نیسي.

۳_ غیبت کول، انسان د الهي ولایت له کړۍ باسي او د نورو په کړیو کې یې دروي[3].

---

[1] (بحار ۲٤۹/۷۲)

[2] (بحار ۲۵۷/۷۵)

[3] (کافي ۳۵۸/۲)

**د غیبت جرړې**

۱_ کله غیبت له غوسې راولاړیږي، په ځینو اسماني کتابونو کې راغلي: که د غوسې پرمهال دې زه یاد کړم؛ نو زه به دې هم د غوسې پر مهال یاد کړم او غوسه به درناندې نشم[۱].

۲- کله له نورو سره د همغږۍ لپاره غیبت کوو، گورو چې نور هم د چا غیبت کوي؛ نو داچې ځان ورسره همغږی کړو، په غیبت لاس پورې کوو؛ خو خبر نه یو، چې د الله تعالی پر عذاب ککړ شوي یو، د خلکو خوښې ته الله تعالی له ځانه خپه کوو، چې دا خورا ستر تاوان دی.

۳- کله ځیني ځکه غیبت کوي، چې ځان ستر او غوره وښيي؛ یعنې نور خرابوي، چې ځان ستر کړي، چې دې انسان هم ډېر ستر تاوان کړی دی.

٤- کله پر نورو د ملنډو لپاره غیبت کیږي. خبر نه دي، چې په هغه پسې، چې غیبت کوي، ددې خلکو په سترگو کې به یې سپک کړي؛ خو له الله تعالی سره یې درون کړی دی.

۵-کله د حیرانتیا په ښکاره کولو غیبت کوي؛ لکه وایي: زه خو دې ته حیران یم، چې پلانی له دې ټولې پوهې سره ځنگه داسې شو؛ حال دا، هغه دی حیران شي، چې ځنگه یې په دې ټکیو خپل ټول کړه وړه تس نس کړل.

٦- کله غیبت له کینې راولاړیږي.

۷- کله د ساتېرۍ لپاره د نورو غیبت کوي.

۸-کله د زړه سوي له مخې غیبت کوي، وایي: پر پلاني مې ډېر زړه سوځي، چې په پلانۍ معامله کې راگېر شوی دی.

۹- کله له خپلې نیمگړتیا د خلاصون لپاره خپله نیمگړتیا پر نورو اچوي او غیبت کوي.

البته نور عوامل هم د غیبت لامل گرځي؛ خو موږ پورته لاملونه بېلگې ته راوړل.

## د غیبت اورېدل

*د اورېدونکي دنده ده، چې غیبت ته غوږ کېنږدي او له مؤمن څخه دفاع وکړي.

په حدیث کې وایو: څوک چې غیبت واوري او چوپ پاتې شي؛ نو له غیبت کوونکي سره په جرم کې شریک دی[۲].

[۱] (محجة البیضا۵/ ۲٦۵)

[۲] (غررالحکم)

*رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وویل: چا چې غیبت واورېد او هغه یې رد کړ؛ نو الله تعالی به ورته د نړۍ او آخرت زر د شر ورونه وتړي؛ خو که وا یې ورېد او غلی پاتې شو؛ نو له ویونکي سره په جرم کې شریک دی[1].
*په هغه پسې، چې غیبت یې کیږي، که ترې دفاع کړای شئ او دفاع یې و نه کړه؛ نو الله تعالی به یې په نړۍ او اخرت کې ذلیل کړي؛ ځکه داسې چوپتیا به ددې لامل شي، چې په ټولنه کې گټور خلک گوښه شي او څوک ترې دفاع و نه کړي.
*رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم : که په یوه ناسته کې غیبت کیږي؛ نو باید هغوی له دې کړنې منع کړئ او له ناستې ووځئ [2].
*د اسراء سورت په ۳۶آیت کې راغلي: د قیامت پر وروځ به غوږونه سترگې او زړه وپوښتل شي؛ نو موږ د هر ډول خبرې د اورېدو حق نه لرو.
*په یوه روایت کې غیبت کول، کفر او اورېدل او پرې خوښېدل شرک گڼل شوی دی[3].

## د غیبت نه کولو لارې چارې

۱_ د غیبت منفي اغېزو او خطرونو ته پام (چې مخکې وویل شول)
۲_ د خپل عیب رایادول. حضرت علي وایي: څنگه د خلکو عیب وایئ؛ حال دا، په خپله هم هماغه عیب لرئ[4].
په روایتونو کې راغلي: نېکمرغه انسان هغه دی، چې پر خپل عیب بوخت وي (د ځان سمونې په فکر کې وي او د خلکو په عیب پورې کار و نه لري[5].

**یادونې:**
۱_ غیبت یوازې د قرآن عظیم الشأن په دې سورت کې نه دی اوڅار- مطرح شوی؛ بلکې په نورو آیتونو کې هم راغلی دی.

---

[1] (وسایل ۶۰۷/۸ )
[2] (کنزالمعال ۸۰/۲)
[3] (بحار ۷۲/ ۲۲۶)
[4] (نهج البلاغه، ۱۴۰ خطبه)
[5] (بحار ۱/ ۱۹۱)

((وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ[1]=افسوس دې وي پر هر بدژبي عیب لټوونکی (پېغور ورکوونکی)!))
((لاَّ يُحِبُّ اللّهُ الْجَهْرَ بِالسُّوَءِ[2]= الله تعالی دا نه خوښوي، چې څوك په ښکاره بد ویلو خوله پرانځي.))

۲ـ په غیبت کې قصد او نیت باید عیب رابرسېرول وي؛ خو که د نورو عیب رابرسېرول، د نورو د سمونې لپاره وي؛ نو باک نه لري، که څه د هغه چاعیب چې وويل کېږي، خوښ هم نه وي؛ نو باک نه لري؛ لکه که ډاکتر ته د يوه رنځور ځانګړنې وويل شي؛ نو پروا نه لري، ان که رنځور خوښ هم نه وي.

۳ـ په غیبت کې باید شخص معلوم وي؛ د ساري په ډول: که ووايې: ځینې داسې دي او هغسې دي، که څوک د((ځینې)) له مصداقه خبر نه وي؛ نو پروا نه لري.

٤-کله ورته غیبت نه ویل کېږي؛ خو د سپکاوي او فحشا د خورونې په بڼه خبرې منع دي.

[1] (همزه/۱)

[2] (نساء/۱۴۸)

# دروغ

داچې د حجرات سورت په شپږم آیت کې د «خبر» په اړه د څېړنې حکم راکړ شوی؛ نو ښه به وي، چې پر «دروغو» یو څه رڼا واچوو:

*دروغ یو ډول نفاق دی؛ ځکه انسان هغه څه په خوله وايي، چې په زړه کې پرې باور نه لري. (يَقُولُونَ بِأَلْسِنَتِهِم مَّا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ[1])

*دروغ کله د تور په بڼه وي، چې په ناحق پر پاک انسان لګول کېږي. (أَرَادَ بِأَهْلِكَ سُوَءًا[2])

*دروغ کله د قسم په بڼه وي؛ يعنې پر دروغو قسم خوري. (يَحْلِفُونَ بِاللّهِ[3])

*دروغ کله د ژړا په بڼه وي، د يوسف علیه السلام رونه، چې په ژړا خپل پلار ته ورغلل، و يې ویل: يوسف لېوه وداړه. (وَجَاؤُواْ أَبَاهُمْ عِشَاء يَبْكُونَ[4])

*دروغ تش په خوله نه؛ بلکې کله له عمل سره هم وي. رونړو يې په وينو د يوسف علیه السلام کميس ولاړه او په عملي دروغو يې خپل مطلب په ډاګه کړ. (بِدَمٍ كَذِبٍ[5])

اسلام ان په ټوکو کې هم خلک له دروغو منع کړي دي[6].

*دروغ د ډېرو ګناهونو پيل دی[7].

*دروغ انسان د ايمان له خونده بې برخې کوي [8]او د ايمان د خرابۍ لامل‌ېږي[9].

امام باقروايي: تر دروغو نور څه ناوړه نشته.

حضرت علي وايي: له دروغجن سره له ملګرتيا ډډه وکړئ، چې هغه د شرابو په څېر دی.

---

[1] (فتح / ١١)

[2] (يوسف/ ٢٥)

[3] (توبه/٧٤)

[4] (يوسف /١٦)

[5] (يوسف /١٨)

[6] (کافی ٢/ ٣٣٨)

[7] (کافی ٣٣٨/٢)

[8] (کافی ٣٤٠/٢)

[9] (کافی٣٣٩/٢)

## څېړنه

د تاریخ په اوږدو کې الهي انبیاء له داسې خلکو او ټولنوسره مخ ول، چې ډول ډول ټولنیزې او اخلاقي رنځورۍ یې درلودې او نن ان له دې ټولو علمي، اقتصادي او ټولنیزو پرمختګونو سره سره دا رنځورۍ پر خپل ځای پاتې دي ، چې دا دي:

۱ـ له خپلو پلرونو، نیکونو او دودونو په پټو سترګو لاروي.

۲ـ د خیالونو، ډنډورو، وړاندوینو، خوبونو او شننو لاروي.

۳-بې علمه ورمند- قضاوت، دریغ، ستاینه، نیوکه، لکینه او وینا.

په دې آیت کې ددې ټولو رنځوریو درمل څېړنه راښوول شوې ده. که ټولنه مو د څېړنې او عقل خاونده وي؛ نو دا رنځورۍ یومخې ټولې له منځه ځي.

## یوه ترخه پېښه

د خیبر تر جګړې روسته رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم د حضرت "اسامه بن زید" په مشرۍ یو ډله مسلمانان په هغو یهودانو پسې ولېږل، چې د "فدک" په کلي کې ول، چې هغوی اسلام ته راوبلي یا د مالیاتو شرایط ومني. یو له دې یهودانو ځنې ، چې نوم یې "مرداس" و، ددې خبر په اورېدو خپل مال او کډه یوه غره ته یووړه او د ((لا اله الا الله محمد رسول الله)) په ویلو د مسلمانانو هرکلي ته راغی. حضرت اسامه هم په دې ګومان چې هغه له وېرې اسلام راوړی او اسلام یې واقعي اسلام نه دی؛ نو و یې واژه. د الله تعالی رسول د دې خبرې په اورېدو خواشینی شو، چې دا آیت نازل شو:

((أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللّهِ فَتَبَيَّنُواْ وَلاَ تَقُولُواْ لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلاَمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا تَبْتَغُونَ عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَعِندَ اللّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ كَذَلِكَ كُنتُم مِّن قَبْلُ فَمَنَّ اللّهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُواْ إِنَّ اللّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا= [مؤمنانو! چې کله د الله تعالی په لار کې سفر کوئ (او جهاد ته ځئ)؛ نوسمه پلټنه وکړئ او داچې د نړۍ ناپایښته پانګه (او غنایم) ترلاسه کړئ؛ نو ځوك چې د سولې او اسلام ا ظهار وکړي، ورته مه وایئ: ((چې مؤمن نه یې)) ځکه که د نړۍ ګټه غواړئ؛ نو له الله تعالی سره (تاسې ته) ډېر پرېمانه غنیمتونه دي، تاسې (هم) مخکې همداسې وئ؛ خو بیا الله تعالی پر تاسې ولورېد (او پر سمه لار شوئ)؛ نو (د دې ستر نعمت په شکرانه کې سمه) څېړنه وکړئ، په رښتیا څه چې کوئ، الله تعالی پرې ښه خبر دی.))

# ځيرتيا

اسلام په ټولو چارو کې د ځيرتيا پر آر خورا سپارښتنه کوي؛ لکه:

۱-د گروهو- عقايدو په آرونو کې يې تقليد منع کړی، وايي: هر څوک دې د خپل عقل له مخې فکر او لار وټاکي.

۲_ په مشرۍ کې يې د عصمت او عدالت شرط د نورو شرطونو ترڅنگ راوړی دی.

۲_ تقليد هم بايد له هغو مراجعو ونشي، چې پر علم، عدالت او له ځاني غوښتونو پر لرېوالي سربېره، پر ورځني چارو پوه وي.

٤_ په ورمندون کې د قاضي پر علم او عدالت سربېره، د هغه د ژوند تامين ته هم پام وکړئ، چې فقر او اړتياوې قاضي بډې اخستنې ته اړ نه کړي.

٥_ د سوداگريزو اسنادو تنظيمول. د سوداگرۍ او راکړې ورکړې د سندونو د تنظيمولو په اړه په البقره سورت کې د قرآن عظيم الشأن تر ټولو لوی آيتونه راغلي دي . اسلام ان د مړي په ښخولو کې هم پر خورا ځيرتيا ټينگار کړی دی. رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم د يوه مسلمان قبر ډېر کلک او په ځير جوړاوه، خلکو وويل: هغه خو ومړ؛ نو د قبرپه جوړولو کې دا دومره ځيرتيا او احتياط د څه لپاره دی؟ رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم وويل: ((د الله تعالی خوښېږي، چې مسلمان هر کار ښه او په بشپړه توگه وکړي)).

قرآن عظيم الشأن د خبرو په اړه وايي: سمه او روغه خبره وکړئ. (وَقُولُوا قَوْلاً سَدِيدًا[۱])

# په اسلام کې خبر

اسلام د خبر په اړه خورا ټينگار کړی؛ لکه:

*الف: په قرآن عظيم الشأن کې راته حکم شوی، په څه چې نه پوهېږئ؛ نو ورپسې مه ځه؛ ځکه په قيامت کې مو سترگې، غوږونه او زړونه پوښتېدوني دي .

((وَلاَ تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْؤُولاً[۲]= او په هغه څه پسې مه ځئ، چې پوه پرې نه ياست؛ ځکه غوږ او سترگه او زړه ټول پوښتېدوني دي.))

*ب: قرآن عظيم الشأن هغوی سخت رټلي، چې هر خبر واوري؛ نو ناسنجول شوی يې خوروي، وايي:

---

[۱] (احزاب/۷۰)

[۲] (اسراء/۳٦)

((وَإِذَا جَاءهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُواْ بِهِ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَى أُوْلِي الأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنبِطُونَهُ مِنْهُمْ وَلَوْلاَ فَضْلُ اللّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ لاَتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ إِلاَّ قَلِيلاً [1] = او چې كله ورته د ډاډ يا ډار خبر ورسي؛ (بې له څېړنې) يې خوروي، حال دا، كه هغه (د الله تعالى) استازي او مشرانو ته- چې د تشخيصولو پوره ځواک لري- ورسوي؛ نو د چارو له تله به خبر شي او كه پر تاسې د الله تعالى فضل او رحمت نه واى؛ نو بې له لږ شمېره نور ټول په شيطان پسې تلئ (او بېلارې كېدئ).))

*ج: قرآن عظيم الشأن هغوى ته ډېر سخت عذاب ټاكلى، چې په ټولنه كې د دروغو خبرونه خوروي.

((لَئِن لَّمْ يَنتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لاَ يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلاَّ قَلِيلاً [2] = قسم دى كه منافقان او هغوى چې په زړه كې يې (يو ډول) رنځوري ده او هغوى چې په مدينه كې د دروغو خبرونه او بې بنسټه اوازې خوروي؛ له خپل كاره لاس وانخلي (نو) موږ به هرومرو تا پرې مسلط كړو(چې) بيا به په دې (ښار) كې له ډېر لږ وخت پرته ستا په گاونډ كې پاتې نشي.))

* د: رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم د خپل عمر په روستي كال په حج كې وويل: ډېر وي داسې كسان، چې له ما څخه به درته د دروغو خبرونه وايي او نور به هم ډېر شي او چا چې آگاهانه په ما پورې دروغ وتړل؛ نو ځاى به يې په دوزخ كې وي او له ما يې چې هر څه دروړل؛ نو له قرآن عظيم الشأن او سنتو سره يې پرتله كړئ، كه له هغو دواړو سره يې سمون درلود؛ نو و يې منئ، كه نه، مه يې منئ. [3]))

*هه: امام صادق پر هغه لعنت وايه، چې د دروغو خبر يې د هغه په پلار امام باقر پورې وتاړه، و يې ويل: څه يې چې له موږه درته وويل؛ له قرآن عظيم الشأن او زموږ له نورو خبرو سره يې وسنجوئ كه ورسره يې اړخ لگاوه، و يې منئ؛ گنې مه يې منئ [4].

*د: امام رضا: زموږ د خبرو سند قرآن عظيم الشأن او د رسول الله سنت دي[5].

*ز: په اسلامي علومو كې يو مهم علم " علم رجال " دى، چې دا علم د هغوى په اړه دى، چې حديثونه روايتوي، چې سم حديث له ناسمه وپېژندل شي.

---

[1] (نساء/٨٣)

[2] (احزاب/٦٠)

[3] (بحار ٢/٢٢٥)

[4] (بحار ٢٢/٢٥٠ )

[5] (هماغه سرچينه)

# څېړندود

اسلام ځکه پر څېړنه، پلټنه او د علم پر زده کړه ټينګار کوي، چې څوک په ناپوهۍ کې کوم کار و نه کړي او داچې اسلام هر اړخيز دين دی؛ نو د سم او ناسم د پېژندو لپاره يې لارې ښوولي دي؛ لکه:

۱_ د معتبرو او د منلو وړ کتابونو کتل: د اسلام پيغمبر د خپل ځان د لېينې - شاهدۍ لپاره د تورات او انجيل کتابونه راوړل، و يې ويل: زما نوم په تورات او انجيل کې ولټوئ. (مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ[1])

۲_ متقي پوهان و پوښتئ (فَاسْأَلُواْ أَهْلَ الذِّكْرِ[2])

۳_ د دوو عادلو شاهدانو لېينه - ګواهی ورکول. (ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ[3])

٤_ شخصي څېړنه، چې انسان پخپله د يو خبر د سموالي څېړنه وکړي؛ لکه د نجاشي څېړنه، چې حبشي ته يې د مهاجرو مسلمانانو په اړه وکړه.

٥_ د لاسوندونو راټولول: کله انسان د قرآئنو او آثارو له ټولګي، خبرو، ملګرو، وخت، ځای او د کار له طريقې د خبر پر حقانيت پوهېږي؛ د بېلګې په توګه: د اسلام د پيغمبر د حقانيت پېژندو ته لاسوندونه دا دي: نالوستی و او د بوت لمانځنې په مرکز کې د بوت لمانځنې پرخلاف راپاڅېد او دوست او دښمن دواړو ورته امين وايه، اخلاق يې ښه وو، ياران يې پاليال وو، چلن يې ان د مکې د سوبې پر ووځ ښښنه وه، لارښونې يې نړيوالې او کاردود يې د حق پربنسټ و... چې دا ټول لاسوندونه وايي، چې حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم پرحق و.

٦_ له پخوانيو خبرو سره يې همغږي او په خبرو کې د ټکر نشتوالی.

٧_ د نورو له ويناوو سره يې د ويناوو همغږي. د ساري په ډول: لکه څوک چې د رسول الله له حديثه همدا پوه شي، چې پر پوهېدلي مطلب نور هم همداسې پوه شوي وي؛ نو په خپلو پوهېدنو ډاډه کېږي.

٨_ د څارنوال په استونه د سمو معلوماتو راټولول؛ لکه چې حضرت علی وايي: ((عينی بالمغرب))؛ يعنې هغه چې په مغرب کې زما ځانګړی څارونکی دی، هغه راته دا خبر راکړی دی.

---

[1] (اعراف / ۱٥۷)

[2] (نمل/ ٤۳ - انبياء / ۷)

[3] (مايده /۹٥)

۹_ د خلکو معلومات هم د ډاډ وړ دي. حضرت علي وويل: ((بلغنی انک)) خلکو راته داسې ويلي دي.
۱۰_ د نورو ډاډ: د ساري په ډول: که عالمانو پر يوه حديث ډاډ وکړ او د هغه له مخې يې فتوی ورکړه او يا دينپالو په لمانځه کې په يو چا پسې اقتدا وکړه؛ نو دا ډول ډاډونه هم زموږ د پلټنې بنسټېدای شي.
۱۱_ د کار مخينه هم د څېړنې يوه لار ده: رسول صلی الله عليه و آله وسلم وويل: ولې پر ما شک کوئ؟ زه خو کلونه کلونه په تاسې کې اوسېدلی يم او تاسې ټول مې پېژنئ. (فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا[1])

## رورولي

*د اسلام يو غوراوی دا دی، چې سمونې له بېخه پيلوي؛ د ساري په ډول، وايي: (إِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيعًا[2])؛ يعنې ټول عزت د الله تعالی لپاره دی، بيا سپارښتنه کوي، چې ولې د عزت لاس ته راوړو ته په ده او هغه پسې ځئ يا وايي: (أَنَّ الْقُوَّةَ لِلّٰهِ جَمِيعًا) (ټول ځواک د هغه دی[3]) بيا پايله اخلي، چې ولې هره ورځ د يوه له شاو خوا تاوېږئ راتاويږئ؟! دغسې په دې آيت کې وايي: ټول مؤمنان يو د بل رونه دي، بيا وايي: اوس نو چې ټول سره رونه ياست؛ نو څه ته شخړې کوئ! ؟ ټول يو د بل دوستان اوسئ.
نوځکه د يو وګړي او ټولنې سمونې ته بايد لومړی د هغوی انديز- فکري او ګروهيز- اعتقادي بنسټ سم شي او بيا د انسان چلن.
*د رورلۍ کړلار او د رور د څرګندنې- اصطلاح کارول، د اسلام نوون - ابتکار دی. رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم له اوو سوو تنو سره په "نخيله" کې و، چې جبراييل راغی، و يې ويل: الله تعالی د پرښتو په منځ کې رورلي راوستې. حضرت رسول الله هم د خپلو اصحابو په منځ کې رورلي راوسته او څوک چې د چا هم اندی – همفکر و، د هماغه رور شو؛ لکه: حضرت ابوبکر له حضرت عمر سره، حضرت عثمان له حضرت عبدالرحمن سره، حضرت سلمان له حضرت ابوذر سره، حضرت طلحه له حضرت زبير سره، حضرت مصعب له حضرت ابوايوب انصاري سره، حضرت حمزه له حضرت زيد بن حارثه سره، حضرت ابودردا له حضرت بلال سره، حضرت طيار له حضرت معاذبن جبل سره، حضرت مقداد له حضرت عمار

[1] (يونس / ۱٦)
[2] (يونس/ ٦٥)
[3] (بقره/ ۱٦٥)

سره، ام المؤمنين عايشه بي بي له ام المؤمنين حفصې بي بي سره، حضرت ام سلمه له حضرت صفيې سره او په خپله آنحضرت صلی الله عليه و آله وسلم له حضرت علي سره روږنه شول[1].

د احد په عزا کې پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم حکم وکړ، دوه تنه شهيدان (حضرت عبدالله بن عمر او حضرت عمربن جموع) چې سره روڼه شوي ول، په يوه قبر کې ښخ کړئ[2].

*د نسبي رورلی پړی يوه ورځ شلېږي، (فَلَا أَنسَابَ بَيْنَهُمْ[3])؛ خو د ديني رورولی پړی ان د قيامت پر ورځ هم تړلی وي. (إِخْوَانًا عَلَى سُرُرٍ مُّتَقَابِلِينَ[4])

خورلنې د مؤمنو مېرمنو ترمنځ هم شته؛ لکه څنگه چې د اخوت تعبير د ښځو په هکله په يو بل ځای کې هم کارول شوی (وَإِن كَانُواْ إِخْوَةً رِّجَالاً وَنِسَاء[5])

*رورولي بايد يوازې د الله تعالی لپاره وي، که څوک له چا سره د نړۍ لپاره رور شي؛ نوخپل مطلب ته به و نه رسی او داسې روڼه به د قيامت پر ورځ يو د بل دښمنان وي[6].

قرآن عظيم الشأن وايي:

((الْأَخِلَّاء يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ[7]=پر هغه ورځ به بې له متقيانو (نور ټول) دوستان يو د بل دښمنان وي.))

*تر رور موندنې د رورلی پالنه مهمه ده. ډېرو روايتونو هغه کسان رټلي، چې خپل ديني روڼه يې پرېښي دي، ان سپارښتنه شوې، چې که روڼه دې له تا لرې شول؛ نو ته ځان مه ترې لرې کوه[8].

*روايتونه وايي: په ديني روڼو کې مو هغوی ته ډېر پام وسه، چې پخواني دي او که خطا ترې وشوه؛ نو خير دی، ته ورته څه مه وايه او که غواړې بې عيبه دينې رور پيدا کړئ؛ نو بې روره به پاتې شې[9].

---

[1] (بحار ۳۳۵/۳۸)

[2] (شرح ابن ابی الحديد ۲۱۴/۱٤ – بحار ۱۲۱/۲۰)

[3] (مؤمنون /۱۰۱)

[4] (مجر / ٤٧)

[5] (نساء / ۱۷٦)

[6] (بحار۷۴/ ۱٦۷)

[7] (زخرف/٦۷)

[8] (بحار۷۸/ ۷۱)

[9] (ميزان الحکمة)

*روايتونو د هغو کسانو د ثواب په هکله ډېر څه ويلي، چې د يو ديني رور ستونزه هواره کړي، ان ويلي يې دي، چې که چا د يو ديني رور ستونزه هواره کړه؛ نو الله تعالى به يې د قيامت پر ورځ زر ستونزې هوارې کړي[1].

*امام صادق وايي: مؤمن د مؤمن رور دی؛ لکه د يو بدن په څېر، چې که غړي يې پر درد شي؛ نو ټول بدن دردوي.

رحمان بابا وايي:

آدم زاد په مانا واړه يو صورت دی

هـــر چـــې بـل ازاروي هغه ازار شي

## د رورلۍ حقوق

*رسول صلی الله عليه و آله وسلم وويل: مسلمان پر خپل مسلمان رور دېرش حقونه لري، چې بايد پرځای يې کړي؛ لکه:

۱_ ښنه او لورنه . ۲ راز ساتنه. ۳-د تېروتنو جبران. ٤_ عذر منل. ۵_ د بدانو پر وړاندې يې دفاع. ٦_ خير غوښتنه. ۷_ پر ژمنه عمل. ۸_ د رنځورۍ پر يې مهال پوښتنه. ۹—د جنازې لمونځ. ۱۰_ د بلنې او ډالی منل. ۱۱- ډالۍ ورکول. ۱۲-د ښو چارو مننه. ۱۳- مرسته. ١٤- د حيا او ناموس ساتنه. ۱۵-د اړتيا پرمهال په کار راتلل. ١٦_ د ستونزو هوارې ته يې واسطه کېدل. ۱۷-که ورک وي لار ورښودل. ۱۸-پرنجې ته يې يرحمکم الله ويل. ۱۹-د سلام ځواب ورکول. ۲۰-د خبرې درناوی. ۱۲-له دوست سره يې دوست او له دښمن سره يې دښمن. ۲٤-په غم او ناوړه پېښو کې يې ځان ته نه پرېښوول. ۲۵-څه چې ځان ته خوښوي، هغه ته يې هم خوښ کړي او..... [2]

*په حديث کې راغلي: پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم، چې د (إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ) آيت ولوست؛ نو و يې ويل: ((د مسلمانانو وينه يو له بل سره برابره ده. که له مسلمانانو يو ساده تن هم ژمنه وکړه؛ نو بايد ټول ولاړ پرې وسئ، د ساري په ډول: که يو عادي مسلمان هم چا ته پناه يا امان ورکړ؛ نو ټول بايد پردې تړون ودرېږي او د شريک دښمن پر وړاندې سره يولاس شي. [3]

[1] (ميزان الحکمه)

[2] (بحار۷۴/ ۲۳٦)

[3] (تفسيرقمي ۷۳/۱)

*حضرت علي، کمیل ته وویل: هغه رور دې رور نه دی، چې ورسره مینه نه لرې[1].

*انسان په بشپړ ایمان کړای شي، د الله تعالی د اولیاوو په لیکه کې ودرېږي. (سَلمان مِنّا اهل البیت). (سلمان زما له کورنۍ څخه دی[2])؛ لکه څنګه چې په کفر، انسان له کړۍ ووځي؛ لکه الله تعالی، چې نوح علیه السلام ته یې د زوی په هکله وویل: (إِنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ[3]= هغه له تا څخه نه دی. )

## غوره او ښه رور

روایتونه غوره او ښه رور داسې ښیي: غوره او ښه رور هغه دی، چې خیر دې غواړي او زړه یې درباندې سوځي او ان پر تریو تندي دې د الله تعالی لاروۍ ته اړ کړي، ستونزې دې هوارې کړي او د الله تعالی لپاره درسره ملګری وي، کړه وړه یې ستا د ودې لامل شي، خبره یې ستا پوهه ډېره کړي، په تېروتنو پسې دې ولاړ نشي او که نیمګړتیا یې درکې ولیده، درته یې ووایي، پر ناسمه له تلو دې وساتي، مات مخی- حیاناک، رښتین او لمونځ ته د پام اړولو خوی ولري او په تنګسه او پراخۍ کې دې هېر نه کړي[4].

## په قرآن عظیم الشأن کې سوله

مؤمنان سره رونړه دي؛ نو د هغوی ترمنځ سوله او روغه وکړئ؛ نو څکه ښه به وي، چې پر روغه او سوله ړنا واچوو: په قرآن عظیم الشأن کې د سولې (وَالصُّلْحُ خَيْرٌ[5])، سموني (وَأَصْلِحُواْ ذَاتَ بِيْنِكُمْ[6])، د زړونو لاس ته راوړل (فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ[7])، (إِن يُرِيدَا إِصْلاَحًا يُوَفِّقِ اللّهُ بَيْنَهُمَا[8])، (ادْخُلُواْ فِي السِّلْمِ كَآفَّةً[9]) څرګندنې کارول شوي او دا ښیي، چې اسلام څومره په سوله کې ژوند ته ارزښت ورکوي.

---

[1] (تحف العقول، ۱۷۱مخ)

[2] (بحار ۱۰/۱۲۳مخ)

[3] (هود/ ٤٦)

[4] (میزان الحکمه)

[5] (نساء/ ۱۲۸)

[6] (انفال /۱)

[7] (آل عمران / ۱۰۳)

[8] (نساء/ ۳۵)

[9] (بقره /۲۰۸)

# د پخلاينې ارزښت

*د مسلمانانو د زړونو ترمنځ خوږلنی، له الهي نعمتونو څنې دی، چې الله تعالی په قرآن عظیم الشأن کې ویلي دي: (كُنتُمْ أَعْدَاء فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ[1]) یاد کړئ، چې تاسې تر اسلام مخکې یو له بل سره دښمنان وئ؛ لکه د "اوس" او د "خزرج" تېرونو ترمنځ، چې ۱۲۰ کلنه دښمني وه، چې د هغوی په منځ کې یې روغه او سوله وکړه.

په سوله او پخلاینه الله تعالی خوښېږي. ((وَإِن تُصْلِحُواْ وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ اللّهَ كَانَ غَفُوراً رَّحِيماً[2]) =او د روغې لار ونیسئ او پرهېزگاري وکړئ؛ نو بېشکه، الله تعالی ډېر ښونکی (او) مهربان دی.))

څوک چې د مسلمانانو ترمنځ منځګړتوب کوي؛ نو ثواب به یې ډېر وي. (وَمَن يَشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَكُن لَّهُ كِفْلٌ مِّنْهَا[3])

*اسلام په خلکو کې د سولې لپاره ځانګړي احکام لري؛ لکه:

۱ـ دروغ چې کبیره گناه ده، که د سولې او روغې لپاره وویل شي؛ نو گناه نه لري ((لا كِذبَ على المُصلح[4]))

۲ـ په غوږ کې پسپسکی شیطاني چار دی، چې د لیدونکیو په زړه کې شبهه اچوي، چې منع شوي ترې یو[5]؛ خو که د سولې او روغې لپاره وي؛ نو پروا نه لري. (لاَّ خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ إِلاَّ مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلاَحٍ بَيْنَ النَّاسِ[6])

۳ـ سره له دې چې پر قسم عمل کول فرض او ماتول یې حرام دي؛ خو که چا قسم خوړلی وي، چې نور به د چا په منځ کې سوله او روغه نه کوي؛ نو اسلام د داسې قسم ماتول جایز گڼلي دي. (وَلاَ تَجْعَلُواْ اللّهَ عُرْضَةً لِّأَيْمَانِكُمْ أَن تَبَرُّواْ وَتَتَّقُواْ وَتُصْلِحُواْ بَيْنَ النَّاسِ[7])

٤ـ سره له دې چې پر وصیت عمل فرض او پرېښوول یې حرام دي؛ خو که پر وصیت عمل کول په خلکو کې فتنه اچوي او ترمنځ یې اوبه خړوي؛ نو اسلام سولې ساتنې ته اجازه ورکوي، چې وصیت پرېښوول شي. (فَمَنْ خَافَ مِن مُّوصٍ جَنَفًا أَوْ إِثْمًا فَأَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلاَ إِثْمَ[8])

---

[1] (آل عمران /۱۰۳)

[2] (نساء /۱۲۹)

[3] (نساء /۸۵)

[4] (بحار ٦۹/ ۲٤۲)

[5] (مجادله /۱۰)

[6] (نساء / ۱۱٤)

[7] (بقره/ ۲۲٤)

[8] (بقره / ۱۸۲)

۵_ سره له دې چې د مسلمان وينه محترمه ده؛ خو که ځينې مسلمانان سرغړونه او جفا وکړي؛ نو د سولې [1]راوستو ته يې وژنه په کار ده. (فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي)

## د سولې او روغې راوستو د لارې خنډونه

دا خنډونه قرآن عظيم الشأن او روايتونو راښوولي دي.

**۱-شيطان:**

قرآن عظيم الشأن وايي: ((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ ادْخُلُواْ فِي السِّلْمِ كَآفَّةً وَلاَ تَتَّبِعُواْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ[2] =مؤمنانو! ټول د ايمان او اطاعت [اسلام] په وره ننوځئ او د شيطان پر ليکو مه ځئ، چې هغه مو ښکاره دښمن دی.))

((إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاء[3]= شيطان درسره د کينې او دښمنۍ اراده لري.))

**۲-کنجوسي:**

قرآن عظيم الشأن وايي: ((وَالصُّلْحُ خَيْرٌ وَأُحْضِرَتِ الأَنفُسُ الشُّحَّ[4]= سوله غوره ده، که څه ځينې حرص او کنجوسي کوي))

۳_ ځانمني او پيسمني - غرور هم کله د سولې او پخلاينې مخه نيسي.

## د الهي لورنو د لاملونو يوه څنډه

*که قرآن عظيم الشأن ته وکتل شي او يوازې د ((لعلکم ترحمون)) غونډله تر ځير لاندې ونيول شي؛ نو هغه لاملونه راښي، چې د الله تعالی رحمت راوروي؛ لکه:

۱ـــد الله تعالی، رسول او آسماني کتاب لاروي. (أَطِيعُواْ اللّهَ وَالرَّسُولَ[5]) (وَهَذَا كِتَابٌ.... فَاتَّبِعُوهُ.... لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ[6])

۲_ لمونځ او زکات ورکول. (وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ.... لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ [7])

---

[1] (حجرات/ ۹)

[2] (بقره/۲۰۸)

[3] (مائده/۹۱)

[4] (نساء/ ۱۲۸)

[5] (آل عمران/ ۱۲۳)

[6] (انعام/ ۱۵۵)

[7] (نور/ ۵٦)

٣_ د مسلمانانو په منځ کې سوله او روغه کول. (فَأَصْلِحُوا... لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ[١])
٤_ توبه ایستل. (لَوْلَا تَسْتَغْفِرُونَ اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ[٢])
٥_ د قرآن عظیم الشأن تلاوت ته غوږ ایښوول: (وَإِذَا قُرِئَ الْقرآن عظیم الشأن فَاسْتَمِعُواْ لَهُ.... لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ[٣])

## په روایتونو کې د الهي لورنو سرچینې

١_ د مؤمن رنځور پوښتنه: څوک چې د رنځورۍ پوښتې ته ولاړ؛ نو تر الهي رحمت لاندې به وي [٤].
٢_ له بېوزلیوسره مرسته کول: له بېوزلي سره مرسته وکړئ اوله دې لارې له خدایه رحمت وغواړئ [٥].
٣_ له اولادوالو کورنیو سره مرسته: په روایتونو کې ډېره سپارښتنه شوې، هغوی چې ډېرې لوڼې لري، په لورنه چلن ورسره وکړئ.
٤—دعا، لمونځ، پسته خبره او مسلمان ته غاړه او لاس ورکول [٦].
٥_ د خلکو د ستونزو هوارول: که څوک ستونزهواري ته په تاسې پسې راغی؛ نو مه یې نهیلوئ؛ ځکه د الله تعالی رحمت دی [٧].
((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَومٌ مِّن قَوْمٍ عَسَى أَن يَكُونُوا خَيْراً مِّنْهُمْ وَلَا نِسَاء مِّن نِّسَاء عَسَى أَن يَكُنَّ خَيْراً مِّنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الاِسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ= مؤمنانو! د نارینه وو کومه ډله دې پر بله ډله ملنډې نه وهي، ښایي [هغوی] تردې غوره وي او ښځې دې [پر نورو] ښځو (ملنډې نه وهي) ښایي [هغوی] تردې غوره وي او (تاسې) پخپلو کې یو د بل عیبونه مه لټوئ او یو بل په (ناوړه) نومونو مه یادوئ، تر ایمان راوړو روسته (پر چا) د فاسق نوم (ایښوول) بد چار دی! او څوک چې توبه و نه باسي؛ نو همدوی ظالمان دي.))

---

[١] (حجرات/١٠)
[٢] (نمل/٤٦)
[٣] (اعراف / ٢٠٤)
[٤] (وسایل ٤١٥/٢١)
[٥] (مستدرک٩/ ٥٤)
[٦] (وسائل ٣١/٧)
[٧] (کافي ٢/ ٢٠٦)

*د ((تمز)) څرگندنه - اصطلاح مخامخ بد رد ویلو او ((هتز)) پشي شا خبرو او بد ویلو ته وایي[1]. او ((تنابز)) نورو ته پر بدې نامې یا لقب غږ کولو ته وایي.

هو! د اسلام د احکامو د پلي کولو یو برکت د ټولنیز چاپېریال رغونه او له ملنډو او له بدو نامو اخستو مخنیوی دی.

۱_ پر الله تعالی ایمان، د الله تعالی پر بندگانوله ملنډو وهلو سره اړخ نه لگوي. (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ يَسْخَرْ)

۲_ څوک چې نور د خلکو له سپکاوی منع کوي؛ نو د منع کولو چاردود یې باید د سپکاوی له مخې نه وي . (لاَ يَسْخَرْ قَومٌ مِّن قَوْمٍ) او و یې نه ویل: (لاتسخروا)، چې مانا یې دا ده: تاسې ملنډې وهوونکي یاست.

۳—ملنډې وهل د فتنې، کینې او دښمنۍ کونجي ده. (لاَ يَسْخَرْ قَومٌ...)(له رورولۍ، سولې او روغې تر ویلو روسته له ملنډو منع شوې ده)

٤_ که یو چار مهم وي یا د مبلغ مخاطبان بېلابېلې ډلې وي؛ نو پوهېدو ته یې باید مطلبونه بېل بېل وویل شي . (قَومٌ مِّن قَوْمٍ.... وَلاَ نِسَاء مِّن نِّسَاء)

٥_ باید د خلکو د روزنې او ودې لپاره د فساد جرړې راونړول شي (عَسَى أَن يَكُنَّ خَيْرًا) (پر نورو د ملنډو وهلو جرړه په ځان غوره گڼلو کې ده، چې قرآن عظیم الشأن دا جړه رانړولې او وایي: ځان له نورو غوره مه گڼئ، کېدای شي تر تاسې غوره وي)

٦_ موږ د خلکو له باطنه خبر نه یو؛ نو ځکه ورمند- قضاوت مو باید د ظاهرو له مخې نه وي. (عَسَى أَن يَكُنَّ خَيْرًا...)

۷_ ټول خلک له یوې ختې دي، پر نورو ملنډې وهل پرځان ملنډې وهل دي. (وَلاَ تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ)

۸_ د نورو عیب ویل به یې د غچ په فکر کې کړي؛ نو هغوی به هم ستا عیب ووایي؛ نو د نورو عیب ویل، د خپل عیب راسپړل دي. (وَلاَ تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ)

۹_ ملنډه یو اړخیزه نه پاتېږي، ډېر ژر دوه اړخیزېږي. (وَلاَ تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ) (دواړو اړخونو ته راغلی دی)

[1] (لسان العرب)

۱۰_ د ملنډې وهلو او بدو نامو اخستو لپاره توبه ایستل په کار دي. (وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ)؛ البته توبه یوازې په خوله نه؛ بلکې باید د هغه درناوی وکړئ، چې سپکاوی یې مو کړی دی او د هغو توبه ځان سمونه ده، چې فساد یې کړی وي (تَابُواْ وَأَصْلَحُواْ وَبَيَّنُواْ[1])
۱۱_ ملنډې وهل، د نورو پر حریم او چاپېریال تېری دی؛ نو که ملنډې وهونکی توبه و نه کړي؛ نو ظالم دی. (فَأُوْلَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ)

## پر نورو ملنډې وهل

*ملنډې وهل خو خلکو ته یوازې یوه گناه ښکاري؛ خو په حقیقت کې څو گناوې دي؛ لکه: په ملنډو وهلو کې د بل سپکاوی، د نورو د عیب رابرسېرول، درز اوچول، غیبت، کینې، فتنې راپارونې او د غچ اخستو گناوې پکې وي.

## د ملنډو جرړې

۱_ کله ملنډې له شتمنۍ راولاړېږي، چې په دې باب، قرآن عظیم الشأن وایي:
((وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ. الَّذِي جَمَعَ مَالاً وَعَدَّدَهُ[2]= افسوس دې وي پر هر بد ژبي عیب لټوونکي (پېغور ورکوونکي)! هماغه چې ډېره شتمني یې راغونډه کړې او شمېرلې ده (بې له دې چې د روا او ناروا حساب یې کړی وي).
۲_ کله یې جرړه پوهه او علمي رتبې دي:
((فَرِحُوا بِمَا عِندَهُم مِّنَ الْعِلْمِ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُون[3]= نو پخپله پوهه یې ویاړل (او بې له هغه یې نور) هېڅ گڼل)؛ خو په هماغه څه (عذاب) کې راگېر شول، چې دوی ورپورې ټوکې کولې.))
۳_ کله یې جرړه په جسمي واک کې وي. کفارو به ویل: څوک دي، چې واک به یې تر موږ ډېر وي. (مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً[4])
٤_ کله پر نور د ملنډو وهلو جرړه ټولنیز موقعیت دی. کفارو به پر هغو بېوزلیو ملنډې وهلې، چې د انبیاوو لارویان ول او ویل یې: ((وَمَا نَرَاكَ اتَّبَعَكَ إِلاَّ الَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا[5]))

---

[1] (بقره/ ۱٦۰)
[2] (همزه/ ۱، ۲)
[3] (غافر /۸۳)
[4] (فصلت /۱٥)
[5] (هود/۲۷)

۵_ کله تفریح او ساتېري د ملنډو وهلو جرړه شي.
٦_ مال و مقام ته تمه درلودل، پر بل انسان نیوکه، د ملنډې پر بنه اړوي؛ د ساري په ډول: ځینو به پر رسول الله د زکات لپاره ملنډې وهلې.
قرآن عظیم الشأن وایي: ((وَمِنْهُم مَّن يَلْمِزُكَ فِي الصَّدَقَاتِ فَإِنْ أُعْطُواْ مِنْهَا رَضُواْ وَإِن لَّمْ يُعْطَوْاْ مِنهَا إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ[1]=[او له دوی ځینې د صدقاتو (او د غنیمتونو) په وېش کې پر تا نیوکې کوي، که دوی ته له دې (غنیمتونو څه برخه) ورکړه شي؛ نو خوښېږي او که ور نه کړای شي، غوسه کېږي (حق یې وي که نه وي)))
٧_ د ملنډو یوه جرړه ناپوهي ده. همداچې موسی علیه السلام د غوا د حلالو حکم ورکړ (نو) بني اسرائیلو وویل: ایا پر موږ ملنډې وهې؟ موسی (علیه السلام) وویل: ((أَعُوذُ بِاللّهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْجَاهِلِينَ[2]= زه له دې خپل الله ته پناه وړم، چې [هسې نه] له ناپوهانو وسم))؛ یعنې د ملنډو جرړه، په ناپوهۍ کې ده او زه ناپوهه نه یم.

## بېواکه سپکاوی

*امام صادق خپل یو یار وپوښت: څرنګه د خپل مال زکات ورکوې؟ و یې ویل: ما ته چې بېوزله راځي او زه زکات ورکوم.
امام: پوه شه، چې په دې کار دې د هغوی سپکاوی وکړ، کله هم بیا داسې و نه کړې؛ ځکه الله تعالی وایي: څوک چې مې دوست سپک کړي؛ نو ما ته د جګړې لپاره په کمین کې ناست دی.[3]

## د ملنډو درجې

*پر هغوی چې ملنډې وهل کېږي، چې څومره سپېڅلي وي؛ نو هومره پرې ملنډې وهل خطرناک وي.
قرآن عظیم الشأن وایي: ((أَبِاللّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ[4]= [ووایه"ایا له الله تعالی او د هغه له آیتونو او پېغمبر سره مو ټوکې کولې؟! "))

[1] (توبه/۵۸)
[2] (بقره/ ٦٧)
[3] (مستدرک ۹/ ۱۰۵)
[4] (توبه/٦۵)

*رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم د مکې د سوبې پر ورځ ټول وبښل؛ خو ملنډې وهونکي يې و نه بښل.
*په حديث کې راغلي: د الله تعالى د مؤمن بنده سپکاوی، له الله تعالى سره د جګړې اعلان دی[1].

## د ملنډو وهلو پايلې

آيتونه او روايتونه وايي: د ملنډې وهونکيو پای او عاقبت ډېر خراب دی.
الف: په مطففين سورت کې راغلي: هغوی چې په مؤمنانو پورې خاندي او سپکاوی يې کوي؛ نو د قيامت پر ورځ به يې جنتيان سپکاوی وکړي او ورپورې به خاندي.
((فَالْيَوْمَ الَّذِينَ آمَنُواْ مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ[2]) = نو نن مؤمنان په کفارو پورې خاندي.))
ب: کله پر ملنډې وهونکيو، په همدې نړۍ کې ملنډې وهل کېږي.
((إِن تَسْخَرُواْ مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ[3])
ج: د قيامت ورځ، د ملنډې وهونکيو لپاره د حسرت ستره ورځ ده.
((يَا حَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ مَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلاَّ كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُون[4]) =او پر (دې) بندګانو افسوس، چې (لارښوونې ته) يې هر استازی راغلی (نو) ټوکې او ملنډې يې ورپورې پرې کړې دي.))
د: په حديث کې راغلي: له ملنډه وهونکي څخه به په ډېره سخته او سخته بڼه ساه اوځي.
((ماتَ بِشَرّ مَيتَة[5]))
هه: امام صادق: هغوی چې پر مؤمنانو ملنډې وهي او يا يې په خبرو کې رادانګي، په حقيقت کې پر الله تعالى يې ملنډې وهلي دي[6].
*د رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم يو کار دا و، چې د هغو کسانو يا سيمو نومونه يې بدلول، چې نومونه يې بد و؛ ځکه پر بد نوم ملنډې وهل کېږي او سپکاوی يې کېږي[7].

---

[1] (وسايل ۱۲/ ۲۷۰)
[2] (مطففين/۳۴)
[3] (هود/۳۴)
[4] (يس/۳۰)
[5] (بحار ۷۲/ ۱٤٥)
[6] (وسايل ۱۲/۲۷۰)
[7] (اسدالغابه ۳/۷٦ – ۴/ ۳٦۲)

* حضرت عقیل د حضرت علي رور، حضرت معاویه بن ابي سفیان ته ورغی، حضرت معاویه بن ابي سفیان ورته په ملنډو وویل: درود دي پر هغه وي، چې تره یې ابو لهب په قرآن عظیم الشأن کې لعنت شوی دی. عقیل هم ژر ځواب ورکړ: پر هغه دې درود وي، چې ترور یې ((حمالة الحطب)) وي. (؛ یعني د ابولهب ښځه د حضرت معاویه ترور وه [1])

## د رسول الله ځانګړنې

رسول الله د چا په مخ کې خپلې جامې نه ایستې.
د چا په مخ کې یې پښې نه غځولې.
په ورین تندي یې خبرې کولې او ټولو ته یې پام و.
کله به یې د مطلب د ښه پوهاوي لپاره درې ځل تکراروه. [2]
ان ماشومانو او ښځمنو ته یې په درناوي غږ او ځواب ورکاوه. [3]
د رنځورانو پوښتنه یې کوله او ډاډ یې ورکاوه. [4]
له کوره د وتو پر مهال یې ځان سینګاراوه. [5]
نېکچاریو ته یې انعام ورکاوه؛ یوه ورځ یې یو سړی پر لمانځه ولید، چې په خورا له مانا په ډکو غونډلو له الله تعالی سره راز و نیاز کوي. و یې ویل: لمونځ یې چې پای ته ورسېد؛ نو ما ته یې راوړئ. چې راغی، آنحضرت د سرو زرو یوه سیکه ورکړه و یې ویل: ((وهبت لک الذهب لحسن ثنائک علی الله))[6] داچې ښه حال دې درلود او ښه دې الله تعالی ستایه؛ نو دا سیکه دربښم.
تر خوړو او څښلو مخکې یې "بسم الله" ویله او روسته یې ترې "الحمد الله" ویله. [7]
ناسته پاسته یې د الله تعالی له ذکر سره وه.

---

[1] (بحار ۴۲/ ۱۱۲۰ - الغارات ۳۸۰/۲)
[2]. اخلاق نبوي، ۲۵ مخ.
[3]. سنن النبي، ۵۳ مخ.
[4]. مکارم الاخلاق، ۳۵۹ مخ.
[5]. سنن النبي، ٤۲ مخ.
[6]. حیاة الحیوان ۶۳/۲
[7] بحار ۳۳۵/۱۵

یوه ورځ یې یو کارګر ولید، چې د ډېر کار له لامله تناکې پرې راختلې دي؛ نو د هغه لاس یې ښکل کړ.[1]

د هغو وګړیو یې ډېر درناوی کاوه، چې خلکو یې درناوی کاوه او کله یې د چارو واګې هماغې وګړي ته ورسپارلې.

د بدو چاریو او نېکچاریو په اړه بې توپیره نه و؛ بلکې هم هڅاندی و او هم نیوکه کونکی.

د خلکو له ښیون سره یې دومره مینه درلوده، چې زړه یې سوځېده، چې آیت راغی، چې قرآن عظیم الشأن مو ددې لپاره نه دی درلېږلی، چې ځان وکړوې (ما انزلنا علیک القرآن عظیم الشأن لتشقی).

په غونډه کې یې له بېل بېل وګړي سره داسې بنډار کاوه، چې هر چا به ننګېرل، چې تر ټولو پیغمبر ته نږدې یم.

کله به ځینو یارانو ترې غوښتل، چې خپلو دښمنانو ته ښېراوې وکړي؛ خو آنحضرت ښېراوې ورته نه کولې او تل یې دعا دا وه، چې خدایه دا خلک هدایت کړې.

تر شوني بریده یې سوالګر ته منفي ځواب نه ورکاوه، ان یوه ورځ یوې ښځې خپل زوی رسول الله ته راولېږه، و یې ویل: آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم ته ووایه، خپل کمیس مو را ته راکړي او آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم هم ورکړ؛ خو آیت راغی: ((لا تبسطها کل البسط))[2] حق نه لرې، هر هغه څه چې لرې، د الله تعالی په لار کې یې انفاق کړې.

په غونډو کې ګرد کېناستل.

د قانون په پلي کولو کې یې په چا کې توپیر نه کاوه.

رسول الله د اسیرانو او مریانو په اړه خورا سپارښتنې کولې او له یوې اسیرې مېرمنې سره یې واده وکړ، چې په دې عمل یې د خلکو مینه اسیرانو ته راماته کړه او ډېرو مسلمانانو، ډېر بندیان ازاد کړل.

د الله تعالی استازي به ویل: هماغه خواړه او جامې ورکړئ، چې په خپله هم ګټنه ترې کوئ او په پتمنو کلمو نوم ورته واخلئ، چې د پتمنی احساس وکړي او خپه نشي.

له شتمن او نشتمن سره یو شان چلېده. په خبرو اترو کې یې له شخړو او بې ځایه خبرو ډډه کوله او د خلکو په نیمګړتیا راسپړنې پسې نه و.

رسول الله د هر افراط و تفریط مخنیوی کاوه.

---

[1]. سیره نبوي، مصطفی دلشاد، چې هغه هم له "العمل و حقوق العامل فی الاسلام ۳۰۵ مخه اخستی دی.

[2]. طه/۲

۱-وا يې وربدل، چې يو سړي د اولاد په درلودو خپله ټوله شتمني وقف کړې او خپل اولاد ته يې ميراث نه دی پرېښی؛ نو خپه شو، و يې ويل: دا افراط کاري سمه نه ده.
۲-وا يې وربدل، چې ځينو يارانو يې خوب، خوراک او کوروالی پرېښی او پر عبادتونو بوخت شوي؛ نو ټول يې راوغوښتل او ددې چار له لامله يې ورټل.
۳-وا يې وربدل، چې يوه ښځه يې په جګړه کې اسيره کړې او تر اسارت روسته د خپل مېړه مړی ورښوول شوی، چې د ښځې زړه ښه وسوځوي؛ نو خورا خپه شو، و يې ويل: که څه د دښمن او کافر مېرمن ده او له موږ سره جګړې ته راغلې او زموږ کوټلې دښمنه ده؛ خو اوس، چې اسيره شوې؛ نو بايد موږ په عدالت چلن ورسره وکړو او د مېړه د مړي په مخ کې ددې ښځې تېرول، له عدالته لرې چلن و.

## د شپې لمونځ

د شپې د لمانځه لپاره خورا فضايل او ځانګړې سپارښتنې راغلي او سره له دې چې د ځينو چارو ثواب دوه ګرايه[1] يا څو ګرايه[2] يا لس ګرايه راغلي او تر ټولو ډېر ثواب، د الله تعالی په لار کې انفاق ته ويل شوی؛ تردې چې قرآن عظيم الشأن د ثواب او ودې لپاره انفاق کوي او د الله تعالی په لار کې انفاق، د هغه تخم په څېر دی، چې وکرل شي او اووه وږي ترې راټوکېږي او په هر وږي کې سل دانې وي[3]؛ يعنې تر اووه سوه ګرايه ثواب يې ورته ويلی؛ خو همداچې د شپې د پاڅېدو خبره شي؛ نو وايي: څوک يې له ثوابه خبر نه دي[4]؛ يعنې ثواب څو ګرايه او له اووه سوه ګرايه سره برابر دی.
په روايتونو کې راغلي: د شپې لمونځ د ورځې د ګناهونو د ښنل کېدو، رزق ډېرېدو، د بدن د روغتيا او د قبر د رڼا لامل دی.[5] د ورځې له تېروتنو او ګناهونو د شپې لمونځ مخنيوی کوي.[6]

---

[1]. په قرآن کې د ضعف کلمه د دوه ګرايه په مانا دی.
[2]. په قرآن کې د اضعاف کلمه د څو ګرايه په مانا دی.
[3]. (کمثل حبة انبتت سبع سنابل) بقره/۲۶۱
[4]. (فلا تعلم نفس ما اخفی لهم.....) سجده /۱۷
[5]. سفينة البحار
[6]. بحارالانوار ۱۴۵/۸۷.

که څه په قرآن عظیم الشأن کې د فجر پر راختو، پر سهار، پر مازیګر، پر شپه او پر ورځ قسم یاد شوی؛ خو پر سهار درې ځل قسم یاد شوی دی. (و اللیل اذا یسر[1])، (واللیل اذا عسعس)[2] او (واللیل اذ ادبر)[3].

هو! شپه او سهار د عبادت لپاره غوره وختونه دي او سره له دې چې حضرت موسی علیه السلام په طور غره کې درې شپې ورځې و؛ خو الله تعالی وايي: دېرش شپې (ثلاثین لیلة)؛ ځکه په شپه کې عبادت ځانګړی ثواب او مقام لري.

قرآن عظیم الشأن، رسول الله ته د شپې د لمانځه لپاره د قیام حکم ورکوي (قم اللیل).

هو! مشر باید خپل استراحت کم کړي او له تضرع سره په نښلون، ځان د ورځې درنو مسوولیتونو ته چمتو کړي؛ نو ځکه رسول الله درې ځل پرلپسې علي ته د شپې د لمانځه سپارښته کوي: ((علیک بصلاة اللیل، علیک بصلاة اللیل، علیک بصلاة اللیل.))[4]

په بل حدیث کې راغلي: بې برخې هغه دی، چې د شپې له لمانځه بې برخې وي.[5]

په بل روایت کې راغلي: متعال الله تعالی، حضرت موسی ته وايي: دورغ وايي هغه چې انګېري، له ماسره مینه کوي؛ خو د شپې له ما سره د خبرو پر ځای ویده وي "[6] او په شپه کې دوه رکعته لمونځ الله تعالی ته تر هر څه غوره ده.[7]

## د الله تعالی شکر په څه کې دی؟

د الله تعالی شکر کله په ژبه وي او کله په عمل. د بېلګې په توګه: د سترګو له لامله عملي شکر دادی، چې د پاکوالي یې خیال وساتو او پر چټلو اوبو یې پرېنمنځو او بسیا رڼا ور و رسوو، په خپلو سترګو ګناه و نه کړو. مور و پلار ته په مینه کتنه، قرآن عظیم الشأن، کعبې او دیني عالمانو او مشرانو ته په مینه کتل هم عبادت دی.

---

[1] (فجر/٤)

[2]. تکویر /١٧

[3]. مدثر/٣٣

[4]. وسائل الشیعه ٢٦٨/٥.

[5]. بحارالانوا ر ١٤٦/٨٧

[6]. اعلام الدین، دیلمي، ٢٦٣ مخ

[7]. علل الشرایع، ٣٦٣ مخ.

قرآن عظیم الشأن وايي: ((فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ. الَّذِي أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ وَآمَنَهُم مِّنْ خَوْفٍ[1]= نو (ددې ستر نعمت په شکرانه کې) باید ددې خونې (کعبې) د پالونکي عبادت وکړي؛ هماغه (الله تعالی) چې له لوږې یې وژغورل (او خواړه یې ورکړل) او له وېرې او ناامنۍ یې (خوندي او) ډاډمن کړل.))

لمونځ تر ټولو ستر عملي شکر دی، چې په ټولو ادیانو کې و. رسول الله وایي: ((په هغه دین کې خیر نه وي، چې لمونځ پکې نه وي.))

په رښتیا، که لمونځ نه وي؛ نو ښېګنې به اغېز نه لري؛ لکه څنګه چې که تار نه وي؛ نو ستنه ګټه نه لري.

راشئ هره ورځ، څو شیبې له الله تعالی سره خبرې وکړو او د زړه خال ورته ووایو. په رښتیا آیا کله مو فکر کړی، چې له هر چا سره خبرې کوو؛ خو له الله تعالی سره د خبرو لپاره وخت نه لرو؟ که موږ له الله تعالی سره مینه لرو؛ نو باید لمونځ وکړو؛ ځکه هر عاشق غواړي له خپل معشوق سره خبرې وکړي.

داچې ټولو یو شان وکړای شي، له الله تعالی سره خبرې وکړي؛ نو الله تعالی لارښوونه ورته کړې، چې ټول مخ په قبله، په یوه ژبه لمونځ وکړئ او دا لمونځ به هله زموږ د پرمختګ لامل شي، چې د جومات په څېر په سپېڅلي ځای او په وخت ترسره شي او که لمونځ نعمت وي؛ نو له لمانځه سره، له بېوزلیو سره مرسته خو "نعمت الله خان" دی.

څوک چې لمونځ کوي؛ نو له تر ټولو ستر ځواکمن سره په اړیکه کې دی او هغه چې له الله تعالی سره په اړیکه کې وي؛ نو وېره یې له څه ده؟

قرآن عظیم الشأن وایي: (و استعینو بالصبر و الصلاة [2])؛ یعنې له صبر او لمانځه مرسته وغواړئ. د الله تعالی استازي ته به چې کومه ستونزه ورپېښه شوه؛ نو له لمانځه یې مرسته غوښته. لمونځ دومره ارزښت لري، چې په کربلا کې د عاشورا پر ورځ امام حسین د دښمن تر غشیو لاندې په خپل وخت لمونځ وکړ.

## د حکمت پوهنتون

اخلاص هغه پوهنتون دی، چې په ځلوېښت ورځو کې انسانانو ته برې لیک ورکوي او د حکمت لوړو پړاوونو ته یې رسوي. رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وایي: ((څوک چې

---

[1] (قریش ۳-٤)

[2] (بقره /٤٥)

ځلوېښت شپو او ورځو ته خپلې ټولې چارې د الله تعالی لپاره وکړي؛ نو د حکمت چينې به يې له زړه پر خولې را وبهېږي. [1]))

## د اخلاص جرړه

رياکار د يقين پړاو ته نه دی رسېدلی. حضرت علي وايي: ((اخلاص د ډاډ پايله ده. [2]))
شونې ده انسان پر الله تعالی، قيامت او اجر پوهه او علم ولري؛ خو که د انسان دا علم او پوهه د يقين پړاو ته و نه رسي؛ نو رغنده اغيزې نه لري. ټول پوهېږو، چې مړی هېڅ کار نشي کړای؛ خو ډېر خلک ترې وېرېږي. رياکار که څه پر الله تعالی، قيامت، حساب و کتاب پوه دی؛ خو که د يقين پړاو ته نه وي رسېدلای؛ نو له اخلاصه لرې کېږي. دا يقين په ډېرو عبادتونو لاس ته راځي. قرآن عظيم الشأن وايي: ((وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّى يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ-[3] او د يقين [= مرگ] د رارسېدو تر وخته پورې خپل پالونکی ولمانځه.))
که دا يقين مو پيدا کړ، چې ټول عالم د الله تعالی محضر دی، عزت او ذلت يې په لاس کې دی، نړۍ او د هغې شيبې لنډې او غولېدونکې دي؛ نو په عمل کې به اخلاص ته ورننوځو.

## د اخلاص نښې

ډېر وگړي شته چې ځان په نيت او عمل کې مخلص بولي؛ خو که ځير شي؛ نو په خپلو چارو کې به غير الهي نيتوته ووينې. له همدې مخې، د قرآن عظيم الشأن او حديث پر بنسټ د اخلاص ځينو نښو ته اشاره کوو.
۱_ له نورو تمه نه درلودل
قرآن عظيم الشأن په دې اړه ښېلگه راوړي او هغه د حضرت علي او فاطمې بي بي د روژه ماتي د خوړو ورکړه ده. امام حسن او امام حسين په کوشنيان ول، چې رنځور شول. رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم او اصحاب کرام يې پوښتنې ته ورغلل، و يې ويل: د ماشومانو روغتيا ته دې نذر وکړي. نذر يې وکړ، که امام حسن او امام حسين روغ شول؛ نو درې ورځې به روژه شي.

---

[1] (جامع السادات، ۲/ ۷۷)
[2] (فهرست غررالحکم)
[3] (حجر/۹۹)

الله تعالی دواړه روغ کړل، حضرت علي او فاطمه بي بي روژه شول، د روژه ماتي په لومړۍ ورځ، یو بېوزله راغی او خواړه یې ورکړل او په اوبو یې روژه ماته کړه، پر دویمه او درېیمه ورځ هم همدا شان وشول او دې کورنۍ، چې درې ورځې یې بې خوړو روژه نیولې وه، رنګونه یې واوختل او رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ته ورغلل؛ نو د "دهر" سورت نازل شو.
((إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لاَ نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَاءً وَلاَ شُكُوراً [1]- (او وايي:) موږ يوازې د الله تعالی لپاره خواړه درکوو (او) له تاسې هېڅ بدله او مننه نه غواړو.))
دوی د الله تعالی لپاره دا کار وکړ او خپل په زړه پورې خواړه یې بېوزلو ته ورکړل، د مېلمنو له بیا بیا راتګه ستړي نشول او له هغوی یې څه تمه هم نه درلوده. شونې ده انسان بې پیسو کوم کار وکړي؛ خو غواړي په ټولنه کې مشهور شي. کله انسان پر ژبه د اجر او ثواب تمه نه لري؛ خو په زړه کې یې لري.
که د انسان د ښو چارو قدرمني ونشي او که د مقام په انډول یې درناوی یې ونشي؛ نو خپه کېږي، دا د اخلاص نښې نه دي. مخلص هغه دی، چې د خلکو نیوکه او ستاینه یې په عمل کې بې اغېزې وي او انسان بې له دې هر څه، پر خپله دنده او تکلیف عمل وکړي.
۲- عنوان او مقام ته نه؛ بلکې دندې او مکلفیت ته پاملرنه
د اخلاص بله نښه دا ده، چې په عمل کې په داسې کار پسې ولاړ شي، چې لازم او اړین وي او د دندې او مکلفیت بڼه ولري، که څه دا کار، انسان ته مقام، پیسې، څوکالي او ټولنیز اعتبار و نه لري. د ساري په ډول: لکه په روسته پاتې سیمو کې د خلکو چوپړ کول او همداراز هغه چارې کول، چې په ټولنه کې ډېرې مطرح نه دي؛ خو چې د دندې او مکلفیت بڼه لري.
۳_ له کاره پښېمانېدل
څوک چې الله تعالی ته کار کوي او له چا تمه نه لري، کله هم له خپل کاره نه پښیمانېږي؛ ځکه کار یې الله تعالی ته کړی؛ که مطلوبه پایله یې ورکړې وي که نه؛ خو خپل اجر یې وړی دی. که د الله تعالی لپاره د مؤمن یا رنځور لیدنې ته تللی وي او هغه په کور کې نه وي یا یې و نه ګوري؛ نو نه پښیمانېږي؛ ځکه ثواب یې وړی. که موږ هره ورځ له درناویو، روغبړ، چوپړونو او مرستو پښېمانه شوي یو؛ نو باید الله تعالی ته د نږدېدنې په موخه کې له سره کتنه وکړو.
٤_ د خلکو هرکلی یا بې پروایي

---

[1] (انسان/۹)

که خلک د عمل په کولو کې، له اخلاصمن هرکلی وکړي او یا یې پروا و نه کړي؛ نو اخلاص کوونکي ته کومه پروا نه لري؛ ځکه د هغه په نظر کې ستاینه او نیوکه یو شان ده. که څوک د خلکو په هرکلي خوشحاله شو او په بې پروایي یې خپه شو؛ نو دا د اخلاص د کمزورتیا نښه ده. شونې ده څوک داسې مخونه راوړي؛ ځکه خوشحاله دی، چې خلک د حق گرچاپېره راټول شوي او خپه ځکه دی، چې خلک د دین او ایمان په اړه بې پروا شوي؛ خو باید ددې مخونې په ترخ کې ولیدل شي، چې په زړه کې یې څه تېرېږي؟

حضرت علي وايي: ((ريا کار درې نښې لري: چې ځان ته وي؛ نو سستړی او بې حاله وي، چې په خلکو کې وي؛ نو خوشحاله وي، که ستاینه یې وشي، ډېر کار کوي او که بد یې وویل شي؛ نو کم کار کوي.[1]))

۵- د نیت او عمل تداوم

مخلص انسان د چاپېريال، شرایطو، ددې او هغې له خوښې نه؛ بلکې له الهي دندې او مکلفیته جوړ شوی؛ ځکه څه چې دنده او مکلفیت وي، تل یې کوي او له تکراره یې نه ستړی کېږي. شونې ده د جسمي زړښت له کبله، لږ کار وکړي؛ خو د نیت خوځښت او گړندیتوب یې نه بدلېږي.

٦_ د مال او مقام نه خنډوالی

د دندې او مکلفیت په کولو کې، مقام او مال مخلص ته خنډ نه گرځي، ان ځان د مکلفیت او دندې په لار کې بلهاروي او له خپلو غوښتنو هم تېرېږي. که د دندې په کولو کې مال، مقام، خپلوان او انډیوالان خنډ وگرځېدل؛ نو اخلاص، پښې سپکوي. قرآن عظیم الشأن وايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَتَتَّخِذُوا آبَاءَكُمْ وَإِخْوَانَكُمْ أَوْلِيَاءَ إِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ عَلَى الْإِيمَانِ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِنكُمْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ[2]= مؤمنانو! که ستاسې پلرونه او رونه، کفر تر ایمان غوره وبولي؛ نو هغوی خپل دوستان مه نیسئ او له تاسې چې چا دوستي ورسره وکړه؛ نو همدوی ظالمان دي.))

مخلص انسان د ځای، وخت، کور، ځېرې او ښځې/ مېړه بندیوان نه وي؛ یوازې د الله تعالی خوښي یې په پام کې وي.

وايي پر اس سپور سړی ویالې ته راورسېد، هر کار یې چې وکړ، اس یې هم وواهه؛ خو اس اوبو ته ورگډ نشو، خپله کس اوبو ته ورگډ شو، اس یې راښکود؛ خو بیا هم اس ورگډ نشو. یو

[1] (محجة البيضاء، ٦ / ١٤٤)

[2] (توبه/٢٣)

حکیم وویل: په بېلچه اوبه خړې کړه، چې اس واوړي. دا کار یې وکړ او اس له ویالې تېر شو. سړي له حکیمه ددې چار دلیل وپوښت، و یې ویل: اس، چې په رڼو اوبو کې خپل انځور ولید؛ نو چمتو نه و، و یې لتاړي او چې خړې شوې؛ نو تېر ترې شو.
هو! څوک چې ځانمنی وي او له خپل مال، مقام او اولاد سره بې ځایه او بې بریده مینه کوي، مخلصېدای نشي او باید د اخلاص په لار کې له هر څه تېر شي.
۷_ د باطن او ظاهر یووالی
ممکن انسان په ښکاره یو څه وي او په پټه بل څه، چې دا ریا ده. حضرت علي وایي: ((د چا چې ښکاره او پټ یو وي، خبرې او عمل یې یو شان وي؛ نو الهي امانت یې پر ځای کړی او عبادت یې خالص ترسره کړی.))
مخلص انسان هرڅه الله تعالی ته کوي او په دې لار کې له بل څه نه وېرېږي.
((يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلاَ يَخَافُونَ لَوْمَةَ لاَئِمٍ[1]= د الله تعالی په لار کې جهاد کوي او د هېڅ ملامتوونکي له پړې اچولو نه وېرېږي.))
۸_ د ډلې لقب نه درلودل
اخلاص؛ انسان په هر ځای کې تلپاتې زیار ته رابولي. مخلص انسان ځانګړې ډلې ته کار نه کوي او په دې اړه تعصب هم نه لري. که یوه ډله یې باطله ولیده، ردوي یې او له شرکه ډکې له توکمیز، ټبریز او سمتي ډلو ټپلو ځان ژغوري. قرآن عظیم الشأن وایي:
((وَقَالَتِ الْيَهُودُ لَيْسَتِ النَّصَارَى عَلَى شَيْءٍ وَقَالَتِ النَّصَارَى لَيْسَتِ الْيَهُودُ عَلَى شَيْءٍ[2]= او یهودیانو وویل: ((مسیحیان (د الله تعالی په نزد) هېڅ مقام نه لري)). او همداراز مسیحیانو وویل: ((یهودیان هېڅ مقام نه لري (او پر باطلو دي)))
که یوه ډله یا ګونده په حقه و؛ نو باید ملاتړ یې وشي.
۹_ د هر نا ترسره شوي کار هرکلی
که څوک اخلاص ولري؛ نو انسان دې په ناترسره شویو کارونو پسې ولاړ شي او شونې ده دا کار نامه او ډوډۍ هم و نه لري. مخلص وګړي، د پاتې شویو چارو غځوالي او کوشنیوالي ته نه ګوري او ګروهن دي، الله تعالی کوشنیو چارو ته هم ستر اجر و ثواب ورکوي.
۱۰_ له ټېروتنې سرغړونه

---

[1] (مایده/۵۴)

[2] (بقره/۱۱۳)

ځوک چې په خپله تېروتنه ټینګار کوي؛ نو مخلص نه دی. مخلص، چې پوه شي، کار بله غوره لار هم لري؛ نو له ناسمې لارې سرغړونه کوي او یا هم کار هغه ته ورکوي، چې تر ده پرې ښه پوهېږي.
ډېر داسې وګړي شته چې یوې مودې ته په تېروتنه کې روان وي، چې پوه هم شي؛ نو نه چمتو کېږي، چې لاس ترې ووینځي او دا کار یو ډول پرشا تګ ورته ښکاري؛ حال دا، پر تېروتنې ټینګار، ستره ماتې ده، مخلص وګړي، د سترې حوصلې او پراخ ټټر خاوندان وي او همدغه ځانګړنه یې د نورو له سپکاوي او د خپل ځان له سپکېدو ژغوري.

## د اخلاص پایله

له الله تعالی سره خالصانه اړیکې، انسان ته دننۍ رڼا او ځلا وربښي او په ستونزو او کړاوونو کې یې لارښوونه کوي. حضرت علي وایي: ((چې زړه ته خلوص راشي؛ نو ځلا یې هم مل وي. [1]))
قرآن عظیم الشأن دا چار، د تقوا پایله بولي، وایي: ((وَیَجْعَل لَکُمْ نُوراً تَمْشُونَ بِه[2] =او تاسې ته به رڼا درکړي، چې پرې به ځئ.))
اخلاص، تقوا او له نفساني غوښتنو لرېوالی، د انسان لید لاپسې رڼوي او له تېرو، ناپوهۍ او شرکه یې ژغوري او توحید، علم او رڼا ته یې ورسیخوي. ځوک چې اخلاص لري؛ نو نېکمرغۍ او بریا ته رسي. اخلاص ځانګړې ارزښت لري او په عین حال کې ډېر ستونزمن چار هم دی. امام زین العابدین د رمضان میاشت په سحر دعاوو کې وایي: ((خدایه! زړه مې له نفاق او عمل مې له ریا پاک کړې.))
امام حسین په عرفې دعا کې، په عمل کې له الله تعالی اخلاص غواړي.

## په ټولنه کې اخلاص

ارزښتمن او مطلوب اخلاص هغه دی، چې له ټولنیزو کړنو او دندو سره مل وي. ځینې اخلاص له خلکو ډډه، لرېوالی او ګوښېدل ګڼي. الله تعالی، پاکې شیدې له خوړو او وینې پیدا کړې.

---

[1] (غررالحکم، د خلص کلمه، ۹۳مخ)
[2] (حدید/۲۸)

((وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً نُسْقِيكُم مِمَّا فِي بُطُونِهِ مِن بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ لَّبَناً خَالِصاً سَائِغاً لِلشَّارِبِينَ[1]= او بېشکه تاسې ته په څارويو کې عبرت (سبق) دی، د هغوی له ګېډو، د هضمو شويو خوړو او وينې ترمنځ پر تاسې سوچه شيدې څښو، چې څښونکيو ته خوندور دي.))

انسان دې هم د چاپېريال له ځتليو تېر شي او خپل ځان پاک او سوتره وساتي، نيت او عمل له ريا او شرک پاک کړي او پاک سوتره او نره ترې رابهر شي؛ نو دا ډول اخلاص، مهم او ارزښتمن دی. مخلص انسان د خپل ځان ټول واک الله تعالی ته ورکوي او له زړه، د هغه د مينې کور جوړوي او الهي نيت، پر خپلو ټولو کړنو او چلن واکمنوي او له دې لارې، عزت او سر لوړی ته رسي.

## سلام

سلام، بې له لمانځه په اسلامي ټولنو کې د مسلمانانو په چلن کې يو ډول ادب او اخلاق شمېرل کېږي. دا کار د زړونو په منځ کې دوستي او مينه لاپسې ډېروي، هم د تواضع نښه ده او اجر هم لري. الله تعالی پر جنتيانو سلام وايي.

((سَلاَمٌ قَوْلاً مِن رَّبٍّ رَّحِيمٍ[2]=(پرتاسې) سلام، (دا) د لوروونکي پالونکي له لوري خبره ده.))

الله تعالی، رسول الله ته حکم کوي، چې له نورو مؤمنانو سره په مخېدو کې سلام وکړي.

پرښتې هم پر بريمنو سلام وايي.

((سَلاَمٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ[3]=(او هغوی ته به ووايي:) ستاسې د زغم له لامله دې پر تاسې سلامتيا وي! نو څه ښه ده دغه ښه پايله! جنتيان هم يو پر بل سلام کوي.))

((تَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلاَمٌ [4]-او هلته د ((سلام)) په ويلو يو د بل هرکلي کوي.))

دا خو په آيتونو کې سلام و اوس يې په روايتونو کې څېړو، د سلام د اجر او ثواب په هکله ډېر حديثونه راغلي.

تر ټولو کنجوس هغه دی، چې په سلام اچولو کې کنجوس وي.[5]

امام صادق پر هر چا سلام کاوه، د کبر د نه درلودو او تواضع او عاجزۍ نښه ګڼي.[6]

---

[1] (نحل /٦٦)

[2] (يس / ٥٨)

[3] (رعد/٢۴)

[4] (ابراهيم/٢٣)

[5] (بحارالانوار٧٣/۴)

[6]) بحارالانوار٧٣/٣)

کله سلام اچول د هڅوني او تشويق وزله وي او نه کول يې، يو ډول له بديو منع شمېرل کېږي.
رسول الله وايي: ((پر مستو، بوت جوړونکيوو او جوارگرو سلام مه کوئ [1].))
په روايت کې راغلي: د رسول الله اخلاقو او د الله تعالی پيرزوينې ته نږدې وگړي هغه دي، چې لومړی سلام واچوي [2].
امام رضا وايي: ((څوک چې د سلام په اچولو او د سلام د ځواب په ورکړه کې د نشتمن او شتمن ترمنځ توپير وکړي، الله تعالی به يې په قيامت کې په عذاب کړي [3].))
که څه سلام کول مستحب دي؛ خو ځواب يې فرض دی اوغوره ده، د سلام ځواب په ښه توگه ورکړای شي، قرآن عظيم الشأن وايي:
((وَإِذَا حُيِّيْتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا[4]= ((او څوك چې درباندې تحيت (درود) ووايي (سلام وکړي)؛ نو په غوره توگه ځواب ورکړئ يا (لږ تر لږه) په هماغه شان ځواب ورکړئ.))
سلام اچول، عزت او محبوبيت رامنځ ته کوي. رسول الله ، ان پر کوشنيانو هم سلام اچاوه او پردې کار وياړېده هم. [5]
په حديث کې راغلي: يو سلام ته اويا ثوابونه ليکل کېږي، چې ٦٩ يې سلام اچونکي ته او يو اجر يې ځواب ورکوونکي ته ليکل کېږي.
قرآن عظيم الشأن حکم کړی: ((فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتاً فَسَلِّمُوا عَلَى أَنفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً[6]= ((نو (ښوول شويو) کورنو ته چې ننوځئ؛ نو پر خپلو ځانو سلام واچوئ، چې دا د الله له لوري برکتناکه او پاکه د خير دعا ده.))
د امام حسين لمسی امام باقر د دې آيت په تفسير کې وايي: ((مطلب يې دادی، چې په کور کې پر ناستو خلکو سلام واچوئ. [7]))؛ ځکه ښځه او اولاد د انسان ځان دي او دا شان چلن، د قرآن عظيم الشأن له پلوه پاک او مبارک دی او په ژوند کې د مينې او محبت نښه ده او تړولې سترياوې، له منځه وړي که څه سلام اچول ننگ او عار نه؛ بلکې وياړ دی؛ خو غوره ده، کشر

---

[1] (بحارالانوار ٧٣ – ص ٨)
[2]) بحارالانوار ج ٧٣-١٢)
[3]) قصارا بحمل ج—١-٣٢١)
[4] (نساء/٨٦)
[5] (بحارالانوار ٧٣- ١٠)
[6] (نور/٦١)
[7] (تفسيرنمونه ١٤/٥٥٤)

پر مشر، روان پر ولاړ او وړه ډله پر غټې سلام واچوي. حضرت علي کرم الله وجهه وايي: ((رسول الله پر ښځو او نرانو سلام اچاوه.))؛ خو حضرت علي خپله پر ځوانو ښځو سلام نه اچاوه او ويل يې: ((وېرېږم مخکې تردې چې د سلام اجر ونيسم، نرم ځواب يې پر ما اغېز وکړي.)) علامه مجلسي ددې حديث په توضيح کې ليکي: دا کارونه حضرت علي، د امت د ښوونې لپاره کول، چې خلک له ځوانو ښځو سره اړيکې سستې او لږې کړي، که نه معصوم امام کله هم پر وسوسو نه اخته کېږي.

## له کړلاريو د ژغورل کېدو لار اندنه ده

د زمر سورت د شپږم آيت په پای کې راغلي دي: ((فَأَنَّى تُصْرَفُونَ) ولې پر کږه روان ياست؟ ولې په خپل پنځون کې د الله تعالی لاس نه ګورئ؛ هغه مهال، چې د مور په ګېډه کې وئ؟! په رښتيا، څومره چې انسان ځير کېږي؛ نو د الله تعالی ځواک، حکمت او محبت ته يې پامېږي. که ځان ته مو پام وي؛ نو و به ګورئ، چې موږ پخپله ځان نه دی پنځولی؛ نو پنځګر لرم او زما پنځګر بايد پوه او وسمن وي او مينه راسره ولري. زما له ټولو اړتياوو خبر وي او لرې يې کړای شي او هغه يوازې زما حکيم، لوراند، پالونکی او ستر الله تعالی دی.
هر ماشوم، چې وزېږي؛ نو تر ټولو ړومبی اړتيا يې خواړه وي؛ نو که د نړۍ ټول متخصصان راټول شي، چې ددې ماشوم د خوړو لپاره کړلار جوړه کړي؛ نو څه به جوړوي؟ خواړه يې بايد له څه جوړ شوي وي؟ د تودوخې په کومه درجه کې وساتل شي؟ او څنګه او د چا په واسطه ماشوم ته ورکړل شي؟ د ماشوم يوازې يو کار زده وي او هغه هم روول دي، نه څه جولای شي او نه څه پوکولای شي؛ نو له موره به بل څوک مهربانه وي او له شيدو به کوم خواړه ورته ګټور وي؟ ماشوم تل له مور سره وي، چې په مينه خواړه ورکوي، چې نه، ګرمولو ته اړتيا لري او نه سړولو ته؛ نو لږ په ګرېوان کې سر ښکته کړئ، چې که دا نعمتونه نه ول؛ نو څه به کېدل؟ که مور شيدې نه درلودې او د روولو پر ځای يې پوکی کاوه او که نه يې شول کړای، چې په ژړا خپله لوږه څرګنده کړي او که د ماشوم ټولې اړتياوې، د مور په شيدو کې نه وای او که د مور مينه نه وای او که داسې ستونزې يې نه شوې زغملای؛ نو څه به کېدل؟
خدايه! نه خبر وم، چې څه ته اړتيا لرم او نه مې مور و پلار خبر ول، چې کوم خواړه راته ګټور دي او ته وې چې تر زيږون مخکې دې د مور سينه، له شيدو او د هغې زړه له مينې ډک کړ او تر ټولو غوره خواړه دې راکړل.
امام حسين په عرفې دعا کې دې خبرې ته اشاره کوي: ((خدايه! مهربانه مور دې زما پالندويه کړه او تر ټولو غوره خواړه دې راکړل.))

داچې په ډېرو نعمتونو روږد شوي یو؛ نو په قدر یې نه پوهېږو؛ خو داچې له لاسه یې ورکړو. خدایه! مل مو شې، چې له نعمتونو دې ښه ګټنه وکړو، هېر دې نه کړو، له مور و پلار سره نیکې وکړم او لکه څنګه چې ته راته ښه او غوره الله یې، زه دې هم ښه بنده ووسم.

## د زړه له کومې عبادت له اندنې را ولاړېږي

د الله تعالی تر پېژندو روسته، زموږ آریز دنده، د الله تعالی عبادت دی. باید د هغه نعمتونو له لامله یې وپېژنو، چې راکړي یې دي او د زړه له کومې یې عبادت وکړو. که څوک موږ ته یوه انځوریزه کیمره راډالۍ کړي؛ نو د ټول عمر لپاره مینه ورسره کوو؛ خو الله تعالی موږ ته دوه کمرې راکړي؛ دوه ښکلې سترګې، چې د ټول عمر لپاره له هرې زاویې انځور اخستنه کوي او کړای شو د نړۍ ښکلاوې ووینو. الله تعالی دا دوه کمرې په داسې ځای کې ایښې، چې په غوره بڼه یې ساتنه وشي او پردې سربېره، د ساتنې لپاره یې باڼه او وریزې ورکړې دي؛ دا دوه کیمرې له وررکتوبه زموږ اړیکه له هستۍ سره ټینګوي.
که د الله تعالی په هر راکړي نعمت کې فکر وکړو؛ نو له الله تعالی سره به مو مینه لاپسې نوره هم ډېره شي، چې زموږ دا مینه له الله تعالی سره زموږ ړومبۍ اړیکه ده.
بله اړیکه، شکر دی. که د یوې کیمرې ډالۍ مننه غواړي؛ نو د سترګو په څېر ښکلی نعمت خو څو څو ځل شکر غواړي.

## د الله تعالی ځواک او حکمت ته لنډه کتنه

ټولو خلایق د الله تعالی د ځواک نښې دي؛ خو په ټولو مخلوقاتو کې انسان ځانګړې ځانګړنې لري. الله تعالی د انسان سترګه له ژل، غوږ یې له نرمو هډوکو او ژبه یې له غوښې جوړه کړې؛ نو کوم ځواک کړای شي له ژل لیدل له هډوکو اورېدنه او له غوښې وینا جوړه کړي؟
د انسان د لاس ډېر جوړ شوي غړي یوازې د یوې لنډې مودې لپاره کار کوي؛ هغه هم نه هومره کارایي لري؛ لکه څومره یې چې د انسان طبیعي غړي لري او د الله تعالی په لاس جوړ شوي غړي د ټول عمر لپاره کار کوي.
د تاریخ په ترڅ کې په میلیاردونو انسانان نړۍ ته راغلل؛ خو د یوه هم، د ګوتو کرښې له بل سره ورته نه وې او نه دي.
تر اوسه لا انسان له خاورې بې له خښتې، سرامیک او کاشي هېڅ هم نه دي جوړ کړي؛ خو الله تعالی له همدې خاورې ډول ډول مېوې جوړوي. په رعد سورت، ٤ آیت کې وایي:

((وَفِي الأَرْضِ قِطَعٌ مُّتَجَاوِرَاتٌ وَجَنَّاتٌ مِّنْ أَعْنَابٍ وَزَرْعٌ وَنَخِيلٌ صِنْوَانٌ وَغَيْرُ صِنْوَانٍ يُسْقَى بِمَاء وَاحِدٍ وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلَى بَعْضٍ فِي الأُكُلِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ = او هماغه دی، چې ځمکه یې وغوړوله او غرونه او سیندونه یې پکې رامنځ ته کړل او په هغې کې یې د هر ډول مېوو جوړې وپنځولې، پر ورځې د شپې (توره پرده) ورخوروي، پدې (چارو) کې هغو خلکو ته نښې دي، چې فکر کوي.))

هو گرانو! ځینې خلک مېوه یوازې د ګېډې د ډکولو لپاره غواړي؛ خو هوښیار ددې هر څه په لیدو، خپل عقل پیاوړی کوي او د الله تعالی ځواک پکېویني؛ ځکه له یوې خاورې او اوبو، له یوه خوند او رنګ څخه ډېر نشي جوړېدای؛ خو د الله تعالی ځواک ډول رنګونه، بڼې او خوندونه جوړوي.

الله تعالی حکیم دی؛ یعنې ټولې چارې یې سمې او موخنې دي او یو کار یې هم بې ځایه نه دی.

# د ځينو پوښتنو ځوابونه

*آيا پيريان هم مسلمان او کافر لري؟ علامه طباطبايي د پيريانو په اړه وايي: د پيريانو د درک کچه، له انسانانو ټيټه ده؛ خو خوځون - تحرک يې تر انسانه ډېر دی. تراوسه نه دي نقل شوي، چې آيا دوی هم پيغمبر لري که نه. زموږ د پيغمبر امتيان دي، ډېر پيريان د انسانانو په چوپړ کې دي او مزاحم نه دي. له پيری څخه وېره او پر انسان باندې د پيريانو کېناستل سم نه دي. په هغوی کې هم سترې ښځمنې او نارينه شته؛ خو د نبوت او امامت مقام ته نشي رسېدلای.

*دا شان آيتونه لکه ((وَتُعِزُّ مَن تَشَاء وَتُذِلُّ مَن تَشَاء)) يا ((يَرْزُقُ مَن يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ)) الله تعالی، چې هر چاته وغواړي يا عزت ورکوي يا ذلت، همداراز په قرآن عظيم الشأن کې داسې هم شته: ((إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلّهِ)) ((د الله تعالی له حکم پرته بل حکم نشته)) په دی ځای کې د بنده او عبد رول څه دی؟ آيا انسان په خپل ذلت اوعزت کې کومه ونډه لري.

ځواب:

پورتني آيتونه د خلکو لاسوهنه او ونډه نه نفې کوي ((إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلّهِ))؛ يعنې داچې يوازې د هغه حکم نافذ دی؛ نو د ټول نړی واکمن الله تعالی دی.

دا يو ټوليز آر- اصل دی؛ خو الله تعالی په خپله حکم کړی، که چا زيار وويست؛ نو اجر به يې ورکړم او بريالې به يې کړم او که زيار يې و نه کړ؛ نو له پېرزوينو به مې بې برخې وي. دا د الله تعالی حکم دی او وايي: ((وَإِنْ عُدتُّمْ عُدْنَا))

((وَإِن تَعُودُواْ نَعُدْ)) جنت او دوزخ ته د خلکو لېږل هم د الله تعالی په حکم دي.

چا چې ايمان راوړی او نېک عمل يې کړی؛ نو جنت ته به ځي او څوک چې د ورانۍ پر لار ولاړ؛ نو دوزخ ته به ځي.

د لارې اوارول هم د الله تعالی د حکم پر بنسټ دي. الله تعالی حکم کړی، که چا لار اواره کړه؛ نو زه به ورته ډېر رزق او خورا عزت ورکړم.

*قرآن عظيم الشأن وايي: ((وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاء)) د الله تعالی عرش پر اوبو باندې دی، ددې مانا څه ده؟

ځواب: اوبه يو جامع مفهوم دی او ډېر مصداقونه لري. علم هم د اوبو له مصاديقو څنې دی. علم په حقيقت کې د ژوند اوبه دي او عالم تل لپاره ژوندی دی. له دې علم څخه مطلب د تدبير او فرمان روايي علم دی.

((وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاء)) يا ((ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ)) د ژوند اوبه او د حيات اوبه علم او الهي څواک دی. د ټولو چارو زير بنا عالم دی، نه ظاهري اوبه؛ ځکه ظاهري اوبه هم لکه د خاورې او هوا په شان روسته منځ ته راغلي دي. ظاهري اوبه يو ډول حقيقت لري، چې عرش پرې ولاړ دی.
لکه څرنگه چې اور، هوا او خاورې هم د اوبو پر سر باندې وې؛ نو هغه اوبه چې عرش ورباندې ولاړ دی، يو مادي څيز نه؛ بلکې يو مانيز حقيقت کېدلای شي.
* ((وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَاء كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلاَئِكَةِ فَقَالَ أَنبِئُونِي بِأَسْمَاء هَؤُلاء إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ[1]= او (الله تعالى) آدم ته د اسماوو علم [=د پنځون د خوالو پوهه او د موجوداتو نومونه] وښود، ورپسې يې پرښتو ته وړاندې کړ او و يې ويل: ((که رښتيني يئ؛ نو ددې (څيزونو) نامې راوښيئ))
په دې آيت کې د نامو له ښوولو څه مطلب دی؟
تعليم دوه ډوله دی.
١-رسمي علم، چې په پوهنتونونو کې يې زده کړې کېږي. استاد يو خبره کوي او مخاطب يې اوري يا کتاب معرفي کوي او ښووند يې لولي. دلته د علم د لېږد وزله الفاظ او مفاهيم دي. دا علوم مسلکي علوم دي؛ کله ورسره عمل وي کله نه. کله د عمر تر پايه پاتېږي او کله هم له ياده وځي. دا علم پر حقايقو د پوهېدو او فهم وزله ده.
٢- بل داسې علم دی، چې له لفظ او مفهوم سره کار نه لري. دا علم د ساز په څېر نه دی، چې واورېدل شي. نقش نه دی، چې وليدل شي، مفهوم نه دی، چې ذهن پرې پوه شي. دلته لارې د زړه دي. کله انسان د لمر ويی - کلمه ليکي او يا يې هم انځور رسموي، چې بل پوه کړي، لمر څه ته وايي او کله يوه هينداره لمر ته نيسي، چې د لمر وړانگې يې سترگو ته را و رسي، که څه هغه نېغ په نېغه لمر نشي ليدلای؛ خو د هيندارې په دې انعکاس، رڼا ويني او په دې رڼا پرحقيقت پوهېږي.
هغه علم چې الله تعالى خپلو اولياوو ته ورکړی، عبري، عربي، پښتو او پارسي نه دی، لفظ او مفهوم هم نه دی. دا هغه علم دی، چې ټول حقيقت يو بشپړ انسان ته ښيي. که انسان لوړظرفيتی وي؛ نو الله تعالى دا حقيقت نېغ په نېغه ورښيي او که لوړظرفيتی نه وي؛ نو حقيقت په هيندارې ورښيي. که يو څوک وسمن وي؛ نو نېغ په نېغه، پخپلو سترگو لمر ته گوري که و يې نشو کړای، په ځانگړو عينکو لمر ته گوري، دی ته شهورت يا حصوري علوم وايي. دلته انسان پردې ځان

[1]. (بقره/٣١)

پوهوي، چې لمر له کومو وړانګو جوړ شوی، لمر څرنګه ولیکي، د هغه اوږدوالی او پلنوالی څومره دی؛ خو دا علوم انسان ته رڼا نه ورکوي.
((تعلیم اسماء)) حصولي علوم نه دي. الله تعالی خپل اسمای حسنا بشپړ انسان ته وروښودل. آدم (علیه اسلام) د بشپړ انسان یو غوره بېلګه ده. د نننی زمانې آدم، مهدي اخر زمان او پر اسمای الهي باندې پوهېږي. اسماء د علامت او نښې پر مانا دی. ټوله نړۍ الهي اسما او د هغه د ذات نښې دي؛ نو پردې بنسټ، دا اسماء او حقایق، الله تعالی بشپړ انسان ته وښودل. ټول پیغمبران او امامان له دې څخه برخمن شوي. (البته ټول یو شان او په یوه درجه کې نه دي) دلته څو ټکي روښانه شول.
۱- د تعلیم اسماء څخه موخه د حقایقو حضوري شهود دی.
۲- اسماء یعنې د الله تعالی نښې.
۳- آدم یعنې بشپړ انسان او څوک چې انسانیت ته نږدې شو؛ نو په حقیقت کې د اسماء زدکړې ته نږدېږي.
٤- تعلیم اسماء یوه تاریخي پېښه نه ده، چې په یوه ځانګړي وخت کې به پای ته رسېدلی وي. دا یو تلپاتې حقیقت دی، دا ټولنې به تل وي، چې الله تعالی به پکې ښووند او بشپړ انسان زدکړیال وي او د لوست موضوع به هم اسمای حسنه وي.
که یو انسان په دې ټولګي کې د ګډون شرایط درلودل؛ نو ددې ټولګي زدکړیال به شي او وا به وري، چې الله تعالی پکې خبرې کوي او دا زدکړیال به له پرښتو سره اړیکې لري. دا مقام د ټولو انسانانو لپاره تل شته؛ یعنې دا که یو انسان د ځناورتوب له پړاوه تېر شو او انسان شو؛ نو دا انسان به داسماء حسنه په ټولګي کې د ګډون حق پیدا کړي. دا ټولګی د زمان او مکان په محدوده که نه دی او د حقایقو سره د آشنایی په ترڅ کې انسان د رڼا خاوندېږي.
دا انسان به سرلوړی وي او کله به هم منځتشي- پوچي او بې موخي و نه ننګېري. که انسان له پاکۍ، ښه والي او طهارت څخه خوند واخلي؛ نو جوته ده> چې لمر یې تر څه حده پورې لیدلی دی.
که په ټول عالم کې سازونه او اوازونه وي، که یو انسان اورېدونکي غوږونه و نه لري؛ نو هېڅ ګټه به ور و نه رسوي. که څوک لیدونکې سترګې و نه لري؛ نو رڼا ورځ او شین اسمان ورته ګټور نه دی.
ټول زیار ددې لپاره دی، چې داسې غوږونه او سترګې ولرو، چې د هغه بل عالم حقایق پرې درک کړو. ځینې داسې ستر خلک شته چې په دې نړۍ کې پاتېدل ورته خورا ګران دي؛ ځکه ځکه داسې حقایق او ښکلا یې لیدلې، چې په دې نړۍ کې هډو نشته. شیطان چې د تل لپاره

د الله تعالی له درشله وشړل شو، جرم یې دا نه دی، چې آدم ته یې سجده و نه کړه. د شیطان جرم او له آره شیطانت دا دی، چې د دې پرځای چې د ((الله نورالسماوات والارض)) رڼا ووینې؛ نو خپل ځان وینې او که نه د یوې سجدې پرېښودل دومره تلپاتې عذاب نه لري، د ټولو انبیاوو زیار همدا و، پوه مو کړي، چې د الله تعالی پر لار روان شو او نوې لار جوړه نه کړو. ګناه د الاهي اسماء د حقایقو د لیدو لپاره لار تړلې ساتي. ټول عبادت، سپارښتنې او احکام ددې لپاره دي، چې موږ خپله لار تړلې و نه ساتو.
* ((يُضِلُّ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي مَن يَشَاءُ)) ددې آیت مطلب څه دی؟ په ظاهره خو له دې آیته ښکارېږي: د الله تعالی، چې چا ته خوښه شي؛ نو سمه لار ورښیي او چې چا ته یې خوښه شي بې لارې کوي یې.
ځواب: د الله تعالی لارښوونه په دوه ډوله ده. لومړنۍ یا ابتدایي لارښوونه او پاداشي یا د اجر لارښوونه. لومړنۍ یا ابتدایي لارښوونه هغه ده، چې الله تعالی په عقل، فطرت، وحې او نبوت انسان ته وربښلې ده؛ نو پر بنسټ یې، الله تعالی ټول خلک په دننیو او بهرنیو شتمنیو، پر سمه لار ښیون کړي او څوک چې پردې لار سم شي؛ نو الله تعالی به پرې پېرزوینې وکړي او دا خلک به تل په سمه او د خیر پر لار روان وي. بې لارې د الله تعالی په ذات کې نشته. الله تعالی کله هم څوک نه دي بې لارې کړي او نه به یې کړي. هغه الله تعالی، چې رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ، حضرت علي، اهلبیت او امامان یې زموږ لارښوونې ته رالېږلي؛ نو کله به هم څوک بې لارې نه کړي. که څوک له دې ښیون- هدایت سره سره، بیا هم بې لارې شو؛ نو الله تعالی د توبې او بېرته راستنېدو ور پرانستی پرېښی دی. اوس، چې د توبې ور تل پرانستی دی او انسان بیا هم پخپلې بې لارۍ ټینګار کوي؛ نو تردې روسته به یې الله تعالی بې لارې کړي. آیا ددې مطلب دا دی، چې الله تعالیغه بې لارې کړ؟ نه! ځکه بې لارې یو عدمي چار دی، بې لارې یې کړ؛ یعنې داچې الله تعالی ترې خپله پېرزوینه اخلي او پخپل حال یې پرېږدي؛ نو تردې روسته، دا کس پاتېږي او شهوت او غوسه یې دواړه ځان ته رابولي او په واقع کې د ګناه پر چورلیځ چورلي. د ابتدایي یا لومړنیو لارښوونو له مخې، الله تعالی بې له کومې استثنا ټولو خلکو ته ښیون کړی دی.
*که څوک په نېکیو امر او له بدیو منع امر کوي او خپله عمل پرې و نه کړي؛ نو آیا یوازې د ویلو ثواب ورسي؟
ځواب: لومړی باید د عمل کولو زیار وباسي، چې خبره یې ځای ونیسي. که عمل پرې نه کوي؛ نو مثال یې د یوې شمع په څېر دی، چې خپله سوځي؛ خو نورو ته رڼا ورکوي؛ په هر حال، د ثواب خاوند به شي که څه عمل و نه کړي.

*د بلا د دفع او رفع ترمنځ څه توپیر دی؟ دلته صدقه څه ونډه لري؟
ځواب: د بلا د فع کول؛ یعنې د بېلګې په توګه، انسان د یوې ځانګړې رنځورۍ د مخنیوي لپاره واکسین کوي، چې پرې اخته نشي دا یو مخنیوونکی عمل دی. د بلا رفع کول داسې دي، چې یو بلا راغلې او باید لرې کړای شي. د ساري په ډول: یو کس رنځور شو او باید درمل شي، صدقه دا دواړه کارونه کوي.
*په قیامت کې د پل صراط حقیقت څه دی؟
په روایتونو کې د دوو صراطونو ذکر شوی. یو په نړۍ کې چې امامت دی او بل په قیامت کې چې دین دی. د صراط پل د عادي پلونو په څېر نه دی. څوک چې په دې نړۍ کې د دین له لارښونو سره سم حرکت وکړي او خپل کړه وړه او چلن یې له دین سره تر څه حده یو شان وي؛ نو په آخرت کې به له پل صراطه تېر شي او د دوزخ له اوره به وژغورل شي. څوک چې په دې نړۍ کې له دیني دستوراتو ځان لرې کړي، په قیامت کې به هم له رسول الله لرې وي او څومره، چې یې واټن ډېر وي؛ نو په همغه کچه به یې عذاب هم ډېر وي.
٤: د ښځو د اعتکاف په اړه معلومات راکړئ.
ځواب: په روایاتو کې راغلي، څوک چې څلوېښت ورځې پر خپلو کړنو او خویونو پاملرنه وکړي؛ یعنې حرام و نه خوري، حرام و نه ګوري او حرام فکر و نه کړي، له نړۍ ګوښه شي، نه داچې له خلکو ګوښه شي؛ نو په دې اړه د ښځې او سړي ترمنځ توپیر نشته.
اعتکاف؛ یعنې داچې یو کس ځان له نړۍ ګوښه کړي؛ نه داچې ځان له خلکو ګوښه کړي. انسان که مزدورکار یا مامور وي، باید په خپل کار کې بوخت وي؛ خو باید چارې یې د الله لپاره وي؛ نو څوک چې اعتکاف کوي، باید ډېر کار او فعالیت وکړي، لوست وکړي؛ ځکه کار، لوست او څېړنه، پخپله اخروي چارې دي؛ نه دنیوي، د الله تعالی د خوښۍ لپاره د ټولنې چوپړ هم اخروي چار دی.
٦- کله د الله تعالی له توفیق څخه بې برخېږو. ددې بې برخېدو لامل څه دی؟
ځواب: څو څیزونه په څو څیزونو کې پټ وي. د قدر شپه په څو شپو کې پټه ده؛ نو انسان باید ددې ټولو شپو درناوی وکړي، چې د قدر شپه وپېژني. الله تعالی به مو کوم یو عبادت قبلوي؛ نو دا معلومه نه ده. له دې مخې، انسان باید ټولو عبادتونو ته مخه کړي. کوم ګناهونه به الله تعالی ببښي، لا معلومه نه ده؛ نو انسان باید ټولو ګناهانو ته شا کړي. د الله تعالی اولیاء هم په خلکو کې پټ دي؛ خو معلومه نه ده، چې څوک به وي؛ نو له دې مخې، حق نه لرو د چا سپکاوی وکړو.
*ولې ځینې برزخي لید لري او موږ ترې محروم یو؟

دا چار د ټولو لپاره پامور دی. چا چې د هغې نړی په هکله کوم خبر راکړ، باید و یې منو او ځان ترې خبر کړو. دا کار خورا ستونزمن دی؛ ځکه د هغه نړی پر احوالو ځان خبرول، دوې لارې لري. یوه داچې انسان په هڅې او زیار، ځان خبر کړي. بل داچې تل باید چمتو او هوښیار وسي. آریزه خبره دا ده، که څوک د غیبو پر خوالو پوه شو؛ نو دا کسان به هېڅ زغم او طاقت و نه کړي. د یوسف (علیه السلام) د ښکلا او ښاسیت په اړه مورږ ټولو ډېر څه اورېدلي. چې کله د مصر ښځو هغه ولید؛ نو ناڅاپه یې خپلې ګوتې غوسې کړی. د یوسف (علیه السلام) د وجود مثال داسې دی، که څوک د سپوږمۍ انځور پر یوه کاغذ انځور کړي؛ نو دا انځور به څومره راته د سپوږمۍ حقیقت بیان کړي. هغه څوک چې د پردې له شا څخه آریز حقیقت ویني؛ نو دا نړی به بیا ورته خوند ورکړي؟ ډېری الله ښنلي مو له دې نړی تللي، نه راته خوب کې راځي او نه مو نړی ته پام کوي. داچې ډېر ورپسې خپه یو، دعاوې ورته کوو، ورپسې خیراتونه کوو؛ نو لامل یې دا دی، چې هغوی داسې ځای ته تللي، چې دا نړی یې له یاده وتلې ده؛ نو دا به ډېره سخته وي، که څوک په دې نړی کې د هغه بلې نړی پر خوالو پوه شي او که یې ویني؛ نو دا نړی به ورته هېڅ خوند ور نه کړي او دلته به د پاتېدو توان هم و نه لري.

*آیا عرفاني موسیقي او اشعار مو الله تعالی ته نږدې کولای شي؟

ځواب: د انسان یوه برخه لید او علم دی او بله برخه یې ورماتېدنه یا لېوالتیا- ګرایش ده. د لید او علم له مخې، ډېر کسان کړای شي، پرمختګ وکړي؛ یعنې دا وړتیا را کې شته چې ښه او بد وپېژنو. دا وړتیا په پوهه لاپسې غوړېږي؛ نو دا مو په لید او پوهې پورې تړاو لري. د ښو او بدو په پېژندو کې مورږ په ګډه پوله کې یو؛ یعنې داچې بد هم ښه پېژنو او ښه هم.

خو د ګرایش یا ورماتېدنې په برخه کې داسې نه ده، چې مورږ به د ښو او بدو پر وړاندې یوشان ورماتېدنه - ګرایش ولرو. مورږ ښو کارونو ته بشپړ ورماتېدنه - ګرایش لرو؛ خو بدو کارونو ته یې اصلاً نه لرو؛ یعنې داچې په دننه کې مو بدو او ښو ته ورماتېدنه یو شان نه ده. د ښو او بدو په اړه مو لید یو شان دی؛ خو ورماتېدنه مو دا څېر نه ده. د بېلګې په توګه: مورږ د ښو، ګټورو او زیانمنو خوړو تشخیص یوشان کوو؛ خو زمورږ د هضمي سیستم/ غونډال لېوالتیا- ګرایش به دې خوړو ته یو شان نه وي. د هضمې سیستم ښه خواړه ډېر په آسانۍ هضموي او زهرجن خواړه بېرته راګرځوي. دا ښکارنده- پدیده په اروا کې هم شته.

اروا مو هم ښه او بد اخلاق، عدل، ظلم، امانت، خیانت، رښتیا او دروغ، په یو کچه پېژني؛ خو په یو کچه، ورلېواله نه دي. اروا په عدل، امانت، او رښتیا پسې ځي؛ نو ځکه ماشوم، چې په لومړي ځل دروغ ووایي؛ نو ټول وجود یې لړزېږي؛ خو په رښتیا ویلو کې ډاډه غږېږي.

داچې لید او پوهه (نظري عقل) مو سم اوډون- تنظیم شي؛ نو باید په برهاني لارو؛ لکه فلسفې، ریاضي، حکمت، کلام او عرفان پسې ولاړ شو او داچې د ورماتېدنې - گرایش برخه (عملي عقل) مو اوډون - تنظیم شي؛ نو باید په عملي کارونو پسې ولاړ شو.
عملي عقل چې کار یې لېوالتیا ده، ټول هوډونه کوي او عزم، اراده، مینه، اخلاق او نیت دا ټولې چارې سمبالوي او د هغې مدیر گڼل کېږي. که موږ دا مدیر نرمخویه کړ؛ نو نظري عقل ته تسلمېږي؛ یعنې که هر کار غواړي، له نظري عقل څخه فتوا اخلي. که دا مدیر (عملي عقل) خپلسری وي؛ نو له نظري عقل څخه لارښوونې نه اخلي او له خپلو لاندېنیو مامورانو لکه شهوت او غضب څخه لارښوونې ترلاسه کوي.
داچې عملي عقل را نرم کړو؛ نو دې کار ته ډول ډول لارې شته؛ لکه څرنگه چې په دعای کمیل کې راغلي: د دښمن پر وړاندې د مؤمن بهرنۍ وسله اوسپنه ده او دننني یې ژړا او اوښکې دي؛ نو که د مؤمن باطن د اوښکو او ژړا پر وسله سمبال وي؛ نو د غضب او شهوت پر وړاندې درېږي او که سمبال نه وي؛ نو لاروي یې کوي او د غوسې او شهوت له مخې هوډ کوي. ځینې وایي: څه چې مې زړه وغواړي، همغه کوم، په چا پورې مې کار نشته. ددې مانا دا ده، چې انسان د شهوت او غضب تر قومندې لاندې دی.
موسیقي او سندرې هم کړای شي، چې پر عملي عقل اغېز وکړي. څوک چې په دعاوو کې اوښکې تویوي؛ عملي عقل به یې نرم وي او دا کس به کله هم د الله تعالی له رضا پرته، کوم بل کار و نه کړي. شعرونه او په زړه پورې نثرونه، د عملي عقل په نرمۍ کې خورا اغېزمن بریښي.
باید هڅه وکړو، له سندرو څخه د شعر ویلو پر لوري وخوځو؛ څکه کېدای شي په سندرو کې یو ډول کاذبه نرمتیا او اوښکې را پیداشي؛ لکه څرنگه چې کاذبه او صادقه خندا لرو؛ نو همدا شان کاذبه او صادقه ژړا هم لرو. کله د یوې لطیفې په اورېدو انسان خاندي؛ نو دا صادقه خندا ده. کله یو کس د تښنېدو له لامله خاندي؛ نو دا خندا کاذبه او بې ارزښته ده. ژړا هم همدا شان ده. سندرې هم کړای شي، چې له داسې گواښ سره یو ځای وي؛ یعنې داچې کاذبې اوښکې او نرموالی رامنځ ته کوي او گومان کوو، چې زموږ داسې نه ده. ځینې موسیقۍ ډېرورنکې اغېزې لري او ددې لاملېږي، چې عملي عقل، له نظري عقل څخه لاروي و نه کړي او انسان د گناه ډنډه ته ورغورځوي.
*انسان کله داسې یو پړاو ته رسي، چې د منځتشي – پوچي ننگېږي، دا ولې؟

ځواب: چې انسان خپله موخه له لاسه ورکړي؛ نو دا حالت رامنځ ته کېږي. د انسان مثال د سرو زرو د یوه معدن په څېر دی، چې په ځان کې ملغلره لري؛ نو انسان باید ددې گوهر روزنه وکړي او دا ملغلره کله هم له بهره نشي روزل کېدلای.
*انسان په فطري توگه له عبادت سره مینه لري؛ نو ولې موږ له خپل عبادته خوند نه اخلو؟
ځواب: د الله تعالی لوري ته مو مخه یو فطري چار دی؛ خو شهوت او غضب هم د یوې وزلې په توگه، د انسان په ختیه کې ایښودل شوی دی. عقلمن ددې دواړو د رخصتولو پرځای، هغه انډولوي. ناپوه انسان، شهوت او غضب د خپل فطرت مشر گرځوي؛ نو په دې حال کې فطرت بندي کېږي او د غرایزو په منځ کې ښخېږي او ښخ شوی فطرت هېڅه هم نشي کړای او له عبادته هم خوند نشي اخستای او چې فطرت پاک شي او وغوړېږي؛ نو له عبادته به خوند واخلي. که غواړو له عبادته خوند واخلو، باید له حرامو ډډه وکړو. څوک چې په حلالو پسې ځي؛ نو حتماً به له عبادته خوند اخلي. څوک چې په زکام اخته شي؛ پوزه یې هم بندېږي؛ نو دا کس له ښه بوی څخه خوند نه اخلي او کمزورې سترگی هم له ښکلې ننداره خوند نشي اخستلای؛ نو له دې مخې، گنهکار هم له عبادته خوند نشي اخستلای.
*څرنگه باید ځان د شیطان له وسوسوخلاص کړو؟
ځواب: ابلیس د انسان بهرنی دښمن دی او له بهره برید کوي. چې انسانان ورته پخپله دننن لار اواره نه کړي؛ نو د انسان په دننه کې نشي ننوتی. د شیطان کار دا دی، چې د انسان وجود ته زهر ورننباسي او زهر باید د انسان وینې ته ورننوځي، چې خپل اغېز ولري، که همداراز له هضمي سیستم څخه بېرته راوگرځول شي؛ نو هېڅ اغېز به و نه لري. وسوسې هم همدا څېر دي. د ځاني غوښتنو او شهوت سپکې څپې په ژنیو کې تر سترگو کېږي؛ خو درنې څپې یې په غټانو کې تر سترگو کېږي، چې په ځای او مقام پسې منډې وهي.
نو دا هر څه د همغه زهرجنو وسوسو نښې دي. که څوک د چا ستاینه وکړي او په ځانگړي لقب ورغږ کړي او مخاطب کس ترې خوند واخلي؛ نو څرگندېږي، چې د وسوسو زهرو یې په بدن کې اغېز کړی او که څوک له دې خبرو خوند نه اخلي؛ نو باید د الله تعالی شکر وباسي. حضرت علي په یوه لیک کې مالک اشتر ته داسې لیکي: ((شیطان تل د برید په حال کې چمتو ناست وي؛ خو چې څوک ستا ستاینه کوي؛ نو شیطان د برید لپاره لاپسې چمتو کېږي او په دې مهال باید هوښیار ووسو.))
رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وایي: ((تر ټولو سرسخت دښمن مو ستاسې نفس دی.))
بهرنی دښمن څه کوي؟ یوازې کورونه وارنوي او خلک وژني. دا ټول هر څه په جسم پورې محدود دي. سړی ممکن شهید شي او شهید خو اصلاً زیان نهویني. علامه طباطبایي وایي:

شهید، چې د جنګ په میدان کې غشي خوري او پخپلو وینو کې رغړي، خلک ګومان کوي، چې ښایي سخت په عذاب کې دی؛ حال دا، دا کس ډېر هوسا وي، که خبرې یې کړای شوې؛ نو ویلي به یې وای، چې اروا مې ډېره آرامه ده.))

* ولې نفس د انسان تر ټولو بد دښمن دی؟

ځواب: نفس پټ دښمن دی، چې په سترګو نه لیدل کېږي او په دننه کې دی او بهر نه ښکاري. نفس مکار او قهار دښمن دی، موږ وینې؛ خو موږ یې نشو لیدلای. د نفس دښمني تلپاتې وي او لنډ مهاله نه وي. زموږ تر ټولو غوره سامان او کالی؛ لکه ایمان او عقل راښخه وړي، زموږ له کور او توکیز- مادي مال سره دومره کار نه لري. دا دښمن له ټولو دښمنانو سره توپیر لري، د بېلګې په توګه: دښمن کېدای شي، مار وي، ځناور وي، لېوه وي، لړم او یا هم انسان وي. که دښمن لېوه، مار او یا هم سپی وي، چې انسان ورته څه ورکړي، سملاسي د څه مودې لپاره ارامېږي؛ خو دننني دښمن دا شان نه دی؛ که څه ور هم کړی؛ نو نه ارامېږي، که مو د هغه په غوښتنه عمل وکړ او څه یې چې را نه وغوښتل ور مو کړل؛ نو بریدونه یې لاپسې ډېرېږي او نورهم پرمختګ کوي، د نورو دښمنانو په شان شاتګ نه کوي.

*انسان په دې نړۍ کې د لنډې مودې لپاره ګناه کوي؛ نو ولې د تل لپاره په عذاب اخته کېږي؟ ایا دا خبره د الله تعالی له عدل سره اړخ لګوي؟

ځواب: که څوک مسلمان وي او ګناه یې وکړه؛ نو په توبه یې ګناه له منځه ځي او پاکېږي. که پاک نشو، په برزخ او قیامت کې پاکېږي. که هلته هم پاک نشو؛ نو دوزخ ته لېږل کېږي؛ خو د ژغورنې په ډله کې به حسابېږي او و به ژغورل شي. که څوک په دې نړۍ کې، ځان له ګناه ښخه پاک نه کړي؛ نو په هغه نړۍ کې په پاک شي؛ خو دا دواړه پاکول خورا توپیر لري. په هغه نړۍ کې انسان د اور په لمبو پاکېږي. د ځینو انسانانو مړینه ډېره سخته وي، لامل یې هم دا دی. د بېلګې په توګه، که د یوه انسان غاښ له بې حسۍ پرته وویستل شي؛ نو څومره دردوونکی به وي، اوس که له نشې ورکولو پرته له بدن ښخه را و ویستل شي؛ نو څومره په کړاو کې به وي او سړی به څومره پرتکی وهي. چې څومره له بدن سره، د انسان تعلق او تړاو لږ وي؛ نو اروا به یې په آسانۍ له بدنه ووځي.

*داچې انسان پاکلمني- عصمت لاس ته راوړي؛ نو دا وړتیا - ظرفیت یې الله تعالی ټاکي که انسان یې پخپله لاس ته راوړي؟

ځواب: الله تعالی ټول انسانان د عدالت د وړتیا لپاره چمتو کړي دي. هغه عادل دی، چې واجبات ترسره کړي او له حرامو ډډه وکړي؛ دا لږ تر لږه د هر مسلمان دنده ده. الله تعالی راته

د عدالت د لاس ته راوړو وړتیا راکړې او د هغې لار یې هم راښودلې ده. عدالت پړاوونه لري. لومړنی کوشنی پړاو یې د واجباتو ترسره کول او له محرماتو ډډه کول او اخرنی یې د پاکلمنۍ- عصمت مقام ته نږدېوالی دی. عادل ممکن سهواً هم تېروتنه وکړي؛ خو معصوم سهواً هم تېروتنه نه کوي. که څوک په دې لار کې هڅه وکړي؛ نو سوکه سوکه کړای شي، د پاکلمنۍ پولې ته ځان نږدې کړي؛ یعنې که مخکې پاکلمنی - معصوم نه و؛ نو اوس کړای شي، معصوم شي. پالکمني-عصمت هم درجې لري. معصومېدل د یوه ځانګړي کس لپاره نه دي. د اهل بیتو ډېری اولاده؛ لکه حضرت زینب او حضرت ابوالفضل د پاکلمنۍ د ځینو ځانګړنو خاوندان ول؛ خو الله تعالی مهم مقامونه؛ لکه نبوت، امانت او خلافت، ځانګړو خلکو ته ورکوي.
دا کسان کړای شي تېروځي؛ خو نه تېر وځي. حضرت علی په دې اړه وايي: ((که اووه اسمانونه راکړي او راته ووايي، چې تېری وکړه؛ نه يې کوم. داچې زه دا کار کړای شم؛ خو تېری نه کوم.))
*شیطان له اوره پیدا شوی؛ نوڅرنګه به د دوزخ په لمبو کې وسوځي؟
د شیطان آریز پنځون له اوره دی؛ خو ځینې نور عناصر يې هم په جوړېدو کې ونډه لري. د بېلګې په توګه: د انسان آریز وجود له خاورې جوړ دی؛ خو ځینې نور عناصر يې هم په وجود کې لیدل کېږي. غوښه او پوټکی يې له خاورې جوړ شوی؛ خو درک کوونکی او حساس ځواک پکې هم اچول شوی، چې درد وننګېري. که لوټه له بلې لوټې سره ولګي؛ نو نرمېږي، لوټه درک نه لري؛ ځکه درد هم نه لري. که خاورې درک درلودلای؛ نو هرومره يې درد هم ننګېره. شیطان هم همدا شان دی؛ یعنې داچې له اوره او درک کوونکی قوي پیدا شوی دی؛ نو که پر شیطان هم څه اغېز وکړي؛ نو هغه درک کوي؛ نو ځکه شیطان له اوره پیدا شوی او داچې د اروا او اودراکي ځواک درلودونکی هم دی؛ نو د دوزخ اور به يې وسوځوي.
* ولې ښځې د مرجعیت مقام ته نه شي رسېدای؟
ځواب: د مرجعیت او فقاهت ترمنځ باید توپیر وکړو. ښځه له دې مخې، چې یو مجرد روح دی؛ نو د انساني حقیقت له مخې له سړي سره کوم توپیر نه لري؛ ځکه د پېغمبرانو د بعثت آریز چورلیځ ښځه او سړی نه؛ بلکې انسان دی. د انسان انسانیت، د هغه روح وي او روح نه سړی دی او نه ښځه. دا یوازې بدن دی، چې مذکر او مونث لري. هغه دندې چې په بدن پورې اړه لري؛ نو د ښځې او سړي ترمنځ توپیر راپیدا کېږي؛ خو علمي کمالات، ګروهې، اخلاق او مانیزتوب- معنویت، په روح پورې تړاو لري او په مذکر او مونث پورې هېڅ اړه نه لري؛ نو ځکه فقاهت چې یو علمي مقام دی او مرجعیت، چې یو اجرایي کار دی، باید یو له بل سره توپیر ولري.

په فقاهت کې هېڅ شرط نشته. ښځه کړای شي، په علمي وېينو کې د فقاهت بشپړ پړاو ته ورسي او ډېر زدکړیالان ولري؛ خو مرجعیت یو اجرایي مقام دی. خلک مراجعه او مصافحه کوي او دا د ښځې له مقام سره اړخ نه لګوي.

*په دې پوهېږو، چې مرګ د مؤمن لپاره خوږ وي، مؤمن په ورین تندي مړینه مني او هېڅ ډول عذاب نه لري؛ خو په یو بل روایت کې راغلي: ټول به د قبر عذابویني، ان چې فاطمه بنت اسد له نړۍ سترګې پټې کړې؛ نو رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم یې په قبر کې سملاست، چې د قبر دباو یې ازار نه کړي، په دې اړه معلومات راکړی؟

د قبر دباو یو ډول عذاب دی. نره مؤمن د قبر عذاب نه لري، که مؤمن ځینې تېروتنې ولري، کېدای شي، د مړینې پر مهال او یا هم په قبر کې لږ شان سختي ووېني، چې پاک او سوتره شي. که یو مؤمن نره ایمانوال وي؛ نو ښایي د مړینې پرمهال او یا هم په قبر کې عذاب و نه ویني. ددې نړۍ ځینې چارې د کړاو حکم لري، نه د عذاب. د بېلګې په توګه؛ لکه د زوړوالي کړښت او یا هم د رنځورۍ کړښت. د فاطمه بن اسد په قبر کې د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم سملاستل او یا پر مخ یې د رسول الله لخوا د خپل کمیس اچول، د قبر د عذاب کموالی دی. کېدای شي د مړینې پر مهال یوازېتوب ونګېږو؛ خو په روایاتو کې راغلي: اهل بیت د مؤمن مخې ته راځي او مؤمن یې په لیدو دومره خوشحالېږي، چې په ورین تندي، د مړینې هرکلی کوي. دلته باید دوو ټکیو ته پام وشي:

۱- د قبر له عذابه وېره د انسان د ژغورنې لامل دی.

۲- د قبر عذاب د ټولو مؤمنانو لپاره نه؛ بلکې د ځینو لپاره دی.

* څرنګه کړای شو، زړګنی عبادت او لمونځ وکړو؟

ځواب: موږ هر یو د یو جماعت یا ټولګي مثال لرو، چې یو امام لري. په دې نړۍ کې ددې جماعت امام زموږ دننی ځان دی، چې کېدای شي یا عقل وي یا خیال، یا وهم، یا عشق. لنډه داچې هر څوک خپل امام جماعت پېژني. د بدن ټول غړي او حسونه ددې امامت تر څارنې لاندې کار کوي؛ یعنې که یو انسان د بشپړتیا پړاو ته رسېدلی وي، د هغه ټولې دنني او بهرني ځواکونه د عقل په مشرۍ کار کوي. عاقل خپلې دنني او بهرني ځواکونه، کړه وړه او وینا د عقل پربنسټ تدبیر او اډونوي- تنظیموي. که وغواړو ووینو، چې دننی امام مو عقل دی که نفس؛ نو د خپلو کړنو او چلن څخه باید پوه شو؛ یعنې داچې د انسان وینا، چلن، لیکنې او ټول هر څه د هغه د دنني امام ښکارندوي کوي.

له کوم ځایه پوه شو، چې هغه انسان ښه دی که بد؟وینو، چې هغه سړی ښې خبرې کوي، ښه کارونه کوي، خبرې یې له عمل سره اړخ لګوي، پر چا یې بد نه دي پېرزو. پټ او ښکاره یې

يو شان دي. د دې کس ټول کړه وړه سره راټولوو او له ځان سره وايو، چې ددې کس په دننه کې يوه رڼا ځليږي. که د يو کس دننني امام، نفس و؛ نو په کړنو کې به يې ټگي برگي او دروغ تر سترگو کيږي؛ نو که د چا کړه وړه سم و؛ نو د يو داسې نېک او ښه دننني امام ښکارندوي کوي، چې مخ په قبله ولاړ وي او لمونځ کوي. که د يوه کس لاسونه پرفساد او گناه ککړ وي؛ نو د يوه داسې دننني امام ښکارندوي کوي، چې قبلې ته يې شا کړې او لمونځ کوي.

څوک چې داړلی خوی ولري؛ نو په قيامت کې به يې قواره د سپي په څېر وي او د هغه د وجود ټول غړي به پرې لووي- شاهدي ورکوي، چې هغه يو داړلی موجود و او هغه چې ډېره طمع ولري؛ نو په قيامت کې به يې قواره د منگک په شان وي. ځينې عاقلانه ژوند نه؛ بلکې مختالانه (خيالی) ژوند کوي. په قرآن عظيم الشأن کې داسې راغلي:

((إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ)) مختال او متخيل؛ يعنې داچې يو څوک په خيال کې ژوند کوي. څوک چې په عقل نه؛ بلکې په خيال کې ژوند کوي؛ نو د الله تعالی محبوب او دوست نه دی.

په لنډمهاله ارزښتونو پسې زړه تړل، يو ډول انگېريالي- خيالبافي ده. چا چې په دې چارو پورې زړه وتړه او الله تعالی يې هېر کړ؛ نو مختال به وي. هغه مختال دی، چې عاقلانه ژوند او لمونځ و نه لري. هغه عاقلانه لمونځ کوي، چې د لمونځ څخه بهر يې ټول ځواکونه تطهير او پاک کړې وي. ناروا خبرې، چلن او کړه وړه مو له عاقلانه لمونځ څخه بې برخې کوي. که انسان هڅه او زيار وباسي، چې د ژوند په ټولو اړخونو کې خپل کړه وړه، چلن او فکر کابو کړي؛ نو په غوڅه توگه به د زړه له اخلاصه لمونځ وکړي او يا په بله وينا، په لمونځ کې به حضور قلب ولري. څوک چې تل، الله تعالی په زړه کې لري او ځان د هغه په محضر کېويني؛ نو په ډېره آسانی به د زړه له اخلاصه لمونځ وکړي؛ خو هغه چې شپې او ورځې بې له خدايه، د هر څه په فکر کې وي، نشي کړای، د زړه له خلاصه لمونځ وکړي.

* ولې په ديني احکامو کې، د شپې او گهيځ پر پاڅېدو ډېر ټينگار شوی؟

ځواب: د ورځې د انسان مصروفيتونه ډېر وي، تگ راتگ، ليدنې، کتنې او خبرې اترې ډېرې وي؛ خو گهيځ ارام وي؛ ځکه له چا سره مو خبرې نه وي. د چا درسره کار نه وي او ستاسې هم له چا سره کار نشته؛ نو پردې گړی کړای شئ له حقيقي دوست؛ يعنې الله تعالی سره خبرې اترې وکړئ؛ خو دا خبرې اترې په دې شرط کړای شو، چې د ورځې موږ ځنې مزاحمان خپل دننني وجود ته يونسو، دومره څيزونه زړه ته يونسو، چې په گهيځ کې د خبرو اترو پرمهال خپل سر راپورته نه کړای شو.

هغه خبرې، اورېدنې او ويينې، چې په موږ پورې اړه نه لري، هېڅ گټور نه دي. ولې خپل عمر تويې کړو. دا شان خلک به د شپې ګډ وډ خوبونه گوري.

پوښتنه:

ويل کېږي: که څوک غيبت وکړي؛ نو د زړه خاوندان يېويني، چې له خولې يې اور وريږي؛ نو آيا دا خبره د الله تعالى له ((ستار)) والي سره ټکر نه لري؟

ځواب: الله تعالى ستارالعيوب دی. پوهيږي، چې په کوم ځای کې «ستاري» وکړي او په کوم ځای کې يې و نه کړي. که څوک د نورو «ستارعيوب» وي او په عين حال کې په پټه پرگناه ككړ شي، الله تعالى به اجازه ور نه کړي، چې اسرار يې د نورو په مخ کې ښکاره شي، ان په قيامت کې هم کوم کسان، چې يو له بل سره نږدې ولاړ وي؛ نو د الله تعالى په حکم او اجازې به هغوی يو د بل له کړنو خبر نشي؛ نو ځکه پخپله د وگړي کړنې ډېرې مهمې دي. که څوک د بل چا پرده خوندي وساتي او په ښکاره پر گناه ككړ نشي؛ نو الله تعالى به هم د هغه پرده خوندي وساتي.

پوښتنه:

د اخلاقو علم بايد له کوم ځايه پيل کړو، حال دا، د اخلاقو استاد هم و نه لرو.

ځواب: د اخلاقوعلم يو نظري برخه ده او بله عملي. نظري يې په لوست، مطالعې او ويينې لاس ته راځي او عملي برخه يې د اخلاقو د ښوونډ په لارښوونو لاس ته راځي. په څه چې انسان پوهيږي او عمل پرې وکړي؛ نو لومړی ددې کړنو ښې اغېزې رابرسېره کېږي.

دويم داچې الله تعالى به ورته هغه څه ورزده کړي، چې پرې نه پوهېده. که څوک پر علم باندې عمل وکړي؛ نو دا علم به تلپاتې وي او لاپسې به وغوړيږي. که انسان هڅه وکړي، چې واجبات ترسره کړي او مستحبات هم تر يو حده پورې ترسره کړي، له محرماتو ډډه وکړي او تر خپلې وسې له مکروهاتو هم ډډه وکړي او کړه وړه يې افراط او تفريط و نه لري؛ نو دا حالت ډېر اغېزمن برېښي.

*پوښتنه: ايا شيطان او ابليس يو دی، که دوه جلا موجودات دي؟!

ځواب: ابليس د هماغه موجود نوم دی، چې د الله تعالى له فرمانه يې سروغړونه وکړه؛ خو د شيطان ټکی هغه ته ځانگړی نه دی او بې له هغه نورو ته هم ويل کېږي. د ساري په ډول: په روايتونو کې زيان رسوونکيو موجوداتو ته او په قرآن عظيم الشأن کې ځينو انسانانو ته هم شيطان ويل شوی دی.

*پوښتنه: د شيطان سياست څه دی؟

ځواب: په قرآن عظیم الشأن کې به مو د ((خطوات الشیطان)) غونډله لیدلې وي، چې دا ویی – کلمه د ((خطوه)) جمع ده، چې د قدم په مانا ده. د شیطان سیاست هم قدم په قدم پرمختګ دی، د ساري په ډول: لومړی انسان کتو ته رابولي او څیز ورته ښه ښکاره کوي، په بل قدم کې یې فکر ته ورننوځي او بل قدم د عمل قدم وي.

ډېرې ګناهګانې له ټوکو پیلېږي. ډېرې غلاګانې له ارزانه توکیو پیلېږي او غټو غلاوو ته رسي.

حضرت علي د نهج البلاغې په یوه خطبه کې وايي: شیطان لومړی هګۍ اچوي ((فباض)) بیا چورګړي ترې راوځي ((وفرخ)) بیا ګرځي((ودب)) او روسته د خلکو په لمنو کې وده کوي((درج فی حجورهم)) تردې ځایه رسي، چې کتل او خبرې یې هم شیطاني کېږي.

*قرآن عظیم الشأن او روایتونو د شیطان لومې راښوولي دي:

حرام رزق، شراب، جواري، ډنډورې، تفرقه، له نا اهله انډیوالانو سره ناسته که دا انډیوال ګاونډی وي، ښووند وي، زدکړیال وي که پېسمني – غرور او بېځایه هیلې. ښايي وویل شي: د شیطان د رانوتو تر ټولو ستر وروڼه سترګې، غوږونه، ژبه او شهوت وي. یوه نندارهٔ لیدل، یوه ډنډوره او یا باطله خبره اورېدل او یا د یو ټکي په ویلو او جنسي کامیابۍ ته رسېدل، نورو ژورو او خطرناکو وسوسو ته لار پرانځي؛ البته شیطان د سپي په څېر دی، چې د کور پر خاوند برید نه کوي. الله تعالی ابلیس ته وویل: ((إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ[1]= ته مې پر مخلصو (نره) بندګانو واک نشې کړای.)) ستا نفوذ یوازې پر پردیو دی؛ لکه سپی، چې پر پردیو وردانګي.

*پوښتنه: له دې دومره شیطاني وسوسو سره د بشر ګناه څه ده؟

ځواب: په قرآن عظیم الشأن کې وايو:

((وَقَالَ الشَّيْطَانُ لَمَّا قُضِيَ الأَمْرُ إِنَّ اللّهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدتُّكُمْ فَأَخْلَفْتُكُمْ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُم مِّن سُلْطَانٍ إِلاَّ أَن دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِي فَلاَ تَلُومُونِي وَلُومُواْ أَنفُسَكُم مَّا أَنَاْ بِمُصْرِخِكُمْ وَمَا أَنتُمْ بِمُصْرِخِيَّ إِنِّي كَفَرْتُ بِمَآ أَشْرَكْتُمُونِ مِن قَبْلُ إِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ[2] =[او چې کله (په قیامت کې د حساب) کار پای ته ورسي، شیطان وايي: ((په حقیقت کې الله تعالی چې تاسې ته ژمنه درکړه (نو) ژمنه یې رښتیا وه او ما هم درسره ژمنه کړې وه؛ خو بې لوزې مې درسره وکړه، پر تاسې مې څه واک نه و؛ خو داچې را و مې بللئ؛ نو راسره مو ومنله؛ نو ځکه پر ما پړه مه اچوئ، خپل ځانونه پړه وګڼئ. نه زه ستاسې ستونزو ته رسېدای شم او نه تاسې زما

[1] (حجر/۴۲)

[2] (ابراهیم/۲۲)

ستونزو ته. تاسې چې تردې مخکې زه(د الله تعالی په چاروکې) شريك ګڼلم، ترې منکر يم))
په واقع کې ظالمانو ته دردناك عذاب دی!))
*پوښتنه: د شيطان د نفوذ لارې کومې دي؟
ځواب:
۱ _ همداچې انسان له نورو سره د مرستې په فکر کې شي؛ نو شيطان يې له راتلونکې نشتمنۍ وېروي. (الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ[۱])
۲ _ همداچې د دوو تنو ترمنځ مينه ويني، هغوی جوارۍ ته کېنوي او د ګټونکي او بېلونکي کينه پکې اچوي. (إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاء فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ[۲])
۳ _ همداچې انسان د واده په فکر کې شي، ورته وايي چې اوس لا وختي دی.
٤ _ همداچې وغواړي پر خپل وخت لمونځ وکړي، وايي: صبر وکړه، کېنه ستړی يې، لا وخت شته.
۵_ همداچې د توبې په فکر کې شی، وايي: په بوډا توب کې يې وکړه.
٦ _ کله شيطان د نوم په بدلولو، انسان پر ګناه ککړوي، په ديني چارو کې بې ځايه لګښت ته ديني شعائر وايي، په کور کې بې ځايه لګښت ته پتمني او پر دوستانو پيسې لګولو ته سخاوت وايي، له الله تعالی، معاد او مسئوليته غفلت کوي، عياشۍ ته دمه وايي، د مال په راټولو کې حرص ته د ژوند جوړول، چل ول ته هوښيارتوب، ټګۍ برګۍ ته تدبير، نفاق ته سياست، د سپېڅلتياوو سپکاوي ته روڼ اندي، د ښه دودونو له منځه وړو ته تمدن او د ملي، انديز او ګروهيز هويت له لاسه ورکولو ته له زمانې سره همرنګي وايي.
نو داچې په قرآن عظيم الشأن کې لولو، شيطان به کارونه (په همدې عنوانو) انسانانو ته ښکلي انځوروي (وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ[۳])؛ نو مفهوم يې همدا دی.
په پای کې وايي: انسان کړای شي، پر الله تعالی په توکل، د الله تعالی په يادولو، لمانځه، له متقي دوستانو سره د نژدېوالي، د فسادي ننداړو او غونډو په لرېتوب او په تاريخ کې له غولېدونکيو په عبرت اخستو، ځان د شيطان له لومو خلاص کړي او که پر ګناه ککړ شو؛ نو پر توبه، له خدايه په ښښنې او لمونځ کولو دې ځان پاک کړي.
قرآن عظيم الشأن وايي: ((إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ[٤]= نېکۍ، بدۍ له منځه وړي.))

---

[۱] (بقره/ ۲٦۸)
[۲] (مايده/۹۱)
[۳] (انعام/۴۳)
[٤] (هود/۱۱۴)

سرچينې:

په دې کتاب کې له لاندې سرچينو گټنه شوې ده:
١_ تفسير کابلی.
٢_ تفسير تفهيم القرآن.
٣_ تفسير نمونه.
٤_ تفسيرالميزان.
٥_ فضايل اعمال (شيخ الحديث محمد ذکرياصاحب).
٦_ اسلامي سياست (مولانا گوهر الرحمن)
*-محمدي ښوونځی د اجرالدين اقبال څېړنه
*-عقيدتي سياسي زده کړې د اجرالدين اقبال څېړنه
*- تفسير نور؛ شيخ محسن قرآيتي
*- خلافت او ملوکيت د اروښاد مولانا ابوالاعلی مودودي
*-د رسول الله ژوند د شيخ جعفر سبحاني ليکنه او د اجرالدين اقبال ژباړه
*-پنجاه درس اصول عقايد برای جوانان د استاد ناصر مکارم شيرازي ليکنه
*-تلخيص عقاي، د د شيخ محسن قرآيتي ليکنه
*-لس ويناوې د استاد مطهري ليکنه
*- شل ويناوې د استاد مطهري ليکنه
*- د ښځمنو حقوق په اسلام کې د استاد مطهري ليکنه
*- زن از نگاه ديگر، علامه محمد حسين فضل الله
٧_ قيام امام حسين (دکتر سېد جعفر شهيدی)
٨_ مهدی (محمد رضا حکيمی)
٩_ مجله پيام انقلاب (٦٦-١٣٧٦کلونو کليکسون).
١٠_ حج (دکترعلی شريعتی).
١١_ ميعاد با ابراهيم(دکتر علی شريعتی).
١٢_ قاسطين، ناکثين، مارقين (دکترعلی شريعتی).
١٣_ احکام حج و اسرار آن (حسن بنگلوی)
١٤_ اهميت روزه از نظر علم روز.
١٥_ تاريخ ابن خلدون.

۱۶_ عایشه ام المؤمنین (سید مرتضی عسکری)

۱۷_ آیا ما مسلمان هستیم (محمد قطب)

۱۸_ آئینه اسلام (طه حسین).

۱۹_ عدالت اجتماعی (سید قطب)

۲۰_ د لارې مشال(سید قطب)

۲۱_ سیصد حدیث.

۲۲_ نهج البلاغه (ترجمه و توضیح مصطفی زمانی)

۲۳_ اختلاف در امت واحد (عبدالعلی بازرگان)

۲٤_ مجله میثاق خون (د۱۳٦٥ کال کلیکسون)

۲٥_ کلیکسون مجله نامه انقلاب.

۲٦_ مجله حوزه (کلیکسون سال پنجم وششم).

۲۷_ نگاهی به تاریخ فردای مستضعفین (ناس)

۲۸_ اعجاز قرآن (علامه طباطبائی)

۲۹_ کشف انگیزه های غرور و فریب در انسان (امام محمد غزالی)

۳۰_ راه طی شده (مهندس مهدی بازرگان.

۳۱_ فرهنگ علوم سیاسی (علی آقا بخشي )

۳۲_ فرهنگ لغات (دکتر علی شریعتی)

۳۳_ اشوب بزرگ طه حسین (ترجمه شفیق وجدان)

۳٤_ بینش تاریخی قرآن (یعقوب جعفری)

۳٥_ کتاب الاربعین (امام محمد غزالی)

۳٦_ سیری در اندیشه های سیاسی عرب (حمید عنایت)

۳۷_ سیری در اندیشه های اجتماعی مسلمین (محمود نفیسی)

۳۸_ معارف اسلامي (جمعی از نویسندگان)

۳۹_ اسلام شناسي (۱٦-۱۷و۱۸) دکتر شریعتي.

٤۰_ فرهنگ اماري کلمات قرآن (دکترمحمود روحاني)